

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانستان په سیاسي کړکیچ کې

( د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه)

محمد اسمعیل یون

۱۳۸۷ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتــاب نــــوم: | افغانسـتان پـه سیاسـي کـړلېچ کې |
| لـــیکـــــوال: | محمد اسمعیل یون |
| خـــپـــرنـــدوی: | یون کلتوري یون |
| چـــاپـشمـــېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چـــاپـــکال: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لـــیکـــوال پرله پسې نومره: | (۲۸) |
| د خـــپرنـــدوی پرله پسې نومره: | (۲۸) |
| کـــمـــــپوزر: | ضیاءالرحمن ضیاء |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نيوليك

| ګڼه | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | افغانستان په سياسي کړلېچ کې... | ۱ |
| ۲ | سريزه:سياسي ليکنې اود ليکوال شخصيت | ۱۱ |
| ۳ | د هېواد رنځور سياست | ۲۰ |
| ۴ | پښتو او د پښتنو مضر احتياط | ۲۲ |
| ۵ | مدرسه او ښوونځی | ۳۷ |
| ۶ | په ړيره کې ګير ولس | ۴۲ |
| ۷ | طالبان، بتان او بتپالان | ۵۷ |
| ۸ | که طالبان سقوط شي؟ | ۶۸ |
| ۹ | چې طالبان سقوط شول | ۷۸ |
| ۱۰ | ايا ټول پښتانه طالبان دي؟ | ۸۸ |
| ۱۱ | القاعده که الفايده؟ | ۹۵ |
| ۱۲ | غوړه مالي په سياست کې | ۱۰۰ |
| ۱۳ | په افغانستان کې د نوې سرشمېرنې... | ۱۱۴ |
| ۱۴ | ايله جاري جنرالان او مارشالان | ۱۲۳ |
| ۱۵ | څوک د اساسي پوستونو لپاره وړ دي؟ | ۱۲۸ |
| ۱۶ | «لوخې د خپل قام بد غوښتل سر يې...» | ۱۳۳ |
| ۱۷ | يو څو انتقادونه او څو وړانديزونه | ۱۳۹ |
| ۱۸ | حاجي عبدالقدير او بېړنۍ لويه جرګه | ۱۴۷ |
| ۱۹ | افغانستان ملت دی که افغان؟ | ۱۶۱ |
| ۲۰ | ايا له نظار شورا نه د ښاغلي کرزي د... | ۱۶۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۲۱ | ځوک جنګسالار، پاټکسالار او ټوپکسالار دی؟ | ۱۷۲ |
| ۲۲ | د افغانستان د راتلونکي ولسمشر د ... | ۱۸۱ |
| ۲۳ | راتلونکې لويه جرګه، انتخابات... | ۱۹۱ |
| ۲۴ | په راتلونکي اساسي قانون کې درې مهم ټکي | ۲۰۲ |
| ۲۵ | راتلونکې عمومي ټاکنې، څو خطرونه او... | ۲۲۱ |
| ۲۶ | د خدمت معيار | ۲۳۱ |
| ۲۷ | فکري خلا | ۲۳۲ |
| ۲۸ | مجاهد او جنګسالار | ۲۳۹ |
| ۲۹ | سرشمېرنه که سر غوڅونه؟ | ۲۴۵ |
| ۳۰ | راروانې ټاکنې، غره توب، تدبير او ... | ۲۲۳ |
| ۳۱ | محمدګل خان مومند (د خوشال د دستار سړی) | ۲۷۵ |
| ۳۲ | د استاد رشاد سياسي شخصيت | ۲۸۰ |
| ۳۳ | د ښځو حقوق شعار دی که ضرورت؟ | ۲۸۸ |
| ۳۴ | تهران په کابل کې | ۲۹۱ |
| ۳۵ | د محمد اسمعيل يون لنډه پېژندنه | ۲۹۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ((افغانستان په سياسي کړکېچ کې))
# او يو څو نورې خبرې

((افغانستان په سياسي کړکېچ کې)) د يون د سياسي او ټولنيزو ليکنو يوه مجموعه ده، خو د ټولو سياسي ليکنو نه، بلکې د نږدې يوې لسيزې د يو شمېر سياسي او ټولنيزو ليکنو. د يارلس کاله کېږي چې تقدير زما او د يون ژوند سره تړلی دی، په دې تېرو ديارلسو کلونو کې زموږ فردي ژوند څه ناڅه سوکاله و، خو اجتماعي او سياسي غمونه دومره زيات وو، چې موږ يې د فردي ژوند په خوشالۍ پوه کړي نه يو. په دې تېرو ديارلسو کلونو کې موږ تر يوويشت ځلو زياته کوچ کشي کړې او له يوه ځايه مو بل ځای ته کډه وړې ده. زموږ دا کوچ کشي که له يوې خوا د جګړو او نورو ستونزو له امله وه، نو يوه زياته برخه يې د يون د سياسي مشکلاتو له امله هم وه، هر نظام چې په تېرو کلونو کې راغلی، نو يون يې له چارواکو سره تر خپلې وسې ټکر کړی او مخالفت يې ورسره ځرګند کړی دی. د ډاکتر نجيب الله په واکمنۍ کې سره له دې چې هغه وخت يون محصل و، خو په اخبارونو کې يې ځينې سياسي او ټولنيزې ليکنې راتلې، د هغه وخت نظام سره يې هم چندان جوړه نه وه، بيا چې کله د مجاهدينو په نامه د ځينو پروتوکوليانو تش په نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي حکومت راغی، نو هغه خو هېچاته هم د منلو وړ نه و، نو يون يې هم مخالف و، دې حکومت سره خو يې مخالفت دې حالت ته ورسېد، چې خبره نوره تر زغم ووته، يون مجبور شو کابل پرېږدي، دا مهال به کله په کابل او زيات وخت به په پېښور کې پر فرهنګي چارو بوخت و. کله چې د طالبانو واکمني راغله، نو ټولو فکر کاوه چې د پخوانيو جګړه مارانو له غضبه خلاص شو، خو طالبانو سره نور نور مرضونه ملګري وو، يون او په کابل کې هغه وخت يو زيات شمېر ليکوالو طالبانو ته ډېر وويل، چې د تېرو حکومتونو اشتباه ګانې مه تکراروئ او له دې ولس سره ګوزاره وکړئ، يو وخت کې د طالبانوقهر دومره زيات شو چې يو نسبتاً لوړ پوړي ليکوال طالب چارواکي يون ته وويل: ((که ژوند غواړې، نور نو کابل نه ووځه، کله چې حالت ښه شول بيا به راشې او که نه اوس پېښور ته ځه، مياشت دوو کې يو ځل کابل ته راځه د چا به درته ډېر پام نه کېږي.)) دا وخت د ښځو پر ټولنيزو فعاليتونو او کار ټينګ بنديز و. زه چې کله پر ۱۳۷۰ل کال له پوهنتونه فارغه شوم، نو بيا د کابل ښار په آمنه فدوي لېسه کې د ښوونکې په توګه مقرره شوم او د طالبانو تر واکمنۍ يو کال دمخه، په کابل کې د امهات المومنين پوهنتون په پښتو څانګه کې استاده شوم، خو کله چې طالبان واک ته ورسېدل، د هېواد ټول ښځينه قشر خپلې دندې له لاسه ورکړې، پر کور کېناستې، په لومړيو څو مياشتو کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاشونه ورکول، وروسته هغه هم بند شول، په کابل کې چې دا مهال د فرهنګي کار ټولې دروازې بندې شوې، نو یون مجبور شو بیا پېښور ته مخه کړي، هلته یې ورو ورو د خپلو هغو فرهنګي ملګرو په مرسته چې پخوا ځینو غربي هېوادونو ته تللي وو، د فرهنګي کار یوه سلسله پیل کړه، لومړی یې هیله مجله چاپ او بیا یې د نورو کتابونو د چاپ لارې چارې ولټولې، دا وخت به یون یوه اوونۍ په کابل او یوه اوونۍ په پېښور کې و، ماته به یې ویل چې تر لیني موټروانانو زه په دې لاره کې ډېر بلد یم، خو کله چې له پېښوره کابل ته د کتابونو د رارسېدو لړۍ پیل شوه، نو دا کار هم پر طالبانو څندان ښه ونه لګېده، ستونزې نورې هم زیاتې شوې، نور نو د یو چا تنګ او راتګ اسانه نه و، (هیله) او (سمسور)، (زما مشره لور او مشر زوی) هم دا وخت دومره شوي و، چې د ګرځېدو وو او پلرني مینې ته یې سخت ضرورت وو، پلار چې به یې کله راغی، نو دواړه اولادونه، یو به یې پر یوه اوږه او بل به یې پر بله اوږه سپاره شول، هغه به هم د لوبو او خوراک دومره شیان ورته راوړي وو، چې دوی به پرې زیات خوشاله شول، بیا به یې له لاسه ونیول او د پوهنتون په ساحه کې به یې وګرځول راوګرځول، هغه وخت پوهنتون کې داسې و، لکه ترلی چې وي، د نجونو پر تعلیم بندیز و او د هلکانو شمېر هم په کې د اوس په انډول ډېر کم و، کله چې به یون بېرته پېښور ته، ته نو زموږ په کور کې به

(c) ketabton.com: The Digital Library

غم خور و، هیلې او سمسور به دومره ژړل چې ما به هم خپله ژړا نه شوه ټینګولای.

یوه ورځ سمسور ډېر مریض شو، ډاکتر ته مې بوته، ډاکتر معاینه کړ، ویې ویل، دا مریضي نه لري، خو دا ډېر خفه معلومېږي، ما ویل پلار پسې یې خفه دی. بیا چې کله یون کابل ته راغی، نو دواړو ورته وویل چې نور دې پېښور ته نه پرېږدو. یون ورته وویل نور تاسې هم بیایم، ځای مې پیدا کړی دی. بیا یې ما سره مشوره کړه، نو پر ډېرو سختو لارو پېښور ته لاړو، د یون ملګري دې خدای ټول اباد او سوکال لري، یون یې هېڅکله اقتصادي مشکل ته پرې ایښی نه دی، خو یون په پېښور کې هم په فرهنګي کار کې دومره سرګردانه وو، چې د شپې به یې هم دومره کاغذونه کور ته راوړل چې اکثره وخت به د همغو پر لوستلو او کتلو ویده شوی و. درې ژمي مو په پېښور کې همداسې تېر کړل، چې د امریکائیانو او طالبانو دښمني اوج ته ورسېده او طالبانو په کې خپل حکومت له لاسه ورکړ. دا وخت سره له دې چې یون په پېښور کې ډېره ښه دنده لرله او لوړ معاش یې درلود او ماته هم په خپله مسلکي برخه کې په لوړ معاش کار پیدا کېده، خو د ښاغلي کاوون کاکړ په غوښتنه یون دا ټول کارونه او امتیازونه پرېښودل، هغه سره جلال اباد ته راغی او دلته د ختیزو ولایتونو لپاره د بېړنۍ لویې جرګې د انتخاباتي چارو کارونه وروسپارل شول، څوموده وروسته مو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور راوړ او زه د ننګرهار د یونامـا پـه دفتـر کـې د ښـځو چارو د مسـولې پـه توګـه مقـرره شـوم، دا داسـې مهـال و چـې پـه ټـول ننګرهار کې یوه ښځه ماموره هم پر کـار مصروفه نه وه، یـوازې د مخـابراتو ریاست کې یو دوه ښـځینه مـامورینې نوې مقـررې شـوې وې، مـا د څو میاشـتو پـه بهیـر کـې ((د ښـځو د سـوکالۍ ټولنـه)) جوړه کړه، بیـا مـې ((ناهیـد)) مجلـه ورتـه چـاپ کـړه او د ښـځو د ودې لپـاره مـې پـه لسـګونو غونـډې، ورکشـاپونه او سـیمینارونه جوړ کـړل او همدارنګـه مـې ګڼ شمېر ښځو تـه پـه دولت کې د کار او تقرر زمینه برابره کړه. د یو دوو کلونو په بهیـر کې په ننګرهار کې د ښځو یو غورځنګ پـه ټوکېـدو شـو، بیـا پـه بېړنـۍ لویـه جرګـه او د اساسـي قـانون پـه لویـه جرګـه کـې د ننګرهار د خلکو استازې شوم او وروسته بیا په ولسي جرګه کې هم د ننګرهار د خلکو له خوا د خپلې استازې په توګه انتخاب شوم. یون د بېړنۍ لویې جرګې د غړې او بیا د لـومړې منشـي، د اساسي قـانون د دارالانشا غـړې او د افغانسـتان او پاکسـتان د امن د ګډې جرګې د منشي په توګه، ټول هغه څه چې له لاسـه یـې کېـدل، د خپـل ولـس د خدمت لپـاره یـې ترسره کـړل، خـو ایـا دا ټولې منډې ترړې او هلې ځلې په ارام زړه او بې خطره وې که نـه د ستونزو له پېچومـو تېرېـدلې؟ هغـه چاتـه چـې د خپـل هېـواد تېـر تاریخ او په تېره بیا تېر د برش کلن تاریخ معلوم وي، هغـو تـه ښـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرګند ده چې له کوم بهرني او کورني پوځي ملاتړ پرته د هر سیاسي ګام پورته کول د سر د خطر په بیه تمامېدی شي.

موږ دا خطرونه د سر په سترګو لیدلي، دا چې لوی رب په خپله لوربینه ساتلي یو، دا نو د هغه ذات مهرباني ده او موږ یوازې پر همغه ذات تکیه لرو: ((د خوشال خټک تکیه پر ذوالجلال ده)). د افغانستان د مخالفینوله لوري ددې ټولو خطرونو او ګواښونو ترځنګ، زموږ په ټولنه کې یو شمېر نور عیبونه هم شته، هغه سره له دې چې له فزیکي پلوه ډېر خطرناک نه دي، خو په ټولنه کې د یوه مثبت شخصیت د تبارز پر وړاندې ودرېږي او سالم شخصیتونه ودې ته نه پرېږدي، دا مرض تر هر چا په پښتنو کې ډېر دی، په پښتنو کې داسې خلک هم پیدا کېږي چې تر هر چا به ورته ستا له خوا ډېره ګټه رسېدلې وي، خو تر ټولو دمخه به ستا د بربادۍ سبب ګرځي او تاته به کوهي کني، زه او یون په جلال اباد کې عملاً له دې ډول ډېرو ستونزو سره مخامخ شوي یو، د یون پر وړاندې هم عملاً هغه چا پر ډول ډول منفي تبلیغاتو لاس پورې کړ چې د یون په لاس، په پنځو کې یاد شوی او مطرح شوی و، ان د ادبیاتو الفبې یې هم له ده زده کړې ده، دومره خدمت چې یون ورته کړی و، کېدی شي خپل پلار او نږدې خپلوانو هم ورته نه وي کړی، خو هغه د لوړتیا غوښتنې عقدې دومره پسې اخیستی و چې د افغانستان ټولې ستونزې پاتې شوې، د یون پرضد یې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شفاهي او تحريري کمپاين پیل کړ چې دا ښاغلی کله یوازې له ځان سره سوچ وکړي، نو خپله به هم په خپلو الفاظو وشرمېږي. یوه بله اغلې مېرمن بیا داسې وه چې ځان یې داسې پښتو پاله او ملتپاله معرفي کاوه، چې موږ ویلې څه شی چې په کور کې لرو، ټول ترې قربان کړو، په ډېرو غونډو او ورکشاپونو کې یې ځان د افغان ملت ګوند د مهمې غړې په توګه معرفي کاوه، موږ چې د خدای په فضل په هېڅ تنظیم کې نه وو، نو هر چا چې به، که به هغه کوم تنظیمي شخص و که خپلواک، خو چې د ملت خبره به یې کوله، موږ به ورته احترام درلود، دې ته مو هم ډېر احترام درلود، دا مو د ښځو د یوې ټولنې مشره کړه، یون ورته ډېر زیات مالي امکانات پیدا کړل، د ورکشاپونو او غونډو په جوړولو کې یې ورسره مرسته وکړه، ما هم تر خپله وسه زیاته مرسته ورسره وکړه، کله چې ښځه په پښو ودرېدله او پنځو کې یاده شوه، نو دې محترمې یوه ورځ د یوناما په دفتر کې زما پر ضد یوې امریکایي مېرمنې «ګارمینډ یارقساني» ته عریضه وکړه، چې ارین یون پښتو او پښتنو ته کار کوي، د افغان ملت غړی دی، نو باید له کاره ګوښه شي. زه هغه وخت هم د هېڅ ګوند غړی نه وم او اوس هم نه یم. دا بېلګه مې ځکه راوړه چې زموږ په ټولنه کې کار کول له ډېرو ستونزو سره مل دي، نو چې یوه افغان ملتۍ تا د افغان ملتۍ په تور مجرمه وګڼي، نو دې حالت ته به څه نوم ورکړې؟ له هغې ورځې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پارلمان کې یم، یوه ورځ به هم موږ په کور کې ارامه ډوډۍ نه وي خوړلې، ځکه هلته داسې جنجالونه دي چې ارامي درڅخه اخلي. په کابل کې اوس هم داسې څوک حاکم دي چې اساساً د افغانستان د ملي ګټو مخالف دي. پیسې او وسلې هم لري، بهرنۍ نړۍ او ګاونډي هېوادونه یې هم تر شا ولاړ دي، د سیاسي او نورو قتلونو اوږد پس منظر هم لري. ددې ډول خلکو د سیاسي هیلو خلاف حرکت په اوس وخت کې د خودکشۍ په مانا دی. خو که په کابل کې ددې ډول عناصرو پر وړاندې د منطقي مبارزې په برخه کې د څو تنو نوم یادېږي، نو یو به په کې یون وي، که د قدرمن استاد حبیب الله رفیع نوم لومړی وي، نو د یون به ورپسې دویم وي. زه دلته د یون نوم د ستاینې او تائیدونې په خاطر نه راوړم او نه هم د هغه سپاهي په شان فکر لرم چې خپل ځان خپله ستایي، زه خپله د یون له ځینو فعالیتونو، ځینو مرکو او ځینو نظرونو سره مخالفه یم، ځکه چې نه غواړم خدای مه کړه اولادونه مې په دې تنکیتوب او ماشومتوب کې د خپل پلار د مینې او سیوري په ارمان شي، ما څو ځله یون ته ویلي، چې نه دې زر شته نه دې زور او د زرو زور خاوندانو سره ډغره وهې، دا ډول مبارزه د ځان له سېزلو پرته بله مانا نه لري. استاد سیاف څو ځله په پارلمان کې ماته ویلي دي: «یون چې کله مرکه کوي، نو په کلاشینکوف ډزې نه کوي، چې یو یو ډز وکړي او خپل هدف ولي، هغه سره همېشه چریز

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوپک وي، يو ډز وکړي نو چې ساچمې يې پر هر چا برابرې شوې...»

يون ته چې دا خبرې کوم هغه وايي: «ژوند ډېر لنډ او تنګ دی، کارونه ډېر دي، موږ باید لاره خلاصه کړو، یو ځل چې لاره خلاصه شي، بيا نور خلک شته چې د هېواد د خاينينو پر ضد مبارزه وکړي، خو په پيل کې باید يو يا څو تنه قرباني ورکړي، چې نورو ته د جرئت لاره پرانيزي.»

دا ليکنې د يون د تېرو لس دولسو کلونو ليکنې دي، چې يو مستقيم خط تعقيبوي، په تېرو وختونو کې يې په خپل او بدل نامه چاپ کړې دي، کېدی شي د بيا چاپ پر وخت د ډېرو خلکو خوښې شي، خو ځينې به يې ضرور مخالفت هم وکړي.

که چېرې دا ليکنې د هېواد لپاره ګټورې تمامې شي او خلک ترې ښه ګټه پورته کړي، نو زه يې ځکه په ثواب کې ځان شريک ګڼم، چې که زما مرسته او همکاري نه وای، نو يون دومره ګڼو ليکنو ته نه وزګارېده، د کور د ټولې سودا غم پر ما دی، د ماشومانو روزنه او پالنه هم پر ما ده، د خپلو خپلوانو د غم او ښادۍ پوښتنه هم زه کوم، هم د کور کار کوم، هم د پارلمان او ولس چارو ته ځان رسوم، خو يون مې يوازې خپلو علمي، فرهنګي او سياسي کارونو ته پرې ايښی دی، خو دی بلمقابل له ما سره زما د ځينو ليکنو په اصلاح، د ځينو بيانيو په ليکلو، سياسي مشورو، راډيويي او ټلويزيوني مرکو او نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنيزو او علمي مسايلو کې مرسته کوي او ژوند همداسې په ګډه پر مخ بیايو، کورنی ژوند مو ډېر سوکال، خو ټولنيز او سياسي ژوند مې ډېر سرګردان دی. ددې څو کرښو ليکل مې ځکه مناسب وګڼل، چې د شرم هغه حاکم دود مات کړم، چې يوه مېرمن د خپل کور ودان پر اثر څه نه شي ليکلای او يا لږ تر لږه په پښتنو کې دا دود نه شته او ما داسې بېلګې تراوسه نه دي ليدلي. د منفي کلتور د زنځيرونو شلول د هر متمدن افغان دنده ده.

خدای(ج) دې افغانستان اباد او زموږ ملت سر لوړی او سوکال لري.

په ډېر درناوي

اړين يون

په ولسي جرګه کې د ننګرهار

د خلکو استازې

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سريزې په توګه:

# سياسي ليکنې او د ليکوال شخصيت

دا ټولګه چې اوس ستاسو مخې ته پرته ده، دا زما د هغو سياسي او ټولنيزو ليکنو يوه مجموعه ده، چې د تېرو پنځه لسو کلونو په بهير کې مې ليکلې دي. دا ليکنې اکثره تر تنظيمواکۍ وروسته پېر يانې د طالبانو واکمني او تر هغه راوروسته ځينې سياسي پېښې او بدلونونه په خپله لمن کې رانغاړي.
دا ليکنې اکثره په هيله مجله، ګوربت مجله، وفا جريدې او ځينو نورو مجلو او خپرونو کې چاپ شوي دي. دا ليکنې که څه هم اکثره زما په خپل نامه چاپ شوي، خو ځينې په کې داسې هم دي، چې د هغه وخت له غوښتنو سره لازمه وه، چې په بدل يا مستعار نامه چاپ شي، سياسي ليکنو ته کله کله د بدل يا مستعار نامه د کارونې اړتيا ځکه پېښېږي، چې دې سره ليکوال خپل فزيکي ژوند هم خوندي کوي او د فکر او پيغام د انتقال ضرورت هم پوره کوي.
سياسي ليکنې طبعاً جانبي عوارض لري، سياسي ليکنې داسې نه دي چې پر ټولو يو شان ولګي، ضرور به پر چا ښه او پر چا به بده لګي، سياست اصلاً د ګټو جنګ دی، د ګټو په جګړه کې زياتره وخت اخلاقي نورمونه او يو شمېر انساني ارزښتونه تر پښو لاندې کېږي، کله چې ليکوال د سياسي مسايلو په اړه ليکنه کوي، که څه هم دا ليکنه يې د ناپېيلتوب پر اصل ولاړه وي، خو له دې ليکنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه بيا د حاکم او محکوم، ظالم او مظلوم، ګټندوی او متضرر، تعبير او اتباع يو شان نه وي. په تېره بيا په هغو ټولنو کې چې سياست له عقيدې سره موښل شوی وي او يو له بله متاثر شوي وي، دلته نو سياسي ارزښتونه هم د عقيده يي او کله هم عقيده يي د سياسي هغو په تله تلل کېږي. په داسې حالاتو کې نو سياسي قضاوت هم اسانه کار نه دی. ما اصلاً له سياسي ليکنو سره لېوالتيا نه درلودله او لکه د نورو ليکوالو په شان پر ما هم احساسات او عواطف ډېر غالب وو، که همدا اوس هم راته څوک وسله، واک و ځواک په لاس راکړي، نو کېدی شي د خپل سر قاتل ته هم څه ونه وايم، په همدې خاطر مې د خپلې نږدې لس کلنې ليکوالۍ په ترڅ کې له څرګندو سياسي ليکنو ډډه کړې وه، خو يو وخت حالات داسې راغلل، چې هر څه د زغم تر کچې پورته شول، ځينې داسې پېښې هم وې، چې د شعر او هنر په نورو څانګو کې يې ځايول اسانه کار نه و، د يوه نېغ او مستقيم ځواب غوښتونکې وې، پښتنو کې د سياسي ليکنو د ليکوالو کمی له ورايه احساسېده. اصلي خبره دا وه چې پر افغانستان باندې د پخواني شوروي تر مستقيم يرغل او د حفيظ الله امين پر ځای د ببرک کارمل تر نصبولو وروسته، په پښتنو کې په عام ډول او په ليکوالو کې په خاص ډول هغه پخوانۍ روحيه ماته شوه، د غرور او روحيې دا ماتېدا ان تراوسه هم دوام لري. د بهرني يرغل د پيل په کلونو کې چې په افغانستان کې د سياسي واک طبيعي جوړښتونه ويجاړ کړای شول او پر ځای يې د قدرت مصنوعي سرچينې راوټوکول

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي او دا مصنوعي سرچینې د بهرنیو منابعو په مرسته په واک او سیاست کې دخیلې شوې، نو پښتانه لیکوال په پیل کې په دفاعي او بیا د وخت په تېرېدو سره له دفاعي حالت څخه هم راوغورځېدل. د بهرنیو په مرسته د قدرت د نویو سرچینو مدعیانو او پلویانو لومړی د افغانستان پر ځینو خاصو ملي شخصیتونو، بیا تاریخي پېښو او ارزښتونو پسې قلمونه راواخیستل او بیا ان تر دې حده وړاندې لاړل، چې د ټول هېواد هویت، تېر تاریخي برم او د ملت جوړښت ته ګواښونه متوجه کړي. دغسې سختو او اغزنو حالاتو موږ دې ته اړ کړو، چې د قلم څوکه یو څه د سیاست خواته هم راواړوو. دې کار ورو ورو له سیاسي لیکنو، عملي سیاست ته راټېله کړو او د تېرو څو کلونو په بهیر کې، چې کومې سیاسي پروسې په هېواد کې پیل شوې، د یوه فرد په توګه په هغو کې راټاله شوم، دا چې په تېرو سیاسي بهیرونو کې مې څه کړي؟ د یو فرد په توګه مې څه له لاسه ورکړي؟ او بیا مې په هغه کچه څه کړي؟ دا کېدی شي ځینو ته څرګند وي او ځینو ته نه، خو زه دومره وایم، چې داسې څه مې نه دي کړي، چې وجدان مې پرې نا ارام شي، خو داسې مې ډېر څه کړي چې روح مې پرې تر دې دمه ارام دی، په دې برخه کې قضاوت لوستونکو او هغو کسانو ته پرېږدم، چې دا تېر حالت یې څارلی وي، خو زه دومره وایم، چې په دې تېرو پروسو کې مې هېڅکله هم فرهنګ د سیاست لپاره نه دی استخدام کړی، بلکې له سیاسته مې یو څه راشلولي او فرهنګ ته مې ورکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاست مې د قدرت لپاره نه دی کړی، بلکې غوښتي مې دي چې واک د فرهنګ په خدمت کې شي.

په تېرو څو کلونو کې مې چې هر څه کړي د همدې مقصد لپاره مې کړي، که هغه لیکنې دي او که عملي سیاست. خپلو لیکنو هم د خطر پر لومړنۍ کرښه ودرولای یم او عملي سیاست هم، څومره خوندي دي، هغه خلک چې د جبهې تر شا موقعیت لري، په سیاسي امتیاز کې شریک دي، خو په سیاسي دښمنۍ کې نه، که سیاسي روغه جوړه هم کېږي، نو دوی اتومات د امتیاز لومړۍ کرښې ته راځي. د سیاست د همدغه ډول خطرونو په پام کې نیولو سره یو شمېر ځیرمنو لیکوالو او شعوري سیاستوالو ماته مشوره راکړه، چې که څه هم د ژوند او مرګ مالک لوی څښتن تعالی دی، خو دنیایي اسبابو ته هم پام په کار دی، که مور، غواړو، خپلې ژبې، کلتور، ملت او هېواد ته لازیات خدمت وکړو، نو په کار دي، چې په حکومت کې د خپل ظرفیت مطابق دندې واخلو، ځینو خو به لادا هم ویل چې پښتو ته له همدې ارګه زیان رسېدلی، څو چې ارګ خپل نه کړو، نو پښتو ته د هغې خپل استحقاق نه شو ورښلای...
جمهور رئیس حامد کرزي چې د دې تېرو څو کلونو په سیاسي او کلتوري بهیرونو کې زه ښه پېژندلم، نو څو ځله یې له ما څخه وغوښتل چې په حکومت کې کار وکړم، خو ما ښېنه وغوښته، بل ځل یې راته بیا د دندې وویل، د دوو مهمو وزارتونو معینیتونه، خو ما ویل رئیس صاحب اداري کار نه کوم، بېسواده کېږم، هغه په ټینګار وویل چې یو ښه اجرائیوي پوست به درکړم، چې خلک دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـر لاس لانـدې وي او ځـوک مقـرر کـړای شـي، مـا ويـل نـه، يـوازې فرهنګـي برخـه کـې کـار کـوم، بيـا يـې راتـه وويـل، چـې خيـر نـو پـه کلتوري او تعليمي وزارتونو کې معينيتونه وغواړه، ما ويل نه هغـه هـم درونـد کـار دی، نـه يـې شـم کـولای، بيـا يـې وويـل خيـر نـو څـه غواړې؟ خپل وړانديز او نظر دې ووايه! ما ويل، يا د جمهـور رئـيس په مطبوعاتي دفتر او يا هم ملي امنيـت شـورا کـې فرهنګـي دفتـر، جمهـور رئـيس وويـل، ددې ځای مطبوعـاتي دفتـر تـه کـه راشـې، دا دفتـر چنـدان دفتـر نـه دی، خـو نـوم يـې زيـات دی، ټلوالـه بـه داسـې سخت تبليغات درپسې وکړي، ټولې دنيا ته به چغې ورسوي او ملي امنيت شوراکې خو فرهنګي دفتر نه شته، ما ويـل خيـر دی هـم نـوی پوست يا بست جوړ کړه او هم زما تقررو کړ، بيا يې ډاکترصـاحب فـاروق وردګ ته مخ راواړاوه، ويـې ويـل: څـه چـې يـون صـاحب وايـي همغسې وکړه، امنيت شورا کې يې ابراهيم جان هسې هم انډيوال دی، ساعت به يې تېر وي، ما خو ويل چې دی فعال او د منډو تـرړو سړی دی، يو اجرائيوي پوست تـه بايـد تـللای وای، دلتـه بـه يـې زړه ډېـر تنـګ شـي، دا ډېـر قيـد دفتـر دی، خـو دی چـې خوشـاله دی همداسې وکړئ، ژر يې فرمان جوړ کړئ چې امضا يې کړم.

په څـو ورځـو کـې زمـا کـار خـلاص شـو او زه د جمهـوري رياسـت د ملي امنيت شورا دفتر کې د فرهنګـي چـارو د رئـيس پـه توګـه مقـرر شوم، دا چې تر تقرر وروسته مې څه کړي؟ او هلته څه کېـدل ممکـن وو؟ د ارګ فضا او هوا څنګه وه؟ چا کوم ځای کې څومره صـلاحيت درلـود؟ دا يـو بېـل بحـث دی، چـې بيـا بـه يـې بـل وخـت انشـا الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوستونکي داستان ولولي او قضاوت به پرې وکړي، خو کوم څه چې زه د يوې بېلګې په توګه وړاندې کولای شم، هغه دادي چې له پخوا نه دا دود و چې د ارګ په چاپېريال څوک فرهنګي کار ته نه وزګارېږي، په تېره بيا ليکوالی ته! خو ماته خدای پاک ددې مجال راکړ، چې زه نه يوازې خپلې تېرې ليکنې له سره راټولې او خپل کړی کار منظم کړم، بلکې يو شمېر نوې ليکنې هم وکړم، دا اثار چې اوس درنو لوستونکو ته وړاندې کېږي، زما د دندې د همدغه مهال کار دی. له دې پورته خبرو څخه مې هدف دا دی، چې يو شمېر تنګنظره اشخاص چې زموږ په قوم کې دي، خو زموږ د قوم نه دي، کله دلته او کله هلته په ناسمو او بدلو نومونو د ځينو ملتپالو افغان ليکوالو داسې بې منطقه غندنه کوي، چې په خپل نامه يې هېڅکله هم نه کولای اونه يې سپينولای شي. ددې غندنو په ترڅ کې لا يو ښاغلي د يوې جلې په مستعار نامه دا ادعا هم کړې وه، چې زه په خوشال خان لېسه کې د يون همصنفي وم او څه سپکې چې يې په خوله راغلي هغه يې ما پسې ليکلي، خو دېته يې پام نه و، چې خوشال خان لېسه کې قطعاً جوتې نه وې، وايي دروغجن حافظه نه لري، بيا که احياناً دا ښاغلی يا اغلې زما همصنفي يا همصنفی هم وي، نو ما خو په تېر عمر کې دغه څو ماتې ګوډې ليکنې کړې دي، نو دا ښاغلی يا اغلې دې هم زما د يو همصنفي يا همصنفی په توګه خپلې يو څو ګلالی ليکنې په خپل نامه (په هغه نامه چې په حاضری کې ليکل شوی وي)، ټولنې ته وړاندې کړي. همداسې يو څو لنډ پاري او لنډ فکري نور هم شته، چې بېچاره ګان پر رواني

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناروغی اخته دي او په پښتنو کې یې هر مطرح لیکوال پسې اور لړوني را اخیستي دي. له ټولو تنګنظرو او پراخنظرو لیکوالو څخه زما هیله ده، چې خپلې ماضي ته یو ځل نظر وکړي، خپلې ټولې لیکنې بیا له سره راټولې کړي، د لوستونکو مخې ته یې کېږدي او بیا تر هغه وروسته که پر بل چا نیوکه کوي، نو د خپلو اثارو د مصداق له مخې به یې کوي. دا سیاسي او ټولنیزې لیکنې چې تاسې ګورئ، د نږدې درې ځلور نظامونو تصویرونه کاږي. ما په دې لیکنو کې کوم خاص تغیر نه دی راوړی، یوازې ځینو ځایونو کې مې املایي، انشایي تېروتنې سمې کړي او کوم ځای کې که کومه کلمه، سپوره او یا بې ځایه راغلې، یا هم کوم نوم بې ضرورته راغلی او یا هم کومه نېټه او یا ارقام غلط شوي، په هغو کې ډېر کم جزیي بدلون او سمون راوستل شوی، نور هر څه د دې لیکنو د تاریخي اصالت له مخې پر ځای ساتل شوي دي، د یو چا چې ماضي صفا وي، پر حال په خپله ډاډه کېږي او پر راتلونکي یې باور زیاتېږي. نو ځکه زه له لیکوالو څخه بیا بیا هیله کوم، چې په خپلو لیکنو، په تېره بیا په سیاسي لیکنو کې ډېر احتیاط وکړي، لیکنه توکري لاړې دي، چې یو ځل تو شوې بیا نه راپورته کېږي، لیکنه چې یو ځل خپره شوه، هغه نوره د ولس مال شو او د لیکوال له انحصاره ووته، نو ځکه خو سیاسي لیکنې همېشه له خطر سره ملګرې وي او بې احتیاطي یې د لیکوال شخصیت ته ډېر زیان رسوي. په سیاسي لیکنو کې ډېره سخته ده، چې لیکوال د بېلابېلو سیاسي پېښو په بهیر کې پر یوه مستقیم خط حرکت وکړي او که

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک لـه دې ازمـوینې بـریمن راووتـل، نـو پـوه شـه چـې د فکـر د پوخوالي پړاو تـه رسېدلی او نور تیندکونه نه خوري. ددې لیکنـو ټولګې ته مې «افغانستان په سیاسي کړېچ کې» نوم ورکړ، ددې علت دا دی چې افغانستان له تېرو دېرشو کلونو، په سخت سیاسي بحران کې راګیر دی. کورنیو او بهرنیو سیاستوالو په تېرو دریو لسیزو کې زموږ هېواد په داسې کړکېچنو او کړلیچونو سیاسي لارو روان کړی، چې ډېر ځله ترې هېواد ته سخت زیانونه ورسېدل او لا رسېږي. پـه دې لیکنـو کـې د ځینـو دا ډول خطرونـو، ګواښـونو، پېچومو او کړلیچونو یادونه شوې او حل لارې یې هم پـه ګوتـه شـوي دي. زموږ دټولو ملتپالو افغان لیکوالو دنده ده، خپل هېواد یوازې دسیاستوالو «ترحم» تـه پرې نږدي، چې د هغـوی څه زړه وغـواړي هغـه ترسـره کـړي.ددې سیاسـي او ټـولینزو لیکنـو ترڅنـګ زمـا یـو شمېر نورې دا ډول لیکنې هم شته، چې هغـه ددې وروستیو درې ځلورو کلونو په سیاسي پېښنو پورې اړه پیدا کوي، هغه پـه یـوه بلـه ځانګړې ټولګه کې راټول شوې دي، خو دې اوسنۍ ټولګه کې زما د هغـه وخـت ځینـې لیکنـې چـې لاژمـه وه،بایـد پـه دې ټولګـه کـې خوندي شوې وې، تر دې دمه لاسته رانغلې، لکه د واک طبیعي او مصنوعي سرچینې، د افغانستان دفاعي سیټمونه او ځینې نورې...
خو خیر په هر ډول دا زما د هغو سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه ده، چې په تېرې نږدې یوې نیمې لسیزې کې مې کړې او تر دې دمه مې لاسته راغلې دي. پـه دې هیلـه چـې زمـوږ لیکـوال پـه سیاسـي لیکنـو کـې احتیـاط وکـړي، د شخصـي ګټـو پـر ځـای ملـي ګټـې وپـالي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځاني عقدو له جاله رابهر شي او په يوه لويه دايره کې ځان او نور وګوري، خپلې ليکنې خپله راټولې کړي، خپل کار خپله وکړي، نه خپل کار پر نورو بار کړي او نه د نورو د کارونو خنډ شي، خپلې دې ليکنې ته د پای ټکی ږدم.

په فرهنګي مينه
محمد اسمعيل يون
کابل-افغانستان
د ۱۳۸۷ل کال د مرغومي ۲۳مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هېواد رنځور سياست

دا ليکنه د وفا جريدې د پنځم کال په ۴۷-۴۸ ګڼه کې چې د ۱۳۷۵ل کال د مرغومي له ۱۱نېټې سره سمون خوري، خپره شوې ده.

سياست د ټولنې د پرمختيا، سمون، خوځون، د ژوند د ورځنيو چارو د پرمخ بيولو او اوډنې لپاره، د يوه اساسي سمبالوونکي په توګه اساسي رول لري. نېکمرغه ټولنې هغه دي چې د سياست سمبالوونکي يې په پوهه، ګروهه، دود، کلتور او د ټولنې له عيني او ذهني شرايطو، غوښتنو او اړتياوو سره سم ګام پورته کړي، قهر، زغم، وينا او عمل يې متناسب او متوازن وي.
کله کله د سياست دې آرونو ته د نه ځيرتيا او يا نه پاملرنې له کبله يوه ټولنه له سختو بدمرغيو سره مخامخېدی شي، چې بيا يې سمون او رغونه نه يوازې د همغو سياستوالو له واکه وتلې وي، بلکې د ټولنې زيات وګړي، هم د هغې د بيا رغونې جوګه کېدی نه شي. افغاني ټولنه هم يوه داسې ټولنه ده چې له څه کم دوو لسيزو راپه دېخوا له داسې رنځ سره مخامخ ده. سياست د يوې ساري ناروغۍ په توګه او د داسې يو عنصر په توګه چې زموږ د ټولنې د هر وګړي د ژوند چارې په هغه پورې تړلې ګڼل کېږي، زموږ د ولس د هر فرد ذهن ان د وينو او تن رګونو ته ورننوتی او هر تن د خپل ذهن د اخيستنې او شننې تر بريده هره ورځ پر سياسي خبرو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشاجرو بوخت وي، ځینو خو خبره تر خبرو هم پورته کړې او د همدې سیاسي ګروهو او اندونو له کبله یې وسله پر اوږو کړې او دا اوولس کاله یې ډزولې هم ده او ځینې نور یې په ډېره زیاته کچه د همدې مختلفو ګروهو د ټکر په وجه قرباني شوي هم دي.

اوس نو که له پنځه لس ملیونه اټکلیز نفوس څخه لس ملیونه (له پنځو ملیونو ډېرو وړو او زړو پرته) چې هغوی هم د خپل ذهن په کچه په خپلمنځي یا عام سیاسي بحث او مشاجرو کې برخه اخلي، خو بیا هم که دوی په پام کې ونه نیسو او یوازې (لس ملیونه) تنه په نظر کې ونیسو، نو که دوی لږ تر لږه د ورځې (یوساعت) پر سیاسي خبرو او مشاجرو تېر کړي، نو افغانانو به یوازې او یوازې د ورځې (لس ملیونه ساعتونه) وخت پر بې نتیجې سیاسي خبرو تېر کړي وي. په دې بحثونو کې له عادي بحثونو څخه نیولې تر ترخو، تروو او سختو خوا بدوونکو بحثونو او فزیکي ګوزارونو پورې شامل دي. که د یوې ورځې تلف شوي وخت په یوه کال (۳۶۵) ورځو کې ضرب کړو (لس ملیونه× درې سوه پنځه شپېته) نو مساوي کېږي له (درې ملیاده او شپږ سوه پنځوس ملیونه ساعته) او که دا په دې تېرو شلو کلونو کې چې د افغانستان د سیاسي رنځ ډېرې سختې ګرمې شپې ورځې دي ضرب کړو: (درې ملیارده شپږ سوه پنځوس ملیونه ساعتونه ضرب شل کلونه) مساوي کېږي له (درې اویا ملیارده) ساعتونو سره.

دا وخت مو یوازې او یوازې پر دې تېر کړ چې ګڼې دا ګروهه او یا دا شخص تر هغې بلې عقیدې او شخص څخه لوړتیا لري. (درې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اویا ملیارده ساعته) هغه وخت دی چې په یاده موده کې به د نړۍ، هېڅ قوم پر دې موضوعګانو نه وي تېر کړی، ځکه هغوی پوهېږي چې: ((وخت لکه سره زر دی))

د افغـاني ټـولنې د اوسـني پېـر د ډېـرو سیاسـتوالو او سیاست لوبېدونکو یوه لویه نیمګړتیا داده، چې: (( دوی سیاست د عقیدې تر پولې اوچت کړی)) او چې څوک د چا سیاسي تګلارې تـه تروې وګـوري، ګنـې د هغـه عقیـدې تـه یې په سپکه کتلي. څرنګه چې ځینې عقیده یې ذهنونه د هېڅ ډول نیوکې تـاب نه لري، نو په دې ډول فزیکي عمل ته د لاس غځونې هڅه کوي. په اکثرو ټولنو کې سیاسـت د ژونـد د تخنیکـي چـارو د برابرولـو لپـاره یـوه اغېزمنـه وسـیله ګڼل کېـږي او لـه ګروهـو (عقایـدو) سره یـې لـوی واټـن وي، اکثره تلپاتې ګروهې په خپـل ذات کې سپېڅلې وي او د ډېر وخت لپـاره پـایېږي، خـو سیاست د ورځـې لـه غوښـتنو سـره سم بـدلون مومي. هغه څه چې په ځینو ګروهو کې جایز نه وي، پـه سیاست کې عملاً جایز ګڼل کېږي. له همدې کبله ځینې کسـان سیاسـت تـه ((ښـه لوبه)) نه وایي.

زموږ په ټولنه کې هم ددې لـوبې لوبغـاړي ورځ پـر ورځ خپـل ځـان څرګندوي، پروني سپېڅلي نن سپېڅلي نه دي او د نـن سـپېڅلو نـه به سبا ته پرده اوچته شي. د افغاني ټولنې په تېر شل کلن او پـه تېـره بیا په پنځه لس کلن سیاسي ډګر کې د فکري او سیاسي نـاروغیو ښه لوی کتاب غوړېدلی دی. ددې کتـاب په پاڼو کې لولو چې څنګه یو شمېر ((لویان)) لکه د ماشومانو په څېر سـهار پـر جګړو اختـه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مابښام بیا د ملګرتوب او پخلاینې خبرې کوي. د ماشومانو په جګړو کې خو یوازې (د هغو د لاس جوړې کوډلې) ورانېږي، خو د دوی په دښمنۍ کې ښارونه او هېوادونه، د ماشومانو په دوستۍ کې خو ېږته مینه او محبت راشي، خو د دوی په دوستۍ کې بیا هم د یوې بلې دښمنۍ او دسیسې توپان پروت وي. له دې کبله خو د نړۍ نامتو لیکوال ویکتورهوګو دوی ته د کرکې په سترګه ګوري او وایي: «دا هغه خلک دي چې لومړی موږ پخپل منځ کې وجنګوي وجنګوي او ټول مو قتل کړي، خو بیا وروسته راشي او زموږ پر قبرونو کېني، د سولې تړون لاسلیک او د جګړې پای اعلان کړي». د ویکتورهوګو ددې خبرې ژوندۍ بېلګې موږ په خپل هېواد کې لرو. په مسجدونو کې سوګندونه، په ښارونو کې قسمونه، د هېواد په دننه او بهر کې قسمونه وشول، لوزونه وشول او مات شول، هدیرې جوړې شوې او ښارونه وران شول، خو لوبه روانه ده لا.

د همدې سیاسي لوبو په بهیر کې د هېواد یو زیات شمېر مخور، پوهان، لیکوال او د لید څښتنان له دغه او هغه ګوند سره د اړیکو، اوډلتیا او ددغې او هغې ګروهې د پاللو په نوم د مړینې ښکار شول. هېواد په ذهني ډول پر بېلابېلو ډلو ووېشل شو او ملي شتمني یې د مخالفو لورو په ټکولو کې وشیندل شوه. کله چې سیاسي آرونه تر پښو لاندې شول، نو د برچې منطق پر ټول هېواد حاکم شو، ټول هېواد د اور په لمبو ولمبول شو. ددې جګړې دروندوالی دومره زیات و، چې د نړۍ ډېرې لویې جګړې هم ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتله کېدی نه شي. د ساري په توګه د امریکا متحده ایالتونو له ویتنام سره د جګړې په ټول بهیر کې (څوارلس نیم ملیونه ټنه) چاودېدونکي مواد استعمال کړي دي، خو د افغانستان د یوه زون (ختیزې سیمې) د جګړې د ټولو کلونو د ټولو غاړو له خوا استعمال شوي چاودېدونکي مواد په اټکليز ډول تر دې رقم زیاتېږي. پاتې لا د ټول افغانستان د جګړې اندازه.

مذهبي کړکېچ، عقیده یي بحران، د باور محوه کول، د ټولنیزو ارزښتونو بې ارزښته کول، د روان شل کلن سیاست بله پایله ده. د قومي، ژبنيو او سیمه ییزو کینو راټوکول هم د یو واحد ولس پر وجود یو کرغېړن ګوزار دی، له نامشروع سیاسي لارو او د ټوپک د میل په واسطه د ژوند د خړوبولو امکانات هم د همدغه عصر د سیاست زېږندنه ده. د روغ، ناوړه چالاکۍ د ګروهو غلط کارول، لوټ، زندۍ کول، وژنه او نور ددې مهال د سیاست د رغنده توکو په توګه د عمل په ډګر کې لوبېږي. ځینې سیاسي ډلې او ګوندونه د دغې او هغې ګروهې تر پردې لاندې د خپلو کړنو د توجیه لپاره وسایل او دلایل لټوي او د یوه ښه کار لپاره د یو بد عمل پر سرته رسولو باندې سترګې پټوي، خو په اکثرو او بیا هم په ډېرو ګروهو کې به هېڅکله هم څوک دا (آر) ونه مومي چې د کوم نېک کار لپاره دې یو کرغېړن کار د پیلامې په توګه وکارول شي، هغه هم داسې ناوړه کار چې بېخي د راتلونکي نېک اند او کار ریښې هم له بېخه وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یاد وړ خبره داده چې په سیاست او تاریخ کې معمولاً پر نتیجې بحث کېږي. د ښې کړنې نتیجه، نېکه او مثبته او د بدو بده ارزول کېږي.

لنډه دا چې زموږ ولس په تېر شل کلن سیاسي بهیر کې د زهرو په هر ګوټ پسې بل ګوټ تېر کړی او همدې منفي سیاست د یو طاعون، نري رنځ او سرطان په څېر زموږ د ولس، ټولنیزو، فرهنګي او د ژوند د نورو ډګرونو رګونو ته لاره کړې او هغه یې زېښنلي او مرور‌لي دي. دا رنځ لا دوام لري، خو اوس دا پوښتنه رامنځته کېږي، چې دا رنځ به همداسې دوام لري او که نور زموږ د ولس له ستوني د دې خپسې جګول په کار دي؟ او هم د حل د لارې دا لعل د کوم ښامار په خوله کې دی؟

په لنډیز سره ویلای شو، ټولې هغه منفي هڅې چې په تېر شل کلن سیاسي بهیر کې ترسره شوي او پورته مو په لنډیز سره یادونه وکړه، د هغو معکوسې (مثبتې هڅې) ترسره کول، د ټولنې د فرهنګي کچې اوچتول، د ټوپک د منطق ختمول، له ګروهو نه د ګروهو خلاف کار نه اخیستل، له ولس، وطن او عقیدې سره ریښتینې مینه، په واک کې د مسلکي معیارو پر بنسټ د اشخاصو ټاکنه، د مشر لپاره د مشرتوب آرکانو پوره کول، ولسواکۍ ته په درنه سترګه کتل او یو لړ نور لاملونه (عوامل) په ګډه سره کولای شي، زموږ د ټولنې د رواني سیاسي ناروغۍ د علاج لپاره یوه نسخه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو او د پښتنو مضر احتیاط

دا لیکنه له نن څخه یوولس کاله دمخه لیکل شوې وه او د پښتنو یوه متداوم رنځ ته یې په کې اشاره شوې ده. دا لیکنه بیا همغه مهال ((د پښتو ژبې د ودې اړتیا او لارې چارې)) په هغه کتاب کې چاپ شوه، چې د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې له خوا چاپ شوی و. په دې اثر کې د بېلابېلو افغان لیکوالو هغه لیکنې راټولې شوې، چې د پښتو ژبې د ودې او اړتیا پر محور راڅرخي او د همدې ضرورت پر بنسټ لیکل شوې دي.

پر هره ټولنه چې افراط او تفریط واکمن شي، ټولنه له خپل انډوله وځي او د استاد الفت په اند د یوه پرځای دوه تنه تلفات ورکوي. مضر احتیاط هم د تفریط یو ډول دی، چې زیان یې له افراط سره خپل انډول برابروي ، ځکه خو د اسلام سپېڅلي دین د افراط او تفریط دواړه حالته مردود کړي او منځنی حد یې غوره بللی دی.

مضر احتیاط نه یوازې یوه ټولنیزه ناروغي ده، بلکې د یو شخص د ځاني ژوند د ښېرازۍ او ودې پر وړاندې خنډ اچوونکې ناروغي هم ده. استاد الفت په ټولنیز ژوندانه کې د مضر احتیاط پر ناروغۍ د یوه اخته کس حالت بیانوي، چې مضر احتیاط یې د جرئت وزرونه تړلي او داوهامو سیوری یې ورته پر ذهن خور کړی دی. دا کار ددې سبب شوی چې دا کس د ژوند له ډېرو نعمتونو بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخې شي. استاد الفت وايي: (( شمی اکا زموږ په کور او کلي کې په ډېرې هوښیارۍ مشهور و او هر چا چې به کومه مشوره غوښتله ده ته به راتلل. د ده د هوښیارۍ او احتیاط یوه نښه دا وه چې ده تر اخره پورې خپل کور ته برق راونه ووست او ویل به یې که کله برق شارټ شي نو حریق به واقع شي او کور به مې وسوزي. د ده دا عادت و چې په موټر کې به نه سورېده او ډېر لرې ځای ته به هم پیاده روان و ځکه چې د موټر له چپه کېدلو وېرېده او احتیاط یې کاوه. هو! دی له ډېره عقله پیاده ګرځېده او کور کې به یې رڼا هم ډېره لږه وه.))

د پښتو ژبې د خدمت او پالنې په باب هم د ځینو پښتنو چلند دې مضر احتیاط ته ورته دی. یو شمېر روڼ اندي، سیاستوال او نوم څرګندي پښتانه ددې لپاره له پښتو پالنې او ان پښتو یادونې او ګرنې څخه ډډه کوي، چې څوک ورته ژبپال او ملتپال (نشنلیست) ونه وايي. دوی داسې فکر کوي چې که یو ځل چا ورته نشنلیست او فاشیست ووایه، دا تور خو نو بیا تر (کفره) هم بد تر دی، بیا خو چې هر څومره ځان سپین کړي، سپینېدی نه شي. د پښتو ژبې دښمنانو له ډېرې پخوانه د یو منظم او سنجول شوي پلان له مخې پښتو ضد چارې اوډلي دي. په دې پښتو ضد هڅو کې یوه هڅه همدا یرغلیز تبلیغ او چلند دی چې دوی یې د یوې اساسي وسیلې په توګه کاروي، دوی ټول عمر د پښتو د ښېرازۍ رګونه زبېښلي، د پرمختګ په لار کې یې ورته خنډونه جوړ کړي او جوړوي یې، خو چې کوم اندیال ( شعوري پښتون) ورته ووايي چې ولې؟ نو بیا پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سم له لاسه د نشنلیست او فاشیست تور پورې کړي. زموږ ځینې په زړه سپېڅلي پښتانه یې د مکارۍ په همدغه جېل کې راګیر کړي او ان تر دې وخت یې د خلاصون لاړ نه ده پیدا کړې. که کوم هڅاند پښتانه له دغه ژبني زېښناک نه د وتلو رېی رپولای، نو بیا زیاتو پښتنو او نا پښتنو پرې په دې پلمه د ملامتۍ اور پورې کړی چې د هېواد د ورونو قومونو او «ملیتونو» ترمنځ بې اتفاقۍ او ژبني تضاد ته لمن وهي. په افغانستان کې د پښتنو او د هغوی د ژبنیو حقوقو د غصبوونکو ترمنځ د ورورۍ مثال هغه د اوښ او لېوه د ورورۍ مثال لري: «وایي یو وخت د اوښ او لېوه ترمنځ د ورورۍ یو تړون شوی و، دواړه په یوه کور کې اوسېدل، له خپلو اولادونو سره یې ګډ ژوند کاوه، تول به د یوې کورنۍ د غړو په څېر اوسېدل، د دوی ترمنځ دا تړون هم شوی و چې د یو بل اولادونه به خپل اولادونه ګڼي او توپیر به یې نه کوي، هر چا چې د دواړو ترمنځ توپیر وکړ هغه به ملامت وي. ژوند څو موده همداسې تېر شو، یوه ورځ لېوه او اوښ دواړه د سارا پر لوري له کوره بهر شول، څرنګه چې د دواړو لاس ته څه ور نه غلل، نو وخت پرې ډېر تېر شو، نو هم د اوښ بچیان او هم د لېوه هغه ښه وږي شول، د لېوه د بچیانو نور تاب رانغی، نو ټوپ یې کړ د اوښ د یوه بچي اورمېږ یې ورتاو کړ، وینه یې وڅښله او غوښه یې وخوړه، کله چې اوښ او لېوه دواړه کور ته راستانه شول، نو ګوري چې د اوښ د بچي یوازې پوټکی پاتې دی او بس. اوښ چې دا حالت ولید نو له ډېر خفګانه یې چیغه کړه: (هله زما بچی). لېوه چې د اوښ (زما بچی) غږ واورېد نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

فوراً يې پرې نيوكه وكړه او ورته يې وويل چې ته ملامت يې، ته د وروری پر اصولو نه پوهېږې، تا ولې زما او د خپلو اولادونو ترمنځ توپير وكړ، تا ولې وويل: ( زما بچی) ايا زما بچي ستا بچي نه دي؟)) په افغانستان كې له ژبني پلوه د پښتنو او پښتو ضد كسانو وروري همدغه مثال لري، په دې هېواد كې پښتو او پښتانه تل په خپل حاكميت كې هم محكوم وو، هم محروم، خو د ملامتی ګوته هم دوی ته نيول كېږي، هم يې ژبه زبېښل كېږي او هم فاشيستان ګڼل كېږي. كه يو ناپښتون ټول عمر د پښتنو ژبني حقوق زبېښي او يو پښتون هسې وويل چې ولې پښتو؟ نو بيا سم له لاسه ورته وايي چې ته ولې پښتو يادوې دا خو نيشنليستي او ((مليتي)) مسايل دي.

د پښتو ضد ډلو ټپلو دغو هڅو، اغزن چاپېريال او نورو نادودو، له فرهنګي او ژبني پلوه پښتانه پر څو ډلو وېشلي دي:

١- يو هغه ډله پښتانه دي چې خپله ژبه، خپل كلتوري، ملي او هېوادنی مسووليت پېژني، د ملت جوړونې په بهير كې د ژبې پر ارزښت هم پوهېږي او د افغانستان د ملي يووالي او خاورې د بشپړتيا لپاره د پښتو پر ستر اهميت او رول هم پوهېږي. دوی د انديالو هېوادپالو او ملت رغاندو پښتنو افغانانو په توګه د پښتو ژبې پالنه، بډاينه، وده او پرمختګ خپله دنده بولي او په دې لاره كې له هېڅ ډول هاند و هڅې ډډه نه كوي. دوی په دې برخه كې دومره منډې ترړې كړي او كوي يې چې ان خبره يې د ځاني ژوند د بلهاری (قربانی) تر بريده هم رسېدلې ده. په حقيقت كې د همدغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډلې د بې ساري قرباني، اند و هڅو برکت دی چې پښتو د پردیو له یرغلیزو هڅو او د خپلو پښتنو د بې تفاوتۍ له چلندونو سره سره تراوسه ژوندۍ پاتې ده او لاوده کوي.

۲- دویمه ډله هغه پښتانه دي چې نه یوازې پښتو نه پالي، نه یې وایي او نه یې لیکي، بلکې پر ضد یې هم دي. دا ډول پښتانه اکثره په پښتو ضد مورچل کې ناست دي او نورو پښتو ضد ډلو سره یو ځای پر پښتو ډزې کوي.

دې ډلې اکثرو پښتو هېره کړې، لیک او وینا په بله ژبه کوي، د همغې ژبې له لوست، وینا، موسیقۍ او خبرو خوند اخلي، خپلې شخصي، اقتصادي او نورې ګټې هم په هماغه ژبه کې ګوري. پښتو ضد ډلو ټپلو لپاره دا ډول پښتانه د پښتو ځپلو ډېره ښه وسیله ده. دارنګ پښتانه په پښتو دښمنۍ کې له اصلي ((ستمیانو)) نه هم څو څپکه تېر دي، هر پښتون به یې ډېرې بېلګې لیدلي وي. دا ډله کېدی شي ((ستمي پښتانه)) وګڼل شي.

۳- درېیمه ډله هغه پښتانه دي، چې د بې تفاوتۍ پر غونډۍ ناست دي، د نړۍ له ښه او بده خبر نه دي او هر څه اسماني پېښې ګڼي، په دې ډله کې اکثره نالوستي کسان راځي. مضر احتیاط کاري هم په همدې ډله کې راځي، چې د ډېر احتیاط له کبله ځانته د بې تفاوتۍ حق ورکوي او دا لاهم پرې سرباري کوي چې، والله نو مونږ ته خو دا او هغه ژبه یو شی دي. بې تفاوتانو کې د پښتني ټولنې یوه غټه برخه راځي، چې نالوستي، ناشعوري، یو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

روحانیون او نور په کې راښکېل دي. په تولیز ډول د پښتو په باب پښتانه پر همدغو دریو کټګوریو وېشل کېدی شي:

شعوري پښتانه، پښتو ضد پښتانه او بې تفاوتان.

اوس راځو دېته چې د ژبني فعالیت له مخې پښتانه په کومه کچه دي؟

د شعوري پښتنو ټول ځواک پر دې برخه اوبه کېږي، چې له پښتو ضد پښتنو سره مقابله وکړي. د خپل ځواک یوه برخه له پښتو ضد پښتنو سره لیکنۍ او ګړنۍ مقابلې ته بېله کړي او خپل وخت هغو ته پر قناعت ورکولو تېر کړي او بله برخه یې د ستمي پښتنو له خوا پښتو ته د ور اړول شوي زیان جبران ته بېله کړي. نو که شعوري پښتنو ډېره توره هم کړې وي، ایله به یې دومره کړي وي چې د پښتو ضد پښتنو د هڅو مخنیوی وکړي. بې تفاوتان خو هسې هم وایي چې ژبه موږ ته بې تفاوته ده او موږ پرې کوم کار نه لرو، که چېرې موږ د ژبني فعالیت له مخې د پښتون قوم هڅې وارزوو کېدی شي وواېو چې دوه متضاد او متخاصم ځواکونه یو د بل پر وړاندې مبارزه کوي او په پایله کې یو بل دفع کوي. یانې د دواړو وروستی حاصل صفر دی. په حقیقت کې د ژبني فعالیت له مخې د پښتنو فعالیت خنثی دی، ځکه چې یو مټ د بل مټ زور اوبه کوي او د درېیم ګړي د ګوزار د مخنیوي لپاره ورته کوم ځواک نه پاتې کېږي. د ژبني فعالیت له مخې کېدی شي، پښتانه او پښتو ضد ډلې ټپلې په اعدادو کې هم افاده کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ساري په توګه دا خبره ټولو ته څرګنده ده چې په هېواد کې د پښتنو نفوس د نورو ټولو قومونو د مجموعي شمېر دوه برابر دی، یانې په هرو پنځه لسو تنو کې لس پښتانه او پنځه ناپښتانه دي.

اوس نو که موږ پښتانه یانې د ټول نفوس له پنځه لس برخې نه لس برخې پر دریو برخو وویشو، نو هره برخه به درې تنه شي ( د یوه تن له محاسبې پرته) که چېرې په لسو پښتنو کې درې تنه پښتو ضد پښتانه او درې بې تفاوتان له دې شمېره وباسو نو ټول به څلور تنه پاتې شي. که چېرې موږ درې پښتو ضد پښتانه له ناپښتنو سره یوځای کړو نو د هغوی شمېر به اتو تنو ته ورسېږي.

د بې تفاوتانو رول به هېڅ نه محاسبه کوو، خو که چېرې هغه هم محاسبه کړو نو د ناپښتنو شمېر به تر دې هم زیات شي، ځکه چې بې تفاوتان او مضر احتیاط کاري اکثره د تلې پلې ته ګوري، هره خوا چې درنه وي همغې خواته ځان اچوي.

د شمېر له پلوه اته له څلورو سره مقابل دي، د ژبني فعالیت له مخې دا انډول ښیي چې په فرهنګي برخه کې د پښتنو تلفات باید درې ځله زیات محاسبه شي، ځکه چې: یو کس له تا بېل شو (لومړی تلف) دویم ستا له مقابل لوري سره یوځای شو ( دویم تلف)، بېرته ستا په مقابل کې استعمال شو ( درېیم تلف).

که چېرې په فزیکي جګړه کې د یو لښکر یو عسکر ووژل شي او د جګړې له ډګره ووځي، نو هغه په هماغه یوه تلف کې حسابېږي، ځکه چې د هغه رول نور د ابد لپاره ختم شي. خو د همځنګو ژبو او کلتورونو تلفات داسې نه دي، هغه لکه د پښتنو په شان هم ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

وژني، هم خپل قوم وژني او هم بل ژوندی ساتي. نو دا تلفات څو ځلي (درې چنده) او ډېر درانه دي.

د پښتو ضد پښتنو ترڅنګ بې تفاوتان او مضر احتياط کاري هم د مقابل لوري په ګټه دي. څرنګه چې زموږ په ټولنه کې ژبنی انډول د پښتو او پښتنو په ګټه نه و، نو دا ډله کسان تل هڅه کوي چې واکمن بهير سره ملګري شي، ځکه چې د راحت احساس وکړي. پښتانه احتياط کاري بيا په خپل کار کې د مضر احتياط تر وروستي بريده ځان رسوي. ان که چېرې په يو ژبني او فرهنګي چاپېريال کې د ناپښتنو شتوالی اصلاً هېڅ مطرح نه وي او يا په هغه محيط کې هغوی ښېخي وي نه، نو احتياط کاري يې ددې لپاره ګټې خوندي کوي، چې څوک ورته بيا نشنليست او فاشيست ونه وايي. د ناپښتنو يو چلند دا هم دی چې دوی په ځينو حساسو وختونو او مسايلو کې له همدې ډول احتياط کارو پښتنو څخه د پښتنو د استازو(!) په توګه ګټه اخلي. ځکه هغوی پوهېږي چې که دوی د پښتنو پر ضد هر ډول هڅه وکړي دا ډول اشخاص کوم غبرګون نه ښيي، د شعوري پښتنو مخه هم د افراطينو او فاشيستانو په تور د دغو احتياط کارو، معتدلو او ورځچارو په واسطه په ډېر ښه ډول نيول کېدی شي. په دې ډول په ژبنيو او فرهنګي مسايلو کې ژبنی فعاليت، اکثره د دوی په ګټه پای ته رسېده.

د احيتاط کارو يوه بېلګه به هم وړاندې کړو: زموږ يو دوست ليکوال و، ګڼ شمېر کتابونه يې ليکلي وو، ده چې څومره مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو سره لرله، همدومره ان تر دې زياته يې فارسي سره هم لرله، ده دا استدلال کاوه چې پښتو بايد دفارسي په غېږه کې وده وکړي او له فارسي پرته يې وده ناممکنه برېښي. ده فارسي ژبې ته د دري ژبو او پښتنو خدمت د افغانستان د ملي وحدت په ګټه کار پاله، خو د پښتو پر وړاندې يې دري ژبي پر خدمت مکلف نه ګڼل. نو ده ځکه د خپلې ذهني او فزيکي انرژۍ يوه درنه برخه د فارسي ژبې خدمت ته بېله کړې وه. ده ان په پېښور کې چې يو بشپړ پښتني چاپېريال دی، د خپلې خپرونکې جريدې ژبنۍ برخه په سلو کې (۷۰) فارسي او (۴۰) پښتو ټاکلې وه او د جريدې په سلو کې (۹۰) سرمقالې يې هم په فارسي ژبه وې. د پښتنو له خوا پر ده باندې ډېرې اصولي نيوکې وشوې، چې دا کار پر هېڅ معيار برابر نه دی. خو ده د زړه له کومې دا غوښتل چې زموږ دري ژبي ورونه خوشاله کړي، ځکه يې نو ان په يو بشپړ پښتني چاپېريال کې هم د دوی ژبنيو حقوقو ته په دومره درنه سترګه کتل.

ده په داسې يو چاپېريال کې کار کاوه چې که ان دري ژبی هم د اخبار مدير وای، دري به يې دې کچې ته نه وای لوړه کړې، ځکه چې د چاپېريال غبرګون ته به يې طبعاً پام و، خو زموږ دې ليکوال خپل دا چلند که څه هم په څرګنده يوه بې انصافي او نا انډولي وه، خو بيا هم «د افغانستان د ملي يووالي او د ورونو قومونو په ګټه باله» او تر وروستي حده خپل دې اند او چلند ته ربښتينی هم و. خو دومره تېرېدنې، زغم، صداقت، پر خپله ژبه ظلم او د بلې غوړونې بيا هم پښتو ضد اشخاص قانع نه کړای شول، د همدې شخص په

(c) ketabton.com: The Digital Library

باب مې په کابل کې د یوه تن دري ژبي ورور له خولې واورېدل:
((او... هم افغان ملتی است چندین کتابش به پشتو چاپ شده.)) دې سره سړي ته هغه متل رایاد شي، چې (( هندو سترې او خدای ناراضه)) د دا ډول اشخاصو شمېر په لسګونو، په سلګونو ان په زرګونو وو، چې له پښتو نه یې دري ته ډېر خدمت کړی دی، خو هغوی بیا هم د نشنلیزم له توره پاک نه شول. که موږ په افغانستان کې دري ژبې ته د شوي خدمت او کار جاج واخلو، نو که د افغانستان له تاجکو نه د پښتنو ونډه په کې زیاته نه وي، نو کمه خو په هېڅ وجه نه ده. ایا بلې ژبې ته دومره ستر خدمت او خپلې ته دومره خیانت او له هغې سره د بې تفاوتۍ چلند به موږ د فاشیزم له لامنطقه تور څخه خلاص کړي؟ نه هېڅکله نه!

نو څه باید وشي؟ ښه خبره داده چې موږ باید خپل ځان وپېژنو، خپله حافظه ترلاسه کړو، نه خپل حق نورو ته وبښو او نه د نورو حقوق تر پښو لاندې کړو. ښه کار دادی چې پښتانه دې پښتو ته خدمت وکړي او دري ژبې دري ته، که ټول پښتانه لکه د دنیا د نورو قومونو او یا زموږ د دري ژبو ورونو په شان د خپلې ژبې خدمت ته ور ودانګي، نو بیا به پر څو برخو د پښتنو د وېش خبره هم له منځه لاړشي. بیا به نو موږ هم نه په نورو ژبو کې مسخه کېږو، نه به له خپلې ژبې سره د خیانت په بیه د بلې ژبې د خدمت بار اوچتوو، نه به پر سلو ذهني او رواني ناروغیو اخته کېږو او نه به څوک رانه ګیله کوي. ځکه چې نورو ته د خدمت معیار به د هغوی د خدمت په معیار پورې تړلی وي، که هغوی زموږ ژبې ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

درنه سترګه کتل او د هغې خدمت یې خپله دنده بلله، مور به هم د هغوی ژبې ته خدمت خپله دنده بولو او که نورو زمور ژبه زبېښله او غوځوله، نو زمونږ ښه سرېتوب به دا وي چې خپله ژبه وژغورو خو د بل ژبه هم غوڅه نه کړو.

زمونږ وروري او دوستي باید پر انساني اصولو ولاړه وي، راکړه ورکړه مو باید پر عدل او انډول ولاړه وي، نه د اوښ او د لېوه وروري چې هم یې بچیان له منځه لاړشي او هم په وروری کې ملامت شي!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مدرسه او ښوونځی

دا ليکنه د طالبانو د قدرت په اوج کې، هغه مهال ليکل شوې وه، چې طالبانو د ښوونځي نوم پر مدرسې بدل کړ، ښوونځي يې هم پر مدرسو واړول او د ښوونځيو پر ضد عام کمپاين پيل شو. دا ليکنه هماغه مهال په بدل نامه په هيله مجله کې چاپ شوې ده.

له هغه وخته چې افغانستان ته د اسلام د سپېڅلي دين وړانګې رارسېدلي، نو زموږ ولس پرې خپل زړونه او ذهنونه روښانه کړي دي، د څوارلس سوو کلونو په بهير کې په ټوله اسلامي نړۍ کې هېڅ هېواد او قوم د اسلام لپاره دومره قرباني نه ده ورکړې، چې زموږ هېواد او افغان ملت دومره بلهاري ورکړې ده، ځکه خو د تاريخ په اوږدو کې د زياترو نا اسلامي هېوادونو له خوا، افغانستان او افغان ولس د يومتعصب اسلامي هېواد او يو متعصب ملت په توګه ياد شوی او ګڼل شوی دی، خو د اسلام لپاره د افغانانو له دومره سترې قربانۍ سره سره، دوی د اسلامي هېوادونو په ډله کې کوم خاص امتياز نه دی تر لاسه کړی، ان افغانستان د اسلامي کنفرانس له غړيتوبه هم وکښل شو، د اسلام تر راتګ وروسته بيا تر دې دمه ان دپرديو يرغلګرو د اشغال او واکمنۍ پر وخت د افغانستان روحاني قشر په افغاني ټولنه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل زيات اغېز لرلی او دا اغېز يې د ټولنې تر بل هر پاړکي زيات و او لا دی.

زموږ ټولنې هر وخت د ملا، پير او مرشد په غږ، لارښوونه او لمسون د پرديو يرغلګرو او د وخت د واکمنو پر ضد پاڅونونه پيل کړي او هغه يې له واک و ځواکه را پرې ايستي دي. يانې دا چې تر اسلام وروسته په افغاني ټولنه کې د واک د انډول په ټينګولو او نړولو کې د ملايي او روحاني قشر اغېز خورا زيات و، خو د روحاني قشر دا اغېز او مهم رول د تاريخ په اوږدو کې تل مثبت نه و، کله کله له سپېڅلو مذهبي ولولو سره سياسي تدبير اود واک کنترول همغاړي شوي، خو تر عمل وروسته حالات له کنتروله وتي او واک و ځواک هم بيا د ملا او روحاني له ګوتو وتی دی.

د افغاني ټولنې د روحاني قشر له خوا د ټولنې د نورو رغنده خواوو او روحانيت تر منځ توپير او د نورو خواوو د بې ارزښته ښودلو يو اوږد بهير هم دملايي او نا ملايي پاړکو تر منځ يو ډول ښکاره او څرګند بېلوالی اوتضاد رامنځته کړی و، دغه راز په ټولنه کې د ټولنې د عامو وګړو له خوا د ملايي او روحاني قشر عام اقتصادي سپورټ او ملاتړ هم د هغو پر وړاندې د ملا او پير ربنتيني اسلامي ژبه او دهغې کارونه پڅه کړې وه، ځکه خو د ملا ځاني ګټو، زبېښلي اقتصادي حالت، د خلکو له خوا د ملا د ژوند خړوب اود ځانساتي کلتور د ګډ امتزاج له کبله د اسلام داسې بڼه رامنځته شوه، چې د نړۍ اسلام وړانګې د خلکو ذهنونو ته ونه رسېدې او په نتيجه کې د مذهب، کلتور او سيمه ييز دود ځينې

(c) ketabton.com: The Digital Library

روایتونه یو ځای کړای شول او د اسلام شفافه او رښه بڼه د خلکو له نظره پټه شوه.

همدغه حالت او همدغه بهیر له نورو اسلامي ټولنو څخه د افغاني ټولنې اسلام رابیل کړ او زموږ ملایي قشر یې پر خپله خبره د افراط تر بریده ټینګار ته ورساوه، ان دا چې د تاریخ په اوږدو کې یې نور اسلامي ټولنپوهان چلنج کړل، هغوی یې په نا اسلامي عقیده تورن کړل او یا یې داسې وانګېرله چې د هغوی عقیده سسته شوې او یا تر اسلامه په خپل ځانګړي تعبیر ځانساتي (محافظه کار) شوي، په دې ډول زموږ ټولنې په ډېرو علمي خواوو کې پرمختګ ونه کړ، یوازې د ملایانو او روحانیونو شمېر په کې زیات شو.

د نورو ټولو اسلامي ټولنو په اندول په افغانستان کې د روحانیونو او ملایانو شمېر ځکه زیات شو چې دلته د روحانیت په انډول دټولنې نورو برخو متوازن پرمختګ ونه کړ. ددې لمرېزې پیړۍ په پیل کې په ټول افغانستان کې د روحانیونو شمېر اټکل دوه نیم لکو تنو ته ورسېده، چې د وخت د افغاني ټولنې د نارینه وګړو تقریباً په سلو کې ۳-۴ تنه جوړوي، په افغانستان کې د بزګرانو شمېر هم تقریباً همدې حد ته رسېده، له بزګرانو پرته د ټولنې بل هېڅ پارکي له شمېریز پلوه له روحاني قشر سره سیالي نه شوه کولای. څرنګه چې افغانستان یو زراعتي هېواد و، نو تقریباً همدغو دوه دوه نیم لکو بزګرانو د هېواد ټوله ځمکه کرله، د روحاني قشر په ګډون یې د هېواد ټولو وګړو ته ډوډۍ برابروله، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې په هېواد کې د عصري ژوند اړتیاوې زیاتېدلې، نو ټولنه اړه وه چې د عصري علومو له لارې خپلې نوې اړتیاوې پوره کړي او په نویو علومو سمبال کدرونه وروزي. په ټولنه کې د عصري علومو د تبلیغ او دودولو په برخه کې چټک او ګړندي حرکت، د ځانساتي روحاني قشر د نظري مخالفت له امله، فزیکي ټکر او یو نا مطلوب بحران ته لاره اواره شوه، د هېواد په معاصر تاریخ کې دا ټکر لومړۍ ځل پر ۱۳۰۷ ل کال پېښ شو او یو نوی متمدن دولت او دنوې ترقۍ کاروان د تورې ارتجاع ښکار شو. تر هغه لنډه موده وروسته بیا کله چې حالات بېرته نورمال بهیر ته راوګرځول شول او یو داسې نظام جوړ شو چې د روحانیت د تائید ټاپه هم پرې لګېدلې وه او د ټولنې د ترقۍ لپاره یې هم یوه ستراتیژي لرله، نو د سلګونو عصري ښوونځیو د جوړولو کار یې پیل کړ، خو بیا هم د ښوونځي او مدرسې تر منځ یو څرګند توپیر او تضاد لیدل کېده، هر څومره چې د ښوونځیو شمېر ډېرېده او خلک په عصري پوهه سمبالېدل، همدومره په ټولنه کې دمدرسې او ملا رول محدودېده او تنګېده، ان تر دې بریده چې په ټولنه کې د روحاني او ملایې پاړکي رول ته په نه سترګه کتل کېدل او خبره د هغوی د سپکاوي برید ته ورسېدله، د پنځوسمو کلونو په ترڅ کې په ټول افغانستان کې تر (۳۰۰۰) پورې بېلابېل عصري ښوونځي اود لوړو زده کړو څو پوهنتونونه جوړ شول او تر څنګ یې څو رسمي دیني مدرسې، د شرعیاتو پوهنځي او د اسلامي څېړنو څو مرکزونه جوړ شول. سره له دې چې د افغانستان د ښوونې او روزنې په نصاب کې دیني

(c) ketabton.com: The Digital Library

مضامين هم ځای شوي وو ، خو لکه څنګه چې ښکاره وه دې مضامينو ته ډېره پاملرنه نه کېده او دملايي پاړکي د قناعت وړ نه وو، د دولت په چوکاټ کې د ديني مدرسو په انډول د عصري ښوونځيو شمېر ځکه زيات وو، چې د خپلې ټولنې اړتياوې پوره کړي او پر عام و خاصو ټولو زده کړې وکړي، ملايانو ددې انډول د مخنيوي او پر سيمه د خپل اغېز د ساتنې لپاره پر کليوالي سيمو او مسجدونو ډېره لګوله او په سلګونو مدرسې يې په کې فعالې کړې وې، چې د خړوب چارې يې پر ولس حواله شوې وې، نتيجه دا شوه چې هغه څوک چې به له مدرسې فارغ شو، پر عصري علومو به نه پوهېده او هغه څوک چې به له عصري ښوونځيو فارغ شو، هغه به پر ديني علومو چندان نه پوهېده او ان بې تفاوتي به يې ورسره کوله، په نتيجه کې د دوی تر منځ تضاد نور هم زيات شو، يانې د مدرسې فارغ ملا او له ښوونځيو څخه فارغ (روشنفکر) و او ملا بيا پر روښنفکر د الحاد او کفر تورونه پورې کول، روښنفکر پر ملا د مرتجع او پرمختګ ضد تورونه. يو شمېر روښنفکران بيا په خپلو هڅو او چلند کې دومره افراطي شول چې ټولې ملي، هېوادنۍ او ان اسلامي پولې يې ونړولې، د پرديو ايډيالوژيو ښکار شول او پردي يرغلګر يې هېواد ته راوبلل، له بده مرغه چې دا هېواد پلورونکي د روښنفکرانو په نومونو ياد شول، نو د ټول افغان ولس په تېره بيا د روحاني قشر ولولې يې راوپارولې، روسي جنرال الکساندر مايوروف ليکي چې: موږ يو سخت چلنج سره مخامخ وو، او هغه موږ محاسبه کړی نه و، هغه دا چې موږ د افغانستان له

(c) ketabton.com: The Digital Library

روحاني قشر سره پر جګړه اخته شو. دی لیکي چې: دا وخت په افغانستان کې د ټولو مسجدونو شمېر تر څلوېښت زرو زیات وو. دا څلوېښت زره ملایان او له هغو هر یوه سره اټکل لس لس طالبان او نور په لسګونو مقتدیان داټول زموږ پر ضد راپاڅېدل چې ټول شمېر یې میلونونو تنو ته رسېده.

د افغانستان روحاني قشر ته چې د روسانو پر ضد د روان جهاد ښه وسیله لاس ته ورغلې وه او ټول ولس یې په خوله پاڅون او عمل ته تیار ولاړ و، نو دپردیو پر ضد یې پر ګرمې مبارزې سربېره د (ښوونځیو) پر ضد هم جهاد اعلان کړ او څه کم درې نیم زره ښوونځي یې دوړه کړل او په دې ډول یې له ښوونځي او (روښنفکر) څخه خپل تاریخي غچ واخیست.

د افغانستان د ښوونځیو د سیزلو له کبله د افغانستان په جګړه ییزه بهیر کې اټکل اووه میلونه افغانان نالوستي پاتې شول. اوس یو ځل بیا د مدرسې طالب او ملا داسې ښشانه ډول واک ته رسېدلي چې نه یوازې د افغاني ټولنې په تاریخ کې یې ساری نه لیدل کېږي، بلکې دټولې اسلامي نړۍ په څوارلس سوه کلن تاریخ کې هم د ملا او طالب د داسې ټولواکمنۍ بېلګه نه شته، ملا او طالب اوس یو ځل بیا په ښوونځي، پوهنځي او مکتب پسې اورلړونی را اخیستی او داسې تونده هڅې یې پیل کړي چې که چېرې همدا شان دوام ومومي یو وخت به د چاودنې او غبرګون سختې مرحلې ته ورسېږي اومدرسې برخلیک به هم هغه حالت ته ورسوي چې نن د ښوونځي او مکتب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی له ښوونځي او مکتب سره دومره حساسیت وښود چې ان نوم یې هم ورته له منځه یوړ، لومړی یې نوم ورته ختم کړ او بیا یې په نصاب کې ورته دومره بدلون راوست چې هسې نوم یې د عصري مدرسې پاتې دی، د عصري علومو په برخه کې په سلو کې (۲۰) هم څه په کې نه شته، نور ټول دیني علوم دي. ددې خبرې منطق دا دی چې افغاني ټولنه له ملا او طالب پرته بل چاته اړتیا نه لري.

د طالبانو د رسمي خپرونو پر استناد اوس په افغانستان کې د ټولو مدرسو شمېر (عصري او دیني) (۳۴۰۰) ته رسېږي، چې د دوی په وینا له دې جملې څخه یوازې (۱۱۰۰) مدرسې تر اوسه پورې ټولې (نړه دیني) مدرسې او پاتې لا اوس هم عصري دي، د نړه مدرسې مانا داده چې په سلو کې سل باید دیني مضامین په کې تدریس شي او د عصري مدرسې مانا دا ده چې عصري او دیني مضامین دې دواړه په کې تدریس شي، خو په عملي ډول داسې ده چې اوس رښتیا هم په دیني مدرسو کې سل په سلو کې مضامین دیني دي، خو په عصري هغو کې اتیا په سلو کې مضامین دیني دي، یو څوک چې په سلو کې اتیا برخې دیني مضامین ولولي هغه څخه بیا ملا جوړېږي او که انجنیر یا ډاکټر؟

طالبان وایي د هغو مدرسو شمېر چې د ښوونې او روزنې وزارت له خوا تمویلېږي (یوولس سوو) ته رسېږي، که په هره مدسه کې د طالبانو شمېر (۵۰۰) تنه وګڼو نودا به پنځه نیم لکه طالبان شي او که د نارسمي دیني مدرسو شمېر هم همدومره اټکل کړو، نو خبره به یو ملیون طالبانو ته ورسېږي، که په پاکستان او ایران کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

روزل شویو طالبانو شمېر هم همدومره محاسبه کړو نو په څو راتلوونکو کلونو کې به په افغانستان کې د ټولو ملایانو شمېر اټکل دوه ملیونه تنه شي او که د افغانستان ټول اوسنی نفوس، په (بهر او داخل کې) شل ملیونه تنه محاسبه کړو (لس ملیونه ښځې) نو په راتلونکو کلونو کې به په هرو لسو تنو نارینه و کې دوه تنه ملایان وي. په سلو کې (لس تنه). که دوه ملیونه ملایان د خپلو دیني زده کړو تر څنګ یو بل کار او کسب زده نه کړي او د عصري علومو په برکت ځانته کار او کسب پیدا نه کړي، نو فکر نه کېږي، چې ګړه ځپلې افغاني ټولنه به د دومره کسانو چې په تولیدي او اقتصادي کار کې یې اغېز ناڅرګند دی، د خړوب ظرفیت ولري.

خدای (ج) دې وکړي چې داسې ونه انګېرل شي، چې دا لیکنه د هېواد د ملایي پاړکي چې تل یې د هېواد او ولس په ژغورنه او لارښوونه کې تر هر چا زیاته ونډه اخیستې او د قربانۍ میدان ته وتلی دی، د بل رنګ ښودلو لپاره شوې ده، بلکې دا لیکنه ددې لپاره ده چې اوس د هېواد دټولو دیني، سیاسي، اقتصادي، پوځي او نورو چارو لارښوونه د ملایانو پر غاړه ده ، که دوی د ټولنې د ټولو خواوو تر منځ او دهغوی د ودې لپاره متوازن ګامونه پورته نه کړي، نوکېدی شي د ټولنې یوه خوا کږه شي، انارشي رامنځته شي، انډول خراب شي او ټولنه د تباهۍ خواته لاړه شي، چې بیا به یې نه ملا تنستې راټینګولای شي، نه امي او نه هم روښنفکر. لکه څنګه چې خدا پاک (ج) خپل نظام (ټولو کایناتو) کې داسې یو انډول ټینګ کړی چې د هغه په برکت دټولې نړۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کايناتو ژوند دوام لري. داسې د خداى (ج) خليفه (حضرت انسان) ته هم په کارده چې د ټولو خواوو توازن وساتي، له واکمنو ملايانو نه هم دا هيله کېږي چې د اعتدال لاره خپله کړي، افراط او تفريط ونه کړي ځکه چې همدې افراط او تفريط زموږ ټولنه تباه کړې او تباه کوي يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په ړیره کې ګیر ولس

*چې څښتن یې په خپل فضل ږمنځ نه کړي*
*ښې ښې ږیرې بـه شي سپکې لکـه درب*
(حمیدبابا)

دا لیکنه د طالبانو د واکمنۍ پر مهال په مستعار نامه لیکل شوې وه او د هغو تر سقوط څه موده وروسته په هیله مجله کې چاپ شوې ده.

موږ هم عجیبه خلك یو، کله ځان تر عقیدې قربان کړو او کله بیا عقاید تر ځان ځارکړو، کله د وطن دساتنې او دفاع لپاره وجنګېږو او کله بیا هم له خپل هېواده دخپلو ځاني ګټو لپاره وسیله جوړه کړو او یو بل ته په کې مورچلې ونیسو. کله نور پر خپلو اوږو واك ته ورسوو او کله بیا هم دنورو د راپرځولو لپاره پښې اړم کړو او له تخته وبخته سره یې پوپناه کړو، کله دیوې نا اشنا ایډیالوژۍ دحاکمیت لپاره له خپل سر و مال نه تېر شو او کله بیا هم د همدې ایډیالوژۍ دنسکورولو لپاره معکوس حرکت پیل کړو. کله بیا یو سیاسي فکر او تګلاره دعقیدې تر بریده اوچت کړو او په هغه کې بیا دومره افراطي حرکت وکړو، چې نه یوازې دهمغې تګلارې د ړنګېدو او ناکامۍ سبب شي، بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغې دشرمېدو علت هم شي. ددې ټولو خبرو اصلي علت دادی چې موږ لا تر اوسه پورې د یوه واحد ملت د ملي شعور اوچتې کچې ته نه یو رسېدلي. واحد ملتونه دخپل ژوند دپرمختګ او پایښت لپاره یوه واحده ملي ستراتیژي لري، چې دهغه ملت ټول وګړي که هغه هر ډول سیاسي او فکري تګلاره ولري، خو یو ملي ارمان او ستراتیژۍ ته ژمن وي.ملي ګټې دبېلابېلو عقایدو او نظریو تر شعارونو نه قربانوي، بلکې بېلابېلې ګروهې دخپل ملت دښېرازۍ وسیلې ګڼي.

دتاریخ په اوږدو کې زموږ واکمنو په سلګونو ډوله افراطي حرکتونه کړي، چې دهغو زیان او جبران بیا دملت غاړې ته پرېوتی دی. خلقیانو، اخوانیانو او د طالبانو افراطي حرکتونو زموږ ملت د اور په لمبو وکړاوه او تر اوسه یې لا هم برخلیک معلوم نه دی. پر دې ټولو حرکتونو وخت پر وخت لیکنې شوي او نورې به هم پرې کېږي، خو موږ به دلته یوازې د طالبانو د اسلامي تحریك دسلګونو افراطي حرکتونو له جملې څخه دداسې یو افراطي کار یادونه وکړو، چې تر اوسه یې په ګرده نړۍ کې ساری نه دی لیدل شوی او نه په اسلام او نه هم په نورو ادیانو کې دداسې افراطي چلندونو بېلګه چا ثبت کړې ده، دا افراطي حرکت د ړیرې د پرېښودلو او اوږدولو په باب د طالبانو زیات ټینګار دی.

**ږیره تر ټولو اوچت معیار**: د طالبانو دتحریك له پیله په تېره بیا دهغوی د واکمنۍ پر مهال په افغانستان کې هېڅ شی هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره ارزښت نه درلود، لکه ښځې، د ژوند ټول ارزښتونه د ښځې دکچ او مېچ دځرنګوالي له مخې تلل کېدل او ارزول کېدل، که یو چا به هرڅومره پوهه او اخلاق درلودل خو چې ښځه به یې نه وه، هېڅ به و او که به د طالبانو لاس ته ورغی، نو توهین، تحقیر، سپکاوی، وهل، ټکول او ان زنداني کول یې حتمي او باوري وو. دکابل دځرخي پله زندان، چې په بېلابېلو واکمنیو کې له سیاسي زندانیانو ډك وو، د طالبانو پر وخت له لنډ ښځو او ښځ خرېلو افغانانو ډك وو.

**دجبري ښځو کدري زیان:** دطالبانو پر وخت ښځه داسې یو جبري امر وګڼل شو، چې ددولت دیو مامور لپاره تر ټولو ستر معیارګڼل کېده، ان شل کلن تحصیل، کار، تقوا، تجربې او نورو ښېګڼو ورسره هم سیالي نه شوه کولای، نوځکه دلوړ مقام له خوا داسې حکم صادرشو: "هغه مامورین چې ښځې یې خرېلي او یا لنډې کړې دي باید له دولتي ادارو څخه وکښل شي". ددې امر له مخې هغه مامورین او پاتې کدرونه چې ویې نه شو کړای په لنډ وخت کې د ښځې پر ارزښت ځان پوه کړي او خپلې ښځې اوږدې کړي له خپلو دندو ګوښه شول، چې شمېر یې زرګونو کاري علمي او فني کدرونو ته رسېږي. له "شریعت غږ راډیو" نه به ډېر ځله دا خبرونه خپرېدل چې "نن د عدلیې وزیر الحاج ملا نورالدین ترابي د(...) وزارت لیدنه وکړه او په هغه کې یې یو شمېر هغه کسان چې ښځې یې له اسلامي شریعت سره سمې نه وې پرې ایښې نا مطلوب وګڼل شول او له خپلې دندې ګوښه کړای شول".

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اقتصادي زيان:** دې کې شك نه شته چې د ږيرې خرېينې هغه وسايل چې له بهر نه افغانستان ته واردېدل، د ږير خرېنې د بنديز لـه وجې بـه دا واردات ډېرکم شوي وي او لـه دې وجې بـه دمملکت په عمومي لګښت کې يوڅه سپما شوې وي، خو پـه دې اړخ کې کېدی شي دږيرپاکونې او پريمنځلو لګښت دا انډول بېرته برابر کړی وي، دلويو ږيرو پرېمنځل او پاکول، شامپو، وخت او د صابون لګښت غواړي، خو که فرضاً دلګښت او سپما دا انډول برابر هم وګڼل شي،دا وخت ږيرې نور لګښت درلود چې هغه په افغانستان کې دږيرې د پرېښودلو، پاللو، ساتلو او څارنې اساسي لګښتونه وو، چې د امربالمعروف او نهې عن المنکر په شان ديو ځواکمن او هر کاره وزارت جوړېدو غوښتنه يې کوله، دې وزارت د ږيرو کنترول لپاره په سلګونو ګاډو او هم په زرګونو محتسبينو ته اړتيا لرله او طالبانو دبشپړ شريعت د تطبيق او دپوره ږيرو دمظاهرې لپاره دا تشکيل پوره کړی هم و، هر ولايت کې يې د امربالمعروف او نهې عن المنکر رياستونه او په ولسواليو کې يې څانګې وې، چې د ولايتونو رياستونو به څو ګاډي درلودل او د ځينو ولسواليو ريسانو هم ځانګړي ګاډي درلودل. له دې پرته په کليو او ښاري ناحيو کې هم ددې رياستونو څانګې وې، چې پر بايسکلونو او نورو وسايلو به سپاره ګرځېدل او د ږيرو دڅارنې چارې به يې ترسره کولې. د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت معاش د طالبانو په حکومت کې تر بل هر ارګانه زيات و، چې دمياشتې په توليز ډول تر (درې مليارده

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانیو) څخه زیاتېده او که د موټرو او نورو چارو اړتیا وړ لګښت یې په پام کې ونیول شي، نو تر پورتنیو ارقامو څخه هم ډېر لوړېږي. خو ددې ټول لګښت مرکزي ټکی د ږیرې کنترول و.

اروایي زیان: طالبانو په خلکو کې د ږیرې له امله دومره وېره او ډار خپاره کړي وو، چې ان که چاپه خوب کې هم ږیره خرېلې وای، نو وېرېدلای به و، تر ډېره وخته به هر چا په خپله ږیره لاس وهه چې لویه ده که وړه؟ له امر بالمعروف نه به پرې خلاص شم او که نه؟ ډېرو خلکو کې به لومړی څو ځله ځان په هنداره کې معاینه کړ او بیا به له کوره بهر شو. د چاچې به ږیره لږ لنډه وه نو له لاندې خوا به یې لږ پورته کړه چې لږ ببر معلوم شي او بیا به له کوره بهر شو.

د ډېرو خلکو ږیرې سپینې وې، خو دا چې خریلې یې نو ځوانان ښکارېدل، کورني ژوند او ټولنه کې د ځوانانو په ډله کې حسابېدل، ذوق او شوق یې هم دځوانانو وو، خو کله چې ږیرې جبرې شوې، نو دوی ږیرې اوږدې کړې، نو ټول سپینږیري ښکاره شول، بیا ددې لپاره چې په کورني نظام کې دکورودانې تر روانې اغیز لاندې را نه شي او یا په ټولنه کې ببرته دخپلې ځوانۍ هویت افاده کړي له لرې، لرې هېوادونو یې د ږیرې تورولو رنګونه را وغوښتل، خو هغو هم دومره اوږدو ږیرو ته چندانې کار ورنه کړ.

دکابل پوهنتون یو استاد چې دطالبانو تر راتګ دمخه یې واده کړی و، په طالبي پړاو کې یې خپله ږیره رنګوله، یو ځل یې په نکرېزو رنګ کړه، سره شوله، خو لاندې ورپسې بیا سپینه رالویه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه، سره او سپینه شوه، سپینه یې بیا په تور رنګ رنګ کړه، سره او توره شوه، خو موده پس بیا سپینه ورسره را ووتله، بیا سره، توره او سپینه (دري رنګه) شوه، چا چې به ورته ویلې چې استاده! دا څنګه چل دی، یو رنګ او دوه رنګه رېږې مو ډېرې لیدلې وې، خو دري رنګه مو لا تر اوسه نه وه لیدلې، ستاسو رېږه بېخي داسې ده لکه بېرغ دري رنګه ده، هغه به په یوه مالګینه خندا وخندل او وبه یې ویل: ((تاسو خو په دې نه پوهېږئ، تاسې خو باید افغانستان تجربه کړی وای، دلته بیرغونه او نظامونه څومره ژر بدلېږي، داسې زما رېږه هم در واخله، زما رېږه د افغانستان دسیاسي نظامونو ښکارندویه ده، څو موده وروسته یې زه دا سره برخه غوڅوم یوازې دا توره او سپینه پاتې کېږي، بیا سپینه ورپسې زیاتېږي او توره کمېږي، بیا یو وخت توره هم ورپسې غوڅوم او کله چې یوازې سپینه برخه پاتې شوه، کېدی شي هغه بیا زه خپله چاړه راواخلم یا هم ډم او یا هم کوم زورور چاړه را واخلي او له بېخه یې غوڅه کړي او بېرته لوڅ مخ لکه څنګه چې وم همغسې را ووځم او خلکو ته ځان ښکاره کړم، دې استاد به دا ټوکې هم کولې چې زما رېږه د افغانستان د درېیو پړاوونو ښکارندویي کوي، لومړۍ برخه یې چې سره ده هغه دخلکیانو پړاو، دویمه برخه یې چې توره ده هغه دمجاهدینو دوره ده، ځکه چې تره کي به مجاهدینو ته (توره ارتجاع) ویله او درېیمه برخه یې چې سپینه ده هغه د (طلبه کرامو) پړاو دی، نو زما رېږه ددې هېواد دسیاسي پېښو او پړاوونو هنداره ده.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو تن بيا دا سي و چې خپله ږيره يې نه اوږدوله، مقصد دومره وه چې څه په ښکاره او زيات په پټه به ښار کې پرې ګرځېدی شو، له هغه نه چې به دې پوښتنه وکړه، ولې ږيره نه اوږدوې، هغه به ويل! ((خپل ګرېوان ته ګورم))، کله چې به دې ورته وويل: د ږيرې له ګرېوان سره څه؟ هغه به هم مالګينه خندا وکړه، ((ږيره خو ګرېوان ته دکتلو مخنيوی کوي، تاسو وګورئ، استاد سياف خپل ګرېوان ته کتلای شي؟ رباني او حکمتيار خپل ګرېوان ته کتلای شي؟ او که دوی خپل ګرېوان ته سرکښته کړی وای او دخپل وجدان په هنداره کې يې خپل اعمال تللي وای نو هېڅکله يې دا کارونه نه کول، زه نه غواړم چې د زياترو مجاهدينو په شان زما ږيره زما او زما دګرېوان ترمنځ يو حايل او دېوال شي، زه انسان يم، زه هر وخت خپل ګرېوان ته سر کوزوم او دخپل ضمير په هنداره کې خپله څېره ګورم".

دا تېر پنځه کاله چې به هر چېرته لاړې، که دوه کسه به هم سره کېناستل نو ضرورو خو به يو ځل د ږيرې بحث کېده، چا به ويل بايد پرېښودل شي، ځکه چې دپيغمبر (ص) سنت دي، چا به ويل پرېښودل يې ځکه ضروري دي چې موکد سنت دي. طالبانو په پای کې د دربيمو ټولګيو دپښتو او دري لوست په کتابونو کې وليکل "ږيره پرېښودل واجب دي" ځينو به لا په کې دا هم ويل ږيره سنت دي خو اوس وخت يې پرېښودل فرض دي، زموږ دکلي ملا بيا په کې د ږيرې د فرضيت په باب دا دليل هم راوړ:" ږيره خو اصلاً يو سنت ده، په سنتو کې بيا هم سنت موکد ده، هر چا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېښودل دا سنت، نو دی ګرځي تارك دسنتو او چې شو څوك تارك دسنتو، نو كېږي په ده اطلاق د كفر او دا خبره واضحه ده په ډېرو كتابونو " د ږيرې بحث همداسې له افرادو نيولې تر كورنيو، خپلونو، قومونو او بيا دټول ملت كچې ته غزېده، هر چا هر وخت دخپل ذهن تر كچې د ږيرې په باب خپله انرژي لګوله، په حقيقت كې دټول ملت ذهني انرژي د ږيرې بحث ته راټوله شوه او په يو نه يو ډول له رواني پلوه له ږيرې سره وتړل شول.

ټولنيز زيان: د امربالمعروف او نهي عن المنكر كسانو د ږيرې په اړه دومره افراط وكړ چې ټولنيزه او ډله ييز كركه يې هم راوپاروله، دا كار زياتره په ښاري سيمو كې تر سره شو. د ۱۳۷۶ل كال په بهير كې په داسې حال كې چې له طالبانو سره عامه خواخوږي زياته وه، طالبان لومړی ځل په مزار شريف كې دتوطيې ښكار شول او سخت تلفات ورته ورسېدل، په دې وخت كې دهېواد په نورو سيمو كې دطالبانو خواخوږي نوره هم زياته شوه او خلك هم پرې سخت خواشيني وو، خو الحاج نورالدين ترابي په ميدان ښار كې له كندهاره راروان دسورليو لوی كاروان ودراوه او څلور سوه تنه ږير خريلي او لنډ ږيري يې كوز كړل، په دې كې داسې كسان هم وو، چې خپل ماشومان او تور سرې يې ترې په موټركې پاتې شول او دوی يې د ږيرې دلنډون په ((جرم)) يوې لرې دښتې ته په موټرو كې يوړل او هلته يې خوشې كړل او د سورلۍ موټرو ته يې امروكړ چې كابل ته لاړشي، دا هغه ستر ټولنيز او ډله ييز ظلم و چې د اسلام له پيله بيا تر ننه پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅکله هم هېڅ مسلمان واکمن پر چا نه و کړي. ترابي نه يوازې په ميدان ښار، بلکې دماهيپر په لويه لاره، جلال اباد، کابل، کندهار، غزني او د هېواد په نورو ولايتونو کې هم دا ډول کارونه تر سره کړي دي. په حقيقت کې همدا ترابي، ترابان او نور ترابي خېل وو، چې د زرګونو معصومو طالبانو هېواد ګټلی او اسلام ګټلی نوم يې په سيند لاهو کړ او دخلکو په ذهن کې يې وټکول.

په کابل ښار کې د يوې مخورې افغان کورنۍ د واده جشن جوړ و، د واده هلك (شاه) چې نن يې په ټول ژوند کې دخوشالۍ د اوج ټکی و، پر ځان او مخ ګوتې وهلې وې، طبعاً زيرې ته به يې هم ګوتې ور رسېدلې وې، دې کې د نهی عن المنکر کسان خبر شول، واده ته دمېلمنو بهير لا روان وو، چې دوی ټول کورمحاصره کړ، (شاه) يې ونيو او ځان سره يې بوته، خلکو ورته ډېرې عذر وزارۍ وکړې چې را خوشې يې کړي، خو هغوی ونه منله، خلکو څو غوريه وريجې او نوره ډوډۍ هم د امر بالمعروف رياست ته يوړه، چې په دې ډول د واده تصديق او رښتينولي وشي، هغوی هغه ډوډۍ هم وخوړه خو هلك يې پرې نښود، واده والا ناوې پسې لاړل، مازيګر ماښام يې بې (شاه) ناوې کورته راوړله، يو ځل بيا دهلك پلار او څو تنه سپينږيري د امربالمعروف دخصوصي زندان مشر ته ورغلل، دهلك پلار ورته وويل چې خير دی دده پرځای به زه دلته نن شپه تېره کړم او نورې هرڅوشپې چې تاسو غواړئ،زه به يې دلته تېرې کړم،خو زوی مې نن شپه پرېږدئ چې ناوې مو راوستې ده، دهلك پلار دا هم وويل چې خير دی يوازې نن شپه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېږده، سبا سهار هرڅو بجې چې تاسو یې غواړئ بېرته به یې په تضمین سره درته حاضر کړم، خو د امربالمعروف مشر ددې سپینږیرو یوه خبره هم ونه منله او خلك بېنوا کورته ستانه شول. همداسې په لغمان کې د امربالمعروف د وزیر کسانو پر یو ځوان پسې چې ږیره یې دوی ته له لرې لنډه ښکاره شوې وه، غبرګ کړی و چې ودرېږي، ښايي هغه ځوان به ددوی غږ نه و اورېدلی، خو مولوی سلیم خپلو کسانو ته امر کړی و، چې درنه ونه تښتي، ترهغه چې هلك دلغمان دصرافۍ ماركيټ ته رسېده، د امربالمعروف کسان هم ورپسې ورسېدل، پرته له دې چې ددې هلك ږیره وګوري چې رښتیا هم لنډه ده او که په سنتو برابره، خو ددې هلك پر وهلو یې پیل وکړ، دا وهل دومره بې رحمانه وهل و چې هلك پر همغه ځای بې هوښه شو او د امربالمعروف کسان ترې ولاړل، هلك دکاندارانو روغتون ته یوړ، تر ډېرې درملنې وروسته معلومه شوه چې د مولوي سلیم د ډېرو لغتو له امله یې یو پښتورګی له کاره لوېدلی و. څه فکر کوئ چې د اسلام په نامه دا ځورونه به دخلکو په زړونو کې د طالبانو پر وړاندې څومره کرکه را پارولې وي؟ داسې په سلګونو پېښې شوي چې تولنیز او ډله ییز دردونه او کرکې یې را پارولي دي.

ددې سلګونو پېښو له منځه موږ دلته یوازې دا څو بېلګې یادې کړې.

**سوداګریز زیان:** ډېر هغه افغانان چې دپانګو څښتنان وو هغه تر هېواد بهراوسي او طبیعي وه چې زیاترو ږیرې هم نه لرلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هيله يې وه چې د طالبانو په واکمنۍ کې د سوله ييزې فضا له رامنځته کېدو سره سم وخت پر وخت هېواد ته لاړشي او خپل سوداګريز کارونه هلته پيل کړي، خو د ړيرې او نورو ذوقي بنديزونو له امله يې ونه کړای شول، هېواد ته زړه ښه کړي، نو په دې وجه هېواد ته زيات اقتصادي او سوداګريز زيان واوښت.

اکثرو لويديځمېشتو او بهر مېشتو افغانانو هم د همدې وېرې له امله هېواد ته زړه نه ښه کاوه او په دې ډول يو څه نور اقتصادي زيان هم هېواد ته واوښت او دا ټول د ړيرې دلنډون او اوږدوالي له وجې، طالبان په پنځو کلونو کې پر دې بريالي نه شول چې د ړيرې له حريمه او دايرې را ووځي او پراخې ذهني نړۍ ته مخه کړي.

**پايله او ټوليزه ارزونه:** که د طالبانو پنځه کلنې واکمنۍ ته نظر وکړو نو په رسمي پاليسۍ کې هېڅ شی دومره زيات مطرح نه و، لکه ړيرې چې د طالبانو د ذهن مرکزي ټکی او تفکر جوړاوه. سره له دې چې طالبانو په سلګونو او زرګونو پاټکيان ختم کړل، دواك مختلفې سرچينې او پاچاهۍ يې رنګې کړې، ديوه مرکزي دولت د جوړېدو لپاره يې هيلې راوټوکولې، بېلتونپالي يې وځپل او خپله يې په لسګونو زره تنه قرباني شول، خو دا ټول ارزښتونه د ړيرې او حجاب جزئياتو داسې رانيولي او پټ کړي وو، چې دچا سترګې پرې ګرد سره نه خوږېدې، نو ځکه خو سړی ويلای شي چې دطالبانو د واکمنۍ مرکزي ټکی "ړيره" وه او ددې ترڅنګ ټول ملت ددوی په واکمنۍ کې په (ړيره) کې (راګير) و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# طالبان، بتان او بتپالان

کله چې طالبانو په بامیانو کې د بودا تاریخي مجسمې رنګې کړې، نو دا لیکنه پر همغه مهال په مستعار نامه شوې وه او همغه مهال د هیلې مجلې د ۱۳۷۹ل کال په (٦) ګڼه کې چاپ شوې ده، دادی دلته یې یوځل بیا درنو لوستونکو ته وړاندې کوو:

طالبانو په دې نږدې وختونو کې په افغانستان کې داسې یو تاریخ ضد عمل ترسره کړ، چې د (۲۰۰۰) کلونو په اوږدو کې هېچا نه و ترسره کړی. دوی پر یوه تاریخي ارزښت داسې یو ګوزار وکړ، چې دټول بشریت احساسات یې را وپارول او د ټولې نړۍ زړه یې وبوږناوه.

دبامیانو د بودا مجسمې یادوو، چې په (۵۳) او (۳۵) متره لوړوالي سره یې دا دومره کاله له افغانانو سره یوځای، پردې وطن ټولې تېرې شوې رناوې او ناخوالې ولیدلې او ویې زغملې. هغو د اسلام سپېڅلي دین د راتګ ملایمې وړانګې ولیدې، چې د دوی تر لمنو یې ټوله ځمکه روښانه اونرمه کړه، خو د دوی تندی یې ونه سېزه. دوی د چنګېز د اسونو ګردونه او دتورو خرپاوې ولیدل، چې د دوی له څنډو تېر شول، خو د دوی لوړوالي ته یې پورته ونه شول کتلای. دوی دنړۍ د ستر زبرځواك د سرو لښکرو سور سېلاب او سور ناورین ولید ، خو د لمبو تاو یې تردوی ونه رسېده، دوی دخپلو یو شمېر نااهلو هېوادوالو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظلمونـه، وحشـتونه او لـه پرديـو سـره پټـې او ښکـاره معـاملې وليدې، خو بيا يې هم لاشعور دومره له کيـنې ډك نه و، چې دوی ته زيان واړوي او داسې نوري ډېرې توري، سرې او شنې تيارې تېرې شوې، خو هغـو ټولوبيـا هـم يـو حد، يوبريد او يـوه پولـه پېژندل. خو تر (۲۰۰۰) کالو وروسته پر افغانستان داسې يو څوك واکمن شول چې د خپل او پردي دګټې او تاوان په خيال کې نه دي، د دوی د احساساتو تاو د بودا تر بوتانو هم ورسېده او داسې يې په لوګيو کې تاو کړل چې د ابد لپاره يې د هېوادوالو او نړيوالو له سترګو پناه کړل.

طالبانو په دې کار نړۍ ته ثابته کړه، چې دوی هر تاريخي او ملي ارزښت له خپل فکري تعبير او تحليل نه قربانولای شي؛ نه د نړيوالې ټولنې څه پروا لري او نه هم د خپلو هېوادوالو د ګټو. دوی له مذهب نه په يوډول ځانګړي تعبير، مذهب له تاريخ او فرهنګ سره ټکر کړ او ددې ټکر له امله تر ټولو غټ زيان تر هرچا لومړی خپله زموږ ټولنې ته واوښت. طالبانو هم په خپل لاس خپل محبوبيت د ورکاوي يوې لويې کندې ته ټېلواهه. دوه زره کاله وروسته به هم ددغه عمل تړاو له ملا او طالب سره کېږي. دلته به د هغو زيانونو يادونه وکړو، چې له دې پېښې پيدا شول او يا پيدا کېږي.

## الف- طالبانو ته يې زيان:

لومړی: ددې پېښې زيان تر ټولو دمخه طالبانو ته دی. طالبانو په افغانستان کې له دويمې هجري پېړۍ را وروسته ټول اسلام چلنج

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ او په دې وخت کې يې د ټولو صحابو کرامو، علماوو، لويو واکمنو لکه: سلطان شهاب الدين غوري، سلطان محمود غزنوي، احمدشاه بابا او نورو ... اسلامي برياوو، سوبو او واك و ځواك ته د پوښتنې نښه(؟) کېښوده، ځکه چې په دې(۱۴) سوو کلونو کې دوی يوه هم دې بتانو ته کوم زيان ونه رساوه.

دويم: طالبانو ټولې نړۍ ته له مذهب او دين څخه خپله اخيستنه او خپله ذهني کچه څرګنده کړه. دوی ديوه تاريخي اثر او د عبادت وړ يو څيز ترمنځ توپير ونه کړای شو. د باميانو بتان د (۱۴) سوو کلونو په بهير کې دعبادت لپاره نه وو ساتل شوي، بلکې دهغو دتاريخي ارزښت له مخې ساتل شوي وو.

په افغانستان کې هېڅ بتپال(بتپرست) نه شته، خو ددې بتانو له درکه افغانستان ته هرکال زياته مادي ګټه رسېدله، پخوا خلکو، اور، لمر او نورو ته هم عبادت کاوه، خود ټول بشر ژوند په همدې شيانو پورې تړلی دی، طالبان بايد له اور او لمر نه هم خلك منع کړي، چې ګټه ترې وانخلي، ځکه چې پخوا ورته عبادت کېده. عجيبه خو دا ده چې اوس خلك دومره ساده نه دي چې د ډبرو په زړه کې کښل شوي تصوير ته عبادت وکړي اوپه بدل کې هېڅ شی ترلاسه نه کړي، اوس د عباداتو او نمانځنو ډولونه بدل شوي دي، ډېر خلك پيسو ته عبادت کوي، ډېر مقامونو ته عبادت کوي او ډېر نور اشخاصو اوښاغلو ته...

لکه څنګه چې اوس اور او لمر ته څوك عبادت نه کوي، دغسې د باميانو بتانو ته هم په افغانستان کې چا عبادت نه کاوه، يوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتاریخي ارزښت او اقتصادي ګټې لـه مخې ورتـه زمـوږ خلکـو اړتیا لرله.

**دریم:** څرنګه چې مسلمانان په نړۍ کې د نورو په انډول دڅونـد د عصـري وسـایلو، زور و ځـواك لـه مخـې، کمـزوري دي او پـه اسانۍ سره ورته خطر پېښېدی شي، په ځانګړي ډول په هغو ټولنو کې چې مسلمانان پـه کـې لـږکي دي، د بامیـانو دبتـانو مـاتولو لـه کبلـه بـه هغـوی تـه د سـر و مـال سـخت زیـان پېـښ شـي. ددې ټولوزیانونو مسولین طالبـان ګڼـل کېـږي. د دوی هغـه ادعـا بـه هم غلطه ثابته شي، چې دوی دا کار د اسلام او مسلمانانو پـه خـاطر کـړی دی. ځکـه چـې لـه دې کـار څخـه خـو مسـلمانانو تـه د ګټـې پرځای زیان واوښت.

**څلورم:** پر طالبانو به د ځینـو خلکـو هغـه ګومـان او شـك هـم پـر یقین او باور بدل شي، چې طالبان یې دنورو ګوډاګیان ګڼل. ځکـه چې د طالبانو تـر پرېکـړې یـوازې یـوه اوونـۍ وړانـدې زمـوږ د یـوه ګاونډي هېواد یو لوړپوړي چارواکي کابل اوکندهار تـه سفر کـړی و او تر هغه وروسته بیا دبتانو ماتولو اعلان وشو. ډېر افغانـان او سیاسي کتونکي په دې نظر دي چې زمـوږ ګاونـډیو د افغانسـتان پوځ له منځه یووړ، اقتصاد یـې ختم کـړ او اوس نـو وار دکلتـور د ختمولـو دی او دا کـار د واکمنـو وسـلوالو ډلـو پـه واسـطه ترسـره کوي. عجیبه خبره خو دا ده چې د طالبانو مشـر تـر دې وړانـدې د تاریخي اثارو دساتنې لپاره یو ځانګړی فرمان صادر کـړی و او دا فرمـان دطالبـانو مطبوعـاتو خپـور کـړی هـم دی. خـو اوس یـې یـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناڅاپه دا کار وکړ. کتونکي په دې اند دي چې دښمن ګاونډي هېوادونه په افغانستان کې له يوبل څخه خپل غچ اخلي.

پنځم: طالبانو په خپل دې کار سره په افغاني ټولنه کې په راتلونکي کې ملا او طالب د تاريخپالو او هېوادپالو افغانانو پر وړاندې ودرول. عام ولس يې پرې بې باوره کړ او د روښنفکر قشر احساسات يې راوپارول. چا چې يو ټولګی ښوونځی هم لوستی وي، هغوی په دې کار دطالبانو سخت مخالف شول، په عام ولس اوپه تېره بيا په تحصيل کړي قشر کې چې پخوا دوی کوم پلويان لرل، هغه يې ټول مخالف شول. په راتلونکي افغانستان کې به ملا او طالب ته خلك د خپلو تاريخي اثارو د له منځه وړونکو په توګه ګوري.

شپږم: له نورې نړۍ سره يې د طالبانو د پخلاينې او د هغوی د په رسميت پېژندلو امکانات ټول له منځه يووړل، طالبان به نور هم تجريد شي.

اووم: طالبانو يوه تاريخي سهوه اوتېروتنه وکړه، تاريخي تېروتنې په تاريخ کې نه جبرانېږي او نه بښل کېږي. طالبانو د دوه زرو کالو تاريخي اثار ختم کړل، که دوه زره کاله دهېواد فرهنګ ته کار اوخدمت هم وکړي، دا زيان نه شي جبرانولای. ځکه چې ددې بل بديل نه و، کاشکې طالبانو خپله داتېروتنه په بل شي ازمويلې او تجربه کړې وای، چې بيارغونه يې شونې وای، کېدی شي طالبان يو وخت پښېمان شي، خو بيا به دا پښېماني هېڅ ګټه ونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتـم: تـر دي دمخـه بېلابېلـو ډلـو پـه ځانګړې توګـه د ربـاني ـ مسعود او د هغو د موتلیفونو له خواد افغانستان زیات تـاریخي اثار، له هغې جملې نـه دکابـل مـوزیم اکثـره قیمتـي تـاریخي اثـار لوټ شوي او بهرنیو هېوادونو ته وړل شوي دي، د هغـوی لاس بـه هم په طالبانو پاك شي.

نهم: د طالبانو دمخالفینو د تبلیغاتي تبر خوله به نوره هم تېـره شي، چې تل به يې ويل:" طالبان يك گروه بی فرهنگ است".

## ب ـ اسلام ته يې زيان:

لومـړی: لکـه څنګـه چـې څرګنده ده، اسلام دعـدل، اعتـدال او انصاف دين دی، خو طالبـانو پـه زيـاتو او يـوواريزو افراطي هڅـو نړۍ ته د اسـلام داسې تعبيـر وړانـدې کـړ، چـې اسـلام د افـراط او تفـريط لاره تعقيبـوي(!). هېـڅ ډول نرمښـت او معتـدل چلند تـه پـه کې ځای نه شته(!) او له تمدن اوتاريخ سره اړخ نه لګوي!

دويم: په نړۍ کې يو زيات شمېر وګړو دخپل روحي تسـکين او ارامتيا لپاره اسلام ته مخه کړې وه، کله چې د طالبـانو پـه تعبيـر دومره تنګ اسلام(!) وګوري چې دخوښۍ او خوشالۍ لپاره په کې څه نه شته؛ نو ډېر بـه زړه ښـه نـه کـړي چـې تـر دې وروسـته اسـلام ومني.

درېـيم: دتنظيمـي ډلـو دزورزيـاتيو او پـه اوسـني وخـت کـې د طالبانو د کړنو له کبله او هم د کومې اقتصادي ستراتيژۍ اوپلان د نشتوالي له امله به يو شمېر افغانان نورو اديانو ته مخه کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې د ځینو خپرونو دخبرونو له مخې تر اوسه پورې تر یوه لك تنو زیات افغانان عیسویت ته وراوښتي دي او د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد(ص) دا حدیث به چې: ((ډېر خلك به له فقر څخه کفر ته متمایل شي)) دلته عملي شي.

څلورم: دطالبانو په نسکورېدو سره به د هغوی معکوس حالت رامنځته شي. په هغه وخت کې به هم هغه معکوس حالت په افراطي بڼه ترسره شي.

یانې اوس چې د ږیرې خریل جرم دی، هغه وخت به د ږیرې پرېښودل جرم وګڼل شي.

## ج ـ افغانانو او افغانستان ته یې زیان:

لومړی: د (۲۳) کلنې جګړې په ترخ کې د افغانستان ټول بنسټونه تباه شوي او یوازې ډېر کم تاریخي اثار پاتې وو، چې په هغو کې همدا د بامیانو بتان د نړۍ په کچه په سترو تاریخي اثارو کې راتلل او هر کال به د نړۍ له ګوټ ګوټ نه ګڼ شمېر سیلانیان دهغو لیدو ته راتلل او هېواد به یې دنړۍ په سطحه څلاوه او ډېره اقتصادي ګټه به ترې لاسته راتلله. زموږ دهېواد د حال اړیکي یې له (۲۰۰۰) کالو دمخه زمانې پورې تړل. له دغو ټولو ګټو څخه زموږ هېواد محروم کړای شو.

دویم: بودیزم د نفوسو د شمېر له مخې د نړۍ دربیم دین ګڼل کېږي. د طالبانو په دې عمل سره هغوی ټول متاثر شوي او د افغانستان او افغانانو پروړاندې دهغو په زړونو او ذهنونو کې نسلونه نسلونه یو ډول کینه روزل کېږي. هغوی دا کار له افغانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او افغانستان څخه انګېري. طالبان اوس وخت کې يوه واکمنه ډله ده چې د نور ډلو په شان به څو ورځې واکمنه وي او بيا به له منځه ځي. خو د اعمالو جبران به يې افغانان کوي.

**درېيم:** د داسې تاريخي اثارو په ختمېدو سره به زموږ د حال او ماضي اړيکي غوڅ شي، نوی نسل به پر تاريخي ارزښتونو او اثارو بې باوره شي، افغانستان به د څو زره کلن تاريخ پرځای څو سوه کلن اود څو سوه کلن پرځای به د څوکلن هېواد په توګه د نړۍ نوي پېښت ته څرګند شي.

**څلورم:** سره له دې چې طالبان ځان يوه مذهبي ډله بولي او کومې سيمې، قوم او ژبې ته انتساب د خپل ځان توهين(!) او د خپلې عقيدې شرك بولي( له کومې سيمې او قوم نه دي راپورته شوي). خو د هغوی مخالفين دوی په زوره دهېواد اکثريت قوم پورې نښلوي، ځکه چې د دوی اکثره په پښتو خبرې کوي، که څه هم دوی له پښتو ژبې سره نه کومه مينه لري او نه کومه لېوالتيا، ان د دښمنۍ تر بريده له ژبپالنې سره مخالف دي، خو بيا هم د دوی مخالفين دوی په پښتنو پورې تړي. ان د ايران مذهبي مشر يوه ورځ وويل:"طالبان يك قوم بی فرهنگ است".

اوس به نو په راتلونکي کې د هېواد اکثريت(پښتنو) په تېره بيا د فرهنګيانو ځواك په دې مصرف شي، چې ددې خبرې سپيناوی وکړي، چې طالبان دخپل ذهن مطابق خپله تګلاره لري، نه قومي لېوالتيا لري او نه ژبنۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله عجیبه خبره خو لا دا ده چې د نړۍ اسلامي هېوادونو خپل تاریخي اثار ساتلي او خوندي کړي دي، خو یوازې د طالبانو تعبیر داسې دی چې تاریخي اثار هم له مذهب سره مخالف بولي. ایا د سعودي په موزیم کې تر اسلام دمخه همدا ډول اثار نه شته؟ ایا په سعودي کې د جهالت دورې ټول اثار ختم شوي دي؟ تر افغانستان نه خو په مصر کې اسلام دمخه خور شوی و، چا د فرعونیانو احرامونه ونړول؟ چا د هغوی ډبرینې مجسمې ماتې کړې او یا چا د فرعونیانو مومیایي شوي جسدونه له احرامونو څخه راوکښل؟



وګورئ په دې انځور کې د یوه فرعون مومیایي شوی مړی چې (۳۰۰۰) کاله پرې تېر شوي دي؟

ایا په عراق او ترکیه کې چې د اسلامي خلافت لوی مرکزونه وو، همدا ډول اثار نه شته؟ او که نه یوازې طالبان تر ټولې نړۍ دا سلام پر تعبیر او تحلیل ښه پوهېږي؟ ځینې بیا وایي چې په مصر کې خو د فرعونیانو مجسمې، احرامونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مومیایي شوي مړي دعبرت لپاره دي، چې انسانان یې وګوري. عجیبه خو دا ده چې دهغوی تاریخي اثار د عبرت وسیله کېدی شي، خو زموږ نه شي کېدی.

کله چې د بامیانو بتانو له خپل هېواد (ګران افغانستان) او افغانانو نه خدای پاماني اخیستله، نو دحال په ژبه یې افغانانو ته وویل:" د خدای پامان ګرانو او خوږو افغانانو! دوه زره کاله مې له تاسو سره سړې تودې تېرې کړې، ډېر غمونه اودردونه مو په ګډه سره ولیدل. تاسو به فکر کړی وي چې موږ هم همداسې غلي ولاړ وو او ستاسو پر اوښکو او غمجن حالت مو اوښکې نه تویولې؟ نه داسې نه ده، موږ ټول غمونه او اسوېلي بېرته زړه ته تېر کړي، اوښکې مو نه دي تویې کړې، خو د اوښکو لمبې مو له زړو نه تاوې کړي دي. موږ درنه لاړو، خو ګورئ په تلو تلو کې یوه خبره درته کوو، چې نور خپل ویاړونه مه نړوئ، نور خپل ثلي مه ورانوئ، نور د خپلو پلرونو هډوکي مه خرڅوئ، نور پردي مه پالئ، پردي نه خپلېږي، خپل مه پردي کوئ، هو! دې طالبانو نه مې هم یوه ګیله ده، هغه هم داسې نه چې دوی د بتانو او یا زموږ مخالف دي، هغه دا ده چې د دوی د هر یوه په جېبونو کې یو بت څه چې بتان او عکسونه دي، طالبان خپله بتان وېشي، تاسې وګورئ چې د دوی د هر یوه په جېب کې څه پراته دي؟ کاشکې دوی له خپلو زړونو او جېبونو دا عکسونه او بتان لرې کړي وای او بیا یې نو که موږ نړولي هم وای، پروا یې نه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـوږ خپلـو افغانـانو سـره دا دوه زره کالـه ژونـد وکـړ، دوی خـو دومره لنډپاري نه وو، دوی خو پر مېلمـه، سـپينږيري، تورسرې او مظلوم سر ورکوي... موږ درنـه ځو، خـو تاسـو تـه ښېـرې نـه کـوو، دعـاوې درتـه کـوو چـې خدایج مـو نـور ارام او سـوکال کـړه، ځکـه تاسې ډېرې سختۍ ليدلې دي، په همدې کې يې وروستۍ خدای پاماني واخيستـه او پر ځمکه راپرېوتل..."

(c) ketabton.com: The Digital Library

# که طالبان سقوط شي؟

*طالبان به فراموش د دین کتاب کا*
*د دنیا کتاب به ګوري مور به نه یو*

عظیم رانیزی

دا لیکنه دطالبانو تر پرځېدو اته میاشتې وړاندې دهغوی دواك د اوج پرمهال لیکل شوې او همغه وخت په ګوربت مجله کې خپره شوې وه. دا لیکنه ما په بدل نامه کړې وه، خو هغه وخت مې په بدل نامه ځکه خپره کړه چې زما ژوند ته يې ګواښونه را ولاړولای شول، خو زما اصلي موخه دا وه په هرنامه چې وي خو چې دلیکنې پیغام خلکو او واکمنو ته ورسېږي. واکمنو هغه وخت خپل غاښونه ډېر وچیچل خو اصلي لیکوال يې پیدا نه کړای شو، د هغه وخت واکمنو خو دلیکنې دپیغام دعملي کولو لپاره نه یوازې دا چې هېڅ ونه کړل، بلکې منفي غبرګون يې هم وښود.

دا لیکنه ما د طالبانو تر سقوط وروسته په هیله مجله کې یو ځل بیا په خپل نامه ځکه خپره کړه، چې دا ثرګنده کړم چې موږ وخت پر وخت خپل رسالت ترسره کړی یا په خپل او یا هم په بدل نامه. ددې لیکنې دخپراوي بله وجه دا وه چې ددې لیکنې زیاتې وړاندوینې اوس پر واقعیت بدلې شوي، که زموږ پرونیو واکمنو ځینو مشورو او نېکو نظریو ته ارزښت ورنه کړ، نو حال يې هغه شو، خو که زموږ اوسني واکمن بیا هم پر ملي ګټو ولاړو مشورو ته اهمیت ورنه کړي، نو حال به يې ترهغو پخوانیو بدتر شي. دادی دلته دا لیکنه دریم ځل چاپوم. دا هم تاسو او دا هم ددې خپرې شوې لیکنې کټ مټ متن.

دا خو ټولو ته څرګنده ده چې په تېرو نږدې دوه نیمو لسیزو کې د افغانستان زیاتره سیاسي او پوځي ډلې له بهره خروب شوي او لا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خروبېږي، همدغه مغرض بهرني ملاتړ، افغاني ټولنه له يو سخت حالت سره مخامخ کړي، کله به پرې افراط واکمن وي او کله هم تفريط. يو وخت داسې و چې چا به خولۍ پر سروله، يا به يې سپينې جامې اغوستلې او يا به يې پينځه وخته لمونځ کاوه او ږيره به يې لرله، هغه نو بيا ((سخت اخواني او يا هم د انګرېز بچی و)) سترګې به يې پرې پلستر کړې او ژوندی به يې تر خاورو لاندې کړ. د ۱۳۵۷ل کال د يوه بې ګناه زنداني د خولې خبره ده چې ويل يې: ((کله چې له ما څخه څارنوال پوښتنې پيلولې، نو د خپل څنګ ملګري څخه يې وپوښتل: د دې سړي جرم څه دی؟ ملګري يې ځواب ورکړ: صاحبه! دا مو بالفعل په لمانځه نيولی دی. بيا نو زه په دې جرم بندي شوم، او ترڅو مياشتې بند وروسته هسې د خپل بخت په زور را خلاص شوم.))

شل کاله وروسته بيا په دې بله خوا کې داسې يو افراط حاکم شو چې ږيره خريل شين کفر وګڼل شو، سر تور ګرځېدل، خولۍ نه پر سرول او يا لونګۍ نه تړل، د خدای (ج) او رسول (ص) له اوامرو نه بغې وګڼل شوه، موسيقي اورېدل، ساعتېري کول او يا په ډکه خوله خندا ټول حرام وګڼل شول او هغه څوک چې د دې کارونو تر سره کوونکي وي، هغه د سختې سزا وړ.

د څرخي پله همغه زندان چې شل کاله پخوا د ږيرورو، خولۍ والو، لونګۍ والو او نورو سپين پوښو شکنجه ځای و، شل کاله وروسته، د لنډږيرو، ږيرخريلو او سرلوڅو د وهلو ټکولو، ځورولو او شکنجه کولو ځای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس نو زموږ ټولنه د سیاسي لوبډلو له خوا د افراط او تفریط په جبل کې راګیر ده، کله به پرې افراط واکمنېږي او کله هم تفریط او هر کله چې پر یوه ټولنه باندې داسې حالات راشي، هلته به د یوه پر ځای دوه تنه له منځه ځي، لکه استاد الفت چې په ((دوه جنازې)) لیکنه کې د داسې حالات کیسه کوي، چې په یوه ورځ او یوه ساعت کې له یوه روغتون نه دوه تنه مړي راووېستل شول، یو د وینې د لوړ فشار له امله مړ شوی و او بل د ټیټ فشار له کبله.

د افغانستان سیاسي ډلو هم همداسې وکړل، کله یې پر ټولنه افراط واکمن کړ او کله هم تفریط، کله یوه اړخ افراط وکړ، کله بل اړخ، خو تر منځ یې ولس لکه د ژرندې د دوو پلونو تر منځ لوېدلې غنم دل شو. دلته زیات وخت سیاسي او مذهبي ډلې په رنګ او لباس پورې نښتې دي، له مانا او محتوا سره سر و کار نه لري، فکرونه او سوچونه نه بدلوي، بلکې، خولۍ او لونګۍ بدلوي. دلته سرونه مهم نه دي چې څه په کې دي؟ خولۍ او لونګۍ مهمې دي. دوی په دې فکر دي، چې خولۍ او لونګۍ له سره لرې شوې او پر سر شوې، نو فکر هم ورسره بدل شو، نو ځکه خو شل کاله مخکې خولۍ او لونګۍ پر سرول جرم و او اوس یې نه پر سرول غټ جرم دی ان د کفر معادله ګناه ده. یو وخت په دفترونو کې په تېره بیا د کابل ښار په دفترونو کې ږیرور او بې درېشۍ سړي نه پرېښودل کېدل او چندان مقررېدل هم نه، خو اوس منځ ږیرې سړی هم نه پرېښودل کېږي، د لنډږیري او ږیرخریلی ځای خو زندان دی. یو وخت به

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجوني په زور ښوونځيو ته بيول کېدلې، خو اوس يې په زوره له ښوونځيو څخه منع کوي.

لنډه دا چې اوس يو ځل بيا زموږ پر افغاني ټولنه يو داسې افراط واکمن دی چې تر تېر افراط يې هم، په افراط کې پښه اړولې ده. دا داسې يو افراط دی چې په ځينو برخو کې يې ان د نړۍ تاريخ تر اوسه پورې ورته بېلګې نه دي ليدلې.

خو اوس راځو دې ته چې ايا دا افراط به زموږ پر ټولنه تل تر تله همداسې واکمن وي او که نه له منځه به ځي؟ که له منځه ځي د دې بديل به څه وي؟ په مقابل کې به يې غبرګون څه وي، او ځايناستی به يې څه شی وي؟

کله چې سړی په ذهن کې دا او دې ته ورته پوښتنې ګرځوي، نو د خپل هېواد د راتلونکي په باب يې اندېښنه نوره هم زياته شي، ځکه د تېرو تجربو پر اساس موږ وليدل چې د ((کمونستانو)) په واکمنۍ کې هغه ډول افراط پر ټولنه واکمن شو او د "بنسټپالو مسلمانانو" په واکمنۍ کې دغه بل ډول افراط: د طالبانو واکمنې چې "د اسلامي انقلاب بشپړتيايي پړاو" ګڼل کېږي، د اسلامي شريعت په نامه داسې فضا پر ټولنه حاکمه کړه، چې "اسلامي شريعت" يې په اصطلاح د "عمل او کمال" پوړيو ته ورساوه. داسې شريعت يې نافذ کړ چې د بشريت د ستر لارښود حضرت محمد (ص) تر زمانې وروسته بيا تر دې دمه يې چا ساری نه و ليدلی. (په سلو کې دوه سوه اسلام). په سلو کې دوه اسلام دا مانا لري، چې سل يې خپله اصلي ښه او سل نور يې د طالبانو زياته کړې برخه ده او دا ټول يې بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړه ځپلي افغانستان ته راوړی، چې پر اوسني وخت ټولو اسلامي او نااسلامي هېوادونو ته اړ دی او د همدغو اسلامي او کفري هېوادونو له خوا پر همدې برخلیك اخته شوی دی.

طبیعي خبره ده چې د طالبانو افراط نور د انفلاق او چاودنې حالت ته رسېدلی دی. ان خبره دې حد ته رسېدلې چې ډېر خلك له خپل دین ځنې واوړي، د ځینو خپرونو، اوازو او ګونګسیو له مخې تر اوسه پورې تر دوو لکو زیات افغانان عیسویان شوي او دا لړۍ لا دوام لري. د UNHCR په دفتر او د بهرنیو هېوادونو په سفارتونو کې ګڼ شمېر افغانانو داسې کیسونه هم ثبت کړي دي چې موږ اسلام پرېښی او عیسویان شوي یوو، طالبان موږ وژني، نو ځکه باید موږ ته پناه راکړای شي.

ګڼ شمېر کسان د طالبانو له وېرې لمانځه ته ځي، دې کې داسې کسان هم لیدل شوي، چې بې اوداسه لمانځه ته تللي دي، مقصد له طالب نه یې ځان خلاص کړی دی. ږیرې هم همداسې درواخله، چې ډېرو زیاتو کسانو له وېرې پرې ایښې، په سلو کې تر پینځه ویشتو زیاتو کسانو چې نوې یې ږیرې پرې ایښې دي، څرګنده کړې چې ږیرې یې نه د اسلام او نه د خدای (ج) د رضا لپاره پرې ایښې دي، بلکې د خپلې حیا او عزت لپاره یې پرې ایښې دي، ځکه چې طالبان د ږیرې له خاطره د چا د حیا او عزت خیال نه ساتي، مانا دا چې اوس زموږ په ټولنه کې د انسان کرامت او عزت د هغه تر ږیرې ډېر راټیټ دی. ځینې کسان پر طالبانو باندې دا اعتراض هم لري، چې هر انسان د لوی خدای(ج) پر وړاندې مسوول دی، نه د طالب پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې، سزا او ښښنه يې هم د خداى(ج) کار دى، خو طالبانو د خداى(ج) د بنده ګانو د سزا مسووليت پر خپله غاړه اخيستى، خو کله چې د ډوډۍ او نفقې مسئله رامنځته شي، نو بيا وايي: ((والله خير الرازقين)) (الله روزي رسان دى)، [ولې يې له خدايه نه غواړئ چې له موږه يې غواړئ]. نو دې ښاغلو طالبانو ته بايد وويل شي چې د ړيرې کار خو هم د خداى(ج) او بنده تر منځ خبره ده، نو ستاسو په کې څه کار؟ خو د ډوډۍ او کار پيدا کول لا د اسلام له نظره پر خليفه باندې د ولس حق دى.

ځينې پر طالبانو باندې بل انتقاد هم کوي، چې په اسلام کې يوازې د عبادت برخې ته افراطي پاملرنه کوي او د ژوند نورې برخې ترې پاتې دي، په داسې حال کې چې اسلام د تعادل دين دى او د ژوند ټولو برخو ته يې د پاملرنې وړانګې رسېږي، خو دوى د نورو برخو مخه ډب کړې، ولس يې يوازې پر عبادت مکلف کړى او خپله همداسې په راټولولو کې دي؟

له امامته تر رياسته او له مدرسې نه تر رشوته، ټول کارونه خپله تر سره کوي، د ورځې خرڅ يې پر دولت حواله دى او د شپې يې پر ولس. د ترافيکو رياست، د ښاروالى د تنظيفاتو رياست، د روغتونونو رياست، د برېښنا رياستونه، بانکونه او نور ټول مسلکي ځايونه چې د هغو د پر مخ بيولو لپاره ډېرو مجربو مسلکي کادرونو ته اړتيا ده، ټول ملا صاحبانو نيولي دي، ايا په ټوله افغاني ټولنه کې لس مسلمان انجنيران نه شته، چې لس مسلکي رياستونه ورته ورکړل شي، يا لس مسلمان ډاکټران او ان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ښه مسلمان ترافيکان نه شته، چې هر يوه ته خپل مسلکي پوست ورکړل شي؟ "د کار اهل ته د کار سپارل" خو لا د اسلام يو لارښود رکن دی که دا نه وای، نو څه حال به و؟

که ولس د ژوند په هره برخه کې لکه ټلوېزيون، انټرنېټ، هنر او يا کوم بل ژوندی شی وغواړي نو ملا صاحب بيا سم له لاسه وايي چې دا خو بدعت دی، ټلوېزيون د دجال ښښه ده، تصوير حرام دی، خو خپله چې پېجېرو، ډاډسونو او نورو نويو موټرو کې ګرځي، ګرځنده موبايل ټيليفونونه کاروي، هغه بدعت نه دی، لنډه دا چې د ملا صاحب او طالب په افراطي واکمنۍ کې ولس نور تر پوزې راغلی دی. که چېرې د کوم بهرني فشار، يا کورنيو مخالفتونو او يا هم د ولس د پاڅون په نتيجه کې طالبان په زور او يو ناڅاپي ډول راوپرځول شي، نو زموږ ټولنه به يو ځل بيا په بل چپي افراط کې راګيره شي او هغه افراط به د طالبي افراط سخت غبرګون وي، چې کېدی شي په دې لاندې برخو کې يې اټکل کړو:

## ږيره:

لږ تر لږه درې مليونه افغانان به چې د طالبانو د زيات فشار او ټينګار له امله يې ږيرې پرې ايښې، خپلې ږيرې به پر يوه ورځ کلې کړي او دا به د نړۍ د ټولو ولسونو د ږير خرينې په تاريخ کې يو بې سارې ريکارډ وي، چې افغانان به يې ټينګ کړي، لکه څنګه چې اوس د طالبانو په زور، افغانانو په نړۍ کې د ږيرو پرېښودلو يو بې سارې ريکارډ ټينګ کړی، داسې به يې په خريلو کې هم ريکارډ ټينګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بد حجابي:

د سخت بنديز پر وړاندې بې کنټروله ازادي رامنځته کېږي، د يوې ډېرې سختې بد حجابۍ د رامنځ ته کېدو وېره شته، د مخنيوي لپاره به يې هم څه امکانات ځکه نه وي، چې د حجاب دوران به تېر شوی ګڼل کېږي او پلويان به يې محکوم وي، دا به په لويو ښارونو کې ډېره زياته بد اخلاقي رامنځته کړي.

## مذهبي او عقيده يي خلا:

يوه لويه مذهبي او عقيده يي خلا به رامنځته شي، ځکه چې د مذهب په نوم واکمنو به له مذهب څخه د خپلې واکمنۍ پر وخت د خلکو زړونه تور کړي وي، دې کې به مغرضو اشخاصو او د نورو اديانو پلويانو ته هم لاره اواره شي، چې په افغاني ټولنه کې اسلام ضد پروګرام پلی کړي او خلك د ژوند په تضمين نورو اديانو او مذهبونو ته واړوي.

## د ملا او طالب عاقبت:

دا يو ښکاره حقيقت دی، چې ملا او طالب زموږ په ټولنه کې له اقتصادي پلوه يو نتلی او اسکيرلی پاړکی دی، چې د ژوند د خړوب له پلوه د ولس پر اوږو بار و او د ديني نصيحت، وعظ او اخلاقي لارښوونو له درکه يې خپل ژوند خړوباوه، خو کله چې پر ولس واکمن شول، نو بيا يې د کلونو اقتصادي عقدې تېس له خپل ولسه ووېست، د دې لپاره چې د خپل فقر عقده خړوب کړي، په داسې ګاډو کې سپاره شول، چې په تصور کې يې هم نه ګرځېدل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د دویم او دربیم واده په لته کې شول، دغه اوسنی اقتصادي برلاسي او هغه پخوانی اقتصادي تنګلاسي او له خلکو سره اوسنی ناوړه چلند به له ولس سره د ملا او طالب راتلونکې ګوزاره سخته کړي.

## ځچ:

زموږ ټولنه یوه قبیله يي ټولنه ده، غچ، انتقام او بدل اخیستل د قبیله يي ټولنې یوه مهمه ځانګړنه ده، په اوسني وخت کې ملا او طالب داسې څوك نه دي پرې ایښي چې یا يې په ږیره، ویښتانو، لمانځه، عشر، لباس، مسلك، وسلې او یا هم نورو ګڼو مسایلو نه وي ځورولي، څرنګه چې افغانستان کې سیاسي دښمني او یا د مذهب په نامه د نورو توهینول هم پر شخصي دښمنۍ بدلېږي، نو طالبانو خصوصاً د امر بالمعروف کسانو داسې ډېرې دښمنۍ ځان ته کرلي دي، چې راتلونکي کې به يې اغزنه نتیجه تر لاسه کړي.

## د حل لاره:

سره له دې چې طالبانو تر خپلې واکمنۍ وروسته وختونو کې په خپلو کارونو کې دومره افراط وکړ، چې خلك يې د کرکې تر بریده له ځانه خوابدي کړل، خو بیا هم دوی ستر او لوی کارونه تر سره کړل چې سترګې ترې پټېدی نه شي، په سلګونو او زرګونو وړې او لویې پاچاهۍ، قومندانواکۍ، زورواکۍ او پاټکسالارۍ يې ختمې کړې، هېواد يې له تجزیې څخه وژغوره، سوله يې ټینګه کړه، د واك یوه سرچینه او مرجع معلومه شوه. خو د دې لپاره چې دا ټولې بریاوې بېرته له لاسه ور نه کړي، د هغو نورو پر برخلیك اخته نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا دومره ستري سوبې بېرته په ړېره یا بلې ورې خبرې باینلي او ټول وخت همداسې په ړېره کې ګير پاتې نه شي، نو ښه به دا وي چې دوی په خپلو ټولو عملونو او چلندونو کې نرمښت او بدلون راولي او هغه هم سم نرمښت او مثبت بدلون.

چې ټګي کړې د دنیا لپاره جوړه
حـــذر بویه له دې هسې طالبانو.

عظیم رانیزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چې طالبان سقوط شول

## (درې ورځې په کابل کې)

زه د طالبانو تر سقوط وروسته درې ورځې په کابل کې وم او بیا پېښور ته د خپلو فرهنګي کارونو لپاره لاړم، دا زما د همغو درې ورځو یادښتونه دي، چې بیا په هیله مجله کې هم چاپ شول.

دسه شنبې ورځ کله چې سهار له خوبه پاڅېدم، نو راډیو مې چالان کړه، دسهار پر ۵,۳۰ بجو بي بي سي راډيو وويل، چې دشمال ځواکونه دکابل ښار ۶ کیلومترۍ ته رسېدلي دي او قوماندانانو یې هوډ کړی دی چې کابل ونیسي.

دهمدې سه شنبې پر شپه طالبانو له کابل نه خپل پوځونه په منظم ډول دجنوب، شرق او غرب پر لوري وکښل، طالبانو چې دشپې پر ۸ بجو دخپلو قطعاتو ایستل پیل کړي وو، دسهار تر ۶ بجو پورې په منظم ډول له ښاره ووتل. دسهار تر شپږوبجو وروسته په کابل ښار کې یو ځل بیا لوټ او تالان ګډ شو، ښځو، نرو، ماشومانو او ځوانانو زیاترو پر هغو دفترونو او ځایونو یرغل وکړ،چې د ډول ډول موادو هیله ترې کېده، دلوټ او تالان دا برید چې دسهار پر ۶ بجو پیل شوئ و، ددې لیک تر لیکنې یانې ۱۰ بجو پورې یې دوام درلود ، یوې ښځې په داسې حال کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چادري يې له سره لرې کړې وه، د اوړو يوه بوجۍ يې پر اوږه وه چې دمخ دواړه خواوې يې پرې سپېرې کړې وې، داسې ښکارېده چې د وړو بوجۍ يې کله يوې اوږې ته اړولې وې او کله بلې ته، نو ځکه خو يې مخ ورته سپېره کړی و، هغې سره اوس د طالبانو د امر بالمعروف دکسانو وېره نه وه چې مخ يې لوڅ دی او که پټ، يوازې پردې خوشاله ښکارېده، چې د وړو بوجۍ يې په نصيب شوې ده.

يوې بلې ښځې د غوړيو دوه پيپونه يو پريوه اوږه او بل يې پر بله اوږه ايښي وو، يو ماشوم سره څو ګيلاسونه وو او بل سره دلاټين ښيښه، چا سره يو ډول فرشونه او ځينو سره ډول ډول کارتنونه، چې سړی نه پوهېده څه به په کې وي، خو چې په نوم بنيادم دې ليده يو شی پرې بار و.

موږ په شش درک کې د خپل کوربه له کور څخه ووتو او دهغه لوی سړك څنډې ته نږدې ودرېدو چې له شش درك څخه مستقيماً درېيم مکروريانو ته غځېدلی دی، زه د همدې شش درك له څو تنو نورو اوسېدونکو سره ولاړ وم او دخلکو بهير مو کاته، ولاړ خلك هم خورا هك حيران وو، يوه يې په کې دا هم وويل چې ياره څه طالبان وو، چې چا ترې سوڼ هم نه شول کولای، کله چې هغوی کابل ونيوه، نو ستن هم ضايع نه شوه. خو اوس دادی بېرته هماغه حالت تکرار شو چې دمجاهدينو په راتګ سره راغلی و، په همدې ځای کې دپوليسو يو ماموريت هم و چې اوس په کې طالبان نه وو او تش و، خو له ماتو دروازو او کړکيو څخه يې ښکارېده چې يو تن په کې پر کار بوخت دی او څه راټولوي، يوه دقيقه وروسته يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کس غلی راووت اوله یوې غوټې سره دکوځې پر لوري وخوځېده، څو دقیقې وروسته دوه درې کسان راغلل، دوو سره دوه پخواني سرپوښ توپکونه وو، دوی په دري ژبه خبرې کولې او ځانونه یې شمال ائتلاف ته وفادار کسان معرفي کول، دوو یې اخوا دېخوا منډې کړې او له یو څو کسانو څخه یې دغلا مالونه راتاو کړل او ماموریت کې یې کېښودل، ددوی شمېر لږه شېبه وروسته لس دولس کسانو ته ورسېده او تقریباً په څو دقیقو کې یې له پنځوس شپېتو کسانو څخه مالونه راتاو کړل او ماموریت کې یې کېښودل، بیا ماموریت ته دهمدې کسانو وتل ننوتل پیل شول، څو شېبې وروسته یو کس بار له ماموریت څخه را ووت او بل پرې له لرې غږ کړ: "چیست وبچه، کی استي؟" خو دماموریت ددروازې ترڅنګ ولاړ یو کس پرې غږ کړ:" ازخود است".

سړی غلی شو، دا کار یو دوه ځله بیا هم تکرار شو، دغلا دا بهیر ظاهراً دشش درك او دربیم مکرویان ترمنځ پروت، دحکومت په لوژستیك ریاست کې پیل شوی و، همدلته د استخباراتو څو نورې ادارې هم شته، غالباً چې هغه به هم لوټ شوې وي، ما چې له څو تنو سره دغلا دبهیر دا حالات کتل نو ولاړو خلکو ډېر افسوس کاوه، سره له دې چې دې کسانو هم کولای شول دغلا ځای ته چې یوازې ۲۰۰ متره لرې و، لاړشي او څه ترې راوړي، خو دا کار ورته ډېر بد ښکارېده او هغو خلکو ته یې هم بد بد کتل چې غلا یې کوله، په همدې شېبه کې یوکس زموږ ترڅنګ په داسې حال کې تېرشو چې دبایسکل پر کنجوغه یې د اوړو یوه غلا شوې بوجۍ تړلې وه، سلام یې واچاوه او بیا تېر شو، سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ټيټې وې او داسې ښکارېده لکه چې ډېر بد کار يې کړی وي، دده او د ولاړو کسانو د زړونو او فکرونو ترمنځ يوه سخته دردونکې رواني رابطه ټېرو بېر شوه.

دغلا دې بهير همداسې دوام درلود او زه کورته راغلم، دغه يادښت مې وليکه، اوس چې لس بجې او پنځلس دقيقې دي غواړم يو ځل بيا له کوره ووځم او نورې پېښې هم وليکم، خو ددې يادښت تر ليکلو چې مې کوم معلومات تر لاسه کړي، هغه دادي چې دښار په نورو برخو کې هم لوټ او تالان ګډ دی. په کابل کې دپيسو ادلون بدلون يو مارکيټ( سرای شهزاده) هم لوټ شوی دی او هم په ښار کې يو شمېر نور دکانونه تالا شوي دي. همداسې هغو کسانو چې له ښاره شش درك ته راغلي وو، وويل چې په ښار کې هم سخت لوټ او تالان ګډ دی، بانك چور شوی، دفاع وزارت، قول اردو، پاميرسينما، شاوخوا ځينې دولتي ځايونه او ګودامونه لوټ شوي دي. يوه کوچني هلك چې له کوم دولتي دفتر څخه يې غالۍ پټه کړې وه او په لاره کې روان و، يو وسله وال پرې برابر شو، ټوپکي ورته وويل: کجا ميری؟ هغه و ډار شو ورته يې وويل: "اگر خودت کار داری، بريت ميپرتم" ټوپکوال ورته وويل: ((پرتو.)) هغه غالۍ واچوله او ټوپکوال ژر قالينه پورته کړه او په يوه ټکسي موټر کې يې واچوله او پر خپله مخه لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز دشش درك په ماموريت كې هغه مالونه چې له تالانګرو څخه راګرځول شوي وو، له همدې ماموريت څخه په يوه كراچۍ كې بار او دځو تنو له خوا يوړل شول.

زه ۱۰ كم ۱۱ بجې له شش درك څخه دڅلورم مكرويانو په نيت وخوځېدم او غوښتل مې دكابل پوهنتون يو استاد ښاغلي غلام نبي فراهي كورته ورشم، تر نن ۵ كاله وړاندې هم دميزان پر ۵ نېټه د همدې استاد په كور كې دغرمې مېلمه وم، چې طالبانو غرمه مهال دڅرخي سيمه ونيوله او مازيګر ماښام كابل ته را ورسېدل، زه په دې نيت ددې استاد كور ته تلم چې كه هغه څه معلومات ولري او ماسره يې شريك كړي، دشش درك -مكرويانو په لاره كې د بهرنيو چارو د وزارت يو تن مامور مخې ته راغی، چې پر سره سپورتي بايسكل سپور و او په تېرو اوو ساعتونو كې يې دكابل ښار يو شمېر سيمې ليدلې وې، هغه وويل: ((زه پر ميوند جاده باندې پامير سينما ته لاړم، زياتره دكانونه تړلي وو، په دې سيمه كې چې څه دولتي موسسې وې هغه ټولې چور شوي. كلوله پشتې ته ورڅېرمه سيمې ته ورغلم، دلته مې د طالبانو هغه ډاډسن وليده چې نن شپه د امريكايي الوتكو له خوا ويشتل شوي وه او څلور تنه په كې مړه شوي وو، ډاډسنه ټوله سوې وه، دمړو اندامونه هرې خواته پراته وو، ده وويل چې د افغانستان بانك لوټ شوی و، له هغه ځايه د نوي ښار پارك ته لاړم، هلته هم شپږ مړي پراته وو، ويل كېدل چې يو په كې عرب دی او نور پاكستانيان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکابل ښار د امنیې قوماندانۍ مخې ته هم د یوه تن طالب مړی پروت و..."، کله چې دمکروریانو سیمې ته ورسېدم ، نو خال خال خلك په کې لیدل کېدل، موټر هم ډېر کم وو، کله چې د استاد فراهي کورته ورسېدم، نو هغه په کور کې نه و او په نوي ښار کې دخپل ورور کورته ورغلی و. بیا پر دولسو بجو او ۱۵ دقیقو په څلورم مکرویان کې زموږ خپلوان و دهغوی کور ته ورغلم، هلته زموږ یو بل خپلوان دعامې روغتیا وزارت د چور خبر هم راکړ او دا یې هم وویل چې په بي بي مهرو کې پنځه تنه پاکستانیان چې چادرۍ یې پر سر کړې وې، ونیول شول، دماسپښین مهال کابل راډیو فعاله شوه، چې ملي ترانې یې خپرولې. نن څلوربجې خبر شوم چې په شهزاده سرای کې ۴۵ دکانونه لوټ شوي، په مکرویانو کې دمهاجرینو ریاست او په نوي ښار کې دشهیدانو او معیوبینو وزارت هم لوټ شوی و، ځکه چې هلته یوه زیاته اندازه مواد وو.

دمازیګر پر ۳,۳۰ بجو دشش درك سیمې پر یوه خامه سړك دوو ډاډسنونو کې ناست پنجشېریان راغلل او د یوه سړي کور ته چې دوه شخصي موټر یې کور کې ولاړ وو، ور ننوتل، دواړه موټر یې ترې بوتلل او بیا یې په لاره کې پرې جنګ شو، یوې ډلې وویل چې موږ یې وړو او بلې ډلې وویل چې موږ یې وړو، خو په پای کې زورورې ډلې یوړل، په همدې ترخ کې یو پنجشېري غږ کړ "ببرش، مال اوغان است".

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ماليې وزارت کې هم دموټرو پر سر جګړه پېښه شوه. دهمدې ورځې پر ۶بجو په کابل کې افغانستان راډيو چې طالبانو ورته دشريعت غږ راديو نوم ورکړی و، بېرته دافغانستان راديو په نامه ياده شوه او پر ۶بجې په کې په فارسي ژبه لنډ خبرونه وويل شول، چې يو په کې د امنيت په باب يو خبر، بل د طالبانو له خوا دشلتړنو موسسې د ۸ تنو بهرنيو کارکوونکو دبيولو په باب يوخبر او بله يې هم د ملي بس دتصدۍ خبرتيا خپاره کړل. په راډيو کې تر پنځو کلونو وروسته ښځينه ويندويانو هم خبرې وکړې.

دچهارشنبې ورځ دسهار پر ۷ بجو او ۵۰ دقيقو ښاغلي محمد يونس قانوني له افغانستان راډيو څخه د افغانستان د اسلامي دولت دعالي شورا دغړي او دکابل د امنيت دعالي کميسون د مشر په نامه خپله بيانيه واوروله، په دې بيانيه کې يې دافغانستان خلکو ته دکابل او هېواد دنورو سيمو دنيولو په باب مبارکي ورکړه او ويې ويل چې دا "دلوی مسعود" د اتلوليو نتيجه ده، طالبان يې د پرديو ګوډاګيان وبلل او دا يې هم وويل چې موږ خو کابل ته نه راننوتلو، خو څرنګه چې دلته شريرو عناصرو د ښار امنيت ګډوډوه، نو ځکه موږ دلته راننوتلو، خو ده دا ونه ويل چې ولې يې درنې وسلې او پوځي قطعات دکابل هغو برخو کې ځای پر ځای کړل چې پنځه کاله دمخه يې په هغو ځايونو کې طالبانو سره سختې جګړې کړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکابل دنیولو پر دربیمه ورځ ښار ته ګڼ شمېر شمال پوځونه را ننوتل، چې دکابل پر ځلورو دروازو یانې خپله د خیرخانې کوتل، چهاراسیاب، ځرخې پله سیمه او ارغندې واټ (چوك) کې ځای پر ځای شول، دا ددې مانا لري چې دوی نه غواړي له کابل ځخه ووځي، داسې اټکل شته که سیاسي حل پیدا نه شي، نو کابل به یوځل بیا دجګړو مرکز شي، خو پر همدې ورځ خبر شوم، چې په کابل کې پرون ورځ دفواید عامې وزارت او په کابل کې د افغاني سرې میاشتې ګودامونه هم لوټ شوي دي.

نن سهار لس بجې دشش درك په سیمه کې یو تن په داسې حال کې په وینو سور روان و، چې شاوخوا تري ګڼ شمېر وسله وال کسان روان وو، ما چې دهمدې ځای له خلکو ځخه، چې د همدې شخص دخلاصون په هیله شاته ورپسې روان وو، وپوښتل چې څه پېښه ده؟ دوی وویل دا یې په دې جرم نیولی دی چې طالب دی، خو موږ ورته قسم خورو چې طالب خو لا څه والله که خو به یې تر اوسه لونګۍ هم پر سر کړې وي، دا چې پښتون دی ځکه یې وهي، وینې پرې بهوي او بیا یې یې.

نن غرمه مې واورېدل چې په کابل ښار کې شپږ تنه نور هم وژل شوي او موټرې ترې وړل شوي دي. دا پېښې په داسې حال کې کېږي، چې دکابل غرب سیمې په باب لا تر اوسه حالات ډېر روښانه نه دي، ځکه هلته دوحدت حزب ځواکونه مېشت دي او ټاکل شوې وه، د هغوی یو زر تنه جنګیالي نن له بامیانو نه کابل ته راشي، خو داسې ویل کېږي، چې په میدان ښار کې دجهادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوماندان موسی خان له خوا يې مخه نيول شوې ده، دغه راز ويل کېږي چې دکابل اوسنۍ ادارې موسی خان ته ويلي، چې خپله وسله کابل ادارې ته ورکړي او هم وحدت حزب ته اجازه ورکړي چې کابل ته داخل شي، خو موسی خان دا خبره نه ده منلې او ويلي يې دي، چې زه يو جهادي قوماندان يم، دا وسله دملت ده او هر کله چې په افغانستان کې ملي دولت جوړ شو، زه به هغه وسله ورکړم، اوس ولس پر ما باور کړی او موږ ټول دروم يا ظاهر شاه دسولې د بهير ملاتړ کوو.

پر همدې ورځ درېيو تنو وسله والو په پل باغ عمومي کې يو ټکسي ډريور او يو بل تن چې هغه سره ترڅنګ ناست و، دکلاشينکوف په ډزو وويشت، ټکسي چلوونکی ځای پرځای مړشو او دويم تن سخت ټپي شو، درې واړه وسله وال کسان وتښتېدل.

نن مازيګر په ښار کې دا اوازه هم وه، چې ګڼ شمېر انګليسي ځواکونه دکابل په خواجه رواش هوايي ډګر کې راکښته کېږي. دغه راز کابل ته دشمال اتحاد داخل شوي قوتونو نن کابل ښارکې خپلو تشکيلاتو او مقرريو ته دوام ورکړ، دوی دکابل ښار دټولو امنيتي حوزو امرين پنجشېريان وټاکل، دغه راز يونس قانوني د کورنيو چارو وزير ، جنرال فهيم ددفاع وزير ، ډاکټر عبدالله دبهرنيو چارو او عبدالحفيظ منصور د اطلاعاتو او کلتور وزير په توګه ټاکل شوي دي. دخاد ددرېيمې ادارې ريس او ځينو ادارو لپاره هم پنجشېريان ريسان ټاکل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهمدې ورځې په ماښام خبر شوم، چې کابل ته د راننوتو پر وخت دنظار شورا دیو قوماندان بصیر سالنګي له خوا دسالنګ یو بل قوماندان اغا شیرین سالنګی چې څو کاله مخکې طالبانو ته را اوښتی و، دخیرخانې په کوتل کې په داسې حال کې ووژل شو، چې ددوی هرکلي ته ورغلی و، اغا شیرین له امان الله ګذر سره پر خبرو اترو بوخت و چې ډزې پرې وشوې او د ډزو په ترځ کې هم اغا شیرین سالنګی او هم محمود سرخه ووژل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایا ټول پښتانه طالبان دي؟

د تومتونو یار دې زه یم
د پتاسو دستمال دې بر کلي ته ځینه

دا لیکنه د طالبانو تر سقوط وروسته په مستعار نامه د هیلې مجلې د ۱۳۸۱ل کال په (۱) ګڼه کې خپره شوې ده.

دا خو ټولو ته څرګنده ده چې پښتانه په افغانستان کې ښه ټاکونکی اکثریت دي او د هېواد په سیاسي او ټولنیزو بدلونونو کې پرېکنده رول لري، خو ددوی پر وړاندې د نورو له خوا ځینې تعبیرونه او نظرونه پوره دقیق نه دي، یا له ناخبرۍ دا نظرونه وړاندې کېږي او یا هم د پښتنو پر وړاندې قصداً داسې نظرونه او تعبیرونه تبلیغېږي، چې واقعیت نه لري. پر افغانستان د پښتنو (۲۵۰) کلنه واکمني، هر چارواکی او زورواکی او د هرې سیاسي ډلې مشر د پښتانه ټبر د استازي په توګه انګېرل، هغه مسایل دي چې کله څوک یې ژورو ته متوجه شي، نو له واقعیت سره انطباق نه لري، د ساري په توګه پر افغانستان باندې تېره دوه نیم سوه کلنه واکمني، که موږ یوازې پښتنو ته منسوب کړو، نو بیا هغه قوت او هغه خلك څوك وو چې په دفتر او دربارکې یې دعام پښتانه څه چې ان د واکمن ژبه هم تړلای او اړولای شوه، ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې مانا داده، چې په تېره دوه سوه کلنه دوره کې هم، پښتانه پوره حاکم نه وو، ان له فرهنګي او ژبني پلوه تر ستم لاندې وو.

خو دا ټوله دوره اوس د ځینو له خوا د پښتنو د واکمنۍ په نامه حسابېږي، له درې، څلورو لسیزو را په دېخوا د هېواد په سیاسي لوبو کې هر شخصیت او هره ډله چې د واك پر ګدۍ ناست دي، نو هغه وخت یي هېڅکله هم پښتو او پښتنونواله نه ده یاده کړې، چا د خپلې طبقاتي مبارزې د اصولو خلاف ګڼلې او چا د خپلې عقیدې پر وړاندې شرك ګڼلې، خو دا بې ژبې نسلي پښتانه چې کله د واك له ګدۍ را پرځول شوي، نو بیا ور پورې د پښتون نوم تړل شوی او هر کړی بد کار یې په ټول پښتانه ټبر پورې تړل شوی، خو د قدرت پر ګدۍ، خلقي، اخواني او طالبي پښتون یوازې خلقي، اخوانی او طالب و، هره یوه خپله لاره لرله، پښتو او پښتانه یې د ایډیالوژۍ او فکر په چاپېریال کې نه ځایېدل. همدا خلك چې را پرځول شوي، نو بیا ددوی د عملونو ټس له پښتنو څخه اخیستل شوی  او کفاره یې پښتانه ولس ورکړې ده. ښه به وي چې یو څو بېلګې هم وړاندې کړو:

۱. **د خلقي پښتنو پړاو:** په خلقي پړاو کې د طبقاتي مبارزې شعار او بازار ډېر ګرم و، دوی د نړۍ د کارګرانو پیوستون غوښته، نه د پښتنو یووالی او ښېرازي، په دې پړاو کې یو شمېر ملتپال پښتانه دوی ته د مبارکۍ، مشورې او ځینو اصلاحاتو لپاره ورغلل، دوی هغه د افغان ملتیانو په تور بندیان او په سزا محکوم کړل، د هغه لست له مخې چې خلقیانو د وژل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شویو افغانانو په باب خپور کړ، پښتانه په کې غوڅ اکثریت دي، ځکه چې په پښتون مېشتو سیمو کې د اخواني ډلو تحریك او تحرك ډېر زیات و.

کله چې روسانو پر افغانستان یرغل وکړ، حفیظ الله امین یې وواژه او پرځای یې خپل مسلکي غلام ببرك کارمل دکابل پر تخت کېناوه، نو د کارمل لومړۍ وینا دا وه چې: " رژیم خون اشام وفاشیستي حفیظ الله امین برای ابد از بین رفت". د امین د فاشیستۍ ثبوت دا و چې د خلقیانو د واکمنۍ پر مهال زیات پښتانه وژل شوي وو، بیا نو دوی د شوروي د ملاتړ تر سیوري لاندې په ټولو دولتي ادارو کې د پښتنو دکمولو پر پروژې پیل وکړ. اکثره پښتانه یې د امین د باند د غړو او فاشیستانو په تور له کاره ګوښه او یا هم د رتبې له مخې تنزیل کړل. د کارمل د دورې په پای کې د یوې شمېرنې له مخې له پوځ پرته په نورو دولتي ادارو کې د پښتنو ټول شمېر په سلو کې (۱۳) ته رسېده. په همدې دوره کې چې به هر چا له هره ځایه پر روسي پوځونو ډزې کولې، نو د پرچم ډلې او په تېره بیا ددې ډلې مربوطو ترجمانانو به روسانو ته ویلې چې دا خو ټول پښتانه دي، هغوی به نو بیا د پښتنو سیمو ته توپونه اړم کړل، خپله د روسانو لېوالتیا هم همدا وه، همدا کورنی او بهرنی عامل ددې سبب شو، چې ډېر پښتانه د امین د باند او مجاهدینو په تېره بیا د ګلبدین حکمتیار د ډلې د پلویانو په نامه له منځه یوړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي دورې ان اوه نيم کاله دوام وکړ، بلاخره خبره د ډاکټر نجيب الله واکمنۍ ته ورسېدله، دده په راتګ سره داسې تصورکېده چې پر پښتنو به پخوانی ظلم او فشار کم شي، په ځينو برخو کې دا فشار يو څه کم شو، خو په ځينو برخو کې د پخوا په پرتله هم زيات شو، علت يې دا و چې د روسانو اوږده ستراتيژي نه وه بدله شوې، ډاکټرنجيب له دومره ناوړه احتياطه کار اخيسته چې په سلو کې يې ۹۵فيصده خبرې په دري ژبه کولې او د هېواد لږه کيو ته يې تر حده زيات امتياز ورکړی و، د هېواد ملي انډول يې خراب کړی و، خو هغوی بيا هم دی معاف نه کړ، د جبل السراج د تړون له مخې يې دده حکومت ړنګ کړ او جنرال دوستم په پای کې وويل چې: "نجيب يك فاشيست بود".

۲. **اخواني پړاو:** پښتنو اخواني ډلو په ځانګړې ډول اسلامي حزب د خپلې مبارزې له پيله له قوميت سره دښمني لرله، په تېره بيا د جهاد په کلونو او د واك پر مهال يې ډېر د کار پښتانه له تېغه تېر کړل. قوميت ددوی د ايډيالوژۍ په دايره کې نه ځايېده، خو کله چې پښتانه اخواني ګروپونه په تېره بيا اسلامي حزب کمزوري شول او د واک له صحنې څخه وايستل شول، نو ددوی مخالفينو، (جميعت او نظار شورا) ډېرپښتانه ددوی په تور له منځه يوړل، هرڅوك به يې چې خوښ نه شو، نو ورته ويل به يې: " تو ګلبديني استي". جميعت او شورا نظار سره د مجاهد او ملحد د توپير خبره مطرح نه وه، په اصطلاح دوی کې هغه د چا خبره ګرد سره مجاهدين او ملحدين نه وو، ټولو يوه قومي لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولې وه، یوازې دقومیت او ژبې پر شعار راټول وو، یو وخت خو داسې راغی چې رباني او مسعود نېغ په نېغه د روس له ګرېوانه (کولابه) سر راوکښنه . کله چې د طالبانو اسلامي تحریك د ربانې د جمیعت او د مسعود د نظار شورا پرضد جګړه پیل کړه، نو جمیعتیانو او د هغو بهرنیو ملاتړو تبلیغ او هڅه کوله، چې دې جګړې ته قومي رنګك ورکړي، طالبان چې اصلاً د مذهبي ولولې له مخې راپاڅېدلي وو، پر ملي او قومي مسایلو یې سر نه خلاصېده، په لومړي سر کې خو د حکمتیار د اسلامي حزب د له منځه وړلو لپاره ورته کندهار ته استاد رباني ښې بې درېغه پیسې هم ور ولېږلې، کله چې طالبان میدان ښار ته راغلل، نو مسعود ورته ورغی، خپله تومانچه یې ورته پر مېز کېښوده او ویې ویل:" صیب ما خو یك عسکر استیم اول غم حکمتیاره بخورید"، خو کله چې طالبان دوی سره مخامخ شول، نو بیا یې د پښتو او فارسي د جنګك تبلیغ ته زور ورکړ. طالبان هم لکه د اسلامي حزب په شان سوچه مذهبي حرکت و، قومیت او ملتپالنه یې یو شرك ګاڼه، د طالبانو امیرالمومنین ملا محمدعمر مجاهد خپلو انډیوالانو ته په خصوصي ډول ویلي وو: "هغه څوك چې ډېر د پښتو، پښتنو او ملت چیغې وهي یو څو تنه یې په دار کړئ چې نورو ته د عبرت درس شي".

له پښتنو سره د طالبانو بې تفاوتي، بدچلندي او ددوی د ملي شعور نشتوالی له دې څخه هم ښکاري، چې ډاکټر نجیب الله یې د خپلې واکمنۍ په پیل او قومندان عبدالحق یې د خپلې واکمنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې بې درنګه ووژل. دا چې ډاکټر نجیب الله او قومندان عبدالحق سره څومره د پښتنو درد و دا بېله خبره ده، خو وژل یې د طالبانو د ملي شعور د نشتوالي ثبوت دی، خو برعکس قومندان اسمعیل خان ژوندی ساتي او ددې دوو نورو غوندې چلند ورسره نه کوي. طالبانو د خپل واك په پای کې دا هم ونه کړل چې واك ملي خلکو ته پرېږدي، کله چې د نظار شورا ځواکونه د امریکایي الوتکو تر وزرونو لاندې کابل ته ننوتل، نو یو ځل بیا یې خپل همغه تېر خصلت تکرارکړ، له لوټ او تالان نه نیولې، ددولتي واك تر انحصاره پورې ټولو چارو ته یې لاس واچوه، پښتانه یې د طالب او القاعدې په نامه له کاره ګوښه کړل او پرځای یې له یوې مخې دیوې ولسوالۍ خلك او نور پښتون ضد عناصر مقرر کړل.

اوس یې نو د روسانو په شان له امریکایانو سره هم ښه غوړه یارانه پیل کړې، لکه څنګه چې هغه وخت پرچمیانو روسانو ته راپورونه ورکول او د پښتنو سیمي یې د مجاهد مېشتو سیمو په نامه څپلې، اوس اوس شورای نظار امریکایانو ته راپورونه ورکوي او د پښتنو سیمې ورته د طالب مېشتو سیمو په توګه ور معرفي کوي، دوی ته اوس ټول پښتانه طالبان دي، خپله هغه خبره یې اوس هېره ده چې ویل به یې" طالبان یك جنبش خود جوش است" او یا "ما یك عسکر استم اول غم حکمتیاره بخورید". اوس یې د طالبانو د عملونو د کفارې بار د پښتنو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوږو ايښی دی، امريکايان هم د افغاني ټولنې پر داخلي جوړښت يا سم نه پوهېږي او يا هم خپله نه غواړي سر يې پرې خلاص شي.

که چېرې دا حالت همداسې دوام پيدا کړي، نو پښتانه به مجبور شي د ځان د خلاصون او ژغورنې په خاطر هرې ممکنې وسيلې ته لاس ور واچوي، بيا به امريکايانو ته هم ډېره گرانه وي چې پر حالاتو کابو شي، د طالبي جگړې پر ځای به يوه ملي جگړه پيل شي. امريکايان به مجبور شي چې افغانستان پرېږدي او يا تر پايه يوې اوږدې جگړې ته چې د ويتنام تر هغې به ډېره زيانوونکې وي، دوام ورکړي. خو که چېرې امريکايان ووځي او يا يې هم تر اوسني حالت يې پاليسي بدله شي، د نظار شورا حالت به څه وي؟ طبيعي ده چې تر هغه بل ځل نه به بدتر وي، هغه بل ځل خو د ټولنې يوازې يو قشر يانې طالب راپورته شوی و او دوی يې ټول په غارونو نونيستل، خو که دا ځل ټول قومونه راپورته شول، نو داځل به چېرته ترې خلاص شي، خو مخکې تر دې چې حالات دې حد ته ورسېږي او يو ځل بيا په هېواد کې ډېرې وينې تويې شي، ښه به وي چې هم امريکايان د پښتنو پر وړاندې په خپله پاليسۍ کې تغير راولي او هم نظار شورا له قومي تعصب او د واک له انحصار نه تېر شي، ټول يوه متعدله لاره خپله کړي، چې په افغانستان کې سوله او ثبات او يو قوي مرکزي حکومت رامنځته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# القاعده که الفایده؟

دا لیکنه د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته چې هـره خـوا کـې د القاعدې د ځینې اوازې خپرې وې، ددې ډلې پخواني پلویان اوس ددې ډلې نوي دښمنان وو او د امریکا د مرسـتو سـیلاب پـرې را خـور و، لیکل شوې او همغه وخت په هیله مجله کې چاپ شوې ده.

د سپین سترګۍ په باب خو به دا اصطلاح هرچا اورېدلې وي چې وایي:"پلانی دومره سپین سترګی دی چې له کالیو سره دې په سترګو کې راننوزي" ددې اصطلاح شننه یا شان نزول دادی چې یو سړي به یو ناوړه کار کړی وي، ټول کلی او ولس به پرې خبر وي، دی په خپله هم په زړه کې پوهېږي چې دا کار خو مې کړی، خو بیا به هم پر دې خپل کار ځان منکروي، خو کله چې ورځخه وپوښتي چې ولې او څنګه دې دا کار کړی، نو ژر به درته ووایي، چا کړی؟ زه هېڅ خبر نه یم او له ټول کړي کار سره به دې په سترګو کې راننوزي؟ دا خو لا هغه سپین سترګي دي، چې له خپل کړي کاره منکر دي او ځان نا خبره او ناګار اچوي، خو اوس داسې سپین سترګي پیدا شوي، چې نه یوازې له خپل کړي کار او عمل څخه منکر دي، بلکې هغه انجام شوی ناوړه عمل هم پر تا ، پر ما او پر نورو را اړوي، یانې غل مه نیسه چې غل به تا ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې د دوه نیم لسیزې جګړې په بهیر کې بېلابېلو او مختلفو تنظیمونو او د هغو ډلواکو او ټولواکو مشرانو تر شمېره وتي جنایتونه کړي او یو شمېر یې لا اوس هم لګیا دي د خپلو جنایتونو لړۍ غځوي. عجیبه خو دا ده چېددې ډلو رنګونه او ژبې دومره سره اوړي را اوړي چې سړی ورته حیرانېږي. پرون یې پلونه الوزول، نن ځان د هېواد معمارښيي، پرون یې جهاد افتخار باله او د روس پرضد جنګ فریضه، خو نن جهاد اشتباه بولي او له روسانو سره دوستي د ځان بقا، پرون یې دیموکراسي یو شرك باله او نن بیا ځان د دیموکراسۍ مدعیان ښیي، پرون یې په کابل کې د (۶۵) زرو کابل ښاریانو سرونه تولې کړل، خو نن بیا ځان د کابل د خلکو خواخوږي او دوستان معرفي کوي، پرون یې اسامه بن لادن په ښه شان او شوکت له سوډانه په اریانا افغان الوتکه کې افغانستان ته راوست، خو نن یې بیا د هغه د وژلو او شړلو لپاره امریکایي بمباریو ته هر کلی ووایه، پرون ورته د طالبانو جنبش، خودجوش تحریك و، خو نن بیا ورته ټول تروریستان شول. لنډه دا چې پروني شعارونه له ننیو عملونو سره سل په سلو کې مخالف دي. خو عاملین یې په ډېره سپین سترګۍ د ځان د سپینولو هڅه کوي. د ډېرې حیرانۍ خبره داده چې دا ډلې او اشخاص نه یوازې پر خپلو ژمنو او وعدو ولاړ نه دي، بلکې خپل عملونه پر نورو هم تپلای او اړولای شي، کار خپله وکړي او اړوي یې پر بل، قتل خپله وکړي خو په جرم یې بل څوك نیسي. ښکاره بېلګه یې همدا القاعده تنظیم دی، چې د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهرنیانو او همدغو کورنیانو له خوا چې دا اوس یې پرضد راپاڅېدلي، افغانستان ته رارسېدلی و. هغه وخت چې القاعده او اسامه بن لادن افغانستان ته وارد ېدل، نو نه پرې زموږ ولس خبر و او نه یې هم کومه لېوالتیا ورسره لرله، همدا تنظیمونه وو او د هغوی همدا بهرني ملاتړي، چې اسامه او القاعده یې د افغانستان لمن ته را ورسول. هغه وخت هم د اسامه راشن او خیرات همدې تنظیمونو ته چالان و او کله چې امریکایانو پر افغانستان برید وکړ او القاعده یې ډېره زیانمنه کړه، بیا هم د اسامه د ځپلو له لارې راغلې ګټه همدې جنګسالارانو ته رسېږي. زموږ ولس هغه وخت هم د القاعدې د شتون له کبله پر افغانستان باندې د لګېدلو بندیزونو زیان ګاللی دی او بیا یې د ځپلو له امله هم زموږ د خلکو کلي او کورونه بمبارېږي. اوس په حقیقت کې د نړۍ ګڼو هېوادونو او په افغانستان کې جنګسالارانو ته القاعده سازمان د عایداتو د یوې ښې سرچینې په توګه بدل شوی دی، کله چې امریکائیانو پر افغانستان برید کاوه، نو ګڼو هېوادونو لکه اندونیزیا، پاکستان، تاجکستان، ازبکستان او یو شمېر نورو هېوادونو سره یې د هغوی د همکارۍ له امله له لسګونو نېولې تر سلګونو ملیونو ډالرو مرسته وکړه، تر دې وروسته یې کورنیو جنګسالارانو او جګړه مارو ته نقدي انعام څه چې د افغانستان د حکومت واك هم وسپاره، له همدې کبله القاعده سازمان په افغانستان کې د بې قاعدې او بې سروبوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډلو لپاره يوه ښه ګټندويه وسيله وګرځېدله او له همدې وسيلې څخه درګرده خپل ژوند خړوبوي او پړسوي.

يانې دا چې القاعده سازمان دې ډلو ته، پر الفايده تنظيم او الې بدل شوی دی، د ساري په توګه جميعت او نظار شورا مړ ژواندي ګروپونه چې د طالبانو له خوا د مرګ پولې ته نږدې شوي وو، د القاعدې او امريکې د ټکر له امله بېرته را ژوندي شول او واک ته ورسول شول، خو طالبانو په دې ټکر کې خپل واک وځواک بايلود.

يانې دا چې القاعده تنظيم طالبانو ته په زيانمنونکي وسيلې او بې چوکاټه او بې قاعدې ډلو جميعت، نظار شورا او نورو ته په الفايدې بدل شو. نظار شورا نه يوازې له القاعدې نه دداسې الفايدې په توګه ګټه پورته کړه، چې ځان يې له مرګه وژغوره، بلکې له دې نامه څخه لا نوره هم ګټه پورته کوي. د نظار شورا جنګي ډله اوس خپل ټول مخالفين د طالب او القاعدې په نامه يادوي او هرڅوك چې يې خوښ نه وي د القاعدې په نامه يې تورنوي او د بهرنيو په مرسته او مټ يې له منځه وړي، کارونه خپله کوي او نوم پرې د القاعدې ږدي، قتلونه خپله کوي او وژونکي يې القاعده ښيي.

کله ډاکټر عبدالرحمن ووژني او نوم پرې د القاعدې کېږدي او کله بيا حاجي قدير ووژني پر طالبانو او القاعدې يې تاوان کړي، کله کله بيا په کابل او نورو ښارونو کې بمونه والوزوي بيا هم پرې القاعده تورنوي، عجيبه خبره داده چې په دې ټولو پېښو کې د نظار شورا هېڅ لوړ رتبه او ټيټ رتبه غړو ته کوم تاوان نه رسېږي، بلکې نورو خلکو ته زيان رسي، نو دلته پوښتنه پيدا کېږي چې طالبان او القاعده که دښمني لري، نو اساساً خو يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید نظار شورا سره ولري، نه نورو خلکو سره، نو که القاعده او طالبان هم د نظار شورا مخالفین له منځه وړي، دا خو نو بیا د نظار شورا دوستان دي، نو دوی یې باید د دښمنۍ امتیاز وانخلي. دا خبره ډېره باوري ده، چې القاعده او طالبان اوس په افغانستان کې دومره کمزوري شوي، چې د دا ډول لویو بریدونو او وژنو توان نه لري، بلکې هغه څوك ددې بریدونو توان لري چې د طالبانو پر مقام کېنول شوي دي، نظار شورا اوس دا د ځان لپاره ډېره طلایي موقع ګڼلې، چې د خپل نامشروع واك د انحصار لپاره د خپلو مخالفینو د ځپلو لپاره هر ډول ناروا کار او جرم ته لاس واچوي او بیا خپل لاسونه په طالبانو او القاعدې پاك کړي او له دې لارې فایده اوچته کړي. دوی په خپلو دې ډول هڅو غواړي امریکائیانو ته هم وښیي چې ګورئ دلته اوس هم القاعده شته، ستاسو حضور دلته حتمي دی، ځکه چې دوی اوس پردې پوهېږي چې که دا نن هم امریکائیان له افغانستان څخه ووځي، نو د ولس د غوسې او قهر له امله په کابل کې د نظار شورا د ټوپکیانو واك تر میاشتې هم نه شي غځېدلای، نو ځکه د ځینو کتونکو په نظر اوس نظار شورا هڅه کوي، چې خپله هم دا پېښې رامنځته کړي، حالات نازك او خطرناك وښیي او له امریکا څخه ډول ډول نعمتونه، سوغاتونه او انعامونه ترلاسه کړي، نو ځکه خو القاعده نوم د پخوا په شان زموږ ولس ته دیوې ګرمې لمبې او نظار شورا ته د الفایدې په مانا دی او د همدې وسیلې په توګه کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غوړه مالي په سياست کې

دا ليکنه هم د هيلې مجلې د ۱۳۸۲ل کال په (۲) گڼه کې خپره شوې ده.

ياره ژوند هم عجيبه لوړې ژورې لري، وګړي په کې هر ډول ټيټې وپاس ته مجبورېږي، هغه څوک چې د ژوند د ناخوالو دې ډول ټيټې وپاس ته سر نه ټيټوي او پر مستقيمه لاره روان وي، له غرونو سره سر جنګوي، په عامه افکارو کې دې ډول خلکو ته سرتمبه اشخاص ويل کېږي، چې د دوی په اصطلاح له حالاتو سره سازش نه کوي او خپله روزي په خپله لغته وهي، ډېر کم اشخاص د زمانې دې ډول تور وبريښ سره مقابلې ته تيار دي، خو کله چې بريالی شي، نو بيا سم بريالی وي، بيا د ټولنې نور ګڼ اشخاص پرې راټول شي او ورته وايي چې ياره ښېشکه چې ځان دې دې سختيو او کړاوونو ته ټينګ کړ، که څه هم موږ درته ډېر وويل، چې ډېر احتياط پکار دی، د ټولې کورنۍ ژوند او خپل سر ته دې خطر دی، خو تاسو د خپل ژور فکر او ټينګ هوډ پر آس سواره وئ. په هېڅ ډول خطر کې دې رای نه وهله، نو همدا علت و، چې مقصود منزل ته ورسېدی، موږ هم ستاسو تر شا ولاړ يو، هر ډول خدمت چې وي په شپه او ورځ د سر په سترګو ورته تيار يو، خو اوس هم يوه مشوره درکوو، هغه دا چې ځان سره به ډېر احتياط کوې، د سر دښمنان دې د سر تر وېښتانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم زيات دي، خدای مه کړه چې څه خواشينونکې پېښه رامنځته نه شي. چې ته نه يې بيا که ټوله دنيا موړ ته راکړي، نو موړ يې څه کړو، ته اوس سر يې سر، نه دې دي اورېدلي چې سل دې ومره خو دسلو سر دې مه مره، نو که اوس ته پر موړ لورېږې د خپل سر خيال دې ساته. په ټولنه کې لوړ مقام ته رسېدلي دا ډول اشخاص چې خپل ځان د شهرت په دې ډول ځپو کې ويني، نو ځان ترې ورک شي، ورو ورو يې منفي اړخونه پر مثبتو هغو زيات شي او د شخصيت دړنګېدو لاره يې اواره شي، کله چې دا ډول اشخاص له خپل برم او پر تمه راپريوزي، نو په ټولنه کې د نرمو او خوږو خولو خاوندانو ته يو ځل بيا د خبر بازار ګرم شي، څومره مې ورته وويل چې دا کارونه مه کوه، نو زموږ يې نه منل او د نورو يې منل، حال يې دا شو، ځينې بيا په کې دا هم وايي، ياره! ((که مې سل نصيحتونه ورته کړل- هغه خدای بې لارې کړی په لار نه شو)) ((نصيحت پر غافلانو اثر نه کا، د سړې اوسپنې خوشې ټکول دي)) ((زړګيه خوره داغونه چې زما دې نه منل- نصيب دې شول دردونه چې زما دې نه منل.)) عمومي ارزونه دا شي چې ټول مسئوليت له برمه غورځېدلي شخص پر غاړه پرېوزي او غوړه مالان له زيان او مسئوليته ځان يوې خوا ته ښه خوندي کړي، يو شمېر سياستوال او واکمن بيا داسې وي، چې غوړه مالي او غوړه مالان يې سخت بدي راځي، مخامخ ستاينه د غندنې په مانا انګېري، له همدې امله يو شمېر غوړه مالان غندي، غوړه مالي يې منع کوي او ان له دندو يې ګوښه کوي، له داسې اشخاصو سره په مقابله کې ساده غوړه مالان

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل مقام او موقف له لاسه ورکوي او يوازې هوښيار غوړه مالان خپله جاله پورې ويستلای شي، په اصطلاح دوديزه غوړه مالان ماته خوري او ځای يې ماډرن غوړه مالان نيسي، د ترکيې اوټولې نړۍ مشهور طنز ليکوال عزيز نسين په عمومي ډول غوړه مالي پر دوه ډلو وېشلې: ۱- شرقي غوړه مالي ۲- غربي غوړه مالي.

عزيز نسين شرقي غوړه مالي يوه دوديزه غوړه مالي بولي، د هغه په نظر په دې معاصر وخت کې يې نور ارزښت او اغېز له منځه تللی، په شرقي غوړه مالۍ کې ستاينه په مستقيم او مخامخ ډول تر سره کېږي، جار، قربان، بلا دې واخلم، ستا غم دې پر ما شي او داسې نور الفاظ ددې غوړه مالۍ افاده ييز لوښي دي. چې ډېر زيات سولېدلي او کليشه شوي دي، اکثره زاړه مامورين (متقاعدين) بې نوښته ليکوال اودرباري مامورين له همدې ميتود څخه کار اخلي، د عزيز نسين په نظر په اوسني وخت کې غربي غوړه مالي د زيات چلند وړ ده، په غربي غوړه مالۍ کې هدف په نامستقيم ډول انتقالېږي، نامستقيمه ستاينه چې په يو نه يو ډول په دويم يا درېيم لاس مطلوب شخص ته ور ورسېږي، پر هغه شخص ډېره اغيز ښندي، نظر دې ته چې خپله يې څوک د يو چا له خوا واوري.

لکه څنګه چې پر ماشوم باندې نامستقيمه ښوونه او روزنه زيات اغېز لري، او هغه يې بې فشاره او بې تکليفه زغملای او جذبولای شي، نا مستقيمه ستاينه او غوړه مالي هم همداسې ده، عزيز نسين هم په خپل طنز کې د شرقي او غربي غوړه مالۍ دوه عملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېلګې د ښاروالۍ د دوو مامورينو په وجود کې وړاندې کوي او وايي چې: شرقي غوړه مال د نوي ښاروال له تقرر او پېژندنې سره سم، هغه ته په دوديزه غوړه مالۍ، جار دې شم، زما د سترګو تور يې، خدای دې زما پر سر همداسې سيورى لره... پيل وکړ،نوي ښاروال له غوړه مالانو سخته کرکه لرله او دا يې د مشرانو د انحراف يو خطرناکه وسيله ګڼله، نوډېر ژر يې غږ وکړ، چوپ شه غوړه مالي مه کوه، زما له غوړه مالانو بد راځي ، غوړه مال سم له لاسه سر تر نامه پورې ټيټ کړ، او ويې ويل: ((په دواړو سترګو څه چې حضور فرمايي)) د دوديزوال تر څنګ بل ماډرن غوړه مال مامور هم تشريف درلود ، چې له مودې راهيسې يې د دوديز وال غوړه مال، غوړه مالي څارله، خو په دې ډول غوړه مالۍ کې يې مهارت نه درلود ، نو ځکه خو په ښاروالۍ کې ډېر مطرح نه و، کله چې ماډرن مامور په دې پوه شو چې د زاړه مامور زړه غوړه مالي له موده لوېدلې اودنوي ښاروال دا ډول غوړه مالي بده راځي، نود خپل نوي هنر پر تمثيل يې پيل وکړ، په غرمنۍ کې به يې د ښاروال څنګ ته ځان ورساوه، ښاروال چې به د خوراک پر وخت د څښاک اوبو ته لاس کړ، نو ده به يې لاس ونيو، لږ په نسبتاً تروه لهجه به يې وويل (( فکر کوم دا اوبه تصفيه شوي نه دي که لږ انتظار وکړې، نو تصفيه او يا جوش کړې اوبه به در کړو نوښه به وي)) ماډرن غوړه مال به د ډوډۍ پر وخت له ښاروال څخه ترکاري او نور هغه څيزونه چې روغتيا ته د خطر د پېښېدو احتمال به په کې وو، دښاروال له مخې لرې کول، اوپر روغتيا ساتنه به يې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټينګار کاوه، ښاروال ورو ورو ځان سره داسې فکر کاوه، چې والله زما نږدې دوست هم دی دی. ځکه چې هېڅوک ان زما خپله کور ودانه زما د روغتيا دومره خيال نه ساتي لکه دی يې چې ساتي. نو د ښاروال په زړه کې يې زيات منښت او ګرانښت پيدا کړ، د ماموريت له عادي پوسته يې ورو مديريت ، رياست او بيا يې خپلې مرستيالۍ ته پورته کړ، کله چې ماډرن مامور د مقام اومنزلت لوړې پوړۍ ته ورسېد ، نوزوړ غوړه مال يې يوه ورځ غلی دفتر ورغی تر دوديزې غوړه مالۍ او روغبړ وروسته يې ورته وويل: ((صاحبه زه خو په دې د زړه له تله خوشاله يم چې زما د شعبې يو مامور داسې يو لوړ مقام ته ورسېد ، چې ان زما خولۍ هم ورسره غوړو کې لوېږي، خو اوس دا راته ووايه چې زه له دې خپلې دې پنځه ويشت کلنې تجربې سره سره وروسته پاتې شوم او ته ولې په دې کمه موده کې او کمه تجربه دا دومره لوړمقام اولوړې پوړۍ ته ورسېدې؟ فقط که په دغه راز مهارت او علت مې صيب سر راخلاص کړې)).

مرستيال صيب ورنږدې شو او ورو يې غوږ کې ورته وويل: ((مامور صيب ستا غوړه مالي چې ده هغه زړه غوړه مالي ده، دې ته شرقي غوړه مالي وايي، ددې دوران اوس تېر شوی، دا مخامخ ستاينه ده او زړه شوې، ددې دوران نور تېر شوی، اوس د نوې غوړه مالۍ دوران دی،دې ته غربي غوړه مالي وايي، د غربي غوړه مالۍ يو اساسي رکن نامستقيمه ستاينه ده، ددې ستاينې يو ډول دا دی چې ته په يو داسې ځای کې د غټانو ستاينه کوې،چې په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای کې دغتهانو داسې څوک وي، چې ستا ستاینه هغه ته ورسوي، دا کار هغه ته داسې تلقینېږي، چې ګڼې دی زما رښتني دوست دی اوس پوه شوې که نه ؟ دشرقي او غربي چاپلوسي عمده فرق همدا مستقیمه او نا مستقیمه ستاینه ده هیله لرم چې اوس به دې سر خلاص شوي وي». زاړه مامور ورو دتائید سر وخوزاوه او ویې ویل: «رښتیا چې زما د غوړه مالۍ وخت تېر شوی دی». شرقي ټولنې اکثره سره ورته کلتور لري، ستونزې یې دي که نیمګړتیاوې یې دي، که ټولې سره ورته نه دي خو اکثره یې سره ورته دي، اوس راځو خپلې ټولنې ته، خپلې ښاروالۍ ته، خپل دربار ته، چې دلته حالات څه ډول دي، ورته دي او که نه دي؟ په افغاني ټولنه کې د غوړه مالۍ لړۍ د سلطان محمود غزنوي له دورې رانیولې بیا د کرزي صیب تر دربار پورې رارسېږي، د تاریخ په دې بېلابېلو پړاوونوکې دې ډول اشخاصو په ډله ییز اویا هم په انفرادي ډول خپل شخصیت تمثیل کړی دی، درباري غوړه مالانو دکار وروستۍ نتیجه دستایل شوي شخص ناکامي راوتې، د غوړه مالانو له لاسه د دربارونود رنګېدو غټ علت دا دی، چې په دربار او حکومت کې غټې او وړې نیمګړتیاوې وي، کله چې چارواکي د خپل دربار له غوړه مالانو څخه دخپل چار چلند په باب پوښتنه وکړي، چې څنګه دي حالات؟ نو غوړه مالان لاس په نامه ورته ووایي: صیبه کارونه ډېر ښه دي په دې ډول یې لومړی شخص محاصره کړی وي ، دا ډلې د ولس اودربار تر منځ حایل وي او هغوی هېڅکله د واقعیتونو لیدو ته نه پرېږدي، د دربار خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضرورتونه هم کله کله داسې وي، چې رسمي غوړه مالانو ته اړتیا لري، چارواکي په دې ډول خپلو هڅو ته د پخوا په شان دوام ورکوي اوپه پای کې ګړنګ ته برابر شي، متحدالمال غوړه مالان په ټولنه کې په عادي ډول له تقبیح او تطمیع پرته د عادت له مخې خپلې غوړه مالۍ ته دوام ورکوي.

د طالبانو د واکمنې پر مهال زما یو اشنا طالب چارواکي راته وویل: «یاره یون صیب دا د پخوانیو اخبارونو کلیکسونونه که دې راته پیدا کړي وای، چې د هغو شاعرانو او لیکوالانو نومونه مې په کې پیدا کړي وای، چې کمونستانو ته یې شعرونه ویل، چې یو څه سزا خو ورکړو»، ما هماغه وخت طالب چارواکي ته وویل: «اندېیواله کلیکسونونو او اخبارونو ته څه ضرورت دی؟ همدا خپل ورځني اخبارونه وګوره، تاسو ته چې څوک شعرونه لیکي همدغه دي او بس، همدا راونیسئ اوسزا ورکړئ، ټول مشکل حلېږي»، طالب چارواکي وویل: «دا څه وایې؟» ما وویل: «ښېخي واقعیت وایم،ځکه لکه څنګه چې ستاسو او ستاسو د نظام صفت کوي، داسې یې د تېرو هم کړی، اود سباني به هم وکړي، هغه شاعران چې تاسو نه ستایي، تېر نظامونه یې هم نه دي ستایلي اوسباني به هم ونه ستایي»، چارواکي وویل: «موږ خو یوه ایډیالوژي لرو، خلک موږ د خپلې ایډیالوژۍ له خاطره ستایي». ما وویل چې ایډیالوژي خو په واک پورې منحصره نه ده، طالب خو تر واک د مخه هم ایډیالوژي لرله، ولې چا نه ستایه، چې اوس یې ستایي؟ دا ټول د قدرت برکت دی، د ایډیالوژۍ نه دی، بل هر نظام ځانته یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایډیالوژي یا شعار لري، غوړه مالان او د سست فکر خاوندان ډېر ژر دې ډول ایډیالوژیو ته ور تسلیمېږي، کله چې دا شعارونه د زور سرچینې له لاسه ورکړي، شعارونه خپله اتومات رنګ شي، طالب چارواکي یو ځل بیا وویل: ((ولله رښتیا دې وویل، خو یوه خبره ده، دا کسان چې ته یې یادوې والله ښه خلک دي، نیمه شپه چې زه ورته ټیلفون وکړم، چې هله په دې موضوع راته یو شعر یا لیکنه راولېږئ، سبا یې وختي دفتر ته را رسولې وي، تاسو غوندې خلک والله که د یو نظام په ښه هم راشئ، یو کرښه هم چاته نه لیکئ)).
طالب زما شخصي ملګری و، ګپ ته مو دوام ورکړ، ما وویل کله چې د طالبانو واکمني رنګه شي، نو تا به بېرته کویټې ته پناه ور وړې وي. کابل کې به ستاسو پر ځای یو پښتون دښمنه واکمني رامنځته شي او ستاسو په نامه به له هر پښتون څخه غچ اخلي، نو کېدی شي زموږ غوندې خلکو هم په کابل کې ګوزاره ونه شي، بیا نو چې کله کویټې کې سره مخامخ شو، نو بیا به ګورو چې د چا خبره کره ده. همدا د طالبانو نظام و، چې یو ناظم شاعر اشنا مې مخې ته راغی او په پېښور کې په موټر کې سره همسفر شو، شاعر راته د مرحوم امان الله ساهو نه ډېر سر وټکاوه، ماترې پوښتنه وکړه، ولې ساهو صیب خو ډېر د کار سړی و، ذهناً او روحاً یې تر مادیاتو سویه اوچته ده، هغه وویل ما د خپلو شعرونو مجموعه چاپوله، دا د مجاهدینو حکومت دوره وه، پر خپل ځاني لګښت مې دا مجموعه چاپوله او ددې لپاره مې یو څه لګښت برابر کړی و، کتاب مې ساهو صیب ته د ایډیټ او کمپوز لپاره ورکړ، هغه ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې د کمپوز دومره پیسې کېښودې چې ټولې تیارې کړې پیسې مې په کمپوز ورکړې او چاپ ته یې هېڅ پیسې پاتې نه شوې، هماغه و چې د شعر مجموعه مې چاپ نه شوه، سره له دې چې هغه وخت زه له ساهو صیب څخه ډېر زیات خفه وم، چې ولې ددومره اوچتې پایې سړي داسې کار راسره وکړ، خو اوس ترې ډېر زیات خوشاله یم، ما وویل د خوشالۍ علت دې څه دی، ده لږه مالګینه خندا وکړه، یون صېب تانه به یې څه پټوم اصلي خبره داده چې دا شعرونه ټول ما دمجاهدینو په دوره کې ویلي وو، مجاهدینو اود هغوی د قومندانانو ډېر زیات صفتونه په کې راغلي وو، کله چې طالبان راغلل، نو دا ټول یې پسې واخیستل اوس اکثرو ته ټوپکیان او پاټکیان وایي، زما په شعرونو کې د هغوی د اکثرو نومونه هم راغلي وو، نو که چېرته دا مجموعه چاپ شوې وای، اوس به طالبانو زه له سپېږمو نه ترلی وم، خو د خدای فضل و چې دا مجموعه چاپ نه شوه او هغه تاوان باندې هم خوشاله یم چې په کمپوز راغی او په دې هم خوشاله یم چې نورې پیسې راسره نه وې، که نورې پیسې راسره وای نو هماغه وخت مې چاپوله، خو خدای به مې پرده کړې وه، ما وویل ښه نو اصلي خبره دا ده چې ساهو صیب ته دعا کوې، چې دا رسۍ یې له غاړې درته وېستې ده، ده وویل خدای دې خیر او برکت ورکړي، ساهو صیب لاهغه وخت ژوندی و، د دنیا له بدرنګیو سره یې ډغرې وهلې، چې یوه ورځ مې په یوه ناسته کې ورسره همدا بحث وکړ، هغه کټ کټ وخندل او زنګانه ته یې ټک وکړ، خدای دې دده کور له غنمو ډک کړي، دا شعرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرونه یې ماته راکړل، راته یې وویل چې دا هم کمپوز کړه او هم ایډیټ کړه او بیا پرې یوه سریزه هم ولیکه او ګوره چې په سریزه کې راته لږ پام وکړې، ما چې کله دا نظمونه وکتل، نو له یوې مخې د مجاهدینو د قوماندانانو ستاینې وې او داسې ستاینې چې خپله مجاهدینو هم نه شوې زغملای، بل سرېیه ته خو ټولې دنیا ته معلوم یې چې د مجاهدینو سیوری دې په کاڼو ویشته، که یو مجاهد د کوم مجاهد قوماندان صفت وکړي، نو څه بلا ورپسې، نو ته خو داسې یو څوک یې چې په خلقي- پرچمي نظام کې تر ټولو منلی شخص وې، جهاد مور کړی دی او ګرم دا دی، ټوله نړۍ حیرانه ده، چې له دې قوماندانانو نه دا ولس څنګه وژغوري اودا یې ستاینه کوي، لنډه دا چې دا نظمونه مې ولوستل او زما یو ملګري ته مې ورکړل چې ورته کمپوز یې کړي، په دې فکر کې وم، چې په څه ډول یې د چاپ مخه ونیسم، ځکه دا نه یوازې خپله ده ته په تاوان ده، ځکه چې سبابل نظام راشي په دې مجموعه به دده پوستکی وباسي، بلکې پښتو ادب ته سپکاوی دی، چې په اوسني ادبي بهیر کې داسې نمونې په اصطلاح شعري ټولګې ټولنې ته وړاندې کوي، مور د جهاد په ګرمو کلونو کې په سپېڅلې مجله کې داسې شیان نه دي چاپ کړي، نو اوس چې جهاد ختم شو ولې دا شعارونه له موږه تېر شي.

نو فکر مې وکړ چې د ده دا بېله کړې پانګه په کمپوز مصرف کړم، د کمپوزر ورځ به هم ښه شي او دا به هم ژر ددې وس پیدا نه کړي چې بیا پیسې راټولې کړي او دا مجموعه چاپ کړي. کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفتر ته راغی ما وویل صیب دا خو غټه مجموعه ده څومره پیسې دې ورته تیارې کړې، هغه وویل (...) کلداره، ما ویل دا خو یوازې د کمپوز هم نه کېږي، نو چاپ به یې په څه شي کوې، سړی ډېر حیران پاتې شو ویې ویل، خیر دچاپ غم به یې بل وخت کوو، نو تیارې کړې پیسې یې په کمپوز کې لاړې اومجموعه یې تر ننه چاپ نه شوه او زه پوره یقین لرم چې نن به ماته دعا کوي، ناظم شاعر په موټر کې ماته وویل، چې یوه مجموعه خو د ساهو صېب له لاسه هغسې شوه، چې کیسه مې درته وکړه، اوس مې یوه بله مجموعه تیاره کړې که ددې غم راته وخورې کمپوز یې کړې، ایډیټ یې کړې او یوه ښکلې غونډې سریزه پرې ولیکې او چاپ یې کړې، ما وویل، نه څنګه د ساهو صیب غونډې یې غم وخورم، که بل ډول هغه په خندا شو نه بل ډول، ما ورته وویل موږ د شعرونو مجموعه نه چاپوو، علمي، تدریسي، څېړنیز او نور کتابونه چاپوو،خو زه دومره کولای شم چې ستا مجموعه یو ښه کمپوزر ته ورکړم، خو شرط به په کې دا وي چې هېڅ داسې شعر به په کې نه پرېږدم چې په هغه کې د طالب او یا کوم بل زورور ستاینه راغلې وي، ښه په خنداشو ویې ویل: داشعرونه ټول د طالبانود دورې شعرونه دي، طبعاً د هغوی ستاینه په کې شته، ما ورته ویل چې زه خو داسې شعرونه نه پرېږدم چې د طالبانو ستاینه په کې وي، هغه بیا په خنداشو، یون صیب د همدې لپاره دا مجموعه تا له درکوم چې ته په کې چاڼ وکړې مانه هسې توکلي ستاینه کېږي، په ځان هېڅ نه پوهېږم، خو دخلکو صفت راڅخه کېږي، ما ورته وویل یو ځل خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساهو لـه مرګـه ژغـورلی یې، دا ځل بـه دې زه انشـاالله لـه خطره بـچ کړم. ځکه چې طالبان به اخر له منځه ځي او بیابه خلکو تـه د طالـب د ستاینې په جرم نیولی یې، ښه دا ده چې همدااوس تـرې تېـر شـې، طالب بې له هغې هم تا ته چندان ارزښت نه درکوي، چې صفت یـې وکړې، او کـه ونـه کـړې. پـه طـالبي پړاوکـې هـم ددې ښـاغلي نـاظم د نظمونو ټولګه چاپ نه شوه، دا ډول ناظمان زموږ په ټولنه کې یو نـه دي پـه لسـګونو دي. یـوه ورځ پـه دفتـر کـې ناسـت وم چـې زمـوږ یـو ملګـري عـزت الله شمسـزي تـه لـه بهـر نـه ټیلفـون راغـی، هغـه د (...) صیب د شعرونو پر کمپوز باندې چټـک او ضـربتي کـار پیـل کـړئ، کله چې مې شمسزي نه پوښتنه وکړه چې څوک یـادوې؟ ولـې نـه یـې پېژنې؟ (..)صیب ! ما وویل هغه خو قوماندان نه و څه؟ اوس شعرونه لیکي، شمسزي یو غټ ناچاپ کتاب زما مخ ته کېښود، ما چې لـږ سـر سـرې وکـوت د شـعرونو ښـه ((ګـل ګلـزار)) پـه کـې جـوړ و، یوقومنـدان او بـل قومنـدان یـې ښـه د مـزې سـپک کـړي او ټـولې ناخوالې یې ورته یادې کړې وې، په نظمونو کې یـې وزنـي تېروتنـې هم وې، شمسزي ته مې وویل: څه کوې دې سره؟ هغـه وویـل: زه خـو دا سړی ښه نه پېژنم، خو د چا له خوا چې رالېږل شوی هغـه زمـوږ او ستاسـو ملګـری دی، خفـه کـولې یـې نـه شـو، که نـه دا مجموعـه خـو والله که په چاپ ارزي، دا ډېر لګښت هم غـواړي، تقریباً پنځـه سـوه یـا شـپږ سـوه مخـه کېـږي، زه بـه یـې ورتـه د (...) پـه سـترګو کمپـوز اوایډیټ کړم که نه خو دچـاپ وړ نـه ده، ښـاغلي عـزت الله شمسـزي دا مجموعه په ډېر تکلیف کمپوز او ایډیټ کړه، وزني تېروتنـې یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم ورسمي کړي او چاپ ته تیاره شوه، د کمپوز ټول لګښت یې دولس زره کلداري شو او د ایډیټ حق الزحمه یې ده ورته معاف کړه، لاژمه وه چې د شعرونو یا نظمونو لیکونکی د کمپوز لګښتت راولېږي او خپله مجموعه چاپ ته یوسي، د کمپوز په بهیر کې د مجموعې د خاوند له خوا پرله پسې ځوابونه راتلل چې کمپوز څنګه شو؟ کله چې کمپوز خلاص شو ، نو شمسزي ورته وویل چې څوک راولېږه چې مجموعه یوسي، دې وخت کې د طالبانو او امریکایانو تر منځ ټکر پېښ شو، په نتیجه کې د طالبانو نظام ړنګ شو، پر مجموعې څومیاشتې تېرې شوې، د شمسزي له خوا ځواب ورولېږل شو، چې د کمپوز لګښت راولېږه، د مجموعې خاوند وویل: وروره لګښت مګښت نه شته، اوس خو طالبان سقوط شول،زما پلار هم دا شعرونه چاپولای نه شي، وروره زه بېخي له مجموعې تېر یم ته له کمپوزه تېر شه، تا ته دې درپاتې وي. د یو ناظم له خوا د پردې غوړه مالۍ نتیجه دا شوه، چې شمسزي په کې دولس زره کلداري تاوان وکړ، د انفرادي غوړه مالۍ خو دا حال و، په دربار کې هم دا حال دی، د کرزي صیب په دربار کې دوه ډلې خلک زیات اغېز لري، یو د ټوپک په زور واک ته رسېدلي اشخاص او دویم غوړه مالان.

د ټوپک په زور واک ته رسېدلي اشخاص د هرې خبرې د ویټو کولو واک لري او درباري غوړه مالان پر دې بریالي شوي چې ځان ته په دربار کې ځای پیدا کړي او د نورو با استعداده کسانو مخه ډب کړي، په اکثرو هغو برخو کې چې ولس له حکومت څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زياتو کارونو هيله لري، د همدغو دوو ډلو له خوا له څنډ وخنډ سره مخامخېږي.

که چېرې په دربار کې همداسې حالت روان وي، نودا دربار به هم د نورو دربارونو پر برخليک اخته شي، په مجموعي ډول په سياست کې د کينې او بنې شرقي او غربي غوره مالۍ نتيجه د حکومتونو او موثرو اشخاصو له منځه تلل دي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په افغانستان کې د نوې سرشمېرنې په باب څو اندېښنې

د بن تر پرېکړې وروسته د منځمهالې ادارې په بهیر کې د سرشمېرنې د ترسره کولو اوازه وه او په دې اړه تشویشونه وو، دا لیکنه ما د همدغو تشویشونو په اړه لیکلې او هماغه وخت په کوربت مجله کې چاپ شوې ده.

دې کې هېڅ شک نه شته، چې په هره ټولنه او هېواد کې د هغو د وګړو دقیقه سرشمېرنه د هغو ټولنو او هېوادونو د اقتصادي ودې، ټولنیزې سوکالۍ او فرهنګي سمون لپاره یو اساسي کار او عامل دی. له یوې عادي کورنۍ نه نیولې بیا د هېواد ترکچې پورې د ټولو ورځنی او کلنی لګښت، ګټه او عایدات د هغو د شمېر له مخې معلومېږي.

سرشمېرنه د څو مشخصاتو له مخې ترسره کېږي او د هرې برخې د اړتیا د پوره کولو او پرمختیا لپاره پلانونه جوړېږي، لکه د جنس، عمر، زده کړې، سیمې، قوم او نورو ځانګړنو له پلوه. په هغو هېوادونو کې چې یو واحد قوم اوسي او د ملي شعور کچه یې اوچته وي، که له هره پلوه سرشمېرنه ترسره شي، نو له چا سره تشویش ځکه نه وي، چې په سرشمېرنه کې د درغلۍ امکان نه وي او څوک نه وي چې د ټولنې کومه خوا درنه او زیاته وښیي، خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو هېوادونو کې چې د اکثریت تر څنګ نور قومونه یا اقلیتونه اوسېږي، په دې هېوادونو کې تر ټولو حساسه او جنجالي موضوع همدا سرشمېرنه ده. په ځانګړې توګه که په دې هېوادونو کې سیاسي ثبات او عادل حکومت هم موجود نه وي. که اکثریت د زور او فشار له امله د واک ټول امتیاز ترلاسه کړی وي، نو بیا خو د اقلیتونو یا لږه کیو پر سر خاورې دي او که چېرې د کومې بهرنۍ لاسوهنې او یا هم د کورنیو عواملو له کبله واک کوم اقلیت ته رسېدلی وي، نو بیا خو دوی د خپلې دایمې بقا او د واک د انحصار لپاره هڅه کوي، چې په هر ډول خپل شمېر زیات وښیي او پر سرشمېرنې خپل اغېز پرېباسي.

افغانستان کې د اکثریت ترڅنګ کڼ شمېر لږکي قومونه هم اوسي، چې ټول په ګډه د افغان ملت هډونه جوړوي، زموږ په هېواد کې سرشمېرنه او د هر قوم د نفوسو شومره والی هغه جنجالي مسئله ده، چې حل یې ضروري دی. د یوه قوم مدعیان هم پر خپل شمېر قانع نه دي، له کلونو راهیسې له سرشمېرنې څخه یوه حساسه سیاسي موضوع جوړه شوې، ځینو له دې موضوع څخه سیاسي ګټه پورته کړې او ځینو زیان زغملای دی.

دې کې هېڅ شک نه شته چې ټول افغانان په دې نظر دي چې په افغانستان کې یوه دقیقه او ناپلوې سرشمېرنه تر ډېرو کارونو یو مهم کار دی، خو سرشمېرنه به د چا له خوا کېږي او څرنګه به ترسره کېږي؟ په افغانستان کې اوس سرشمېرنه د هغې د ټولنیز، اقتصادي، فرهنګي او نورو ارزښتونو په پرتله زیات سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزښت لري. د سیاسي ارزښت په تاکنه کې لوری یا طرف ډېر زیات رول او اغېز لري، نو دلته هم همدا پوښتنې رامنځته کېږي، چې دا سرشمېرنه به د چا له خوا ترسره کېږي؟ د چارو عملي مامورین به یې څوک وي؟ له کومې سیاسي ډلې سره به خواخوږي لري او د چا له خوا به ګومارل شوي وي، د دې پوښتنو تل ته چې څوک ننوزي، نو بیا ورسره دا تشویشونه پیدا کېږي، چې کېدی شي په سرشمېرنه کې درغلي وشي، دلته به د ځینو هغو تشویشونو یادونه وکړو چې د اکثریت افغانانو په زړونو او فکرونو کې په دې باب موجود دي:

۱- ځینې خلک په دې خبره خوشاله دي، چې د افغانستان په چارو کې د ملګرو ملتونو او لویو ځواکونو ښه دخیله ده، نو کېدی شي، دوی په سرشمېرنه کې مرسته وکړي او دقیقه سرشمېرنه ترسره کړي. دا د یوې فکري فرضیې په توګه ښه نظر دی، خو په خواشینۍ سره باید وویل شي، چې په عملي ډول په افغانستان کې ملګري ملتونه، د امریکا متحده ایالات او اوس وخت نور مطرح هېوادونه لکه ایران، روسیه، هند او نور د هېواد د اکثریت (پښتنو) پر وړاندې د کورني ائتلاف، چې په سر کې یې د نظار شورا ګروپ دی، برخه ګرځېدلي دي او همدوی د نظار شورا اساسي ملاتړي او سپورټران دي. له بهرنیانو سره خپلې سیاسي ګټې مطرح دي، نه په افغانستان کې د اقلیت او اکثریت حقوق او نه دکوم یوه بشپړه سوکالي او ارامي. اوسمهال د نظار شورا او د همدې بهرنیانو سیاسي ګټې پر یوه لیکه ولاړې دي، څه چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېوادونه غوارې هغه نظار شورا تر سره کوي او څه چې بیا د نظار شورا کورنۍ غوښتنې او د واک انحصار دی، هغه بیا هغوی ورته ترسره کوي. د همدغسې یو سیاسي سازش په نتیجه کې د هېواد نور قومونه په تېره بیا اکثریت پښتانه له خپلو اوسنیو سیاسي حقوقو محروم شوي او د نورې محرومېدنې اټکل او امکان هم شته. یو څو بېلګې به یې هم وړاندې کړو: د همدې ملګرو ملتونو، امریکامتحده ایالاتو او نورو په خوښه او فشار د بن ناعادلانه غونډه جوړه شوه او اساسي واک یې نظار شورا ته وسپاره، له یوې ولسوالۍ نه شپږ تنه وزیران شول. بیا یې د لویې جرګې لپاره ځانګړی ۲۱ کسیز کمېسیون جوړ کړ چې په هغه کې یې ۱۳ پښتون مېشتي ولایتونه له استازیتوبه محروم کړل، خو له یو ولایت (پروان) څخه یې درېیو تنو ته په کې غړیتوب ورکړ. همدې کمیسیون بیا د بدخشان ولایت ۱۳ ولسوالۍ ۲۸ او د پنجشېر یوه ولسوالۍ څلورو ولسوالیو ته پورته کړې او د تنظیمواکۍ ناثبت شوي او شفاهي فرمانونه یې زموږ پر ولس تحمیل کړل، له اداري واحدونو پرته یې ناپښتون مېشته سیمو په تېره بیا تاجک مېشته سیمو ته د څوکیو شمېر زیات او د پښتون مېشتو سیمو هغه کم کړ، په انتصابي غړو کې یې هم ډېرې ډنډۍ ووهلې او څه چې یې خوښه وه، هغه یې وکړل. دا ټولې هڅې ددې لپاره وې چې په بېړنۍ لویه جرګه کې د پښتنو شمېر راکم کړي او دوی په راتلونکي کې هم ځانته یو حقوقي بنسټ جوړ کړي او د دوی په اند که اینده کې نورې لویې جرګې جوړېږي د همدې معیار له مخې باید جوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، ځکه چې دا جرګه خو د ملګرو ملتونو تر قانوني چتر لاندې جوړه شوې ده. خو نظار شورا له دې ترکیب سره سره بیا هم په لویې جرګې کې سترګې خوږې نه شوې او د وېرې احساس یې وکړ، له خپلو بهرنیو پلویانو سره یې مزې وځغلول، خپل خوښې کابینه یې جوړه کړه او جرګې ته یې هم هېڅ وړاندې نه کړه. له دې بیان څخه مې مقصد دا و چې دغه بې انصافي چا وغندله او چا یې مخه ونیوله؟ ایا نړۍ نه پوهېږي چې په اوسني وخت کې واک له ملت سره دی او که یوې ولسوالۍ ته سپارل شوی؟ واک له ولس سره دی که له ټوپک او ټوپکیانو سره؟ هر کله چې څوک دې پوښتنو ته ځیر شي بیا پوهېږي چې راتلونکې سرشمېرنه به څرنګه وي؟

۲- په پیل کې داسې هیله کېده، چې ملګري ملتونه به د بن د پرېکړې پر اساس د سرشمېرنې لپاره یو ځانګړی کمېسیون جوړوي. خو اوس داسې څرګنده شوه چې دا کار یوازې د احصایې مرکزي ادارې ته سپارل شوی، چې اوس د نظار شورا تر واک لاندې ده، بهرنۍ سرچینې به له دوی سره یوازې مالي مرسته کوي. که چېرې دا اداره د واکمن ګروپ تر سیوري لاندې خپل کار ته دوام ورکړي، نو پوره باور دی چې په افغانستان کې به د قومونو د نفوس شمېرنې په برخه کې داسې درغلي رامنځته شي، چې نه یوازې افغانان، بلکې نړۍ به هم ورته حیرانه شي.

۳- دا خبره هم څرګنده نه ده، چې دوی په سرشمېرنه کې د ختمې (نسل) او ژبې ترمنځ توپیر کوي او که نه هر چا چې دري خبرې وکړې، هغه تاجک او هر چا چې پښتو خبرې وکړې، هغه پښتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼي، که ژبه د قوميت معيار وګڼل شي، نو په افغانستان کې ډېر هغه قومونه يا د هغو يوه برخه چې خپله ژبه يې هېره کړې او بله يې خپله کړې، خپل قوميت له لاسه ورکوي، که ژبه معيار وګڼل شي نو هزاره ګان هم بايد په تاجکو ورګډ شي، خو واقعيت دادی چې هزاره ځان ته قوم دی او تاجک ځان ته، په هرات ښار کې يو زيات شمېر پښتنو قبيلو خپله ژبه هېره کړې، خو دغه دا مانا نه لري چې تاجکان شوي، مانا دا چې هر دري ژبی تاجک نه دی او هر پښتو ژبی پښتون نه دی، دې ټکي ته بايد په راتلونکې سرشمېرنه کې خاصه پاملرنه وشي.

۴- په افغانستان کې ځينې نور داسې قومونه شته چې د سياسي امتياز او فشار له امله کېدی شي، خپل قومي هويت پټ کړي او واکمن ګروپ يې د خپل قوم په شمېر کې حساب کړي، د دې درغلۍ احتمال ډېر زيات دی. ښه به وي چې يوه بېلګه يې وړاندې کړو. په ننګرهار او لغمان کې د ياد وړ شمېر پشه يان اوسي، دوی ځانګړی قوم دی او ځانګړې ژبه لري، څرنګه چې د پښتنو په منځ کې اوسي نو دويمه ژبه يې پښتو ده. خو په اوسني وخت کې د دوی يو څو تنه قوماندانان له نظار شورا سره اړيکي لري او د هغوی له خوا ورته ويل شوي چې تاسو خو اصلاً تاجکان یاستئ او يو نيم ته خو يې چې تذکره ورکړې، نو قوم يې ورته تاجک ليکلی دی. دغه ډول سياسي، اقتصادي، امتيازونه او فشارونه او قومي درغلۍ د يوه قوم د هويت د ختمولو لپاره يوه هڅه ده او په راتلونکې سرشمېرنه کې د دې ډول هڅو احتمال خورا زيات دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- ډېرې پښتون مېشته سيمې د غرو او درو په لمنو او سختو ځايونو کې پرتې دي، چې تګ ورته خورا زيات لګښت او ستړيا غواړي، کـه چېرې د سرشمېرنې غړي ملي اشخاص نه وي، نو کېدی شي چې ډېرو سيمو ته د اقليمي، ترانسپورتي، امنيتي او نورو ستونزو له امله هېڅ لاړ نه شي او که همدا لاملونه پلمه کړي، کېدی شي ډېرې دا ډول سيمې بېخي له ياده وايستل شي او يا يې هم شمېر د اټکل له مخې ډېر کم وښودل شي.

۶- د اټکل او ځينو سرشمېرنو له مخې په افغانستان کې د کوچيانو شمېر دوه مليونه تنه شاوخوا اټکل شوی دی، ځرنګه چې دوی دايماً په سفر کې وي، نو شمېرنه يې ګران کار دی او زيات لګښت غواړي، کېدی شي د سرشمېرنې مسوولين د دوی په باب هم همغه پورتنۍ پلمه تکرار کړي، نو دلته يې د حل ښه لاره داده چې د کوچيانو د شمېرنې لپاره خپله له کوچيانو څخه يو کميسيون جوړ شي او دا دنده هغوی ته وسپارل شي.

۷- په ځينو پښتون مېشتو سيمو کې دا دود اوس هم حاکم دی چې د خپلو ښځو نومونه چاته نه ښيي او دا سخت شرم ګڼل کېږي دا او دې ته ورته د نورو کلتوري ستونزو د حل لپاره ښه داده چې د سرشمېرنې په غړو کې د هرې سيمې خلک شامل وي، که چېرې په ځينو سيمو کې د ښځو سرشمېرنه ممکنه نه وي، نو د نارينه وو له شمېر سره دې مساوي او يا هم تر هغو يو دوه فيصده زياته ځکه اټکل شي چې د جګړې په کلونو کې د ښځو په پرتله د نارينه وو د تلفاتو شمېر زيات و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- په مجموعي ډول ډېره د اندېښنې خبره داده چې د سرشمېرنې د غړو (مامورينو) په ټاکنه کې به قومي انډول او تناسب ساتل کېږي که نه؟ که چېرې د مامورينو په استخدام کې دې اصل ته پاملرنه وشوه، نو بيا هم کېدی شي، تر ډېره حده د درغليو مخه ونيول شي او که دا ترکيب هم د کابل د اوسنۍ ادارې د ترکيب په شان وي، نو بيا يې نتيجه هم همداسې يوه اړخيزه بوله.

بله ډېره د اندېښنې خبره داده چې که په افغانستان کې دقيقه سرشمېرنه ونه شي او د ټول ملت قناعت پرې حاصل نه شي، نو افغانستان به په داخل کې له نوي حقوقي بحران سره مخامخ شي. هغه چا چې د درغلۍ له لارې خپل شمېر زيات ښودلی هغوی به ملګري ملتونه او نړيواله ټولنه د خپل حقوقي سند په توګه ميدان ته وړاندې کوي، چې دا سرشمېرنه خو هغوی کړې، دا څنګه نه منې؟ او که هغه څوک چې قصداً زيانمن شوي او شمېر يې راکم شوی دی، هغوی به وايي چې ملګرو ملتونو او نورو بهرنيانو خو تاسو ته د خپلو سياسي ګټو د خوندي کولو لپاره په هره مرحله کې تر حده زيات امتيازونه درکړي وو، نو دا خو نه ستاسو حقوق وو او نه درسره ملت منله، چې يوې ولسوالۍ ته دې په لنډمهاله او منځمهاله اداره کې تر شپږو زيات وزارتونه ورکړل شي او پر پاتې حکومت دې هم خېټه واچوي. همدا بحثونه او جنجالونه به تر ډېره روان وي او کېدی شي خبره جنګ جګړو ته هم ووځي، يانې له سرشمېرنې به سربښندنې جوړې شي. نو د حل ښه لاره يې داده چې سرشمېرنه دې د ملګرو ملتونو تر مستقيمې لارښوونې لاندې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتيني، خپلواک او څانګړي کميسيون له لارې تر سره شي، د کميسيون غړي او نور مامورين بايد د دولت غړي او مامورين نه وي او نه په کوم سياسي تنظيم پورې تړاو ولري، د هر ولايت او ولسوالۍ وګړي دې په کې شامل وي، ملګري ملتونه دې هم هڅه وکړي چې په ټولو ممکنو وسيلو د اوسني حکومت او په تېره بيا د نظار شورا د لاسوهنو مخه ونيسي او په رښتيا دې هم د سرشمېرنې لپاره يو ازاد او ناپېيلې چاپېريال رامنځته کړي او که داسې نه وي، نو له هغه خيره چې زموږ ملت ته شر جوړېږي، زموږ ملت هغه خير نه غواړي، هېڅ سرشمېرنه دې نه کېږي، دا کار دې يو نورمال حکومت ته وځنډول شي او دې ته دې ښېلې شوې پيسې اوس د سړکونو او روغتونونو پر جوړولو ولګول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایله جاري جنرالان او مارشالان

دا لیکنه هغه مهال شوې وه چې په افغانستان کې د ملي پوځ او پولیسو یوه منظمه قطعه هم نه وه، خو تنظیمي جنرالان تر شمېره وتي وو او تـر عسکرو د جنرالانو شمېر زیات و. دا لیکنه هـم پـه هیلـه مجلـه کـې خوندي شوې ده.

موږ هم عجیبه خلک یو، کله ځوکۍ لرو، خو سړي ورتـه نه لـرو، کله بیا سړي لرو خو ځوکۍ ورته نه لرو، کله بیا داسې هم وي، چې د یو مقام لپاره دوه درې کسه په رسمیاتو کې درج وي، خو عملي کفایت په یو کې هم نه وي، کلـه بیـا داسې وي چې رتبې او نومونـه یـې غـټ وي، خـو کارونـه یـې واړه وي، کلـه بیـا داسـې وي چـې تحصیل کړي اشخاص مو په بازار کې کراچۍ چلوي، خو د بازار او کوڅې خلک پر مقامونو ناست وي، کله خو بیا داسې هم وي، چې د حکومت د مشر تخت مـو یـو ځای وي او بخت یې بل ځای وي، د پاچاهۍ تخت یې په مرکز کې پاتې وي، خو پاچا پـه کلیـو او غرو رغـو کـې سرګردانه ګرځي، کله پاچا بهرنیان دعوت کړي او ولس یې مخالفت تـه راپورتـه شي، خو کله کله بیـا د پاچا لـه لاسه ولس دومره په تنګ شي، چې بهرنیانو ته زړه ښه کړي، چې بهرنیان مداخله وکړي او دده له غضبه یې خلاص کړي، کله بیا پرچمیان، ملحدین او نور روسان دعوت کړي او مجاهدین یې په مقابل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپاڅېږي ، کله کله بیا مجاهدین د روس لمن ونیسي او د تېرو جګړو ښننه ترې وغواړي او خپل ملاتړ ته یې راوبولي، کله کله بیا په یو کار کې د کار کوونکو تر شمېره کار فرمایان ډېر شي او کله کله هم په هېواد کې د عسکرو پر ځای جنرالان .

کله کله پر ښځو داسې ناتار راشي، چې له نارینه و سوځ نه شي کولای او کله کله د بیا د ښځو د ژبو تنستې خلاصې شي او نارینه داسې سپک کړي لکه د باد ښکه، خو لنډه دا چې کله داسې کېږي او کله هسې، په همدې کله داسې او کله هسې کې زموږ هېواد او ولس هر څه بایلول.

اوس یو ځل بیا د همداسې ریشخندیو، تراژېدیو او کمیډیو وخت راغلی دی، (تراژیدي- کمیډي) ورته ځکه وایو چې داسې مسئله به وګورې چې له ډېره قهره به دې ورته خندا راشي، اصلاً خو به غم وي، خو تا به داسې کړي، چې له ډېره قهره او تاوه به دې په خنداکړي، لکه حمید بابا چې د هغو سرو کړو پسونو د سرونو په باب چې پر کراچۍ ایښي اوپه اور سوي وي، سپین شوي او سپین غاښونه یې له ورایه خلکو ته ښکاري او هرڅوک داسې فکر کوي، چې ماته خاندي، خو هغوی د اور په لمبو کړېدلي وي، او له هغو هر څه اخیستي وي او هغه له ډېره تاوه خاندي، شاعر دغه حساس نزاکت ته متوجه شوی، نو ځکه خو یې ویلي دي:

**لکه سر د پسه په اور غاښونه سپین کا**

**هسې مالره له غمه خندا راغله**

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو مور چې اوس هم د خپل سوي لوي هېواد او ولس حالت ته ګورو او په تېره بیا د هغو د سیاسي لوبغاړو او لوبو ننداره او ریشخندیو ته ګورو، نو مور ته هم له ډېره غمه خندا راشي.

وګورئ ټول پوځ مو تالاشو، ټانکونه، موټرې او وسایل یې کباړ او پر ګاونډیو هېوادونو وپلورل شول، پوځیان او عسکر ټول وپاشل شول، لس کاله کېږي چې هېڅوک هم د عسکرۍ د مکلفیت پر اساس عسکرۍ ته نه دي جلب شوي، یو منظم روزنیز پوځي مرکز مو فعال نه دی، د ظابطانو او وړو ظابطانو د روزنې مرکز نه شته، خو د جنرالانو د روزنې مرکز فعال دی، څو ورځې د مخه یو چا کیسه کوله چې په کورنو چارو وزارت کې عسکر نه شته، ټول صاحب منصبان دي او هغه هم لوړ رتبه صاحب منصبان، نو کومه شعبه کې چې چای په کار شي، د شعبې مشر پر بل مادون امر وکړي، «جنرال صاحب یک ګیلاس چای خو بیار» مانا دا چې د افغانستان جنرالان دومره بې ارزښته او دومره ډېر شول، چې اوس د شعبې د پیاده کار ورځنې اخیستل کېږي.

دا هغه مېړني ملت ته یوسپکاوی دی، چې د یوې پېړۍ په لر او بر کې یې دوه نړیوالې امپراتورۍ ړنګې کړې، د جنرالانو په مسئله کې لابله کمیډي دا ده چې دا اکثر جنرال صاحبان زیاتره د یوې سیمې او ان زیاتره د یوې ولسوالۍ دي، علت یې دا دی چې نور مشران او جنرالان یې د خپلو سیمو دي،هغوی بیا تردې هم وړاندې لاړل، چا ډګر جنرال او چا ځانته د ستر جنرال رتبې ورکړې، ښاغلي محمد قسیم فهیم چې اصلاً د کابل د ابو حنیفه مدرسې زده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکی و او هغه هم تري نیمگړې پاتې ده، ځاتته له مسلکي معیار(!) سره سم د (مارشال) رتبه ورکړه، نو همدلته ده چې سړي ته هغه د شاعر خبره را یادېږي (هسې ما لره له غمه خندا راغله). دا د ټولې نړۍ په عسکري تاریخ کې یوازینی استثنایي کیس دی، نو اوس دې خپله فهیم صیب، زموږ د ولس وگړي او هر نړیوال یو ځل د څو شېبو لپاره فکر وکړي او د خپل ضمیر په هنداره کې دې وگوري، په هغه هېواد کې چې اوس له څو تنظیمي عسکرو پرته هېڅ اردو نه لري او هر څه دې متلاشي وي، هلته د مارشال رتبې ته څه اړتیا شته؟ که په ټول هېواد کې له یو منظم عسکري کنډک نه نیولې تر یوې قول اردو پورې چې لږ تر لږه د مرحوم داود خان د وخت په معیارونو برابر وي، یوه پوځي قطعه موجوده وای نو بیا به هم سړی ووایي چې سل په لالي پور دي دا یوه هم د همده مبارک، خو چې په ټول ملک کې یوه منظمه پوځي قطعه موجود نه وي،نو دا ستر جنرالي او مارشالي څه مانا؟

خو که چېرې دا ستر جنرال او مارشال صیب واقعاً د خپلو دې رتبو مستحق وي، نو لږ تر لږه، خو دې په کابل کې سم امنیت ټینگ کړي، د ملگرو ملتواوبهرنیانو دومره سترو پوځونو ته څه اړتیا ده، خو دا ستر حقیقت باید زموږ اوسني جنرالان او مارشالان د زهرو د یو گوټ په څېر له ستوني تېر کړي، چې که نن هم د ملگرو ملتو او امریکا متحده ایالاتو پوځونه له کابله ووتل، نو نه به دا پوځي رتبې وې اونه به دا چړچې او نه به دا پوځیان وي، نه به مارشالان، نه به دا ناصر خان وي نه به یې دا سره سره اوښان ، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحبان کېدی شي چې بېرته خپل مکان او ورته زمان ته لاړ شي، چې له کومه ځایه راوستل شوي دي، خو مخکې تر دې چې اوسني واکمن بېرته پر خپل پخواني برخلیک اخته شي، ښه به وي چې د شکرانې لمونځ اداکړي او خپل رب ته سر ټیټ کړي او خپلې تېرې تجربې تکرار نه کړي اوکه نه کېدی شي یو ځل بیا پر هماغه تېر برخلیک اخته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوک د اساسي پوستونولپاره وړ دي؟

دا ليکنه ما د بيړنۍ لويې جرګې د جوړېدو په درشل يانې دې جرګې تـه د انتخاباتو په بهير کې کړې وه او هغه وخت چې زه په جلال اباد کې د همـدې جرګې لپاره په ختيزو ولايتونو کې د انتخاباتو د کميسـيون مسـئول وم، نـو دا ليکنه مې په هغې جريده ((جرګه)) کې چې د همدې دفتر له خوا پـه موقـت ډول خپرېده، چاپ کړه، خو څرنګه چې هغه وخت دې دفتر د ملګرو ملتونـو د مرستو ځانګړي دفتر يوناما (UNAMA) سره په ګـډه کـار کـاوه او د هغوی له خوا ددې دفتر سياسي او اقتصادي ملاتړ کېده، نو ځکه خو په جلال اباد کې د يوناما د دفتر مشر ښاغلي کاوون کاکړ ددې چـاپ شـوې جريـدې وېش مناسب ونه باله، همغه و چې دا جريده ونه وېشل شوه، تر يو څه بدلانه وروسته بيا دا ليکنه د هيلې مجلې د ۱۳۸۰ل کال په (٦) ګڼه کې چاپ شوه، دا دی دلته دا ليکنه يو ځل بيا خپروو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټاکل شوې ده د غبرګولي پر ۲۰ نېټه په هېواد کې ببړنۍ لويه جرګه جوړه شي. د ملي مشرتابه، د مهمو وزارتونو د وزيرانو ټاکل د لويې جرګې اساسي دنده ګڼل شوې ده، داسې برېښي چې د ملي مشرتابه د ټاکنې مسئله څکه دومره سخته نه برېښي چې کېدی شي پرکوم معتدل شخص موافقه وشي، خو غټه مسئله او ستونزه د مهمو وزارتونو ده، څکه که ددولت مشر يو معتدل شخص وي او مهم وزارتونه ديوې سيمې، يوې ولسوالۍ او يا هم د يوه ځانګړي تنظيم لاس ته ورشي، نو بيا خو هرڅه چې همدا خلك او ډله وغواړي همغه به کېږي، لکه دې تېرې تجربې چې وښودله، له وزارتونو پرته د صدارت د څوکۍ برخليك هم معلوم نه دی، چې انتقالي دوره کې به صدراعظم څوك وي او که نه؟ خو که د صدارت څوکۍ نه وي بيا به هم د وزارتونو پر سر سخته لانجه روانه وي. په اوسنۍ اداره کې چې کومې ډلې سره اساسي واك دی، دوی به په اسانۍ دې ته حاضر نه شي چې واك پرېږدي، نو د حل لاره څه ده؟ د حل يوه لاره داده چې په لويه جرګه کې بايد اول پر اصولو او معيارونو توافق وشي. د ساري په توګه د هر وزارت لپاره دې مسلکي اشخاص غوره شي، هېڅ ولسوالۍ ته دې دوه وزارتونه نه ورکول کېږي، د چا چې په تېرو وختونو کې سياسي، بشري او اخلاقي ريکارډ خراب وي، هغه دې په هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجه د لوړو پوستونو لپاره نه انتخابېږي، ددې لپاره چې بیا تنظیمي جګړې پیل نه شي، ښه به دا وي چې د مهمو وزارتونو لپاره لکه دفاع، کورنیو، بهرنیو چارو او مالیې وزارتونو لپاره ناپېیلي، مسلکي اشخاص د وزیرانو په توګه وټاکل شي، نه تنظیمي او نه ګوندي اشخاص، خو که چېرې بیا هم د واک انحصار دیوې سیاسي ډلې په لاس کې پاتې شي او نور ملت ورځخه محروم شي، نو د دایمي سولې د ټینګښت لپاره به هیلې ډېرې کمې وي، په هره ټولنه کې تر انتخاباتو د مخه یو څه اټکلونه هم وي، نو د اوسنۍ بېړنۍ لویې جرګې د نتیجو په برخه کې هم ځینې اټکلونه شته، کېدی شي د هغو څرنګوالی په لاندې ډول په ګوته کړو:

**لومړی اټکل**:

اعلیحضرت محمدظاهرشاه مشر، حامد کرزی صدراعظم، فهیم د دفاع وزیر، یونس قانوني د کورنیو چارو وزیر. نتیجه (منفي) علت یې دادی چې پخوانی پاچا د خپل عمر له کبله په ډېرو اداري کارونو کې دمداخلې جوګه نه دی، پاتې شو د کرزي صیب، فهیم او قانوني صیب خبره دا به د اوسنۍ لنډ مهالې ادارې مترادف وي، ځکه چې دوه مهم اساسي پوستونه به یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسوالۍ ته اختصاص شوي وي، څه چې دوی غواړي کرزی صیب به یې ورسره لکه د اوس په شان مني.

**دویم اټکل**:

کرزی صیب د دولت مشر، قانوني صدراعظم، فهیم صیب د دفاع وزیر او نور..

په دې ډول هم نتیجه منفي ده، ځکه صدراعظم به له خپل اجرائیوي ځواك نه د خپل سیاسي دریځ لپاره زیاته ګټه پورته کوي او پوځ به یې هم په لاس کې وي او نور وزارتونه هم، ددولت د مشر رول به سمبولیك وي.

**دریم اټکل**:

کرزی صیب ددولت مشر، فهیم ددفاع وزیر، یونس قانوني دکرزي مرستیال بیا هم نتیجه منفي ده، ځکه چې په اتلسو میاشتو کې به په دفاع وزارت کې دیوې سیمې او یوې ژبې له ویونکو پرته بل هیڅوك هم د کار زمینه برابره نه وي او پر ټول حکومت به ددوی د زور منطق خپور وي او ددې کسانو بیا لرې کول به د ډیرو وینو تویولو قرباني غواړي.

**څلورم اټکل**:

کرزی صیب ددولت مشر، یو مرستیال یې هزاره (تحصیل کړی مسلکي)، یو تاجك (تحصیل کړی) یو پښتون تحصیل کړی او یو هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازبك تحصيل كړي. ددفاع، كورنيو چارو، باندنيو چارو او ماليې وزارتونه ناپښيلو مسلكي كسانو ته او كه ځينې نور وزارتونه د اوسني اداري ځينو نورو مسلكي وزيرانو ته هم وركړل شي نتيجه به يې منفي نه وي، علت به يې دا وي چې د واك انحصار به له يوې ولسوالۍ څخه ټول ولس ته منتقل شي. ځينو ته كېدى شي پوښتنه پيدا شي چې كه كرزى صيب ددولت مشر شي نو بيا يې پښتون مرستيال ته اړتيا څه ده؟ دلته بايد دا خبره په ډاګه شي چې ښاغلي كرزي په خپله شپږمياشتنۍ موده كې دا وښودله چې له ده سره د پښتون او ناپښتون خبره مطرح نه ده، دى لا ان تر دې حده هم مخكې لاړ چې واكمن اقليت ګروپ ته يې د اكثريت د ګټو او حقوقو د درناوي او خوندي كولو ګيله او يادونه هم ونه كړه. كرزي صيب دا خبره په زبات ورسوله چې ده ته د افغانستان ټول قومونه يو شان دي او ان پر لړه كيو يې ډېره لورېينه وكړه، خو د اقليتونو د حقوقو واكمنو مدعيانو د تعصب د جام جوش لا تراوسه ناست نه دى اوس هم ميم زرما ټوله زما غواړي، ددې خبرې ثبوت تېر شپږ مياشتنى حكومت او په هغې كې ديوې ډلې او يوې ولسوالۍ ترحده زيات حاكميت دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ((لوخې د خپل قام بد غوښتل سر يې په اوبو کې وچ شو))

دا ليکنه مې د لنډمهالې ادارې پرمهال کړې وه او بيا همغه وخت په ګوربت مجله کې چاپ شوه.

زموږ د هېواد تېرو ۲۳ کلنو خونړيو او جنجاليزو پېښو دا ثابته کړه چې نه پر بهرنيو پرديو او نه هم پر کورنيو پرديو او غليمانو باور شته.

د نورمحمد تره کي، حفيظ الله امين، ببرک کارمل او ډاکټر نجيب الله سياسي تېروتنو، ښويېدنو او جنايتونو، له پرديو سره د انډيوالۍ او بيا د هغو د ناوړه انجام، پخې تجربې پرېښې دي.

د يو شمېر جهادي- نيمه جهادي، الحادي او نيمه الحادي شخصيتونو د مسخه کېدنې تجربې هم زموږ مخې ته پرتې دي، د طالبانو د افراطي حرکت نتيجه هغه وروستۍ پخه تجربه ده چې د افغانستان د سياسي بهير د تجربو جام يې تر مورګو ډک کړ. خو ددې ټولو تجربو له منځه يوه بله پخه تجربه هم ترلاسه شوه، چې هغه په هېواد کې په اکثريت او اقليت پورې د تړليو مشرانو سياسي شخصيت او عملي چلند و. هغو سياستوالو چې د سرې، شنې او سپينې ايډيالوژۍ تر اورنيو ګوزارونو لاندې يې خپل ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هویت او ملي ارمانونه وسېځل او ملي پولې یې ړنګې کړې، نن په خپل هېواد کې ځای نه لري او له عامې کرکې سره مخامخ دي. هغو سیاستوالو چې له قومونو یې د خپل سیاسي شخصیت د تبارز لپاره مورچلونه جوړ کړي وو، که د عام ملت په ذهن کې د کرکې وړ شول، خو په خپل قوم او قبیله کې یې ځان ته د منښت او ګرانښت ځای پیدا کړ او په اصطلاح هوجره او هدیره یې معلومه شوه. خو هغه سیاستوال چې ملي او قومي بېس او بنسټ یې نه درلود او د صداقت د نشتوالي له کبله یې ایډیولوژیکي مبارزه بریالۍ نه شوه، نو په ولس او نړۍ کې یې د پښې ایښودلو ځای ورک شو.

د هېواد د اوسنۍ لنډ مهالي اداري مشر ښاغلی حامد کرزی د هېواد په اوسنیو حساسو شرایطو کې له همدغسې پخو تجربو څخه تېرېږي، راتلونکې څو میاشتې به دا معلوموي، چې دی هم پخوانۍ پخې تجربې تکراروي او که نه په هېواد کې د اکثریت او اقلیت د متناسبې تساوۍ لپاره کار کوي؟ د څو تېرو اوونیو له دولتي چار چلند څخه خو داسې ښکاري چې ښاغلی حامد کرزی خو یا هسې خپلې شپې تېروي او په اصطلاح د نظار شورا ارادې ته یې ځان تسلیم کړی او یا هم فرصت ته ګوري او له تدبیر نه کار اخلي.

ښاغلي کرزي ته به باید دا حقیقت ښه په ښکاره په زبات رسېدلی وي چې که دی (پښتون) نه وای نو شاید هېڅکله هم په دغسې بحراني شرایطو کې د دولت د مشر په توګه نه وای ټاکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی. نړیوالو د دې حقیقت جام پر سر راواړاوه چې په افغانستان کې له پښتنو پرته څوک د دولت مشري نه شي کولای، د دې هېواد د سیاسي ثبات لپاره همدا یوه ښه کره نسخه او کیلي ده چې د دولت مشر باید پښتون وي. نو ښاغلي کرزي صیب ته چې د هېواد د یوه اکثریت د استازولۍ په هیله دا ستر مسوولیت ورکړ شوی، له همدې امله ورته هم باید ده دي چې هغه په ښه وجه ترسره کړي. اوس ټول ملت وینې دی، څوک پر چا باندې د لعل پر ځای کوټې لعل نه شي تېرولای، د کرزي صیب مشري باید په دې مانا نه وي چې د دولت رئیس دې یوازې پښتون وي او نور میم زر ما ټول د ستمیانو او که په غوخ ډول وویل شي ټوله د یوې ډلې. د معاصر افغانستان په دې دوه نیم سوه کلن تاریخ کې هېڅکله هم داسې نه دي تېر شوي، چې اهلیت، مسلکي وړتیا او شخصیت له په پام کې نیولو پرته دې د هېواد درې او په حقیقت کې پنځه، شپږ، اووه او یا اته مهم وزارتونه دې د یوې ولسوالۍ وګړو ته ورحواله شوي وي او هغوی دې بیا له مسلکي معیارونو پرته په ډېره سپین سترګۍ د خپل کلي، سیمې، ژبې او قوم هر کس او ناکس ته د هغه تر استعداد او لیاقت پورته څوکۍ ورکړې وي. له بده مرغه چې نن نظار شورا په همداسې یوه دریځ کې ده او دا لوبه یې روانه کړې ده.

که موږ دولتي څوکۍ د افغانستان او د افغانیت په دایره کې وڅېړو، بیا خو نو دا مهمه نه ده چې شمالیوال ته زیاتې څوکۍ ورکړل شوې که جنوبیوال او ختیزوال ته، خو په دې شرط چې دې څوکیوالو سره د ټول ملت غم او ټول هېواد خبره مطرح وي؛ د قوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبې او سيمې خبره ورته وړاندې نه وي. خو اوس دا حقيقت ټولو ته معلوم دی چې ستميانو، نظار شورا او د اقليتونو د حقوقو ټولو مدعيانو ته د ټول افغانستان او ټول ملت د ګټو په انډول خپلې ځاني، ژبنۍ، سيمه ييزې او قومي ګټې ډېرې د پام وړ دي، ځينې داسې ډلې او کسان هم شته چې ان د افغانستان له تصور او شتوالي سره هم مخالف دي، له اکثريت سره کينه خو لا پر ځای پرېږده، خو که اوس هم څوک دا واقعيت نه مني،ـ نو دوی به د چا خبره د فيل په غوږ کې ويده وي.

موږ دا نه وايو چې کرزی صيب دې پر ټولو لويو پوستونو پښتانه مقرر کړي او نور قومونه دې له دولتي څوکيو بې برخې کړي. کرزی صيب اوس د ټولو افغانانو مشر دی، نه د يو قوم. ده ته لاژمه ده چې د ټولو قومونو د شمېر د تناسب له مخې په دولت کې د هغوی متناسبه مساوي برخه د اهليت، مسلک او شخصيت په پام کې نيولو سره تضمين کړي. د دې خبرې سپينول هم په کار دي چې ځينې ځان غرضي کسان کله کله وايي چې « د افغانستان د ټولو قومونو حقوق سره برابر دي(!)» د دې جملې ظاهري مانا تساوي، خو اصلي مانا يې ناتساوي ده. ځکه که د ټولو قومونو حقوق مساوي وي، نو د افغانستان تاجکان په تېره بيا پنجشېريان حاضر دي چې د لغمان او ننګرهار له شاړو (پشه يانو) سره برابر حقوق واخلي او خپلې څوکۍ ورسره ووېشي؟ ايا هزاره ګان حاضر دي چې د افغانستان له هندوانو سره برابر حقوق واخلي؟ هېڅکله حاضر نه دي. د دې جملې بڼه بايد داسې واړول شي: (ټول افغانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره برابر او مساوي حقوق لري). ځکه چې هر افغان که هغه پښتون وي که هزاره وي، تاجک وي که ازبک، پشه یي وي که نورستانی او که نور د قانون پر وړاندې یو شان حقوق لري او د قومونو حقوق باید د هغو د شمېر د انډول له مخې ورکړل شي، د ډېرو ډېر د لږو لږ، نه د قومونو د نومونو له مخې، په دې ډول به اصلي فردي تساوي رامنځته شي.

اوسنی حکومت او په تېره بیا کرزي صیب ته په کار دي چې د اوسني حکومت تقرر د مسلکي معیارونو له مخې وکړي، نه د قومي معیارونو له مخې، خو که چېرې زموږ د اقلیتونو د حقوقو یوشمېر مدعیان د قومونو خبره مطرح کوي، چې په ټوله نړۍ کې تراوسه دا کار نه دی شوی، نو بیا خو باید د قومونو د شمېر تناسب په پام کې ونیول شي. خو که په واقعیت کې د قوم، ژبې او سیمې شمېر په پام کې ونیول شي نو بیا خو د نظار شورا ټاټوبي ته یو وزارت هم نه رسېږي.

د کرزي صیب او نورو ټولو هغو مشرانو او هېوادوالو چې د لویې جرګې ملاتړ کوي، دې خبرې ته هم باید پام وي، چې که په اوسنۍ شپږ میاشتنۍ دوره کې یو ځل افغان ضد کسانو په دولت کې ځای ونیو او دا ویروس یو ځل په دولتي ادارو کې خور شو، نو دوی په اسانۍ سره کولای شي د لویې جرګې د جوړېدو بهیر ټکنی کړي او یا پر لویې جرګې هم خپلې غوښتنې ومني. که هغه وخت د لویې جرګې د برخوالو پرېکړه پر دوی فشار راوړي، نو بیا هم کېدی شي خبره خونړیو جګړو ته ووځي، ځکه چې دوی مخکې هم د قدرت د انحصار لپاره خونړۍ جګړې کړې وې او هر ډول سیاسي او اخلاقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېشرمۍ ته هم حاضر دي. اوس هم هغو خلکو سره واک دی چې دوی نه یوازې د لویې جرګې له ماهیت، بلکې د هغې له نامه سره هم حساسیت لري.

تر ټولو بده پېښه دا وشوه چې اوس وخت کې جنګي جنایتکاران د «بن» د تړون تر پردې لاندې د خپلو ناوړه ارمانونو د بري په لټه کې دي.

په هر حال که کرزي صیب او نور مخور ملي شخصیتونه په اوسنۍ اداره کې، ددې افغان ضد او هېواد ضد ویروس (ستمیت) مخه ونه نیسي، نو دوی به هم د تاریخ له سخت او نوم بدي چېلنج سره مخامخ شي، د ځینو په نظر خدای مه کړه د کرزي صیب رول به هماغه د غفورزي صاحب په شان وي، چې د پروفیسور رباني په دولت کې د هغه شخصي صدراعظم و او انجام به یې هم د هغه په شان وي، ځکه چې د کرزي صیب په اوسنۍ اداره کې یو لوړ پوړي ستمي نظار شورایي واکمن له یو چا سره په خصوصي خبرو کې ویلي وو: «چه کرزی باشد چه غفورزی». افغانان باید خپلو ملي ګټو ته جدي پام وکړي، له قومي، ژبنیو او سیمه ییزو تعصبونو څخه لاس واخلي. باید په جدي توګه د واک او قدرت له انحصار څخه تېر شي، موږ باید متوجه شو چې کار باید اهل ته وسپارل شي. که کرزی صیب اکثریت د اقلیت تر خوشالۍ قربان کړي، نو خدای مه کړه برخلیک به یې د لوخو په څېر شي، چې د خپل قام سپکه یې غوښته اوسر یې په اوبو کې وچ شو. خو کرزی باید هېڅکله ځان داسې یو بد برخلیک ته تسلیم نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېړنۍ لويه جرګه:

# يو څو انتقادونه او څو وړانديزونه

*دغه ليکنه ما دبېړنۍ د لويې جرګې لپاره ليکلې وه او غونډتل مې هلته يې واوروم، خو د وخت د کمي له امله ددې اورول نا ممکن شول وروسته مې بيا د هيلې مجلې د ۱۳۸۱ ل کال په (۲) ګڼه کې چاپ کړه، دا دی دلته يې يو ځل بيا د قدرمنو لوستونکو مخې ته ږدم.*

د بېړنۍ لويې جرګې ټولو قدرمنو غړو، ښاغلو بهرنيو او کورنيو مېلمنو ته سلامونه او احترامونه! غواړم په لنډيز سره د



ځينو مهمو مسئلو په باب خپل نظر څرګند کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱_ د بن ترون**:

سره له دې چې د بن ترون عادلانه نه و او د واك اساسي كلي يې ديوې جنګي سياسي ډلې په لاس كې وركړه، خو مثبت يې ځكه بللای شو، چې د افغانستان د راتلونكي حكومت لپاره يې يوه اډانه او يو اسكليټ جوړ كړل.

**۲_ لنډمهاله اداره**:

*الف – بهرنۍ سياست:* دښاغلي حامد كرزي په مشرۍ لنډمهاله اداره په خپل بهرني سياست كې تر زياته حده بريمنه وه، د نړۍ د زياتو هېوادونو پام افغانستان ته راواوښت او دوه اړخيز ديپلوماتيك اړيكي ټينګ شول. ښاغلی كرزی يو نړيوال شخصيت او وتلې نړيواله څېره شوه او له ګڼو هېوادونو څخه د افغانستان د بيارغونې لپاره د مليـاردونو ډالرو ژمنه واخيستل شوه.

*ب – كورنۍ سياست:* هرڅومره چې لنډمهاله اداره په نړيوال ډګر كې ځلېدلې، همدومره په كورني ډګر كې پيكه شوې او ديوې مشخصې جنګي سياسي ډلې د انحصاري او افراطي واك له امله د عام ولس د كركې وړ ګرځېدلې ده، ددې ادارې ځينې غتې نيمګړتياوې دادي:

**۳ – لوټ او تالان**:

*الف – عامه شتمنۍ:* تر اوسه هم د جعلي پيسو چاپ روان دی، پرته له دې چې دا پيسې مركزي بانك ته راشي او ثبت شي، نېغ په نېغه يې استاد برهان الدين رباني ته خپله ونډه رسېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظار شورا ته خپله ونډه، ډېره د خواشینۍ او درد خبره داده چې دا هر یو بانکنوټ په یوه خصوصي او یو سریال نمبر څو څو کاپۍ چاپېږي، جګړې پرې ډېرېږي او ضمیرونه پرې رانیول کېږي. د ارقامو له مخې د اعلیحضرت محمدظاهرشاه د **۴۵**کلنۍ واکمنۍ پر مهال د ټول افغانستان لپاره (۲۷) ملیارده، د مرحوم داود خان د واکمنۍ پر مهال نږدې (**۵۰**) ملیارده، د خلق او پرچم په ټوله واکمنۍ کې (۷۰۰) ملیارده، خو د استاد رباني له واکمنۍ نه بیا تر دې دمه د یو رقم له مخې (۱۴) زره او د بل رقم له مخې (۸۱) زره ملیارده افغانۍ چاپ شوي او دا شمېر که بیا په سلو کې ضرب شي نو خبره به کوم حد ته ورسېږي؟ په کورني ډګر کې د لنډمهالې ادارې تر ټولو غټه ناکامي همدا ده چې د افغانستان د جګړې یوه اساسي سرچینه یانې د جعلي پیسو د چاپ او وېش مخه یې ونه شوه نیولای.

ب - *شخصي شتمنۍ:* تر اوسه پورې په کابل ښار کې په سلګونو واړه موټر غلا شوي، چې اټکلي شمېر زرو (۱۰۰۰) موټرونو ته رسېږي. مانا دا چې هره ورځ په کابل ښار کې لږ تر لږه (۶) موټر غلا شوي دي، په دې اړه دې هغو عریضو ته مراجعه وشي چې د کورنیو چارو وزارت ته راغلي دي، له ګاډو پرته د خلکو په سلګونو کورونه هم په جبر ضبط شوي، نیول شوي او د واکمنې ډلې په لاس کې دي.

**۲- امنیتي حالت:** د هېواد په ګوټ ګوټ کې همغه پخواني پاټکسالاران او جنګسالاران بیا د واك پر ګدۍ ناست دي او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يــې د خپــل پخـواني خصـلت (خپلمنځـي جګـړو) تکـرار ننـدارې وړاندې کړی دی. په کابل ښار کې چې څه ناڅه امنیت ټینګ دی، هغـه هـم د لنډمهـالې ادارې کمـال نـه دی، بلکـې د نړیـوال سـوله ساتي ځواك برکت دی، خو دې سره سره بیـا هـم پـه لسـګونو مـوټر چلوونکي وژل شوي او موټر یې وړل شوي دي، موټر خو څه کوې چې ان په الوتکه کې هم څوك په امن کې پاتې نه شول او د همدې ادارې د ملکي هوایي چلند وزیر ډاکټر عبدالرحمن یې په چړو سوری سوری کړ، خو چا یې لا تراوسه پوښتنه ونه کړه.

**۳- نشراتي برخه**: په کابل ښار کې اکثره خپرونې په سلو کې (**۹۵**) برخې یوازې په یوه ژبه ( دري) خپرېږي، د انتقـاد او ویتـو حق هـم یـوازې د واکمـنې ادارې لـه مشـخصـې ډلـې سره دی. کابـل راډیـو ټلویزیون هـم یـوازې د یـوې مشـخص کینـه ګـر ګـروپ پـه لاس کې دی، داسې نـه ښکـاري لکـه د یـو هېـواد مرکزي راډیـو ټلویزیـون، بلکـې داسـې ښکـاري چـې د یـوې ولسـوالۍ او یـا یـوه ګـروپ شخصي ټلویزیون وي.

**۴- ملګرو ملتونو ولې د جنایتکارانو د تثبیت کمیسیون جوړ نه کړ؟**

د بن د تړون له مخې باید د لـویې جـرګې د ځانګړي کمیسـیون پـه شـان د جنګـي جنایتکـارانو د تثبیـت لپـاره هـم یـو ځـانګړی کمیسیون جوړ شوی وای، که چېرې دا کمیسیون جوړ شوی وای، نو اوس به یې د لویې جرګې لپاره هم، د لویې جرګې د کمیسـیون له خوا د جوړ شوي طرزالعمـل پـه تطبیـق کې غـوره رول لوبـولای وای، کېـدی شـول د لنډمهـالې ادارې یـو څـو وزیرانـو او یـو څـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنظیم سالارانو دې لویې جرګې ته لاره نه وای پیدا کړې، ځکه چې دې کمیسیون به په افغانستان کې جنګي مجرمان تثبیت کړي وو.

**۵ – د لویې جرګې کمیسیون**: د بن د تړون له مخې دلویې جرګې د کمیسیون غړي باید بشپړ نا پېیلي او ناتنظیمي اشخاص وای، خو په خواشینۍ سره چې دې کمیسیون کې داسې تنظیمي اشخاص شته چې اوس هم تنظیمي او سمتي تمایلات لري. په کمیسیون کې د هېواد ملي او سیمه ییز ترکیب په پام کې نه دی نیول شوی، د هېواد اکثریت ته په سلو کې ۲۸ برخې ونډه ورکړل شوې ده او له ۱۳ پښتون مېشتو ولایتونو څخه یو تن استازی هم په کې نه شته، د همدې ناعادلانه ترکیب له امله د لویې جرګې مرکزي کمیسیون په ځینو ولایتونو کې د تنظیمواکۍ پرمهال زیاتو شویو ولسوالیو ته څوکۍ ورکړي او د ځینو ولایتونو ژوندۍ ولسوالۍ یې له پامه غورځولې دي، د کمیسیون دا کار د هېواد بېلابېل ولایتونه له لوی حقوقي بحران سره مخامخ کړي، وروسته تر دې چې هرڅوک واك ته رسېږي هغه به د خپل ولایت د اداري واحدونو شمېر زیاتوي او په پای کې به افغانستان په سلګونو ولسوالۍ نه، بلکې په زرګونو ولسوالۍ به ولري.

## د نوي حکومت لپاره څو وړاندیزونه

۱ــ نوی حکومت او نوی کابینه باید له لنډمهالې اداري څخه چورلټ بدلون ولري، د یوې سیمې، یوې ژبې، یوه قوم، یوه تنظیم او یوې ولسوالۍ حاکمیت باید تمثیل نه کړي، بلکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول افغان ملت د هېلو ښکارندويي بايد وکړي، که د لنډمهالې اداري ځينې وزيران په نوې کابينه کې راځي، نو بايد د مسلکي معيارونو له مخې راشي، نه د تنظيمي اړيکو له پلوه.

۲ـ څلور اساسي وزارتونه د فاع،کورنيو، بهرنيو چارو او ماليې وزارتونه بايد يو قوم، يوې سيمې او يوه ولايت ته اختصاص نه شي، يا د بېلابېلو کميسيونو او يا هم د ناپېيلو مسلکي اشخاصو له خوا اداره شي.

۳ـ هغه کسان چې په انتقالي دوره کې د وزيرانو په توګه ټاکل کېږي، په راتلونکي منتخب حکومت کې بايد لوړو مقامونو ته د بيا کانديدی حق ورڅخه واخيستل شي، چې د تېرې شپږ مياشتنۍ دورې د وزيرانو تجربې د تکرار مخه ونيول شوي.

۴ـ **راتلونکی پارلمان**: د اتلس مياشتني پارلمان لپاره چې څومره کسان ټاکل کېږي، بايد د هغوی عمومي شمېر په مساويانه ډول پر ولايتونو ووېشل شي او له همدې ټاکلو استازو څخه دې مسلکي او کارپوه اشخاص د پارلمان لپاره په انتخابي ډول غوره شي او که څو تنه د ګوتو په شمار په انتصابي ډول راځي، نو هغوی دې هم د قومي او مسلکي تناسب او معيار له مخې غوره شي، که دلويې جرګې ديوويشت کسيز کميسيون غړي غواړي د راتلونکي پارلمان غړي شي، نو د خپلو ولايتونو له ونډې څخه دې د هغو د وکيلانو له خوا په انتخابي ډول راشي. د نور هر ډول انتصاب او ويتو مخه بايد ونيول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵ـ راتلونکی اساسي قانون**: په راتلونکي اساسي قانون کې باید د یو قوي مرکزي دولت حقیقت او واقعیت ثبت شي، هېڅ ډول فدرالیزم او زورواکۍ ته باید اجازه ورنه کړای شي.

**۶ـ بیا رغونه**: په راتلونکو اتلسو میاشتو کې باید د افغانستان د بیارغونې لپاره اساسي پلان طرح شي او هغه په ملیاردونو ډالر چې نړیوالو له افغانستان سره د مرستې لپاره بېل کړي، باید ترلاسه او پر کار واچول شي. تر هرڅه دمخه ددغو څلورو اساسي برخو بیا جوړونې او رغونې ته اړتیا ده:

**۱.د ټولو لویو لارو او پګرونو جوړول**: د هېواد ټولې لویې لارې ویجاړې شوي، که هرڅومره ژر جوړې شي، هم به مو اقتصادي ګټه ترلاسه کړې وي او هم د وخت سپما.

**۲.ښوونه او روزنه او عامه روغتیا**: د اتلس میاشتني حکومت دویم اساسي کار باید دا وي چې د هېواد ښوونه او روزنه عصري کړي او په کلیوالي او ښاري سیمو کې زیات ښوونځي جوړ کړي، د زیاتو ناروغیو د مخنیوي په خاطر په هېواد کې وقایي چارو ته زیاته اړتیا ده او هم د طبي پرسونل، روزنې، پالنې او د زیاتو روغتونونو جوړولو ته.

**۳.کرنیزه برخه**: افغانستان دښې اب وهوا له کبله اساساً یو زراعتي هېواد دی، که موږ سل کاله هم متواتر کار وکړو، په صنعت کې له نورو هېوادو سره ځان د سیالۍ جوګه کولای نه شو، خو که دولت یو کال خپل پام کرنې او مالدارۍ ته راواړوي، نو نورې نړۍ ته به ډېرې غلې دانې او مېوې صادرې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې یو ځل بیا خپلې خبرې راټولوم او د راتلونکې کابینې او پارلمان د عادلانه جوړښت پر مسلې ټینګار کوم او وایم چې په راتلونکي پارلمان او کابینه کې باید د هېڅ قوم او هېڅ سیمې جنایتکار ته ځای او مقام ورنه کړای شي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

# حاجي عبدالقدير او بيړنۍ لويه جرګه

## (څو خاطرې او څو حقيقتونه)

دا ليکنه د حاجي عبدالقدير د تلين په مناسبت ليکل شوې وه او ((د دستار سړی)) د مقالو په ټولګه کې چاپ شوې ده.

د سياسي، ټولنيزو او کلتوري شخصيتونو ژوند، له ډېرو لوړو ژورو ډک وي او د اوج او زوال ټکي لري. همدغه ټکي د يو سياسي، ټولنيز او کلتوري شخصيت د تبارز او شهرت سبب ګرځي.




حاجي عبدالقدير هم د خپل سياسي ژوند په بهير کې ډېرې لوړې ژورې ليدلي دي، زما په نظر درې مهمو مسلو او په هغو کې د حاجي عبدالقدير غوښ او مثبت رول د هغه شهرت ملي کچې او اوج ته ورسوه.

### ۱- په جلال اباد کې د سولې لپاره د جهادي مشرانو راټولونه:

جلال اباد ښار ته د مجاهدينو په راتګ سره د حاجي عبدالقدير غټه ميړانه دا وه چې دا لرغونی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلتوري ښار يې له لوټ، تالان او تباهۍ څخه وژغوره، دا وخت پر ټول افغانستان داسې حالات خواره وو، چې د تمدن هېڅ مرکز او د هېواد د هېڅ لوی ښار وګړي او شتمني خوندي نه وو. خو د حاجي عبدالقدير په مشرۍ د ننګرهار جهادي شورا پر دې بريالۍ شوه، چې جلال اباد له تنظيمي او خپلمنځي جګړو وژغوري او دلته د سولې، جرګو او مرکو ټغر خور کړي. حاجي عبدالقدير يوازې په ننګرهار يا ختيزو ولايتونو کې د سولې پر ټينګښت بسنه ونه کړه، هڅه يې وکړه چې په کابل او ټول افغانستان کې سوله او امن ټينګ شي.

کابل ته يې د روغې جوړې لپاره په لسګونو ځله د سولې هيئتونه ولېږل، خو کله چې په کابل کې د جګړې د ټولو غاړو پر وعده خلافۍ مطمين شو، نو بيا يې ټولو تنظيمي مشرانو او پر جګړې اخته لوريو ته بلنه ورکړه، چې جلال اباد کې سره جرګه شي او په هېواد کې د سولې او روغې جوړې راوستلو لپاره موافقې ته سره ورسېږي.

حاجي عبدالقدير ددې غونډې لپاره هر اړخيزې هلې ځلې وکړې، چې دا غونډه کوټلې او مثبته نتيجه ورکړي، هغه وخت اکثره سياسي کتونکي او عام خلک حيران وو، چې څنګه يو والي پر دې بريالی شو، چې سر کښېنه، نه ايلېدونکي او نا متعهده تنظيمي مشران د ډېرو ورځو لپاره پر يوه مېز سره کېنوي، ان د دې ګواښ تر کچې پورې چې که چېرې روغې جوړې ته سره ونه رسېږي، نو يو هم له غونډې څخه رانه وتلای نه شي، دې نه اټکلېدونکي کار دده شخصيت ډېر وځلاوه.

**۲ - د بن کنفرانس:** د افغانستان په اوسني سياسي بهير کې د بن کنفرانس يو ځانګړی مقام لري، دا کنفرانس سره له دې چې له سياسي او د امتيازونو د وېش له پلوه ډېر زيات نا انډوله و، خو بيا هم پر دې بريالی شو، چې په افغانستان کې د سياسي ژوندانه او فعاليت لپاره يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اډانه جوړه کړي. په دې کنفرانس کې د شمال ټلوالې تله خورا درنه وه، الحاج عبدالقدیر هم دا وخت د دې ټلوالې یو مطرح غړی ګڼل کېده، خو حاجي عبدالقدیر د بن په غونډه کې له پیله یوې غټې خلا ته متوجه و، دا خلا په غونډه کې د هېواد د اکثریت یانې پښتنو د مناسب استازیتوب نشتوالی و، کومو پښتنو چې په دې غونډه کې ګډون کړی و، هغوی هم د شمال ټلوالې تر دومره اغېز لاندې راغلي وو، چې د هغو اکثرو هم په دري ژبه خبرې کولې، حاجي عبدالقدیر د پښتنو د اکثریت او د پښتو د محکومیت او محرومیت درد احساس کړ او د اعتراض په ډول یې غونډه پرېښوده، هغه وخت اکثرو افغانانو د حاجي عبدالقدیر دا حرکت او جرئت تائید کړ او وېې ستایه، خو یو نیم به په کې دا تبصره هم کوله، چې حاجي عبدالقدیر ته شمال ټلوالې ویلي وو، چې ته دا چیغه پورته کړه، مقصد غونډه اخلال شي او په دې ډول به ټول قدرت لکه د اوس په شان ټلوالې ته پاتې شي.

د بېړنۍ لویې جرګې د انتخاباتو په بهیر کې مو یوه شپه له حاجي صیب عبدالقدیر سره ناسته درلوده او همدا پوښتنه مې ورسره مطرح کړه او ومې ویل: حاجي صیب سره له دې چې اکثره پښتانه ستا پر دې جرئت او حرکت خوښ شول، خو یو شمېر نظرونه داسې هم شته چې وایي تاسو د شمال ټلوالې په خوښه د غونډې د اخلال په خاطر دا کار کړی و. تاسو په دې اړه څه وایئ؟

حاجي صیب وویل: «یونه! اوس خو هغه وخت تېر دی زه خبره سپینه کوم، خلک به هر څه وایي ما دا هر څه د پښتنو په خاطر کړي وو، ځکه پښتانه د دې وطن اکثریت دي، په ټول کنفرانس کې یو ټکی پښتو نه وه، نو څه به مې کول، غلی ناست وای ښه وه، که اعتراض مې کړی وای؟ کله چې له کنفرانس نه راووتلم د ټولې دنیا سفیران راپسې راغلل، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه که نه غونډه ښېخي له منځه ځي، د دنیا مخ مې وکه او غونډې ته په دې خاطر ورغلم چې د غونډې د اخلال او ړنګېدو مسئولیت په ما رانه شي، بیا به سبا خلکو ویلې چې ګوره که نه دې غونډې نتیجه ورکوله، افغانستان کې حکومت جوړېده خو حاجي قدیر په کې لغته ووهله، نو ځکه غونډې ته بېرته ستون شوم، مقصد زما چې کوم هدف و د پښتو غږ اوچتول هغه مې ترسره کړ، نور چې خلک څه خبرې کوي هغه د خلکو کار دی». د بن کنفرانس حاجي عبدالقدیر ته د هغه د همدغه جرئت له امله غټ شهرت وباښه او دی یې د ټولو پښتنو په منځ کې مطرح کړ.

**بېړنۍ لویه جرګه:** د بېړنۍ لویې جرګې تر جوړېدو دمخه زه په ختیزو ولایتونو کې د لویې جرګې لپاره د انتخاباتو مسئول وم، دا وخت مې له حاجي عبدالقدیر سره څو ځله لیده کاته وشول، دا وخت ماته لا ښه څرګنده شوه، چې په دې وروستیو سیاسي پېښو او بهیرونو کې د نورو سیالو قوماندانانو او سیاستوالو په انډول د حاجي عبدالقدیر استعداد او جرئت لوړ دی. د روان سیاسي بهیر او د هغه راتلونکې نتیجه ښه ارزولای شي، پر دې هم ښه پوهېږي چې زموږ ګاونډي هېوادونه او نور نړیوال په افغانستان کې څه غواړي او څه کوي. ده د افغانستان د سیاسي ډګر د راتلونکي په باب هم ښه وړاندوینه کولای شوه، د خپل واک او د نورو د واک په انډول، کچ او میچ ښه پوهېده، همدغې تجربې دی د دې وړ کړی و، چې د خرپ په ځای کې خرپ وکړي او د ترپ په ځای کې ترپ او د احتیاط په ځای کې احتیاط، د عوامو د ارزونې له مخې په سیاست کې سازش او احتیاط د سیاستوالو اخلاقي شخصیت ته زیان رسوي. عام ولس اکثره وخت د خرپ او ترپ سیاستوال خوښوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو حاجي عبدالقدير د جرئت، احتياط او ولسي پوهې له امتزاج څخه خپل سياسي ژوند رغولی و.

د ۱۳۷۱ل کال د ثور مياشت وه، يو شمېر جهادي ډلو د پخواني حکومت يو شمېر ملېشو سره د جبل السراج د تړون پر اساس د ائتلاف له امله د کابل نسبي واک ترلاسه کړی و. دې ائتلاف اساساً قومي بڼه لرله او د هېواد له اکثريت سره د کرکې پر بنسټ جوړ شوی و، زه اسمعيل يون او زما دوه نور ملګري ډاکټر محمد ابراهيم شينواری او ډاکټر روح الله د ۱۳۷۱ل کال د ثور پر ۹ مه نېټه له کابله جلال اباد ته په دې نيت راغلو چې دلته له يو شمېر جهادي مشرانو سره، چې دا وخت اکثره په جلال اباد کې وو، وګورو، د جبل السراج د ائتلاف د ناوړه مقصدونو په اړه ورسره خبره وکړو. دلته د جلال اباد نوي واکمن مشران ډېر زيات مصروف وو. کله چې حاجي صيب عبدالقدير ته زموږ ليک ورغی، نو هغه وغوښتلو د ماښام او مازيګر د لمانځه ترمنځ موږ ته د ملاقات وخت راکړل شو، کله چې مو د جبل السراج د ائتلاف او د هغه د راتلونکو پايلو په باب خبرې وکړې، نو حاجي صيب وويل: ((خير نو چې دا ائتلاف دومره د پښتنو په خلاف دی، زه حکمتيار ته هم نه ګورم، زه خپله درې لکه لښکر لرم دا ټول ورپسې خوځوم...))

کله چې موږ بيا ټينګار وکړ چې ددې ائتلاف اصلي ريښه بهر ته رسېږي او هغوی د پښتنو پر ضد دا ائتلاف جوړ کړی او دا خبره مو نوره هم ټينګه کړه، نو حاجي صيب عبدالقدير ودرېد او زما لاس يې کېکاږه او ويې ويل: ((پلان داسې دی چې په دې دور کې پښتنو ته قدرت نه ورکوي، وينه تويول پرې په کار نه دي...))

حاجي عبدالقدير د هغه وخت په سياستوالو کې د ګوتو په شمار کسانو له جملې څخه و، چې د پردې تر شا د ګاونډيو هېوادونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسوهنو ښه پوهېده او پر دې هم پوهېده چې دده خپل لاس تر تېرې لاندې دی. تر دې کتنې پوره لس کاله وروسته زه په ختيزو ولايتونو کې د ببېړنۍ لويې جرګې د انتخاباتو مسئول شوم، دا ځل د وظيفه يې مکلفيت له مخې اړ وم چې د ننګرهار والي حاجي عبدالقدير سره وخت پر وخت وګورم. د دوو مياشتو په بهير کې مې څو ځله ورسره وکتل. دا ځل د تېرو لسو کلونو په پرتله له يو بل حاجي قدير سره مخامخ شوم، زيات وخت به يې دا خبره تکراروله چې «دا ځل زه هېڅ غير قانوني کار نه کوم زموږ ټول ضرورتونه پوره دي دا ځل موږ کار کوو».

کله چې د بېړنۍ لويې جرګې د څوکيو د وېش خبره مطرح شوه، نو ننګرهار او ټولو ختيزو ولايتونو ته په کې کمه ونډه ور رسېدلې وه. حاجي صيب موږ وغوښتلو په دې کتنه کې په جلال اباد کې د ملګرو ملتونو د مرستيال هئيت د دفتر (UNAMA) مشر کاوون کاکړ، له کابل نه د بېړنۍ لويې جرګې د خپلواک کميسيون مرستيال او غړي پوهاند عبدالعزيز او سرمحقق سيد امين مجاهد او زه اسمعيل يون شامل وو. د شپې ناوخته مو د جلال اباد په قصر کې خبرې پيل کړې، د دولت له خوا نور هېڅوک نه وو، حاجي صيب خپلې خبرې داسې پيل کړې: «د ننګرهار او نورو ختيزو ولايتونو څوکۍ کمې دي، زه پر دې قانع نه يم، زه دا نه منم، تر څو چې ماته د څوکيو د زياتولو ژمنه رانه کړای شي، زه ولسواليو ته ستاسو هئيتونه د کمپاين لپاره نه پرېږدم. زه د دې انتخاباتو او د لويې جرګې په ماهيت او صلاحيت ښه پوهېږم، خو زه نه غواړم، زما په سينه مار تېر شي او دا وېش د قانون بڼه خپله کړي، زه غږ پورته کوم، سبا به زه دلته والي نه يم، خو ننګرهاريان به ماته وايي، چې حاجي قديره ستا په ولايت کې موږ باندې دا ظلم شوی و او تا د خپل ولايت له خاطره غږ پورته نه کړ او موږ باندې دا قانون شو».

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاجي صيب قدير دا هم وويل: «ما په بن کې هم دا غر پورته کړی او اوس يې هم پورته کوم.» ما په کابل کې کرزي صيب ته هم په داسې حال کې دا خبرې وکړې چې کريم خليلي او محقق هم ناست وو، ما وويل چې زموږ څوکۍ کمې دي او موږ پرې قانع نه يو، خو کريم خليلي او محقق وويلې چې نه کميسيون عادلانه فيصله کړې او سيټونه يې ښه وېشلي. ما محقق ته وويل چې عادلانه به يې خود کړی وي، چې زما سيټونه يې هم تاته درکړي، که ته زما په موقف کې وای، نو بيا به دا تاته معلومه شوې وای چې عادلانه دي که نه؟»

د حاجي عبدالقدير د غوښتنې او په ختيزو ولايتونو کې د انتخاباتو د دفتر په ګډو هڅو په پای کې (۱۷) سيټونه ختيزو ولايتونو ته زيات شول او دې زياتوالي د اساسي قانون د لويې جرګې د څوکيو پر وېش هم مثبت تاثير وکړ او ننګرهار بيا تر کابل وروسته د افغانستان د ټولو ولايتونو په منځ کې په لومړۍ درجه راغی.

د ښېړنۍ لويې جرګې په ټول انتخاباتي بهير کې ده هېڅ ډول منفي مداخله ونه کړه، بلکې د انتخاباتو له دې سيمه ييز کميسيون سره يې هر ډول همکاري وکړه، ان له کابل څخه د دولتي امکاناتو په زور د جميعت په تېره بيا د نظار شورا يوه ګومارل شوې ډله، چې د انتخاباتي پروسې د اخلال او متاثره کولو لپاره يې فعاليت کاوه، په ټينګه وترټله او د فعاليت مخه يې ونيوله او ورته يې وويل چې دا خپلواک کميسيون دی، دولت او نور تنظيمونه بايد د دوی په کار کې مداخله ونه کړي.

تقريباً د لويې جرګې د انتخاباتو په پای کې حاجي صيب له موږ څخه هيله وکړه چې يوازې د قبايلو د څوکيو د وېش په برخه کې که ورسره مشوره وشي، نو کميسيون ته به ګټورې مشورې ورکړي او د څوکيو وېش به په عادلانه ډول ترسره شي، ددې کار علت دا و چې ده په قبايلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمه کې ډېره زیاته پېژندګلوي لرله. کله چې په ټولو ختیزو ولایتونو کې انتخاباتي بهیر له کومو ځاني تلفاتو پرته په ډېر ښه ډول ترسره شو، نو حاجي عبدالقدیر په همدې مناسبت په یوه جوړه شوې لویه غونډه کې د خوښۍ او مننې څرګندونه وکړه، له پوهاند عبدالعزیز، سرمحقق سیدامین مجاهد، کاوون کاکړ او اسمعیل یون څخه یې مننه وکړه او کور ودانی یې ورته ووایه. حاجي صیب وویل: «انتخابات ډېر سخت کار دی، مړي په کې کېږي، ما به هر ماښام راډیو ته غوږ نیولی و، کله چې به خبرونه شروع شول نو زړه به مې درب درب کاوه او ویل به مې الله خیر چې څو به مړه وي خو د خدای(ج) په فضل چې هر څه ښه تېر شول.»

کله چې په ختیزو ولایتونو کې انتخابات ټول خلاص شول، نو د څلورو واړو ولایتونو وکیلان یې راوغوښتل او په سپین غر هوټل کې یې د سلا مشورې غونډه جوړه کړه، ورته یې وویل: «تاسې ته سپینه خبره کوم هر څه فیصله شوي دا جرګه مازې د قانونیت لپاره ده. اوس په کابل کې د څوکیو وېش روان دی، هر څوک باید خپل حق مخکې تر مخکې تثبیت کړي، زه خو د مشرقي ولایتونو حق غواړم که تاسو ماته واک راکوئ نو زه به کابل ته لاړ شم او ستاسو په نمایندګۍ به هم څو تنه بوځم، هلته به د خپلو حقوقو خبره مطرح کړو.» ټولو ورسره ومنله او ټولو په لیکلي او شفاهي ډول حاجي صیب ته واک ورکړ. حاجي صیب په دې وخت کې پر اداري رئیس ملک نظیر غږ کړ: «ملکه په کابل کې به دوه حویلۍ د مشرقي د وکیلانو لپاره ونیسې، هر څومره کرایه او خرچه چې راځي پروا نه کوي، دا وکیلان به هلته اوسېږي او نور مشرقیوال چې کابل کې کارونه لري او د اوسېدو ځای نه لري دا به د ټولو لپاره د یو مېلمستون حیثیت لري. ټول وکیلان چې له دې ځایه کابل ته ځي د هغوی خرچه هم برابره کړئ!» حاجي صیب تر نورو وکیلانو دمخه کابل ته ورسېد او هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پردې تر شا د کابل له واکمنو سره د راتلونکي نظام، مشرتابه او د څوکیو د وېش په باب پر خبرو اترو مصروف شو. د کابل تر تګ دمخه یې ماته په یوه خصوصي ناسته کې ویلي وو: ((زه، کرزی صیب، خلیلزاد، فهیم او څو تنه نور سره ناست وو، خبره مو سره غوټه کړې، ما خلیلزاد ته وویل دا ځل نو د بن د قرارداد په شان معاملې درسره نه منم، چې هر څو مو یو ګروپ ته ورکړي دي.)) حاجي صیب دې خبرې ته هم اشاره وکړه، ((چې د کورنیو چارو وزارت یې ده ته پیشنهاد کړی دی.))

کله چې حاجي صیب د پردې تر شا د سیاسي معاملو پر حل او فصل بوخت و، نو دې کې دا څو ټکي ډېر زیات مطرح و:

۱- زعامت نه د پخواني پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر اړول.

۲- د پروفیسور برهان الدین رباني د کاندیدۍ مخنیوی

۳- دلویې جرګې په واسطه د حامد کرزي د زعامت ټاکنه.

۴- د کابینې د څوکیو وېش.

حاجي عبدالقدیر له پورتنیو څلورو مهمو ټکو څخه په درېیو کې بریالی شو، خو په یوه کې پاتې راغی. دا وخت په لویه جرګه کې په پښتنو مشرانو کې تر ده بل مطرح شخص نه و، زعامت ته د اعلیحضرت له کاندیدۍ نه دده نه ملاتړ ددې سبب شو، چې اعلحیضرت په کورنۍ کچه د قدرت یو غټ عنصر له لاسه ورکړي.

له کاندیدۍ نه د استاد رباني د مخنیوي په لار کې هم دده رول ډېر مهم و، تر جرګې دمخه یې یوه ورځ استاد رباني ته وویل: ((استاد دوست نزدیکت کیست؟ استاد طبعاً وویل: شما (حاجي قدیر). حاجي عبدالقدیر ورته بیا وویل: ((خیر که ما دوست نزدیکت هستم همین ما بریت رای نمیتم، دیگه کس بریت رای میته؟)) استاد رباني ته یې وښودله چې زما په شان یو نږدې دوست درته رایه نه درکوي، له نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو به څه ګیله کوې. استاد رباني ددې په مقابل کې دا شرط کېښود چې خیر اعلیحضرت به هم ځان نه کاندیدوي. د نظار شورا او نورو جهادي ډلو نظر هم همدا و چې اعلیحضرت به ځان نه کاندیدوي. دې ټولو او نورو بهرنیو عواملو د اعلیحضرت د کاندیدۍ مخه ونیوله، خو استاد رباني ته د غوښ قناعت او ځواب په برخه کې د حاجي عبدالقدیر رول ډېر زیات اغېزناک و.

له کاندیدېدو نه د اعلیحضرت او استاد رباني انصراف ددې سبب شو، چې ښاغلي حامدکرزي ته په بشپړ ډول لاره اواره شي. له ښاغلي حامدکرزي نه د حاجي عبدالقدیر هر اړخیز ملاتړ ددې سبب شو، چې نه یوازې د خپلو پلویانو په رایو کې یې ضایعات رانه شي، بلکې نور خلک هم ورته رامات شي، په لویه جرګه کې یو وخت ددې خطر پېښ شو چې د اعلیحضرت ګڼ شمېر پلویان له جرګې څخه بایکاټ وکړي. دا خلک همدارنګه په دویمه درجه کې د کرزي پلویان هم ګڼل کېدل، که چېرې دا خلک له جرګې وتلي وای، نو د کرزي صیب انتخاب ته هم غټ خطر متوجه کېده او په خپله د کمیت له پلوه د جرګې مشروعیت ته هم پوره زیان اوښته.

حاجي عبدالقدیر ددې خطر په رفع او دفع کې غوښ رول ولوباوه او د پاچا هغه ناخوښه پلویان چې د ګڼو دلایلو له مخې ناخوښه وو، قانع کړل چې له جرګې څخه بایکاټ ونه کړي، تر لویې جرګې یوه ورځ دمخه تنظیمي مشران د ښځینه وکیلانو پر وړاندې ودرېدل، په دې غونډه کې لومړی حاجي عبدالقدیر خبرې وکړې اوپر ملي وحدت یې ټینګار وکړ، خو چا کوم اعتراض ونه کړ، کله چې د استاد رباني نوبت ورسېد، نو تر خبرو وروسته تر سختو اعتراضونو لاندې راغی، ټول اعتراضونه ښځمنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکیلانو وکړل، استاد لاجوابه و او غونډه د هغه د زیاتې پیکه کېدو سبب شوه.

په بېړنۍ لویه جرګه کې یوازینی ټکی چې د حاجي عبدالقدیر پخوانی شخصیت یا په بن کنفرانس کې د هغه استقامت یې د پښتنو په منځ کې تر پوښتنې لاندې راوست، هغه په ډله ییز ډول د ختیزو ولایتونو پر وکیلانو غږ کول و، چې ټول د (قاسمیار) ملاتړ وکړئ، دا کار د اکثرو پښتنو وکیلانو خوښ نه شو، او خلکو داسې ویل چې هغه کوم حاجي قدیر و چې د بن کنفرانس کې یې هغه چغه پورته کړه او دلته په معکوس ډول حرکت کوي، کله چې حاجي صیب قدیر په لویه جرګه کې د قاسمیار په پلوي غږ پورته کړ، نو ما همغه شېبه حاجي صیب ته وویل: ((حاجي صیب دا څه کوې، دا کار هم تاته په تاوان دی هم ټولو پښتنو ته او بل دا کار د انتخاباتو له اصولو سره هم جوړ نه دی، ځکه رایې پټې دي، د هر چا خوښه ده چې هر چا ته رایه ورکوي، داسې په جار اعلان کول ډېر زیان پېښوي... دا وخت حاجي صیب ماته ډېر په قهر شو او ویې ویل: (( یونه! چوپ شه ډېرې خبرې مه کوه بیا به وروسته خبرې کوو، تا او میاخېل دا درې ورځې ماته د سر په کاسه کې اوبه راکړې.))

د شاه محمود میاخېل اختلافات چې هر څه وو، وو به، زه پر هغو تبصره نه غواړم خو ماته حاجي صیب ځکه په قهر و چې څو ځله یې وکیلان راټول کړل او د بېلابېلو موضوعاتو په باب یې ورته خبرې وکړې، هر ځل به ما د حاجي صیب څنګ ته ځان ورساوه او ورته ویل به مې چې د څلورو مهمو وزارتونو موضوع هم یاده کړه، هغه غوښتل چې دا موضوع علني نه کړي، ځکه دوی په خپل منځ کې موافقې ته رسېدلي وو، خو یوه ورځ یې له لاسه ونیولم او دهلېز کې یې کونج ته بوتلم، راته یې وویل: (( مشرقي ته یې داخله وزارت منلی، شمال سره مې زور برابر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دی، ډېرې زياتې پيسې او وسلې لري، که نور هر څه را نه زيات امتياز واخيست بيا مې غاړه کې لنګوټې واچوئ او کش مې کړئ، چې حاجي قدير ته بې غيرته وې، نور مې څه ته په عذابوئ...» له شمال ټلوالې سره د زور د نا انډولۍ او امتياز خبره يې د مشرقي وکيلانو په يوه عامه غونډه کې هم وکړه.

کله چې زه د اکثريت رايو په ګټلو سره د لويې جرګې د لومړي منشي په توګه انتخاب شوم او پر خپلې څوکۍ کېناستم، نو يوه وړه ټوټه کاغذ مې پر مېز کېښودل شو، په کاغذ کې ليکل شوي وو: «يون صيب زه تاسو ته ددې لويې کاميابۍ مبارکي وايم، حاجي قدير» کله چې ما دا کاغذ ولوست نو بيا مې لاندې د کيڼ لاس لومړي کتار ته وکتل، چې حاجي صيب يې په منځنۍ برخه کې ناست و. ما ورته سر وخوځوه او دی په سترګو او شونډو کې موسکی شو، ما له دې شېبې څخه ډېر خوند او لذت واخيست، ځکه زه پوهېدلم چې زما په انتخاب حاجي صيب څومره خوشحاله شوی او ده دا کار د مشرقي ولايتونو او ځان لپاره يو بری ګاڼه، سره له دې چې په ببړنۍ لويه جرګه کې ما خپل ځان او ټول پښتانه محروم ګڼل، تر لسګونو روحي فشارونو او نورو ډول ډول ګواښونو لاندې وم، خو دا هر څه مو په چوپه خوله زغمل.

کله چې جرګه رسماً پيل شوه، نو يوه ورځ مې په تفريح کې حاجي صيب قدير سره وکتل، ما ويل د قاسميار صيب موضوع کې درنه خلک خفه دي. هغه وويل اوس به يې درته ووايم: «اصلي خبره دا وه چې قاسميار د سترې محکمې لپاره کانديد و او دا د ډېرې مودې لپاره کار دی، لويه جرګه يوازې د شپږو ورځو لپاره ده، ما يوه معامله کړې، د قاسميار ملاتړ مې ددې لپاره وکړ، چې هغه بل امتياز موږ ته پرېږدي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولت ما سره ژمنه کړې چې ستره محکمه به فضل الهادي شینواري ته ورکوو، نو ځکه ما دا کار وکړ...)).

په لویه جرګه کې یوه ورځ زما مېرمن (ارین یون) د استاد رباني د وخت ((ملي سرود)) د غږېدو په اړه احتجاج وکړ او دا یې د ۱۳۴۳ل کال د قانون او د اوسنۍ لویې جرګې د داخلي طرزالعمل خلاف عمل وګاڼه، دغه راز یې په شمالي ولایتونو کې د ډله ییزو وژنو، مهاجرتونو او د طالب په نامه د پښتنو د ځورونې په اړه خبرې وکړې، د شمال ټلوالې پر مشرانو دا خبرې ښې ونه لګېدې، نو حاجي صیب ته یې شکایت وکړ، حاجي صیب د غرمې ډوډۍ پر مهال له ما څخه پوښتنه وکړه او ویې ویل: ((دې خورکۍ چې د مشرقي ولایاتو د ښځو په نمایندګۍ خبرې وکړې دا څوک ده؟)) ما وویل ولې څه خبره ده؟ حاجي صیب وویل: ((ډاکتر عبدالله او دلته ځیني نور وزیران په قهر دي، چې دا انتقادونه یې موږ ته راجع دي. نو ما ځکه تانه پوښتنه وکړه چې دا څوک ده؟)) ما ورته وویل: ((حاجي صیب دا زما مېرمن ده)) حاجي صیب وویل: ((بس پوه شوم هر څه یې چې ویلي ښه یې ویلي.))

د لویې جرګې په بهیر کې ښاغلي حامدکرزي د مشرقي ولایتونو وکیلانو ته د خبرو اترو پر وخت وویل: ((تاسو د جمهوري ریاست مرستیالي غواړئ که یو مهم وزارت؟)) له مهم وزارت څخه یې مقصد د کورنیو چارو وزارت و. ټولو وکیلانو ورته وویل: ((مهم وزارت)) هغه وویل: ((ښه ده پوه شوم)).

د لویې جرګې د پای پر ورځ د موقت پارلمان د جوړونې په باب د شمال ټلوالې او نورو وکیلانو ترمنځ د نظر اختلاف پیدا شو، خو حاجي عبدالقدیر د بن د تړون له مخې وضاحت ورکړ او د موقت پارلمان جوړولو مسئله یې د پخو دلایلو له مخې اواره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د لویې جرګې د وروستۍ ورځې په پای کې کابینه اعلان شوه، نو د حاجي صیب قدیر پر ځای تاج محمد وردګ د کورنیو چارو وزارت د وزیر په توګه ټاکل شوی و او داسې څرګنده شوه چې یو ځل بیا د معاملو له پاسه معامله شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانستان ملت دی که افغان؟

دا لکینه ما هغه وخت وکړه چې کله مې د بېړنۍ لویې جرګې د ټاکنو کړنلاره ترلاسه کړه، دا مهال، تر دې دمخه او تر جرګې وروسته، ان اوسمهال هم دا اصطلاحګانې سمې نه کارول کېږي، د اساسي قانون په لویه جرګه کې هم ((د افغانستان ملت)) لغوي تېروتنه په پښتو او دري متن کې په قصدي او ناقصدي ډول تېره شوې او په نورو حقوقي متونو کې هم کله کله په همدې ډول تکرارېږي، خو د اساسي قانون انګلیسي متن چې آر (اصل) متن ګڼل کېږي، هلته دا نقیصه رفع شوې او همدارنګه د افغانستان په اړه په نورو حقوقي متونو کې دا نقیصه نه شته. زما دا لیکنه هماغه مهال د هیلې مجلې د ۱۳۸۱ل کال په (۱) ګڼه کې چاپ شوې ده.

زموږ په ګڼو خپرونو، رسمي او نا رسمي ویناوو کې کله کله ملي او حقوقي نومونو (اصطلاحاتو) ته پوره او ژور پام نه کېږي، یوه نومونه د بلې پرځای کارول کېږي، یا یو نوم له اصلي مانا څخه اړول کېږي او په دویمه یا بدله مانا کارول کېږي، کله کله بیا له یوې کلمې سره مخکې یوه بله داسې توصیفي کلمه یو ځای کوي چې ددویمې کلمې مانا هم سره بدلوي، کله کله خو بیا ځینې اصطلاحګانې چې اصلاً د مانا او په تېره بیا د اصلي مانا له پلوه سره متضادې او یا مغیرې وي، په یوه او مساوي مانا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاروي او تر اصلي اصطلاحګانو د مخه ورته د (برابر) صفت یا کلمه کاروي.

دلته غواړو پر همدغو څو اصطلاحګانو چې اوس زموږ د هېواد په خپرونو او د واکمنو په رسمي ویناوو کې زیاتې تکرارېږي، لنډ بحث وکړو:

**ملت افغانستان یا د افغانستان ملت:**

په اوسنیو زیاتو خپرونو کې ددولتي چارواکو او ځینو نورو اشخاصو له خوا ( د افغان ملت) پرځای ( د افغانستان ملت) اصطلاح کارول کېږي. ځینې د (افغانستان ملت) اصطلاح په شعوري ډول استعمالوي او ځینې یې په ناشعوري ډول، هغه کسان چې ( د افغانستان ملت) اصطلاح په شعوري ډول کاروي هغوی اساساً په افغانستان کې دیو واحد ملت (افغان) شتوالی نه مني. په حقیقت کې (افغان) دیو ملت په توګه نه مني، دوی وایي چې افغانستان یو هېواد دی او بېلابېل قومونه یا ددوی په اصطلاح (مختلف ملیتونه) په کې اوسي، هریو ځانته هویت لري، یانې دا چې ټول افغانان نه دي، د افغان نوم یو خاص قوم ته منسوب او پر نورو یې تحمیل کړی دی! او دودول یې یو ډول استعمار دی! ځکه نو دوی کله کله په افغانستان کې هر اوسېدونکي ته د (افغان) پرځای ( افغانستاني ) نومونه کاروي.

په حقیقت کې ددې ډول خلکو د ضمیر ښیښه د افغان او افغانستان پر وړاندې صفا نه ده، ددوی ستراتیژي داده، چې په لومړي ګام کې د یو واحد ملت په توګه د (افغان) هویت ختم کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا په دویم پړاو کې د افغانستان د نوم د بدلولو هڅه پیل کړي، په دې ډول به یو واحد ملت او یوه ټاکلې جغرافیه چې دا ملت په کې اوسي له منځه یوسي، ددې ډول افغان ضد ډلو تر شا بهرنی ملاتړ هم شته، چې په دې برخه کې ګډې هیلې او ارمانونه لري.

خو ددې ترڅنګ یو شمېر کسان په ناشعوري ډول د (افغانستان ملت) نومونه کاروي، دوی د هغو نورو تر تبلیغاتي اغېز لاندې راغلي، د کلمې د مانا تل ته نه دي پرېوتي او نه یې پرې سر خلاصېږي، که چېرې دوی پر دې پوه شي چې دا اصطلاح غلطه او یایې مانا منفي ده، نو نه یوازې دا چې خپله به یې ونه کاروي، بلکې د کاروونکو پر ضد به یې سخت غبرګون هم وښیي.

دې ډول اشخاصو او نورو هغو کسانو ته چې په ناشعوري ډول دا اصطلاح کاروي، ددې څو ټکو څرګندول په کار دي:

۱. افغانستان د جغرافیې نوم، د خاورې نوم دی، د هېواد نوم دی، نه د ملت، البته افغانستان له افغان نه اخیستل شوی (افغان+ ستان = افغانستان)، دې کې (افغان) د ملت نوم دی (ستان) مکاني روستاړی دی، یانې دا چې د افغانستان د هغې خاورې، جغرافیې او کور نوم دی چې افغانان یا افغان ملت په کې اوسېږي، هرڅوك چې په دې کور کې اوسېږي هغه افغان دی، هر افغان د افغان ملت یو غړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. د افغانستان د نوم بله ښېگڼه داده چې دا د یو ملت له ریښې (افغان) څخه رغېدلی دی، هر هغه هېواد چې نوم یې د هغه هېواد له ملت څخه رغېدلی وي، لکه خپله افغانستان نو د بقا او استحکام چانس یې ډېر زیات وي. د افغانستان د ۱۳۴۳ل کال په اساسي قانون کې هم یادونه شوې چې زموږ د ملت نوم ( افغان) دی او هر څوك چې په افغانستان کې اوسي هغه افغان دی، داسې نه دي ویل شوي چې زموږ د ملت نوم افغانستان دی، افغانستان د افغانانو د خاورې یا جغرافیې نوم دی نه د افغان ملت.

افغان ضد شعوري، ډلې تل هڅه کوي چې د افغان او افغانانو د نومونو له کارونې ډډه وکړي او ددوی پر ځای اکثره وخت د (مردم افغانستان) یا (د افغانستان د خلکو) اصطلاح وکاروي، دلته بیا هم همغه مغرض نظر پروت دی، یانې دا چې په افغانستان کې خلك اوسېږي، خو افغانان نه دي، په عادي محاوره کې ددې اصطلاحگانو پرځای او ناځای کارول چندان اهمیت نه لري، خو د ملي ترمینالوژۍ او قوانینو د تسوید او جوړونې په برخه کې که دا اصطلاحگانې په شعوري ډول غلطې وکارول شي، نو د هېواد او ملت هویت له خطر سره مخامخولای شي، ښه به وي چې په دې برخه کې یوه ژوندۍ بېلگه هم وړاندې کړو: تاسو به د بېړنۍ لویې جرگې د ځانگړي کمیسیون طرزالعمل لوستی وي، په دې طرزالعمل کې د همدغو افغان ضد کسانو له خوا په شعوري ډول هڅه شوې چې په ټول طرزالعمل کې د (افغان) کلمه پرېښودل شوې، وگورئ د همدې طرزالعمل لومړۍ ماده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

" لویـه جرگـه عـالیترین مظهـر اراده مـردم افغانسـتان است و از قاطبه ملت نمایندگی میکند..." پـه دې جمله کې دوی د (افغـان) اصطلاح څنگه ورکه کړې، سره له دې چې د جملې پـه دواړو برخـو کې ورته اړتیا ده، یانې دا چې " لویه جرگـه عـالیترین مظهـر ارادۀ تمام افغانها است و از قاطبه ملت افغـان نمایندگی میکند"، کـه فرضاً پـه لومړۍ برخـه کې د افغـان یـا افغانهـا یادونـه راغلی نـه وای، نو پـه دویمه برخه کې باید حتماً راغلی وای یـانې (از قاطبـه ملـت افغـان نمایـندگی میکنـد)، اوس دلتـه نـه ښکـاري چـې (از قاطبه کدام ملت نمایندگی میکند)، دوی دا کـار پـه شعوري ډول کړی.

د څلـورم څپرکي ۱۳ مـه مـاده چې د رای ورکوونکـو صفات پـه گوتـه کوي، پـه لومـړي فقـره کې هـم همداسې یـوه درغلـي شـوې، یـانې هغـه څـوك د رای ورکولـو حق لـري چې: " کـه ازطریـق نسـب افغانی تابعیـت افغانسـتان را داشـته باشـد." دلتـه چې نـوره هېـڅ چـاره نـه وه نـو دوی د (افغـان) پرځـای د (افغـاني) کلمـه راوړې. د (افغان) او (افغاني) ترمنځ هم د مانا له مخې ډېر تفـاوت شـته. پـه (افغاني) کې (ي) نسبتي توری دی، چې له یو (شي) یا (چا) سره د (شي) یا (چا) نسبت او اړیکي تړي، دلته هم همغـه درغلـي شـوې، مانـا دا چـې یـو څـوك دې خپلـه افغـان نـه وي، خـو چـې د افغـاني نسب له لارې د افغانستان تابعیت لري، درایې ورکولو حق لـري، کـه فقـره یـې داسـې لـیکلې وای، هرڅـوك چـې افغـان وي او د افغانسـتان تابعیـت ولـري د رایـې ورکولـو حق لـري، خبـره مطلقـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاره وه، خو دلته بیا خبره همغه نیت ته رسېږي چې د (افغان) پر وړاندې له ځینو سره موجود دی.

د (افغان) او (افغاني) ترمنځ تفاوت دومره دی لکه د (رحیم) او (رحیمي) ترمنځ. دلته (رحیم) یوازې رحیم دی، خو کله چې د هغه اولادونه پیدا کېږي، نو له هغه سره د نسبت له لارې پرځان (رحیمي) تخلصونه ږدي، خو خپله یو هم رحیم نه دی، ددې مانا هم همدا راوځي چې خپله (رحیم) خو په ټاکنو کې ګډون نه شي کولای او یا یې یادونې ته هم اړتیا نه شته، خو ((رحیمیان)) په کې د رایې ورکولو حق لري، یا په اصطلاح رحیم نه منم خو نور رحیمیان منم، په (افغاني) نسبتي نوم کې یو بل مشکل هم شته، چې دیو چا نسبت به افغان ته وي، خو خپله به افغان نه وي، درېیم یا څلورم نسب به یې افغان وي، خو دا فقره چې دلته په دې شکل راغلې، یوازې د (افغان) اصطلاح د مخنیوي لپاره راغلې ده، اوس تاسې ټول طرزالعمل وګورئ، په یو ځای کې هم د (افغان) کلمه نه ده پرېښودل شوې.

ملیتهای مختلف ( مختلف ملیتونه) دا اصطلاح له بهر څخه وارده شوې اصطلاح ده، چې د کورنیو ارتباطیانو له خوا یې د هېواد په تېرو ۲۳کلنو خپرونو کې په شعوري او نا شعوري ډول دود موندلی دی. لومړی خو باید دا خبره ښکاره شي چې (ملیت) د کوم قومي او ډله ییز تشکل نوم نه دی، بلکې (یت) روستاړی په عربي کې د یو شي د جوهر او ماهیت ښکندولو لپاره راځي لکه حیوان + یت = حیوانیت، انسان + یت= انسانیت. دلته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ملیت) د چا د قومي هویت د پېژندلو لپاره دی، مانا قومیت دې څه دی؟ خو روسانو او د افغانستان ستمیانو دا اصطلاح د ملت او قوم ترمنځ دیو بل ځانګړي قومي تشکل لپاره کارولې او کاروي یې، ددوی په نظر په افغانستان کې ((مختلف ملیتونه)) دي (نه قومونه). ددوی د ستراتیژۍ له مخې که افغانستان تجزیه شي نو تیار ملیتونه به ورته جوړ وي، هر یو به خپله ونډه واخلي، دوی د افغانستان د بېلابېلو ټبرونو لپاره د قوم اصطلاح کارول هغو ته کسر شان ګڼي، نو ځکه خو یې ملیتونه بولي، دوی په خپلو لیکنو کې د افغانستان د بېلابېلو قومونو ( ملیتهای مختلف) اصطلاح کاروي.

مختلف دلته دوه ماناوې ورکوي: یو دا چې یو بل سره اختلاف ولري او بل بېلابېل، کله کله بیا دوی ((ملیتهای مختلف، برابر و برادر)) اصطلاحګانې هم کاروي، دا هغه اصطلاحګانې دي چې دقیقې نه دي، که چېرې ددوی په اصطلاح ((ملیتونه)) یوځل مختلف شول یانې د کلمې په اساسي مانا اختلاف یې پیدا کړ، نو بیا خو برادر و برابرېدلی نه شي.

بله خبره دا ده چې که موږ ووایو دهېواد ټول اوسېدونکي افغانان دي او ټول سره برابر حقوق لري، نو بیا خبره حل شوه قومونو او بیا مختلفو قومونو ته څه اړتیا ده؟ خو دوی همېش د قومونو لپاره د برابر (مساوي)، برادر او مختلف اصطلاح کاروي، له برابر ومساوي څخه ددوی هدف نابرابري ده، دوی غواړي د اکثریت او اقلیت حقوق د برابرۍ تر نامه لاندې نا

(c) ketabton.com: The Digital Library

متوازن او نا مساوي کړي، ددې شعار ظاهري مانا يوه، خو باطني بله ده، د افغانستان هېڅ اقليت نه غواړي د افغانستان له ډېر کوچني اقليت هندوانو او سکانو سره برابر او مساوي حقوق واخلي، خو شعار يې ورکوي. لازمه ده چې کله کله اصطلاح کارول کېږي د هغې مانا بايد دقيقه وسنجول شي، د ساري په توګه ټول افغانان سره برابر او مساوي حقوق لري، خو ټول قومونه سره مساوي نه دي،بلکې متناسب دي، په مساوي او تناسب کې د قومونو په توګه د لويو قومونو حقوق ډېر او د وړو کم وي، خو که د فرد په توګه يې وېشي نو د ټولو به مساوي شي.


له دې ليکنې څخه موخه داوه چې زمونږ ملي او سياسي ترمينالوژۍ ته په مغرضانه ډول يو شمېر اصطلاحګانې ور ننوتي دي او ځينې خلك په شعوري ډول هڅه کوي، هغه دود کړي، د شعوري او ملي افغاني مطبوعاتو دنده داده چې د دا ډول اصطلاحاتو مخه ونيسي او د هغو دقيق شکل دود کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایا له نظار شورا نه د ښاغلي کرزي د خلاصون لاره شته؟؟

دا لیکنه د منځمهالې ادارې پر مهال د هیلې مجلې د ۱۳۸۱ل کال په (۲) ګڼه کې چاپ شوې ده.

په افغانستان کې دجنګي او سیاسي ډلو په کتار کې نظار شورا یوه ډېره ځرګنده او مهمه جنګي سیاسي ډله ده، دا ډله په



ائتلافونو، سازشونو، قومي نښتو، لمسونو، وژنو، ورانیو، توطیو او پردیو ته په جاسوسۍ کې تر نورو ډلو دمخه ده، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغې سرټيټې او جاسوسۍ له امله خو دادی نن هم په سياسي ډګر کې مطرح ده او په اصطلاح له نورو يې ميدان ګټلی دی.

د نظار شورا د جنايتونو ډېره غټه بېلګه ددوی هغه تېر څلورنيم کلن حکومت دی، چې په نتيجه کې يې کابل ښار ويجاړ د هغه (۸۵) زره کورونه وران او (۶۵) زره ښاريان شهيدان شول.

دا جنګي ډله يو وخت د طالبانو د اسلامي خوځون له خوا په شاته شوه، له ټول هېواد څخه يې ددوی دظلم ټغر ټول کړ او يوازې په سلو کې پر پنځمه برخه خاورې يې نيمژواندی ژوند کاوه، يوازې يوه کاري ضربه په کار وه، چې دمرګ کندې ته ګوزار شي، خو د طالبانو افراطي چارچلند او نړيوال ټکر يوځل بيا نظار شورا ته يو داسې طلايي چانس په لاس ورکړ، چې بيا راژوندۍ شي او د مرګ د خوب پرځای د کابل د تاج وتخت خوبونه ووينې.

د سپتمبر د ۱۱مې نېټې پېښه که ټولې امريکا ته د زهرو يو تريخ ګوټ شو، خو نظار شورا ته يوه داسې نوش دارو او اب حيات شو، چې مړې پرې راژوندی شو. د نظار شورا مشرانو يو دم د امريکائيانو لاسونه ښکل کړل او په پښو کې ورته ورغښتل او بيا يې خپله لاسونه ورته په نامه کېښول او ويې ويل چې صاحبانو هر امر وخدمت ته تيار يو، هر ډول نوکري کولای شو، سره له دې چې (ازموده را ازمودن خطا است) خو تاسو کولای شئ موږ يو ځل بيا و ازمويئ، بيا يې نو امريکائيانو ته د (۵۰۰) کيلويي بمونو پرځای د (۵۰۰۰) کيلويي بمونو فرمايش ورکړ چې د بشر دله

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځه وړلو قابلیت خو لا څه چې پر یوه وخت د ونو، بوټو او ټولو ژوندیو موجوداتو د له منځه وړلو وړتیا یې لرله.

په پای کې نظار شورا د امریکائیانو د الوتکو تر وزرونو لاندې کابل ته ننوتله، دا داسې مهال و، چې طالبانو په هېواد کې نور اکثره نظامي قوتونه ختم کړي وو، نو ځکه خو میدان دوی ته تش او خوشې و.

ښاغلی حامد کرزی چې اوس د هېواد یو مهم سیاسي شخص دی، مخکې تر دې چې نظار شورا کابل ته ننویستل شي، په ارزګان کې پرطالب ضد جګړې اخته و او څه سیمې یې لاندې کړې وې. په پای کې د بن د نامتوازن او نا عادلانه تړون له مخې د واك سیاسي کړۍ نظار شورا ته ورکړل شوې او ښاغلی حامد کرزی د لنډمهالې شپږ میاشتنۍ ادارې د مشر په توګه وټاکل شو.

کله چې کرزی صیب د واك (!) د رسمي انتقال لپاره کابل ته راغی، نو نه ورسره لښکر و، نه عسکر، نه توپونه او نه مېړونه، یوازې بې وسلې کرزی و، یوه چپنه وه او یوه قره قلۍ. همغه وخت هغو سیاستپوهانو سره چې د نظار شورا پر خصوصیاتو پوه دي او د افغانستان وضع ورته ښه معلومه ده، داسې تشویش پیدا شو، چې یاره دا وړې لکه چې شړې نه شي. ځنګه امکان لري چې دلېوانو منځ ته یو څوك بې وسلې او بې وسیلې راشي او هغوی دې ورته څه ونه وایي. د کرزي صیب د واك ننداره خو همغه وخت معلومه شوه چې د احمدشاه مسعود تر عکس لاندې یې ترڅو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرښېزي پښتو وينا وروسته ژبه واړوله او فارسي خبرې يې پيل کړې، دا په افغانستان کې د اقليت ژبې او کلتور ته دبرلاسي په لاره کې لومړی او اساسي گام دی، چې تر کرزي صيب دمخه نورو ډېرو پاړسيوان شويو پښتنو شاهانو هم پورته کړی دی.

کرزي صيب هغه حقانيت ته پام ونه کړ، چې ده ته دا څوکۍ د اکثريت (پښتنو) په استازۍ ورکړل شوې وه، نړيواله ټولنه په دې خبره ښه پوهېدله چې د هېواد اکثريت پښتانه دي، څو چې مشرتوب دوی ته ونه سپارل شي، په هېواد کې ثبات راوستل ناممکن دي. هغه شپږ مياشتنۍ دوره زياتره په بهرنيو سفرونو او ډېرو غوړو وعدو تېره شوه، خو کرزی صيب پر دې بريالی نه شو، چې په هېواد کې دسولې او ثبات لپاره زيات عملي گامونه پورته کړي، غټ عمراني کارونه پيل کړي، وسلې راټولې کړي او ان پردې هم بريالی نه شو چې ددولت په داخل کې د خپلو فرامينو تطبيق ته لاره اوراه کړي.

شپږو مياشتو کې خلکو هم، دا ويل چې ځه خو نوی حکومت دی، کرزی صيب هم بې توپه او بې لښکره ورغلی، کله چې لويه جرگه جوړه شي، په هغې کې به اساسي څوکۍ له جنگسالارانو واخيستل شي، حالت به تر دې ښه شي. لويه جرگه جوړه شوه، کرزی صيب د مشر په توگه وټاکل شو او جرگې ټول صلاحيت کرزي صيب ته ورکړ، خو کرزي صيب داسې کابينه جوړه کړه اويا پرې وتپل شوه چې د بن تر هغې هم ناکاره وه او بيا يې چاته د مخالفت مجال هم ورنه کړ او دا ځل نو نظار شورا ته نور ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

امتیازونه هم ورکړل شول، اوس همغه زورواکان له کرزي صیب نه راتاو دي او دی چې هر نېك کار کوي هغوی یې مخه نیسي.

حقیقت او واقعیت دا دی چې نظار شورا ته دومره امتیاز ورکړل شوی چې ولس یې په هېڅ وجه نه شي زغملای، نظار شورا ته د دومره امتیاز ورکول د کرزي شخصیت ته د زیان په بیه تمام شول، خو دې سره سره بیا هم نظار شورا کې دومره اخلاقي او سیاسي شهامت نه شته چې لږ تر لږه دکرزي صیب اوامر ومني او د هغه په مخه کې خنډونه را ولاړ نه کړي، کېدی شي کرزی صیب او نړیواله ټولنه اوس دواړه د نظار شورا یا پنجشېر ولسوالۍ له دومره زیات واك نه پښېمانه وي، خو تشه پښېماني څه گټه نه لري، عملي کار په کار دی. نو د حل لاره څه ده؟

اساسي خبره داده چې نظار شورا یا جمیعتیان د خپلو ناروا غوښتنو لپاره له خپل پوځي ځواك څخه کار اخلي، ترڅو چې ددوی پوځي ځواك له منځه لاړ نه شي او یا هم د هغو پر وړاندې بل قوت جوړ نه شي، د واك انحصار به همداسې دوام ومومي. اوس یوه ښه لاره داده چې کرزی صیب ځان ته یو خاص گارد جوړ کړي، چې نېغ په نېغه په جمهوري ریاست او شخصاً په ده پورې تړلی وي. ددې خاص گارد لپاره کېدی شي، څلور زره تنه له ختیزو ولایتونو، څلور زره تنه له جنوب ختیزو، څلور زره تنه له مرکزي او شمال ختیزو او څلور زره هم له شمال لویدیزو ولایتونو څخه را وغواړي، ټول شل زره تنه کېږي، دا کسان به په کابل ښار کې امنیت ټینگ کړي، د جمهوري ریاست د فرامینو لپاره به

(c) ketabton.com: The Digital Library

روحي او فزيکي قوه شي او جمهور رئيس او مسلکي کابينه به له هر ډول تنظيمي او نظامي ګواښونو څخه وژغوري.

په دې ډول کېدی شي د نظار شورا زور اوبه شي، ددې ترڅنګ دې دملي اردو د جوړولو بهير تعقيب شي او هر منظم کنډك يا غونډ چې جوړېږي هغه دې د تنظيمي قطعاتو پرځای چې اوس د دفاع وزارت په چوکاټ کې فعال دي، ځای پرځای شي، د ملي اردو د جوړښت په باب هم بايد ژور فکر وشي، اول پر دې اساسي مسئله غور وشي چې ايا يو ټوپك سالار، پاټکسالار او جنګسالار ملي اردو غواړي او که نه او په تېره دا چې ټوپکسالار د دفاع وزارت په راس کې وي؟ ځواب يې څرګند دی، نه هېڅکله نه! ځکه چې د ملي اردو په جوړښت کې د ټوپکيانو محوه مطرح ده.

هغوی هېڅکله نه غواړي، په خپل لاس خپله ځان ته قبر وکيني، ځينې ټوپکسالاران چې اوس يې دفاع او کورنيو چارو وزارتونه او استخبارات په ولکه کې دي، غواړي د خلکو په سترګو کې خاورې ودوروي، ملېشه يي او تنظيمي وسله والو ډلو ته د ملي اردو نوم ورکړي او په دې ډول خپله بقا تضمين او خوندي کړي، خو که دا کار دوام ومومي لکه دا و چې، نو بيا يې هم نتيجه همداسې بوله. خو اوس د ملي اردو تر جوړښت د مخه د تنظيمواکۍ د مخنيوي لپاره کرزي صيب ته ضرور ده چې ځان ته يو خاص ګارد جوړ کړي، ځکه چې ملت پر کرزي صيب اعتبار کړی او دی هم يوې درنې او مبارزې کورنۍ ته منسوب دی، نو دی بايد د خپلې کورنۍ، پښتنو او په مجموع کې د ټول افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملت د عـزت سـاتلو لپـاره پـه رښتيـا هـم يـو عملـي، بـا کفايتـه، باعزمه مشر او جمهور رئـيس وي، نـه دا چې ړيره زما واك يې د ملا، که د نظار شورا د عسـکرو د برچو تـر څوکـو لانـدې د کـرزي صيب د پاچاهۍ کـاروان همداسې روان وي، نـو داسې وېره شـته چې دا کاروان به د پښېمانۍ او بې کفايتۍ يوې کندې ته ورسيـخ شي او بيا به د خلاصون هېڅ لاره ونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوک جنګسالار، پاټکسالار او ټوپکسالار دي؟

دا ليکنه هم د منځمهالي اداري پر مهال په هيله مجله کې چاپ شوې ده.

له دوه نيمو لسيزو راهيسې افغانستان له جنګسالارانو، پاټکسالارانو او ټوپکسالارانو سره يرغمل دی، په تېره يوې نيمې لسيزې کې خو بيا اکثرو جنګسالارانو د جنګ او جګړې لپاره مقدس شعارونه او ايډيالونه عنوان کړي او خلك يې پر ځان راټول کړي وو، دهمدغو شعارونو په زور يې ځان ته د جګړې او لوټ و تالان يو ډول ظاهري مشروعيت پيدا کړی و. خو کله چې مجاهدينو او ملحدينو په کابل کې ګډ ائتلافي حکومت جوړ کړ. نو ټوپك خپل پخواني منطق او مشروعيت له لاسه ورکړ، د جهاد اصطلاح هم خپل پخوانی کيف بايلود او مجاهدينو ته هم هغه جګه شمله پاتې نه شوه.

تر هغه وروسته چې هرڅه وشول ټولو وليدل، په زور او زېريې يادون ضروري نه دی، خو د طالب نظام تر رنګېدو وروسته چې د بهرنيانو د هڅو په نتيجه کې په افغانستان کې يو څه ثبات رامنځته شوی، نو د هرچا په خوله او ژبه د جنګسالار، ټوپکسالار او پاټکسالار اصطلاحګانې ډېرې اورې راورې، ښاغلی حامد کرزی هم د جنګسالارانو اصطلاح ډېره زياته تکراروي، ولس هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو د واک د اختتام هیله کوي، نړیوال هم د ټوپکسالارانو د ختمولو هیله لري، عجیبه خو دا ده چې خپله جنګسالاران، ټوپکسالاران او پاټکسالاران هم دهمدې ډول کسانو د نابودولو چغې وهي. یانې دا چې غل هم چغې وهي چې غل دی او کاروانی هم چغې وهي چې غل دی، خو اصلي غل معلوم نه شو.

د ښاغلي حامد کرزي صیب په مشرۍ دلنډمهالې اداري تر جوړېدو وروسته د جنګسالارانو اصطلاح ډېره زیاته کارول کېږي، خو په واقعیت کې په افغانستان کې هېڅکله هم جنګسالاران په دومره مطلق ډول په واك کې نه وو، لکه په لنډمهاله اداره کې چې ددې خلکو ځومره زور او واك تمثیلېده، ان د رباني په هغه تېره جنجالیزه واکمنۍ کې هم جنګسالاران دومره په واك وځواك نه وو، علت یې دا و چې هغه وخت یو جنګسالار هم پوره واك نه درلود، یو بل ته بالفعل خطر و، ټول زور یې د یو بل دفع کولو ته متوجه و، جګړې، ورانۍ او جنګونه ډېر و، جنګسالارانو د ارامۍ او راحت احساس ځکه نه شو کولای چې بل جنګسالار به ارامۍ ته نه پرېښودل، خو تر لنډمهالې اداري وروسته د جنګسالارانو واك وځواك ته قانوني بڼه ورکړل شوه، مخکني جنګسالاران څوك د دفاع وزیر شو، څوك د کورنیو چارو، څوك د استخباراتو رئیس شو، څوك د پولیسو قومندان او څوك هم والیان شول او څوك هم ولسوالان.

اوس له کرزي صیب سره هغوی هم یو ځای چغې وهي چې جنګسالاران او ټوپکیان نه منو، هرڅوك د جنګسالارانو پرضد

(c) ketabton.com: The Digital Library

چغې وهي، خو هېڅوك هم د هغو نومونه نه اخلي، كله چې ببرنۍ لويه جرګه جوړه وه، نو كرزي صيب ته يو ځل بيا ښه موقع په لاس ورغله او پر جنګسالارانو يې ښه دمزې ټكونه وكړل، د لويې جرګې غړو ته هم دا وخت ښه طلايي چانس په لاس ورغلی و او اكثرو پر ټوپكوالو، پاټكيانو او جنګسالارانو ښه په زغرده انتقادونه وكړل، عجيبه خو داوه چې په لويه جرګه كې د ټوپكسالارانو او جنګسالارانو ونډه او برخه هم ښه غوښنه وه او ان په اصل كې په جرګه كې يو اساسي ځواك و، چې د ارتباطاتو مزي يې تر بهرني اساسي ځواك پورې غځېدلي وو، كه چا د ټلويزيون له لارې د لويې جرګې لومړی كتار ( ستيج ته مخامخ ليكه) ليدلی وي، نو د پخوانيو جنګي تنظيمونو اكثره مشران او زورواكان به يې په كې ليدلي وي لكه رباني، سياف، خليلي، محسني، تورن اسمعيل خان، عبدالرشيد دوستم، فهيم، قانوني او داسې نور چې د كابل د خرابۍ او ويجاړۍ اساسي عاملين او مسئولين دي، په دې لومړي كتار كې د احمدشاه مسعود او عبدالعلي مزاري شتوالی ځكه ناممكن وو، چې هغوی په حق رسول شوي وو، يوازې د ښاغلي حكمتيار كمی له ورايه احساسېده، كه چېرې حكمتيار هم په دې لومړي كتار كې ناست وای، نو بيا به د افغانستان د وروستۍ لسيزې په تېره بيا د كابل د ورانۍ ټول لوبغاړي، ټوپكيان او پاټكيان پوره شوي وای. عجيبه خبره خو داده چې يو شمېر ټوپكوالو او جنګسالارانو هم د جنګسالارانو غندنه كوله. د هغوی دا كار په دې مانا نه و، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګټې دوی له خپلو تېرو عملونو پښېمانه دي او نور جنګ جګړې نه غواړي، بلکې هغوی داسې انګېرله چې دوی بېخي بېګناه دي، دوی هېڅ نه دي کړي، هرڅه یې چې کړي هغه ددوی مخالفینو کړي، په همدې خو یې ځان ته برئت ورکاوه، بله دیادون خبره خو داوه چې څومودوه وروسته د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي لخدار براهیمي هم اعلان وکړ، چې لویې جرګې ته یو زیات شمېر جنګسالارانو لاره کړې وه، خو خلکو یې زیاته غندنه وکړه، هغه هم د جنګسالارانو نومونه وانه خیستل او نه یې د کوم جنګسالارر بېلګه وړاندې کړه.

د ملګرو ملتونو پښه لا هغه وخت ښویېدلې وه چې دلویې جرګې په کمیسیون کې یې په خپله دجنګسالارانو استازي کېنولي وو، نو څکه خو جنګسالارانو وکړای شول، په اسانۍ سره جرګې ته لاره پیدا کړي، خو لنډه دا چې په اصولو کې هرڅوك د جنګسالارۍ او ټوپکسالارۍ غندنه کوي، خو کله چې د عمل وخت راشي نو ټول ځان غلی نیسي، موږ له ښاغلي کرزي صیب، ملګرو ملتونو او د جنګسالارۍ نورو مخالفینو څخه هیله کوو چې کله بیا د جنګسالارۍ پر ضد خبرې کوي، نو باید د جنګسالارانو نومونه هم واخلي، چې د ولس دزړه پر لمبو اوبه تویې شي. ځینې جنګسالاران بیا ځان ته دا برئت ورکوي، چې موږ خو صیب د طالبانو او القاعدې پرضد جنګېدلي یو، موږ جنګسالاران نه یو، دا ښاغلي هغه کسان دي، چې په اصطلاح (غر) په (پر) پټوي، که له دې ښاغلو څخه وپوښتل شي، چې تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طالبانو تر ظهور دمخه څه کول؟ پر کوم علمي، فرهنګي او عمراني کار مصروف وئ او که نه په کابل او د هېواد په نورو سيمو کې مو جګړې کولې، طالبان خو همدا ستاسو د عملونو زېږنده وو؛ که تاسو نه واى د طالب وجود ته اصلاً هېڅ ضرورت نه پيدا کېده.

له ښاغلي کرزي صيب څخه د افغان ولس هيله داده، چې هېڅ زورواکي ته بايد د ملي اتل لقب او مارشال رتبه ورنه کړل شي، بلکې هغوى د ملت عادلانه قضاوت ته پرېښودل شي.

د افغان ولس هيله ده چې کرزى صيب او ملګري ملتونه چې کله هم د جنګسالارانو يادونه کوي، بايد رښتينې بېلګې يې هم وړاندې کړي، داسې نه چې غل غندم، خو دغله نوم له وېرې په خوله نه اخلم، يا دا چې يوازې د مات شويو جنګسالارانو يادونه کوم او د واکمنو په باب څه نه وايم. زموږ ولس ته ټول جنګسالاران يو شان دي، که هغه د شمال دي، که د جنوب، اوس حاکم دى که محکوم، وزيران دي که فقيران، مقصد چې جنګسالار او ټوپکوال وي د غندلو او رټلو وړ دى.

کوم زورواکي چې اوس د حکومت پر لوړو څوکيو ناست دي که دا جنګسالاران نه وي، نو خير بيا څوك جنګسالاران دي؟ هيله ده د لنډمهالي اداري مشر ښاغلى حامد کرزى صيب او ملګري ملتونه همدې پوښتنې ته کوټلې، حقيقي، واقعي، رښتيني او صادقانه ځوابونه پيدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان د راتلونکي ولسمشر د انتخاب څرنګوالی

> دا ليکنه هم هغه مهال شوې وه چې نه د اساسي قانون لويه جرګه جوړه شوې او نه هم د انتخاباتو کميسيون او قانون معلوم وو، خو هغه څه چې زما په نظر ملت ته په ګټه و او د افغانستان جوړښت ته يې ګټه رسولای شوه، ما د همغه انتخاباتي سيستم غوښتنه کړې ده، له نېکه مرغه ددې ليکنې زياتې برخې وروسته په انتخاباتي سيستم کې عملي شوې، خو بيا څه تشويشونه لاهم پر ځای پاتې شول. دا ليکنه هم پر هماغه مهال د هيلې مجلې د ۱۳۸۱ل کال په (۵) ګڼه کې چاپ شوې ده.

د ملګرو ملتونو او نورو نړيوالو په مادي او مانيز ملاتړ اوس د افغانستان د نوي اساسي قانون د مسودې پر ابتدايي متن کار روان دی، کله چې ابتدايي مسوده بشپړه شي، د تدقيق ديوه کميسيون له خوا به کره کېږي، بيا به د مطبوعاتو او نورو امکاناتو په واسطه ولس ته وړاندې کېږي او د خلکو د نظرونو تر راټولونې وروسته به بيا دا نظرونه د اساسي قانون د کميسيون له خوا په پام کې نيول کېږي، تر دې وروسته به يوه وروستۍ کره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسوده جوړېږي، همدا کره او یا په اصطلاح پوره مسوده به د اساسي قانون لويې جرگې ته وړاندې کېږي.

د لويې جرگې تر منظورۍ او تائيد وروسته به دا قانون د اساسي قانون بڼه خپلوي او هېوادنۍ چارې به پرې سمبالېږي. دا چې د اساسي قانون دا بهير به په همدې ډول ترسره شي که نه؟ د اساسي قانون د کميسيون غړي به پوره وړتيا ولري که نه؟ قومي او سيمه ييز انډول او د افکارو توازن به په کميسيون کې څرنگه وي؟ دا او دې ته ورته پر نورو مسايلو دلته بحث نه کوو، دلته يوازې پر دې غږېږو چې په اساسي قانون کې به د ولسمشرۍ د مقام او د هغه لپاره د انتخاباتو څرنگوالی په گوته کېږي. د هېواد مشري يا ولسمشري کېدی شي د پاچا او جمهور رئيس په وجود کې تمثيل شي، په پاچاهي نظام کې د پاچا قدرت په مطلق او مشروط ډول تمثلېږي، چې د افغانستان په اوسنيو شرايطو کې مطلق شاهي نظام نا ممکن برېښي او هم د اوسنيو ديموکراتيکو معيارونو مخالف کار گڼل کېږي، د پخواني پاچا اعليحضرت محمد ظاهرشاه په وجود کې د يو مشروطه شاهي نظام او په هغه کې د شاه اجرائيوي او سمبوليك رول نه د ټولنې له غوښتنو لري دی او نه هم د ټولنې له عيني واقعيتونو، خو د ټولنې تېر تاريخ او د تېرې بېړنۍ لويې جرگې بهير ته په کتنې سره د ولس هره غوښتنه او هر عيني واقعيت د کورنيو او بهرنيو وسلوالو سياسي ځواکونو له خوا چلنج کېدی او ويتو کېدی شي. که د پخواني پاچا په وجود کې مشروطه شاهي نظام هر څومره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خلکو غوښتنه او د ټولنې یو عیني واقعیت او ضرورت وي، پر افغانستان باندې واکمنې کورنۍ او بهرنۍ سیاسي پوځې ډلې به دې ته تیارې نه شي، چې داسې نظام ته له خپل نا کنټروله واکه تېرې شي، که په هېواد کې دیو احتمال پر بنسټ مشروطه شاهي نظام هم په پام کې ونیول شي، نو طبعاً تر شاه وروسته دویمه اساسي اجرائیوي څوکۍ (صدارت) به د قدرت دیوې بلې اساسي سرچینې په توګه مطرح شي او د صدراعظم د ټاکنې لپاره بیا هم د یموکراتیکو انتخاباتو ته اړتیا پیښېږي.

که د شاهي نظام ټول چانسونه له منځه لاړ شي، نو د مشرتابه د ټاکنې لپاره دویمه سیاسي لاره د جمهور رئیس ټاکنه ده. که جمهور رئیس ټاکل کېږي، بشپړ اجرائیوي څواك به ولري؟ او که نه سمبولیك رول به ولري او د څواك ممثل به یې صدر اعظم وي؟ او یا هم جمهور رئیس او صدراعظم به دواړه وي او دواړه به متناسب اجرائیوي څواك ولري؟ په هر حال کله چې په اساسي قانون کې د هېواد د اجرائیوي مشرتابه (ولسمشرۍ) مقام یا دریځ څرګند شو ، نو بیا د هغه د ټاکنې لپاره دودیزه او قانوني لاره همدا عمومي انتخابات دي. تر ټولو ستره او مهمه مسئله همدا عمومي انتخابات دي، ټاکنې باید په بشپړ ډول عادلانه وي او د هر ډول درغلۍ مخه باید په کې ونیول شي، د عادلانه او صفا انتخاباتو په نتیجه کې یو روښان، د خلکو دخوښې او حساب وړ ولسمشر رامنځته کېدی شي، عادلانه انتخابات د انتخاباتو یو رښتیني عادلانه قانون ته اړتیا لري او د عادلانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون د پلي کېدو لپاره يوې ناپېيلې ځواکمنې سرچينې ته اړتيا ده.

عادلانه قانون بيا هغه وخت عادلانه ګڼل کېږي، چې د عمل په ډګر کې پلی شي او مثبته نتيجه ترې لاسته راشي. کله کله داسې هم وي چې قانون عادلانه ليکل شوی وي، خو عملي کېدل يې ناعادلانه وي، کله بيا د عدالت تر نامه لاندې يوه ناعادلانه طرح ليکل شوې وي او ولس ته د عدالت په نامه وړاندې شوې وي. مقصد دادی چې کله د عادلانه قانون او عادلانه ټاکنو نوم اخيستل کېږي دا بايد لفظ او عمل، نظر او عملي کېدنه ټول يو بل سره منطبق وي.

په افغانستان کې د راتلونکې ولسمشرۍ لپاره په انتخاباتو کې دا مسئله هم د يادونې وړ ده، چې د ولسمشرۍ لپاره انتخابات د ګوندونو د اکثريت رايو د ګټلو له مخې کېږي يانې کوم ګوند چې زياتې رايې وګټلې د هغه استازی به د جمهور رئيس په توګه ټاکل کېږي که څنګه؟ او يا هم دا چې د پارلمان لپاره انتخابات کېږي او چا چې په پارلمان کې ډېرې رايې ترلاسه کړې هغه به د دولت مشر ټاکي او يا هم حکومت به جوړوي. دغه راز د انتخاباتو د معيارڅرنګوالی هم ډېر مهم دی، يانې دا چې د کومو معيارونو له مخې ټاکنې ترسره کېږي، د افغانستان اداري واحدونه په پام کې نيول کېږي که نفوس يا وګړي، که دواړه؟

که د اداري واحدونو معيار په پام کې نيول کېږي، نو د تنظيمواکۍ په جنجاليزه دوره کې د خپلسرو زياتو شويو اداري

(c) ketabton.com: The Digital Library

واحدونو ستونزه به څنګه اواربږي؟ بل د نفوسو مسئله هم یوه جنجالي مسئله ده، ځکه چې تر اوسه پورې په افغانستان کې اول د قومونو او بیا د اداري واحدونو د اوسېدونکو شمېر په دقیق ډول معلوم نه دی. هغه څوک چې د وګړو د شمېر په تناسب څوکۍ وېشي هغوی ته به ډېره مشکله وي، چې د ټولو خلکو رضایت راجلب کړي، د تېروتنو او درغلۍ د راپېښېدو امکان په کې ډېر زیات دی، خصوصاً د څوکیو د وېش په برخه کې، په کمیسیون کې که تنظیمي اشخاص ځای شوي وي، نو بیا خو خبره په ډاګه له عدالته وځي.

زموږ په اند په اوسني وخت کې د اداري واحدونو او نفوسو د فرضیې پر بنسټ د ګوندي انتخاباتو نتیجه مثبته نه ده، لکه پورته چې یادونه وشوه د خپلسرو اداري واحدونو ستونزه او د نفوس د دقیق تثبیت د نشتوالي ستونزه دواړه رامنځته کېږي، د ګوندي انتخاباتو په نتیجه کې به د ازادو رایو ګټونکو (ممبرانو) برخلیك څنګه کېږي؟ ایا په ګوندي سیستم کې د ټول ولس د مستقیم نظر څرګندونه کېدی شي؟ که په ګوندي سیستم کې فرضاً یوه ګوند هم د مشرتابه د ټاکنې لپاره لازم شمېر پوره نه کړ، بیا به څنګه کېږي؟ یا هم یو ګوند تر نورو ګوندونو لږ زیات اکثریت وګاټه، خو د ازادو ممبرانو مجموعي شمېر تر دوی هم زیات دی، خو څرنګه چې هغو په خپل منځ کې کوم پیوستون نه لري، نو نه شي کېدی دیوه واحد اکثریتي سیستم په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامنځته شي. نو دلته بيا هم د ولس د اکثريت هيلې شاته پاتې کېږي.

په ګوندي سيستم کې د درغلۍ د پېښېدو غټ اټکل دا دی هغه ګوندونه چې د ولسي نفوذ له پلوه کمزوري، خو د پيسو او نورو امکاناتو له پلوه پياوړي دي، هغوی به د پيسو په زور ډېر ازاد ممبران را خپل کړي او هم به يو شمېر کمزورو وړو ګوندونو ته تر خپل استحقاقه د پورته امتياز په منلو سره هغوی هم د ځان ملګري کړي او د حکومت مشرتابه به دداسې چا له خوا وټاکل شي، چې ددرغلۍ له لارې يې ځان ددې جوګه کړی وي چې مشر وټاکي، په دې ډول به د عام ولس رايې د هغو د استازو له خوا هغوی ته د شخصي امتياز په ورکولو سره په ناسمه توګه وکارول شي. نو ددې ډول درغليو او ستونزو مخه څنګه نيول کېدی شي ايا د حل کومه لاره شته؟ د حل لارې به يې نورې هم وي، خو زموږ په نظر د راتلونکو سالمو انتخاباتو لپاره د حل يوه لاره داده:

د جمهور رئيس دټاکنې لپاره بايد په مستقيم او سري ډول د ټول ولس مستقيمي رايې واخيستل شي، په مرکز، ولايتونو، ولسواليو، کليو او هر هغه ځای کې چې د خلکو د راټولېدو ځای وي، د رايې اخيستنې صندوقونه دې کېښودل شي، هر څوك (ګوندونه او ازاد شخصيتونه) د هېواد د مشرتابه لپاره خپل کانديد معرفي کولای شي. انتخابات دې په ټول هېواد کې پر يوه ټاکلي وخت ترسره شي، کله چې له ټول هېواد څخه رايې را ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، تر شمېرلو وروسته چې د هرچا رايې تر نورو زياتې وې هغه دې د هېواد د مشر يا جمهور رئيس په توګه وټاکل شي. دې ډول انتخاباتو کې درې اساسي ستونزې پر يوه وخت حلېږي:

۱. د اداري واحدونو جنجالي ستونزه اصلاً هېڅ نه مطرح کېږي.

۲. د نفوس د دقيق شمېر معلومولو او په دې اړه د ناندريو او ډنډيو مخه نيول کېږي، ځکه ټول وګړي هرڅومره چې وي عملاً به په انتخاباتو کې په مستقيم ډول دخيل شي.

۳. د رشوت، زرو زور له لارې به د خلکو د رايو د رانيولو مخه ونيول شي، ځکه چې دټاکنو په دې ډول کې به څوک چاته رشوت نه شي ورکولای، کېدی شي د افغانستان له اټکلي (۲۵) مليونه وګړو څخه تر نيمايي زيات يې د رايې ورکولو تر قانون لاندې راشي، نو څوک او کوم ګوند به ددې وس ولري چې دولس ديارلس مليونه وګړو ته رشوت ورکړي، يوه، لس، سل او زر رايې به په څو واخلي او دا رايې به بيا د ووټونو په دې لوی درياب کې څومره ارزښت ولري؟ خو په هغه بل سيستم کې ياني دا چې خلك يو ځل خپل استازي وټاکي او استازي بيا د حکومت مشر وټاکي په دې حالت کې د خلکو د رايو د خرڅولو او ضايع کولو ډېر زيات احتمال شته، د ساري په توګه که د اداري واحدونو او نفوسو د شمېر په پام کې نيولو سره انتخاباتي سيستم عيار شي، نو کېدی شي هرې ولسوالۍ يا هر اداري واحد ته د تېرې بېړنۍ لويې جرګې د ټاکنو په شان دوه يا درې څوکۍ ورسېږي، که

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرضاً دیوي ولسوالۍ زیات وکم یو لك وګړي خپل دري تنه استازي وټاکي او بیا دا استازي وروسته د پیسو، زور او فشار له وجې خپلې رایې بل چا ته ورکړي او یایې په نا سم ډول وکاروي، نو په حقیقت کې د یو لك کسانو رایې پر سیند لاهو شوې.

په هغه انتخاباتي سیستم کې چې د خلکو قوت د خپلو استازو په وجود کې تمثیلیږي، په هغه حالت کې دا قوت د ډیرو کمو امتیازاتو او پیسو په مقابل کې تر ګوتو کیدی شي، خو که مستقیماً خلکو ته مراجعه وشي، هیڅکله به هم د زر و زور له لارې دا کار شونی نه شي.

د خلکو د استازو له خوا د مشرتابه د ټاکنې بله اټکلي بیلګه به هم وړاندې کړو. که احیاناً یو ګوند د مشرتابه لپاره شلو نورو رایو ته اړتیا لري او د خلکو د استازو په ډله کې تر (۵۰) تنو زیات ازاد ممبران هم موجود وي، نو که دا ګوند وغواړي په اټکلي ډول د لسو لکو ډالرو په بدل کې د شلو ممبرانو نظر په خپله خوا رااړولای شي، موږ باید د خپلې ټولنې دا تریخ حقیقت ومنو چې د پنځوسو تنو له جملې شل تنه هر یو د پنځوس زرو ډالرو په بیه خپل نظر اړولای او بدلولای شي، ددې نتیجه دا شوه چې د انتخاباتو دې سیستم کې زموږ د ملت برخلیك یا لږ تر لږه د سیاسي مشرتابه برخلیك په لسو لکو ډالرو او ان تر دې هم په کمو پیسو بدلیدلای شي.

خو که چیرې ولس په مستقیم ډول یانې هر افغان دیوه فرد په توګه د جمهور رئیس په ټاکنه کې برخه واخلي، د ګوندونو او نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسي اشخاصو د درغلۍ له ډېرو چالونو څخه خوندي پاتې کېدی شي. کله چې جمهور رئیس د ولس د اکثریت رایو په ګټلو سره وټاکل شي، نو کابینه دې هم خپله جوړه کړي، جمهور رئیس باید پوره او مناسب اجرائیوي ځواك ولري، د کابینې مشري دې هم د جمهور رئیس پر غاړه وي.

د صدارت پوست یا صدراعظم ته اړتیا نه شته، ځکه چې دلته بیا د قدرت دوه سرچینې رامنځته کېږي او وخت پر وخت د جمهور رئیس او صدراعظم ترمنځ د واك پر سر د ناندریو د پیښېدو امکان شته، د صدراعظم په رامنځته کېدو سره د مالي لګښتونو، درغلیو او اداري تورم د پیښېدو امکان هم زیاتېږي. د افغانستان په شان هېوادونو لپاره ښه داده چې د قدرت مرکزونه راټول وي نه تیت، واحد وي نه متفرق.

پر جمهوري ریاست سربېره د پارلمان (ولسي جرګې) لپاره هم ټاکنې ضروري دي، که په افغانستان کې د ولسي جرګې لپاره په انتخاباتي سیستم کې اداري واحدونه او دقیق نفوس یا لږ ترلږه اټکلي نفوس د واړه په پام کې ونیول شي ښه به وي، پارلماني انتخابات که د ګوندونو په حساب وشي او یا هم په کوم بل ډول دومره ستره ستونزه ترې نه راولاړېږي، خو په دې شرط چې جمهور رئیس تر دې دمخه د خلکو د مستقیمو رایو په واسطه ټاکل شوی او پارلمان یوازې د حقوقي مسایلو او قوانینو د څېړنې او تطبیق چارو ته ځانګړی شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پارلمان ځانګړنه دا ده چې اپوزيشن يا مخالف لوری حتماً په کې وي، نو د داسې پرېکړې صادرول ناشونی کوي، چې د ملت د ملي ګټو مخالفې وي، په پای کې د خپلو خبرو نچوړ په دې توګه راوړو:

١. د جمهور رئيس يا ولسمشر د ټاکنې لپاره بايد ټول ولس په مستقيم او سري ډول په ټاکنو کې برخه واخلي.

٢. د ولسي جرګې يا پارلمان لپاره دې د اداري واحدونو او نفوس دواړو په پام کې نيولو سره انتخابات ترسره شي او د خلکو قوت او نظردې د خپلو استازو له لارې په پارلمان کې تمثيل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راتلونکې لویه جرګه، انتخابات تشویشونه، اټکلونه او وړاندیزونه

دا لیکنه ما تر بېړنۍ لویې جرګې وروسته لیکلې وه، او هماغه وخت د هیلې مجلې د ۱۳۸۱ل کال په (۳) ګڼه کې چې د یاد کـال (زمـري-وږي) سره سمون خوري، چاپ شوې ده، ددې لیکنې پرمهال معلومه نه وه چې د اساسي قانون د جوړېدو بهیر به څنګه وي، ددې قانون د تصویب لپاره به لویه جرګه څنګه جوړېږي؟ څو میاشتې وروسته د قانون جـوړونې بهیـر پیل شو، بیا نږدې یو نیم کال وروسته د اساسي قانون لویه جرګـه جـوړه شوه، تر هغه وروسـته بـیا د جمهـوري ریاسـت او ملـي شـورا لپـاره انتخابات وشول، خو ما چې له نږدې نه دا ټول بهیرونه څارلي او په خپلو سترګو مې لیدلي، نو په دې لیکنه کې چې ما کـوم تشویشـونه او اټکلونـه څرګند کړي وو، د هغو یو زیات شمېر پر واقعیت بدل شـول، دادی ددې لیکنې د اټکلونو ارزونه د خپلو قدرمنو لوستونکو قضاوت ته پرېږدم.

**تشویشـونه**: وخـت او ژونـد د بـاد او اوبـو مثـال لـري، ډېـر ژر ژر تېرېږي او شاته نه ګوري. هوښیار خلك هغه دي چې له وخت څخه پر خپل وخت ډېره ګټه پورته کړي، رحمان بابا خو ان تېر وخت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېر ساعت د لحد مړی ګڼي چې ان په سختو ژړاګانو هم نه را ژوندی کېږي او نه بېرته رغېږي.

د بن دتړون او دبېړنۍ لويې جرګې دپرېکړو له مخې دهمدې بېړنۍ لويې جرګې تر جوړېدو يو نيم کال وروسته د اساسي قانون د تصويب لپاره بله لويه جرګه رابلل کېږي او تر هغې وروسته بيا د شپږو مياتو په بهير کې عمومي انتخابات کېږي او په نتيجه کې به يو منتخب حکومت رامنځته کېږي. اساسي قانون، لويه جرګه، انتخابات او منتخب حکومت هغه ډېرې سترې سياسي مسالې دي، چې د افغانانو او افغانستان برخليك ټاکي، د زمانې څرخ په ډېره بېړه تاوېږي، خو زموږ ولس په تېره بيا ملي سياسي ډلې، ملي شخصيتونه او نورې سياسي ډلې لا تر اوسه کوم فعال سياسي تحرك، خوځون او فعاليت نه لري او ددې طلايي وخت طلايي شېبې يې له لاسه وځي. راتلونکې لويې جرګې او انتخاباتو ته خورا کم وخت پاتې دی، که سياسي ډلې همداسې ويدې پاتې شي او يا هم نوې متحرکې سياسي ډلې او ګوندونه رامنځته نه شي، نو داسې اټکل کېږي، چې د افغانستان راتلونکې به تردې هم مبهمه او بدتره شي.

که چېرې په هېواد کې د ملي ګوندونو همدا ډب حالت همداسې ډب پاتې شي او د اوسنۍ واکمنې انحصارګرې ډلې پر وړاندې يو ملي بديل، جبهه او ائتلاف جوړ نه شي او د هېواد په سياسي چارو کې د اوسنۍ واکمنې سياسي ډلې لاس همداسې خلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې شي، نو د سترو سیاسي ناورینونو د پېښېدو اټکل کېدی شي، چې ځینې یې دلته په ګوته کوو:

**اټکلونه:**

**الف_ د بدیل مخنیوی:** اوسنۍ واکمنه سیاسي ډله غواړي تر راتلونکې لویې جرګې پورې په هېواد کې هېڅ یوه لویه سیاسي ډله او جبهه چې ددوی ګټو ته خطر او ضرر پېښولای شي، رامنځته نه شي، دوی غواړي همدا حالت تر لویې جرګې پورې همداسې وساتي. که چېرې دوی تر بلې لویې جرګې پورې له پوځي پلوه همداسې برلاسي پاتې شي، نو بیا هم لویه جرګه تر خپل اغېزلاندې راوستلای شي، لکه څنګه چې په دې ببېړنۍ لویه جرګه کې امریکائیانو او ملګرو ملتونو دوی ته د ویتو حق ورکړ او سولې ته دګوابن په نامه یې دوی ته امتیازونه ومنل، نو بله لویه جرګه هم همداسې وګڼه. واکمنه انحصارګره ډله غواړي د زور، وسلو او پیسو په وسیله د قوي اپوزیشن مخه ونیسي، هر مخالف ته د طالب او القاعدې رنګ ورکړي او د هغو د ځپلو لپاره د بهرنیو ځواکونو په تېره بیا د امریکایي ځواکونو پام هم راواړوي.

**ب_ راتلونکې اساسي قانون:** د راتلونکې اساسي قانون مسوده دیو ځانګړي کمیسون له خوا ترتیبېږي او لویې جرګې ته د تصویب لپاره وړاندې کېږي، په اساسي قانون کې به دوه موضوعګانې تر نورو زیاتې جنجالي وي، یوه د فیدریشن موضوع او بله د ملي ژبې موضوع. د فیدریشن پلویان اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره ځواکمن نه دي، نو کېدی شي افغانستان کې یو مرکزي نظام د زيات تائيد وړ وګرځي، خو د پښتو ژبې هغه خپل حقوق چې د ۱۳۴۳ل کال اساسي قانون کې ورته ورکړل شوي، خو هېڅکله عملي نه شول، هغه هم کېدی شي له ګواښ سره مخامخ شي، ځکه چې اوس د پښتو ژبې هغه ډېر شعوري مخالفين په بشپړ واك کې دي، دوی به اوس هڅه کوي چې پر کميسيون خپل فشار راوړي چې داساسي قانون ددې مادې متن بدل کړي او بيا په لويه جرګه کې دخپلو پلويانو له لارې هڅه وکړي د پښتو ژبې حق سلب کړي. د فيدريشن او ژبې له موضوع پرته اساسي قانون کې نورې موضوعګانې ځکه د زيات تشويش وړ نه دي، چې هغه پر ټول ولس، پر شمال وجنوب، ختيځ او لويديځ يو شان تطبيقېږي.

**ج ـ عمومي ټاکنې (انتخابات)**: په اساسي قانون کې به د انتخاباتو ماده هم راځي او کېدی شي ديوې بلې ځانګړې ضميمې په توګه د انتخاباتو قانون جوړ شي، د هېواد راتلونکي سياسي برخليك او حکومت په ټاکلو کې د انتخاباتو قانون تر ټولو مهم رول ادا کوي، مهمه خبره داده چې د انتخاباتو قانون د ټولنيز عدالت او واقعيتونو پر بنسټ جوړېږي او که نه؟ دا هم تر اوسه معلومه نه ده چې د انتخاباتو دقانون بشپړ متن لويې جرګې ته وړاندې کېږي او که نه؟که چېرې د راتلونکو انتخاباتو لايحه د بېړنۍ لويې جرګې د ځانګړې کميسيون د انتخاباتو په شان وي، نو بيا خو ښکاره خبره ده چې ټولنيز عدالت تر پښو لاندې کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بېړنۍ لويي جرګې د انتخاباتو يوه بېلګه به وړاندې کړو: په بېړنۍ لويه جرګه کې د لغمان له ولايت څخه ټول (۲۵) له لوګرڅخه ټول (۱۷) خو پنجشېر ولسوالۍ څخه له بېلابېلو لارو تر (۳۰) تنو هم زيات د جرګې د غړو په توګه راغلي وو. د بدخشان اداري واحدونه له (۱۳) څخه (۲۸) ته پورته شوي وو. د انتخاباتو په قانون کې به حتما د اداري واحدونو او نفوسو خبره مطرح کېږي. دې کې بيا ټولنيز عدالت تر پښو لاندې کېږي، يو خو دا چې په تنظيمواکۍ کې استاد رباني په خپل سر د تاجکمېشتو سيمو اداري واحدونه زيات کړي او د نفوسو په اټکل کې يې هم مبالغه کېږي، په بېړنۍ لويه جرګه کې د خوست يو وکيل محمداکبر نېکزاد استاد رباني ته د موقت پارلمان د ټاکنې په برخه کې وويل" استاد در افغانستان شما (تاجيکها) اکثريت هستيد يا ما (پشتونها)؟" استاد رباني ورته وويل: "شما" نو نېکزاد صيب ورته وويل: " دا نو چې زه په بېړنۍ لويه جرګه کې له هر لسو تنو څخه يو تن د پارلمان د غړو په توګه ومنم، نو دې کې خو ته اکثريت کېږې او موږ اقليت کې راځو، نو دا خو معلومېږي چې تاسو او دلويې جرګې کميسون له موږ سره درغلي کړې او زموږ حق مو سلب کړی، اکثريت مو په اقليت بدل کړی، نو هغه پارلمان چې اکثريت په کې په اقليت بدلېږي نو موږ يې ولې ومنو؟ښه به دا وي چې له هر ولايت څخه دوه دوه تنه پارلمان ته راشي". استاد رباني چې د اکبر نېکزاد دا خبرې واورېدې نو غلی شو او څه ځواب يې نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو که د انتخاباتو په قانون کې پارلماني ځوکۍ بیا هم په همدې ډول ووېشل شي، لکه د بېړنۍ لویې جرګې د کمیسیون له خوا چې شوې وې، نو ښکاره خبره ده چې د انتخاباتو په نتیجه کې به یو ملي حکومت او پارلمان رامنځته نه شي، ځکه چې د هېواد اکثریت به په لومړي ګام کې له واکه محروم شي.

**د ــ راتلونکې لویه جرګه**: تر اوسه دا معلومه نه ده چې راتلونکې لویې جرګې لپاره بیا انتخابات کېږي او که نه؟ همدا وکیلان؟ لویې جرګې ته ځي او که نه په دې برخه کې به څه کمی وزیاتی غورچاڼ او یا غوراوی کېږي. دا به دچا له خوا کېږي، د انتسابي غړو، وزیرانو او والیانو د ګډون مسئله چې اکثره د واکمنې ډلې پلویان وو، څنګه اوارېږي. دا ټولې هغه پوښتنې دي چې باید تر لویې جرګې ډېرې دمخه سپینې او اوارې شي. که لویې جرګې ته د همدې انتسابي غړو په ګډون همدا ترکیب بیا راشي او واکمنه ډله هم تر هغه وخته په همداسې قوت کې پاتې وي او بهرنیان یې هم همداسې ملاتړ وکړي، نو داسې دې وګڼل شي چې نه به داسې اساسي قانون تصویب شي چې هغه پر عدالت ولاړ وي او نه هم د انتخاباتو عادلانه قانون.

**هـ ــ راتلونکې انتخابات**: د راتلونکې لویې جرګې، اساسي قانون او د انتخاباتو د لایحې له کیفیت څخه ښه څرګندېږي، که چېرې لویې جرګې ښه وړتیا درلوده او د عدالت پر بنسټ یې اساسي قانون تصویب کړ او تر هغه وروسته د انتخاباتو قانون هم د ټولنیز او ملي انډول او عدالت پر بنسټ ولاړ و، نو بیا خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکو انتخاباتو نتیجې هم مثبتې بوله، کله چې د انتخاباتو نتیجې د عام ملت د هیلو ښکارندویې وي، نو د هغو پر اساس به جوړ شوی حکومت هم ملي او د ولس د خوښې وړ وي او که په پورته ټولو مسایلو کې درغلي شوې وه، نو حکومت یې هم همداسې بې کفایته او بې ثباته وګڼه.

**و_ د ټاکنو د نتیجو تضمین:** تر ټولو ستره او سیاسي وېره د انتخاباتو تضمین دی، که چېرې په افغانستان کې ربښتیني انتخابات هم وشي او د ولس د خوښې استازي په ټاکنو کې غوڅ بری ترلاسه کړي، خو دې سره سره بیا هم واکمنه نظامي ډله د واك له اساسي لېږد څخه ډډه وکړي، نو ایا داسې کوم تضمین او سرچینه شته چې واکمنه ډله دې ته اړه کړي چې واك نوي منتخب حکومت ته پرېږدي؟

په خواشینۍ سره باید ووایو چې تراوسه داسې کوم تضمین، د واك کومه بله سرچینه نه شته چې واکمنه ډله واك پرېښودو ته اړه کړي. په افغانستان کې اوس د واك اساسي سرچینې بهرني پوځې ځواکونه او په کورني کچه د نظار شورا پوځي ډله ده، بهرني پوځونه نه غواړي چې په افغانستان کې د ټولنیز عدالت د تضمین او تامین لپاره خپله وینه قربان کړي، غوره مثال یې همدا تېره بېړنۍ لویه جرګه ده.

دا واقعیت ټولو ته څرګند دی، چې کله پخوانی پاچا اعلیحضرت محمدظاهرشاه ځان کاندید کړی وای نو (۸۰ _۹۰) سلنې وکیلانو هغه ته رایه ورکوله، خو دنظار شورا د مخالفت له

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجې هغه ځان کاندید نه کړ او امریکائیانو نه غوښتل نظار شورا سره د جګړې او یا د هغوی د خفګان په بیه د شاه ملاتړ وکړي، په دې وخت کې له ملګرو ملتو او امریکایي پوځونو پرته بل مطرح قوت نه و، چې نظارشورا باندې یې د زور له لارې د ولس حق منلای وای. کله چې پخوانی پاچا له خپلې کاندیدۍ تېرشو، نو په کاندیدانو کې تر ښاغلي حامد کرزي بل غوره شخص نه و، نو ځکه وکیلانو هغه په ډېر اکثریت یانې له (۱۵۰۰) رایو څخه په (۱۲۹۵) رایو د هېواد د مشر په توګه په دې نیت وټاکه، چې د اوسنۍ واکمنې ډلې انحصاري واک پای ته ورسوي.

خو کله چې د حکومت جوړېدو خبره شوه بیا له جرګې څخه واک واخیستل شو او خبره د پردې شاته ولېږدول شوه. نظار شورا ځکه اساسي پوستونه او کابینه رایې اخیستنې ته وړاندې نه کړه، دوی پوهېدل چې د انتخاباتو له لارې یې موږ نه شو ګټلای. د لویې جرګې رئیسه هیئت دپنځه څوکیو لپاره انتخابات دوی ته غوره بېلګه وه، چې د نظار شورا یا پنجشېر ولسوالۍ دکاندیدانو له جملې څخه یو تن هم بریالی نه شو، نو کله چې د جرګې د رئیسه هیئت څوکۍ نه شي ګټلای، نو وزارتونه به څنګه وګټي؟

همدا علت و چې بیا یې له خپل نظامي زور څخه ګټه پورته کړ، کرزی صیب، امریکائیان او ملګري ملتونه یې دې ته اړ کړل چې اساسي وزارتونه بیا دوی ته ورکړي او بیا په داسې وخت کې یې جرګې ته اعلان کړي، چې د مخالفت لپاره هېڅ وخت پاتې نه وي. دکابینې تر انتخاباتو وروسته په یوه خصوصي غونډه کې ښاغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرزي صيب دا اعتراف کړی و چې: " موږ په لويه جرګه کې عدالت تر پښو لاندې کړ او سولې ته مو ترجيح ورکړه". له "سولې ته ترجيح" څخه دښاغلي کرزي مقصد دادی چې نظار شورا اخطار ورکړی چې: "که چېرې په کابينه کې زموږ شرطونه ونه منل شي نو موږ به کابل په وينو ولمبوو". نو ځکه يې غوره وبلله، چې ځه که عدالت تامين نه شو نو لږ تر لږه خو موقتي سوله رامنځته شوه، نو د راتلونکو انتخاباتو د مثبتې نتيجې د تطبيق او تضمين لپاره هم همدا وېره شته چې بيا به د بېړنۍ لويې جرګې پېښې تکرارېږي.

اوس پوښتنه داده چې راتلونکې لويې جرګې، اساسي قانون، انتخاباتو او منتخب حکومت ته د دومره تشويشونو او اټکليزو خطرونو د مخنيوي لپاره کومه د حل لاره هم شته او که نه؟ ددې پوښتنې په ځواب کې بايد وويل شي، چې د حل لارې شته، خو دا حل لارې زيات کار، زغم، پوره تدبير او زياته قرباني غواړي، دلته به ځينو حل لارو ته هم اشاره وکړو:

۱. **ديوه ملي اساسي بديل جوړول**: د اوسني انحصار د ختمولو لپاره تر ټولو ضروري خبره ديوه افغانشموله سياسي بديل جوړول دي. په دې سياسي بديل کې بايد په افغانستان کې د ټولو قومونو د استازۍ تمثيل وشي، که چېرې داسې وشي نو ديوې ځانګړې ډلې د انحصار ماتېدل ډېر اسانېږي، اوسنۍ انحصارګره ډله غواړي تر راتلونکې لويې جرګې او انتخاباتو پورې هم سياسي حالات او هم نظامي وضع همداسې پاتې شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې موده کې کوم قوي مخالف سر راپورته نه کړي، که چېرې حالات همداسې بې تحرکه روان وي، نو د اوسنۍ سیاسي نظامي ډلې د بري اټکل زیاتېدی شي.

۲. **دلـــویې جـــرګې د وکیلانـــو رول:** کـه چېـــرې د راتلونکې لویې جرګې لپاره بیا له سره ټاکنې کېږي، نو بایـد د هغـو لپـاره سم ترتیبـات ونیـول شـي او هغـه نیمګړتیـاوې چې پـه بېړنۍ لویه جرګه کې وې، د هغوی د مخنیـوي لپاره بایـد هڅه وشـي، کـوښښ دې وشـي چې غـوره ملي او مسـلکي شخصـیتونه لویې جرګې ته ولېږل شي، ولایتونو او ولسـوالیو تـه د زیـات وکم سهم د ورکړې هغه نا انډولي چې په بېړنۍ لویه جرګه کې وه هغه باید بیا تکرار نه شي او که چېرې همدا وکیلان بیا لویې جرګې ته ځي او یا پـه کې غورچاڼ کېـږي، نـو ددې لپـاره بایـد یـا یـو بېـل ناپېیلی کمیسیون وټاکل شي، چې د هېڅ سیاسي ډلې اغېز پرې پـروت نـه وي او یـا دې هم د هر ولایت لـه خپلـو وکیلانـو یـوه یـوه جرګه جوړه شي او هغوی دې له خپل منځه لویې جرګې ته غوره او مسـلکي کسـان ور وپېژنـي، پـه دې لویـه جرګـه کـې دمسـلك پـر خاونـدانو ځکـه زیـات ټینګـار کېـږي، چـې دا د اساسـي قـانون د تصـویب لپـاره جوړېـږي، نـو د فـن او مسـلك خاونـدانو تـه پـه کـې ډېره اړتیا لیدل کېږي، که لویې جرګې ته په رښتیا هم ډېر غـوره غـوره وکـیلان لاړ شـي، نـو زیـات اټکـل دی، چـې دوی بـه پـه هېوادنۍ کچه غوره پرېکړې وکړي او د اساسي قـانون هغـه مـادې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دملت د ګټو پرځای د ځینو خاصو ډلو د نظر او هیلو ښکارندویي کوي په قانون کې ځای ونه مومي.

۳. **د انتخاباتو ځانګړی کمیسون:** د انتخاباتو ځانګړی کمیسون باید بشپړ ناپېیلی او د ملګرو ملتونو تر مستقیمې څارنې لاندې کار وکړي، د واکمنې ډلې او نورو تنظیمي ډلو تر اغېزې لاندې باید نه وي، د انتخاباتو طرزالعمل باید روښان او دعدالت پر بنسټ ولاړ وي، که چېرې سیمه ییزه، ژبني، قومي او تنظیمي لېوالتیا په کې په پام کې نیول شوي وي او په انتخاباتي حوزو کې د څوکیو او یا استازو شمېر ناعادلانه وي، نو مخکې تر دې چې عملي انتخابات پیل شي باید سمون په کې راوستل شي، که د انتخاباتو د نا عادلانه طرزالعمل له مخې عادلانه ټاکنې هم ترسره شي، نتجیه به یې منفي وي، د ساري په توګه که د انتخاباتو په طرزالعمل کې یوې ولسوالۍ ته (۱۰) څوکۍ او یوه ولایت ته (۱۰_ ۱۲) څوکۍ ورکړل شي، نو دا عدالت نه دی. د بېړنۍ لویې جرګې د طرزالعمل له مخې پنجشېر ولسوالۍ (۹) څوکۍ، لوګر او نورستان ولایت ته (۱۷) (۱۷) څوکۍ ورکړل شوې وې، خو وروسته د ښځینه استازو او نورو غړو په ګډون له پنجشېرولسوالۍ څخه (۳۰) له نورستان څخه (۱۹) او لوګر څخه هم غالباً(۱۹) کسانو ګډون کړی و، نو که دا او دې ته ورته نورې دا ډول هڅې کېږي، نو دا به طبعاً انتخابات تر پوښتنې لاندې راولي، که فرضاً د انتخاباتو طرزالعمل له دا ډول بېلګو څخه ډک وي، نو بیا انتخابات ځکه ضرور نه دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

طبعاً یې همغه خلك ګټي چې چا پر طرزالعمل خپل دا ډول نظر او غوښتنه تحمیل کړي. په تنظیمي پړاو کې د اداري واحدونو خبره بله لانجمنه مسئله ده که د هغو پر بنسټ نویو زیاتو شویو ادارو واحدونو ته امتیازات ورکړل شي، نو بیا به اکثره مستحق ولایتونه او د هغو اوسېدونکي زیانمن شي، د تنظیمي پړاو له مخې د پنجشېر ولایت یوه ولسوالۍ پر څلورو ولسوالیو بدله شوې، لغمان ولایت هم څلور ولسوالۍ لري، مانا دا چې لغمان او پنجشېر ولسوالۍ ته به یو ډول حقوق ورکول کېږي، که چېرې د انتخاباتو کمیسیون هم د ببړنۍ لویې جرګې د کمیسون لاره تعقیب کړه، نو څرګنده خبره ده چې عدالت تر پښو لاندې کېږي.

د اداري واحدونو ترڅنګ دنفوسو شمېر بله جنجالي مسئله ده چې د انتخاباتو کمیسون به ورسره لاس وګرېوان وي. په افغانستان کې هېڅ قوم هم پر خپل هغه شمېر چې په ځینو احصائیو کې ورکړل شوی قانع نه دی، اکثره شمېرنې هم دقیقې نه دي، نو که د نفوسو د شمېر له مخې ولایتونو او ولسوالیو ته سهم ورکړل شي، ځینې نور به پرې ځکه قانع نه شي چې هېڅوك تربل ځان کم نه ګڼي او که په انتخاباتو کې نفوس په پام کې ونه نیول شي نو دا هم لویه بې انصافي ده. که چېرې د ملګروملتونو له خوا واقعیت ته کومه نږدې احصائیه وي، نو هماغه دې په پام کې ونیول شي، هم نفوس او هم اداري واحدونه دواړه دې په پام کې ونیول شي او که دقیقه احصائیه نه وي، نو د هرې سیمې او په مجموعي ډول دهېواد د نفوسو تردقیقې سرشمېرنې پورې دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتخاباتي سيستم تر تنظيمي اداري دمخه اداري واحدونو له مخې عيار شي. هغه ولايتونه چې په ښکاره تر نورو لوی دي او زيات نفوس لري لکه کابل، ننګرهار، کندهار، هرات، مزارشريف او پکتيا دوی ته دې تر نورو ولايتونو نسبتاً زيات سهم ورکړل شي او نورو ولايتونو ته مساويانه ونډه ورکړل شي، کله چې تر منتخب حکومت وروسته په هېواد کې عمومي سرشمېرنه وشوه بيا دې په نورو انتخاباتو کې هم اداري واحدونه او هم نفوس دواړه په پام کې ونيول شي، لنډه دا چې د بېړنۍ لويې جرګې دځانګړي کميسيون له خوا چې داخل کومه بې انصافي شوې وه، هغه بايد بيا تکرار نه شي.

**۴. د انتخاباتو د نتيجو د عملي کولو تضمين:** ډېر زيات احتمال دی چې تر انتخاباتو پورې په افغانستان کې ملي پوځ او ملي پوليس (ځارندوی) جوړ نه شي، البته تر اوسني حالت به يوڅه پرمختګ وشي، خو د داسې ملي پوځ او ملي پوليسو جوړول چې د ولس زړه پرې راټول او ډاډه شي تر هغه وخته ستونزمن برېښي، که چېرې اوسنۍ واکمنه ډله په همدې ډول له خپل نظامي او سياسي زور سره په واك کې پاتې وي، نو طبيعي خبره ده چې نه يوازې پر ټاکنو خپل اغېز غورځولای شي، بلکې د هغو تګلوری هم بدلولای شي، که چېرې همدا ډله انتخابات وګټي، نو بيا يې د نتيجې د عملي کولو لپاره تضمين ته څکه اړتيا نه پيدا کېږي، چې خپله همدوی دي، نو دوی په خپله دولت هم جوړوي او خپل نظامي دريځ به هم غښتلی کوي. خو که چېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددوی مخالفینو انتخابات وګټل لکه په تېره لویه جرګه کې چې تقریباً اکثره وکیلان ددوی له انحصار سره مخالف وو، نو بیا به څه کېږي؟ واکمنه ډله به په خپله خوښه نظامي او سیاسي واك پرېږدي او که نه؟ په هېڅ وجه فکر نه کېږي چې هغوی دې په خپله خوښه واك پرېږدي. که فرضاً ډېر زیات نړیوال سیاسي فشار پرې راشي، نو بیا به هم ووایي چې څه ملکي برخه یې د منتخب حکومت، خو د نظامي چارو امتیاز باید موږ سره وي، ځکه چې د"طالب او القاعدې پر ضد مو جګړه کړې ده؟!!" نو که بیا هم همداسې حکومت چې نظامي چارې یې د تنظیمي اشخاصو او ملکي چارې یې دملت د استازو له خوا ترسره کېږي، ګومان نه کېږي چې ډېر دوام وکړي. تل به ملکي حکومت د پوځي هغو له خوا ترګوانښ او خطر لاندې وي. نو تر ټولو ښه لاره یې داده چې یو نړیوال سیاسي او پوځي تضمین موجود وي، ګومان نه کېږي چې امریکايي پوځونه او نړیوال سوله ساتي ځواك تر راتلونکو انتخاباتو دمخه له افغانستان نه پښې سپکې کړي، ځکه که دوی ووځي د اوسني حکومت عمر هم شاید را لنډ شي.

نو ښه لاره خو داده چې د ملګرو ملتونو تر نظر لاندې سوله ساتي ځواکونه تر نویو انتخاباتو پورې د اوسنۍ واکمنې ډلې ټولې ملېشې بې وسلې کړي او د ملي پولیسو او ملي اردو د جوړولو کار ډېر زیات ګړندی کړي، په ملي اردو او پولیسو کې دې د جهاد او الحاد په نومونو د تنظیمونو او ټوپکوالو داخلول بند شي. د بن کنفرانس پرېکړې هم وایي چې له کابل ښار څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید ټول وسلوال کسان ووځي. تر هغه چې کابل ښار له وسلوالو ملېشو څخه پاك نه شي، د ملګرو ملتونو تر چتر لاندې سوله ساتي ځواکونه او همدارنګه د نړۍ ستر زبرځواکي؛ د امریکا متحده ایالتونه، انګلستان او نور مطرح هېوادونه په افغانستان کې د راتلونکو انتخاباتو د نتیجو تطبیق تضمین نه کړي، راتلونکي انتخابات به بې باوره او بې ثمره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په راتلونکي اساسي قانون کې
# درې مهم ټکي

هغه وخت چې د اساسي قانون د تسوید کمیسیون جوړ شو، نو دا لیکنه ما کړې وه او پر همغه مهال مې د هیلې مجلې د ۱۳۸۱ل کال په (٤) ګڼه کې چاپ کړه، شاوخوا یونیم کال د اساسي قانون د تسوید او تدقیق موده وه او بیا د اساسي قانون لویه جرګه جوړه شوه، ددې لیکنې تر لیکلو وروسته زه تقریباً په دې شاوخوا یو نیم کلن بهیر کې د اساسي قانون د جوړولو د پروسې د یوه کارکوونکي په توګه پاتې شوم، بیا په لویه جرګه کې هم د اساسي قانون د دارالانشا غړی وم او تر خپلې وروستي حده پورې مې په دې بهیر کې د خپل ملت او هېواد لپاره صادقانه هلې ځلې کړي، خو کومه وړاندوینه چې ما د اساسي قانون تر لویې جرګې شاوخوا یونیم کال دمخه کړې وه، زه د اساسي قانون د جوړولو د ټول کار په بهیر او په تېره بیا د اساسي قانون په جرګه کې له هغو سره مخامخ شوم، دا چې د اساسي قانون په جرګه کې او تر هغه دمخه او وروسته څه وشول، زموږ اکثره هېوادوال خبر دي. زه نه غواړم هغه مسایل دلته راوسپړم، خو دومره وایم هغه څه چې ما ویلي وو، هغه یو پر بل پسې واقع شول او روحاً ډېر خوشاله یم، چې یو شمېر ملت ضد هڅې ناکامې شوې. دا هم تاسو او دا هم دا لیکنه:

افغانستان په تېرو دوه نیمو لسیزو کې په یوه قانوني خلا کې ژوند کاوه، که د "اساسي اصولو" یا " اساسي قانون" په نامه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامنځته شوي هم وو، نو هغه هم یوازې د کاغذ پر مخ وو او چا پرې عمل نه کاوه، مانا دا چې د سر زورو، خپلسرو، سیاسي ډلو شتوالي قانون چلنج او له ګواښ سره مخامخ کړی و او د هغه د عملي کېدنې ساحه یې له منځه وړې وه. اوس دادی تر یوه ځلیریشت کلن هر اړخیز ناورین وروسته د ملګرو ملتونو په مادي او مانیز ملاتړ د افغانستان د دولت له خوا د افغانستان د اساسي قانون لپاره یو ځانګړی ۹ کسیز کمیسیون ټاکل شوی او ویل کېږي چې وروسته دوه تنه نور هم پرې زیات شوي دي. د اساسي قانون دا کمیسیون تر ډېره حده د مسلکي معیار له مخې ټاکل شوی او هڅه شوې چې لږ تر لږه د هېواد د بېلابېلو قومونو او ان مذهبونو استازولي تمثیل کړي، خو د اکثریت د حقوقي او لازمې استازولۍ په اندول په کې لږکیو ته د منسوبو غړو تله درنه ده، خو نه هغومره درنه لکه د بېړنۍ لویې جرګې د ځانګړي او خپلواک کمیسیون په شان.

د اساسي قانون د ځانګړي کمیسیون پر مشرتابه باندې هم شک دی چې له یوې خوا په دولت کې لوړ پوست لري او له بلې خوا په ماضي کې د هغه قومي، ژبنۍ او سیمه ییزې لېوالتیاوې خلکو ته ځرګندې شوې دي، ځینو سره داسې وېره شته چې دا به دیوه ملي دیموکراتیک اساسي قانون د جوړېدو پر بهیر منفي اغېز وکړي، خو په هر حال د اساسي قانون د کمیسیون په باب په لنډیز سره سړی دومره ویلای شي، چې د لویې جرګې تر ځانګړي کمیسیون ښه دی، خو دومره هم پوره او کره نه دی چې ټول ملت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې قانع شي، که د ښاغلي صمدحامد، پوهاند محمدحسن کاکړ، پوهنوال روستارتره کې او ځینو نورو په شان څو تنه نور هم ددې کمیسیون په غړو او ان مشرتابه کې شامل وای، نو بیا به یې د ولس زیات باور خپل کړی وای او تر ټولو مهمه دا چې د کمیسیون د ربښتیني ناپېیلتوب لپاره یوه ناپېیلې (نادولتي او نا تنظیمي) مشرتابه ته اړتیا ده.

ویل کېږي چې د اساسي قانون د کمیسیون ددې ترکیب ترڅنګ به د اساسي قانون د مسودې د تدقیق لپاره یو بل کمیسیون هم جوړېږي، چې د غړو شمېر به یې لږ تر لږه ۳۳ تنه وي، ددې کمیسیون کار به دا وي چې د اساسي قانون د اوسني کمیسیون له خوا د جوړې شوې مسودې متن کره کړي، وروسته به د مسودې دا متن مطبوعاتو او ولس ته وړاندې کېږي، د خلکو تر نظریاتو وروسته به بیا بېرته د همدې کمیسیون له خوا دا نظریات راټولېږي او تر غور وروسته به یو کره یا وروستی متن ترې جوړېږي او بیا به لویې جرګې ته وړاندې کېږي، د اساسي قانون د کمیسیون جوړښت او د کار څرنګوالی چې هر ډول وي او هر ډول پای ته ورسېږي، خو دغه درې موضوعګانې به ډېرې بحث پاروونکې وي:

*۱ ـ په اساسي قانون کې د فدریشن موضوع:* ډېره موده کېږي چې د یو شمېر ګاونډیو هېوادونو له خوا د فدریشن موضوع ته لمن وهل کېږي، په دې هېوادونو کې (روسیه، ایران، تاجکستان، ازبکستان، ترکیه) او کله کله ان د نړۍ د ډېرو لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېوادونو په مطبوعاتو کې هم دا موضوع یادېږي، په کورنۍ کچه لړه کیو ته منسوب یو شمېر اشخاص او یا په اصطلاح د لړه کیو د حقوقو مدعیان دې موضوع ته ډېره هوا ورکوي او کله کله لا په ځینو غونډو کې هم دا موضوع یادوي او ان ددې لپاره لا ځانګړې غونډې او سیمینارونه هم جوړوي.

داسې اټکل او احتمال هم شته چې د اساسي قانون په دې ځانګړي کمیسیون کې هم ځینې داسې اشخاص شته چې دې موضوع ته لمن وهي او دې موضوع ته خاصه لېوالتیا لري.

اساسي خبره داده چې فدریشن په افغانستان کې نه له قومي پلوه، نه له اقتصادي او نه هم له مذهبي پلوه د تطبیق وړ دی، هغه هېوادونه چې په افغانستان کې فدریشن ته لمن وهي، هدف یې دادی چې افغانستان پر بېلابېلو کورواکیو  ووېشي او بیا هر یو خپلې مطلوبې ساحې سره خپل اړیکي ټینګ او پیاوړي کړي، وروسته به همدا کورواکې سیمې د بشپړو خپلواکو سیمو په توګه اعلان کړي، افغانستان به ټوټې او هره ټوټه به یې هر تجزیه غوښتونکی هېواد د ځان کړي. مانا دا چې فدریشن د افغانستان د تجزیې لپاره لومړنی مقدماتي ګام دی.

اوس خبره داده چې د فدریشن موضوع ته به په اساسي قانون کې څنګه اشاره کېږي او څنګه به په مسوده کې ځایېږي؟ ایا دا د اساسي قانون د کمیسیون صلاحیت دی؟ که د لویې جرګې؟ ایا د اساسي قانون کمیسیون دا صلاحیت لري چې تر لویې جرګې د مخه د اساسي قانون په مسوده کې دا موضوع ثبت کړي او یا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

استدلال وکړي چې د اساسي قانون د مسودې تر اعلان وروسته په اصطلاح خلکو وړاندیز وکړ چې د فدریشن موضوع دې هم په اساسي قانون کې ځای شي او ددې لپاره ځینو کسانو مخکې تر مخکې دستوري هڅې هم پیل کړې وي او غوښتې یې وي خپل نظرونه د خلکو د نظر په توګه څرګند او تمثیل کړي، نو ځکه دا موضوع په مسوده کې ځای شوه!

اساسي خبره داده چې تربل اساسي قانون پورې چې دلویې جرګې تر نظر او لید وروسته به پلی کېږي، د بن د تړون له مخې د ۱۳۴۳ل کال اساسي قانون، شاه او شورا ته له منسوبو څپرکو پرته نور د اعتبار وړ دی، نو د اساسي قانون کمیسیون حق نه لري د هغه اساسي قانون ځینې اساسي توکي مخکې تر دې چې لویه جرګه پرې پرېکړه وکړي، دوی په خپل سر بدل او بیا یې لویې جرګې ته هسې د تائید لپاره وړاندې کړي، البته دا د لویې جرګې حق او صلاحیت دی، چې دوی د افغانستان لپاره د نظام څرنګوالی وټاکي، که داسې او دې ته ورته د نورو مادو د زیاتون اړتیاوې وي، نو هغه دې بیا خپله د لویې جرګې له لارې په اساسي قانون کې زیاتې شي، نه د اساسي قانون د کمیسیون له خوا، د اساسي قانون د کمیسیون د کار محور باید د ۱۳۴۳ل کال د اساسي قانون محتویات وي، ځکه چې تر دې دمه همدا قانون د اجرا وړ دی او په دې کې اساسي بدلون راوستل هم د لویې جرګې کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ساده اټکل او مثال وړاندې کوو: که چېرې د اساسي قانون له خوا د مرکزي حکومت یا د مرکزیت د حاکمیت تمثیل د ۱۳۴۳ل کال د اساسي قانون په شان پر خپل ځای پاتې شي، نو بنایي په لویه جرګه کې هېڅوك هم ددې جرئت ونه کړي چې د فدریشن خبره مطرح کړي، خو که چېرې د اساسي قانون کمیسیون مخکې تر مخکې د فدریشن موضوع په مسوده کې یاده کړي، نو ددې زیات احتمال دی چې ډېر زیات خلك به د فدریشن مخالفت وکړي او یوه ډله خلك به هم د فدریشن پلوي وکړي او لویې جرګې کې به همدا د اختلاف ټکی شي او د اساسي قانون د نورو دیموکراتیکو مادو پر تصویب او تائید به هم اغېز وکړي.

دلته د یادولو وړ خبره داده چې په دې حالت کې هم د اساسي قانون کمیسیون د فدریشن د پلویانو په لیکه کې ودرېږي، ځکه چې دوی په خپله هغوی ته تیاره کړې مړۍ په خوله کې ورکوي. نو که د اساسي قانون کمیسیون غواړي چې خپل ناپېیلتوب وساتي د اساسي قانون په مسوده کې دې داسې جنجالي موضوعګانې په خپل سر نه زیاتوي، عجیبه خبره خو داده چې د نړۍ هېوادونه دیووالي پر لوري روان دي. دواړه جرمنې سره یو ځای شول، یمنونه یوځای شول، ویتنامونه لا دمخه یو ځای شوي، کوریاوې به هم سره یو ځای شي، لس هېوادونه په اروپایي اتحادیه کې شامل شول، ټوله نړۍ د یوه کلي حیثیت غوره کوي او هېوادونه به ددې کلي بېلابېل کورونه وي، خو زموږ د هېواد کورني او بهرني دښمنان بیا لګیا دي د فدریشنونو تر نامه لاندې یو واحد

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد او يو واحد ملت سره وېشي، په کور کې "کورګي" جوړوي او په ملت کې "مليتونه".

د فډريشن او د لږه کيو د حقوقو مدعيان که په رښتيا ديوه ستر حقيقت او واقعيت په توګه مطرح وي، نو بيا خو يې ګټه په دې کې ده چې د ټول افغانستان په کچه ځان مطرح کړي او دلته زياته ګټه ترلاسه کړي، که واقعاً ځان د شمېر او موجوديت له پلوه دزيات استحقاق وړ بولي.

**۲ - *په اساسي قانون کې د مذهب مسئله:*** په اساسي قانون کې د مذهب مسئله بله جنجالي موضوع ده، چې د اساسي قانون کميسيون او راتلونکې لويه جرګه به ورسره مخ وي. د ۱۳۴۳ل کال په اساسي قانون کې ليکل شوي چې "حنفي مذهب د افغانستان رسمي مذهب دی او د نورو مذهبونو پيروان د خپلو مذهبي چارو په اجرا کې ازاد دي". د ۱۳۶۶ل کال يانې د ډاکټر نجيب الله د حاکميت د وخت اساسي قانون کې بيا د مذهب د رسميت موضوع په ابهام کې تېره شوې او ليکل شوي چې "ټولې چارې به د اسلامي شريعت مطابق ترسره کېږي" او د کوم مذهب د رسميت يادونه په کې نه شته.

په ټوله دنيا کې قانون داسې وي چې د اکثريت رايې ته مراجعه کېږي، د اکثريت تائيد د د موکراسۍ مهم اصل دی. څرنګه چې افغانستان کې حنفي مذهبي افغانان اکثريت دي، نو د اکثريت د حقوقي حيثت په پام کې ساتلو سره بايد د ۱۳۴۳ل کال د اساسي قانون دا ماده پر خپل ځای پاتې شي، که چېرې لويې جرګې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لازمه وبلله، کېدی شي بدلون په کې راوستل شي، خو د اساسي قانون کميسيون بايد مخکې تر مخکې دا حساسه موضوع په خپل سر بدله نه کړي.

ايران او ايران پلوي اشخاص دې مسئلې سره زياته لېوالتيا لري، خو ښه به وي چې په دې برخه کې خپله د ايران له تجربې څخه ګټه پورته شي، چې ايرانيانو په ايران کې دا مسئله څنګه حل کړې، ښه داده چې د ايران له اساسي قانون څخه ګټه واخيستل شي، چې هغوی شيعه مذهب ته د کوم منطق له مخې رسميت ورکړی او حنفي مذهب ته يې ولې دا امتياز نه دی ورکړی. په افغانستان کې د هر مذهب پيروانو ته بايد دا حق حاصل وي چې په ازادانه توګه خپل مذهبي مراسم ترسره کړي، خو په ملي کچه بايد د اکثريت حقوقو ته هم درناوی وشي او څه چې په نړۍ کې دود دي همغه اصل دې په پام کې ونيول شي.

***۳- په اساسي قانون کې د ملي ژبې مسئله:*** دريمه مسئله چې په اساسي قانون کې به جنجاليزه وي هغه د ملي ژبې مسئله ده. د **۱۳۴۳**ل کال په اساسي قانون کې ليکلي شوي چې "پښتو او دري د افغانستان رسمي ژبې دي"، خو په (**۳۵**) ماده کې ليکل شوي: "دولت مجبور دی چې د افغانستان د ملي ژبې پښتو د پراختيا او تعميم لپاره کار او هڅه وکړي"، (**۳۵**) ماده د لويې جرګې له خوا زياته شوې وه. د ډاکټر نجيب الله د وخت اساسي قانون کې له "پښتو" څخه "ملي" کلمه حذف شوې او ليکل شوي چې "د افغانستان د ملي ژبو له جملې څخه پښتو او دري د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان رسمي ژبې دي". اوس دا پوښتنه پيدا کېږي چې په نړيواله کچه د ملي ژبې د پېژندنې لپاره کوم معيارونه شته او که نه؟ د ملي – رسمي او بيا رسمي ژبې ترمنځ څومره توپير او امتياز شته؟.

تر کومه ځايه چې له نړيوالو قوانينو او د نړۍ د اکثرو هېوادونو له اساسي قوانينو څخه ښکاري، چې هلته د ملي ژبې د تثبيت لپاره د هغه هېواد اکثريت اتنيک ګروپ يا لوی قوم معيار دی.

يونسکو چې د ملګرو ملتونو يوه کلتوري پرمختيايي اداره ده، په افغانستان کې پښتو د افغانستان د ملي ژبې په توګه په رسميت پېژني او " د پښتو څېړنو نړيوال مرکز" او همدارنګه " پښتو" مجله چې په پنځو نړيوالو ژبو (د يونسکو په ژبو) يې خپرونې کولې د همدې سازمان له خوا تمويلېدل. دې سازمان دغه راز د "استازي" په نامه يوه ځانګړې مجله چې د ملګرو ملتونو يو خپرنی ارګان بلل کېده، هم د افغانستان لپاره په پښتو ژبه خپروله.

يونسکو بيا په ايران کې (فارسي) ژبه د ايران د ملي ژبې په توګه په رسميت پېژندله او همداسې په نورو هېوادونو کې د هغه هېواد د اکثريت قوم ژبه د ملي ژبې په توګه په رسميت پېژني.

البته د ملي ژبې مانا دا نه ده چې ټولې دفتري او رسمي چارې دې په همدې يوه ژبه وي، د ملي - رسمي ژبې ترڅنګ په يوه ګڼ قوميز هېواد کې نورې ژبې هم رسمي کېدی شي او خلک پرې له زده کړې نيولې، تر دفتري او سياسي چارو پورې د اړتيا وړ ټول پوهاوی را پوهاوی کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هندوستان ملي ژبه هندي ده، خو له انګليسي څخه هم په رسمي چارو کې اعظمي ګټه پورته کوي، له انګليسي پرته په ټول هند کې تر (۳۰۰) پورې ژبې رسمي بڼه لري چې ښوونځيو کې رسميات لري او ګڼ شمېر خپرونې پرې کېږي.

په پاکستان کې اردو ملي ژبه ده، خو انګليسي تر اردو هم زيات رسميت لري، سندي هم د سند ايالت رسمي ژبه ده، په پرمختللي بلجيم کې همدا اوس درې ژبې رسمي دي، خو ملي پارلمان ته تلونکی هر غړی مجبور دی چې ملي ژبه يې زده وي، د نړۍ هر اساسي قانون چې را واړوې په هغه کې همدا د اکثريت اصل په پام کې نيول شوی دی.

دلته ددې خبرې ډاګيزول هم په کار دي چې د ملي ژبې د ټاکلو په برخه کې د هغه هېواد اصلي قومي اکثريت په پام کې نيول کېږي، نه موقتي ژبنی اکثريت، موقتي ژبنی اکثريت کېدی شي د وخت د سياسي او فرهنګي پېښو په رامنځته کېدو سره بدلون ومومي، خو د قومي اکثريت محوه کېدل تر زياته حده ناشوني دي. د بېلګې په توګه يو وخت فرانسوي د روسيې د دربار رسمي ژبه وه او چا چې به په فرانسوي خبرې کولې، نو ځان به ورته ډېر اشراف او متمدن ښکارېده، خو د ۱۹۱۷کال تر انقلاب وروسته د روسيې له دربار او ټولې روسيې څخه د فرانسوي ژبې تغر ټول شو او ځای يې د هغه ځای د اکثريت قوم ژبې ( روسي ژبې) ونيو، روسي ژبه بيا دومره پراخه شوه چې د منځنۍ اسيا ټولو جمهوريتونو کې خوره شوه او ددې جمهوريتونو رسمي ژبه شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو کله چې شوروي اتحاد ړنګ شو، دې جمهوریتونو د خپلو قومونو د اکثریت ژبې د ملي ژبې په توګه اعلان کړې، د قزاقستان په اساسي قانون کې خو دا هم راغلي که چېرې جمهوري ریاست ته کاندید شخص د ملي ژبې په امتحان کې له **۵** نومرو څخه **۳,۵** نومرې پوره نه کړي، نو د جمهوري ریاست د کاندیدۍ حق یې سلبېږي.

دغه راز یو وخت فارسي د هند د مغلي دربار رسمي ژبه وه، خو اوس فارسي د هند له نیمې وچې څخه راټوله شوې او خپل اساسي مرکز فارس (اوسني ایران) ته یې مخه کړې ده، پښتو چې د هېواد د اکثریت قوم ژبه ده، له پېړیو راهیسې محکومه ساتل شوې او کله چې ورته پام شوی، نو خپله وړتیا یې ښه ځلولې ده.

د یوه لوید یځوال پښتو پوه ډاکټر پیچکا په اند د پښتو ژبې د پرمختګ سرعت ډېر ګړندی دی، مانا دا چې که څوک پښتو ژبې ته قصدي خنډونه را ولاړ نه کړي، نو ډېر زیات پرمختګ به وکړي، خو اوس په اساسي قانون کې د ژبې د حقوقو مسئله ده، ایا د اساسي قانون د تسوید کمیسیون به دا حق ولري چې د **۱۳۳۴**ل کال داساسي قانون (**۳۵**) ماده په خپل سر حذف کړي او که دا کار به جرګې ته پرېږدي؟ په غالب اټکل چې د اساسي قانون کمیسیون (**۳۵**) ماده حذفوي او یوازې دومره به لیکي چې "پښتو او دري د افغانستان رسمي ژبې دي".

ایا په دې شکل د مادې ثبت به د افغانستان ټول قومونه قانع کړي؟ فکر نه کېږي، ځکه پښتانه چې د هېواد اکثریت دي له هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه د پښتو ژبې خپل ملي حیثیت او حقوق سلبېږي او نور قومونه به هم ووايي چې ولې يوازې پښتو او دري ژبې رسمي دي، ايا د نورو ژبو ويونکي حق نه لري چې په خپله مورنۍ ژبه زده کړه وکړي؟

د اندېښنې وړ بله خبره داده چې د "ملي" صفت په حذفېدو سره به د ژبو په برخه کې په افغانستان کې يو حقوقي بحران رامنځته شي هغه دا چې کومې ژبې چې رسمي ګڼل کېږي، د هغوی ترمنځ د "تساوۍ" تر شعار لاندې د "تناسب" اصل له منځه ځي، د هرې ژبې ويونکي به په هېواد کې د مساوي حقوقو ادعا کوي، دلته به غټ چيلنج، ملي ترمينالوژۍ ته وي، چې په کومه ژبه به جوړېږي، ملي ترمينالوژي د ملي وحدت د ټينګښت او واحد ملت د جوړونې لپاره مهم ګام ګڼل کېږي. مثلاً که په افغانستان کې څو ژبې يا لږ تر لږه پښتو او دري رسمي ژبې شي، ملي ترمينالوژي به په کومه ژبه جوړېږي؟، ملي سرود به په کومه ژبه وي؟، د وزارتونو لوحې او د نورو ګڼ شمېر مهمو دولتي چارو سرليکونه يا عنوانونه به په کومه ژبه وي؟ دا هغه پوښتنې دي چې د اساسي قانون د پلي کېدو پر وخت به خلك ورسره مخامخېږي.

د ۱۳۴۳ل کال په اساسي قانون کې سره له دې چې پښتو د افغانستان ملي او رسمي ژبه وه، خو په عمل کې هېڅکله هم پښتو ته د همدې حقوقو له مخې کار ونه شو، ياني دا چې پښتو ته خپل حق ورنه کړ شو، خو د پښتو ژبو او دري ژبو ترمنځ دومره يو تفاهم يې رامنځته کړ چې ددولتي پاڼو اکثره سرليکونه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو وو، خو نور اکثره متن به په دري ژبه و او همدارنګه د ملي ترمینالوژۍ د جوړولو لپاره هم یو څه ګامونه پورته شول، خو وروسته وروسته بیا دا تفاهم او انډول هم له منځه لاړ، اکثره متنونه خو په دري ژبه وو او سرلیکونه هم په دري واړول شول. ان دا چې د استاد رباني حکومت خو ملي سرود هم په دري ژبه واړوه او داسې متن یې ورته انتخاب کړ چې ان د افغان نوم یې په کې نه و یاد کړی.

د ملي سرود یوه ځانګړنه داده چې ملي ایډیال تمثیل کړي، خو دې سرود کې دا کیفیت هم نه شته، د استاد رباني تنظیمي سرود په بېړنۍ لویه جرګه کې د لویې جرګې د وکیلانو له خوا رد شو، خو په اوسني حکومت کې واکمنه ژبنۍ ډله د خپلو ژبنیو تعصبونو له مخې تر اوسه هم دا ترانه د افغانستان د ملي سرود په نامه غږوي، که په اساسي قانون کې د ملي ژبې ځای جوت نه وي، نو تر ډېره وخته به دغسې تنظیمي ترانې د ملي سرود په نامه غږول کېږي.

دملي ژبې تثبیت په دې مانا نه دی، چې نورې رسمي ژبې به له منځه ځي، یا د هغو ارزښت به راټیټېږي، بلکې دلته د یو رښتینې حقوقي مساوات او تناسب اصل ټاکل کېږي او د راتلونکو جنجالونو مخه نیول کېږي. ددې خبرې یادونه هم ضروري ده چې د افغانستان ټول قومونه د بشر د حقوقو د یوه اساسي اصل له مخې حق لري چې لږ تر لږه خپلې لومړنۍ زده کړې په خپله مورنۍ ژبه وکړي، که دولت ورته نورې اسانتیاوې هم برابرولای شي، نو ډېره ښه ده او که نه وي نو بیا پاتې لوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده کړي او نورې چارې دې په پښتو او دري ژبو ترسره کړي، خو د پښتو او دري د ودې لپاره هم باید قانون یو لړ شرایط وړاندې کړي، یو شرط خو یې باید دا وي چې ددولت هر مامور مکلف کړي چې په دواړو رسمي ژبو لیکل او لوستل وکړای شي، که چېرې په ټول افغانستان کې ددولت د ټولو ټیټ رتبه مامورینو لپاره دا شونی نه وي، نو هر هغه مامور چې په مرکز کې دنده ترسره کوي، پر هغوی دې دا اصل عملاً ومني چې په دواړو ژبو دې لیکل او لوستل وکړای شي، ځکه چې مرکز د ټولو افغانانو مشترك کور او چارځای دی، دلته به د افغانستان له هرګوټ څخه خلك کار ته راځي، نو که د مرکز یو مامور په پښتو او دري دواړو ژبو حاکمیت ونه لري، ددې خلکو کارونه به څنګه په ښه وجه ترسره کوي؟.

دریم که پورتني دواړه اصول یو وار په بشپړ ډول شونی نه وي، نو دویم اصل دې ورو ورو عملي شي، خو دریم او ډېر ضروري اصل باید دا وي چې له یوه مدیریته نیولې بیا د دولت تر جمهوري ریاسته پورې په ټولو مهمو پوستونو کې د ټاکنې تر ټولو ضرور او اساسي معیار باید دا وي چې دا اشخاص د هېواد پر دواړو لویو رسمي ژبو حاکمیت ولري، هغه اشخاص چې پر دې پوستونو مقررېږي، په پښتو او دري ژبو باید لیکل، وینا او لوستل وکړای شي. ځکه دوی د افغانستان د ټولو خلکو د کار لپاره ټاکل شوي، نه د یوه ځانګړي قوم لپاره.

د ملي ژبې د حق د تثبیت لپاره دې له ایران نه نیولې د نړۍ تر بل هر لرې پروت هېواد پورې د ټولو هېوادونو اساسي قوانین ولټول شي، هغوی چې څرنګه ملي ژبه تثبیت کړې وي، همغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

میتود دې په افغانستان کې هم عملي شي. پښتو د افغانستان د ملي ژبې په توګه د پښتنو حق دی، ددې حق غصبول پښتنو سره څه چې ټول افغان ملت سره درغلي او د بشري حقوقو تر پښو لاندې کول دي، که چېرې بیا هم په قوانینو کې دا ډول درغلي پېښه شي، نو پوره باور دی چې دا به د اساسي قانون مشروعیت هم تر ښکاره پوښتنې لاندې راولي او هغه اساسي قانون چې د هېواد اکثریت له خپلو حقوقو محروم کړي، د هغه عملي کېدل هم ناشوني دي.

شاید د اساسي قانون په کمیسیون، راتلونکې لویې جرګې او په اوسني حکومت کې یو شمېر واکمن داسې فکر وکړي چې اوس پر اکثرو پښتنو قصداً د طالب او القاعدې سیوری خور شوی او د پښتنو لاس تر تیرې لاندې دی. نړیوال ځواکونه او په تېره بیا اکثره امریکایي ځواکونه هر پښتون ته د طالب او القاعدې په سترګه ګوري، نو همدا زموږ لپاره ښه تاریخي او تصادفي فرصت دی چې خپلو نا مشروعو غوښتنو ته حقوقي مشروعیت ورکړو او د یوې تکلفي لویې جرګې له لارې به دا هرڅه تصویب کړو. نو دا داسې یو خیال دی چې عملي کېدل یې ګران دي، دا ټول به وشي خو منې یې پر چا؟، هغه قانون چې دیوه ملت لپاره جوړېږي او د هغه ملت هیلې، حقوق او غوښتنې په کې تمثیل نه شي، نو هغه کله عملي کېدی شي، ترڅو به دا بهرني قوتونه وي او دا پټ او ښکاره سازشونه، ترڅو به دا ناصرخان وي او دا یې سره سره اوښان؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راتلونکې عمومي ټاکنې، څو خطرونه او څو وړاندیزونه

دا لیکنه هغه مهال شوې وه چې نه د اساسي قانون لویه جرګه جوړه شوې وه، نه د انتخاباتو کمیسیون جوړ شوی و او نه هم د انتخاباتو لپاره کوم طرزالعمل ترتیب شوی و، خو تر دې ټولو وړاندې د جمهوري ریاست د عمومي ټاکنو په اړه تشویشونه وو او اندېښنې وې. دا لیکنه همدغو تشویشونو او اندېښنو ته د ځواب موندلو په نیت لیکل شوې وه. کله چې لویه جرګه جوړه شوه، د انتخاباتو کمیسیون او بیا قانون جوړ شو او وروسته بیا ټاکنې ترسره شوې، نو په دې لیکنه کې یو شمېر تشویشونه رفع شول، خو بیا هم په دې لیکنه کې یو شمېر راغلي اټکلونه او تشویشونه پر خپل ځای او لاینحله پاتې شول او تر نن ورځې زموږ ولس کړوي. دالیکنه هماغه مهال د هیلې مجلې د ۱۳۸۱ل کال په (٦) ګڼه کې چاپ شوې ده.

د بن د تړون له مخې د اساسي قانون تر تصویب وروسته باید په افغانستان کې عمومي ټاکنې تر سره شي، جمهور رئیس د ولس د مستقیمو او پټو رایو له لارې وټاکل شي او اوسنۍ انتقالي اداره خپل ځای یوه منتخب حکومت ته پرېږدي، د اټکل له مخې د اساسي قانون د تصویب په لویه جرګه کې به د نظام د جوړښت پر درېیو ډولونو سخت بحثونه او شخړې رامنځته شي: مشروطه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاهي نظام، په دې کې به شاه د واک سمبول وي، اجرائیوي ځواک به صدراعظم سره وي، چې د پارلمان د اکثریت غړو په تائید به ټاکل کېږي، په ریاستي نظام کې به جمهور رئیس د واک سرچینه وي، چې د ولس د مستقیمو رایو په نتیجه کې به ټاکل کېږي، یو، دوه یا درې مرستیالان به لري، کېدی شي صدراعظم ولري او یا یې ونه لري، خو اصلي اجرائیوي ځواک به جمهور رئیس سره وي.

په پارلماني نظام کې جمهور رئیس سمبولیک رول لري، صدراعظم به د پارلمان د اکثریت غړو په خوښه ټاکل کېږي، د حکومت (اجرائیه ځواک) په راس کې به واقع وي، که لویه جرګه له دې درې واړو نظامونو څخه هر یو په اساسي قانون کې تصویب کړي، نو انتخاباتو ته اړتیا ده. دا چې انتخابات به څرنګه تر سره کېږي، رای ورکوونکي به څرنګه تثبیتېږي او د رایو ورکولو مرکزونه به د کومو معیارونو له مخې شومره، څرنګه او کومو ځایونو کې تثبیتېږي؟ د ډېر غور او بحث موضوع ده، چې پر ټول انتخاباتي بهیر اودهغو د نتیجو پر څرنګوالي ژور اغېز اچوي. ټاکل شوې ده د ۲۰۰۴ م کال د جون پر میاشت عمومي ټاکنې ترسره شي، څوک چې په عمومي ټاکنو کې د رایې یا ووټ حق لري، ددې کسانو ثبت او راجستر خورا ګران کار دی او که له ډېر دقت څخه په کې کار وانه خیستل شي، نو کېدی شي د عمومي ټاکنو قانونیت هم تر پوښتنې لاندې راولي، په انتخاباتو کې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو مهم اصل دا دی چې د رایې ور خلکو له درېیو دوه برخې او یا هم اکثریت باید حتمي ثبت او راجستر شي.

په دویم ګام کې مهم اصل دادی چې له همدې ثبت شویو کسانو دوه ثلثه او یا هم اکثریت په انتخاباتو کې ګډون وکړي، که چېرې دا پورتني دواړه اصلونه بریالي او عملي نه شي، نو بیا دټاکنو قانونیت او مشروعیت تر پوښتنې لاندې راځي.د افغانستان په راتلونکو عمومي ټاکنو کې دغه دواړه اصلونه له سترګو ګواښو او چلنج سره مخامخ دي. دلته غواړو دغو دواړو اصلونو ته د ورپېښېدونکو ګواښونو او د هغو د حل لارو په باب څو څرګندونې وکړو:

**الف- د رایې ورکوونکو ((ووټرانو)) د راجستر ستونزې:**

**۱- جغرافیایي ستونزې:** دا یو څرګند واقعیت دی چې افغانستان یو غرنی هېواد دی، چې تر اوسه یې د غرونو په لمنو کې پرتو سیمو اولرې کلیو، بانډو ته سړکونه نه دي غځېدلي او ګڼ شمېر خلک په همداسې سیمو کې ژوند کوي، چې د ډله ییز ارتباط او پیوستون لارې یې غوڅې یا محدودې دي.

هغه تحصیل کړي یا نیمه تحصیل کړي اشخاص چې د ووټرانو د تثبیت دنده پر غاړه لري، په اسانۍ سره زړه نه ښه کوي چې داسې سختو سیمو ته لاړ شي، چې هلته د موټر لاره نه وي او څو ساعته یا څو ورځې پلې مزله ته په کې اړتیا وي، نو په دې وجه په لکونو هغه افغانان چې په دې سیمو کې اوسېږي اود ووټ استحقاق لري له خپل دې حق څخه محرومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲ - کلتوري ستونزې**: تر اوسه لاهم افغانستان کې د کليو، لرې پرتو سيمو او لويو ښارونو تر منځ کلتوري واټن او ان تضاد موجود دی، انتخاباتي کميسيون او د ووټرانو د تثبيت کميسيون طبعاً په لويو ښارونو کې جوړېږي او دا هم څرګنده ده چې دا کميسيون به تر زياته حده خپل غړي له همدې ښاري تحصيل کړو او يا هم نيمه تحصيل کړو اشخاصو څخه پوره کوي، دې کسانو ته ګرانه ده چې د بېلابېلو ولسواليو د خلکو پر کلتوري خوی او بوی ښه بلد شي او هغوی دې ته رامات کړي، چې په ښه زړه او پراخه تنده ځانونه ثبت کړي.

**۳ - د ښځو ستونزه**: ښځې د هېواد نيم نفوس جوړوي، لکه څنګه چې نارينه د ووټ حق لري، ښځې هم د ووټ حق لري، تر اوسه لا په لرې پرتو، کليوالي او ان په ځينو ښارونو کې د خلکو ذهنيت دې ته تيار نه دی، چې ښځې دې په انتخاباتو کې ګډون وکړي، که فرض کړو چې د هېواد غوڅ اکثريت ښځې د ووټ له حق څخه محرومې شوې او اقليت نارينه هم د بېلابېلو عواملو له امله ثبت او راجستر نه شول، نو د عادلانه انتخاباتو لومړی اصل يانې دوه ثلثه اکثريت خپله له منځه لاړ، د يوه محروم اکثريت په حالت کې د اقليت تر منځ انتخابات بې ګټې او بې مانا دي.

**۴ - امنيتي ستونزه**: دا يو تريخ واقعيت دی چې اوس په هېواد کې سراسري سوله نه ده ټينګه شوې، د مرکزي حکومت د واک مزي لا د هېواد ګوټ ګوټ ته نه دي رسېدلي، همدا اوس د ټول هېواد په کچه تر ۴۰ زيات داسې ولسوالۍ شته، چې په ولسواليو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ولسوالان په خپل سر مقرر او برحال دي، خو په کابل کې له کورنیو چارو وزارت سره هېڅ رسمیت نه لري او نه له دې وزارت څخه معاشونه اخلي، د هېواد پر بېلابېلو برخو واکمن مختلف جنګسالاران او مختلفو تنظیمونو ته وفادار اشخاص واکمن دي، نو په داسې یو حالت کې د انتخاباتو لپاره د عمومي راجستر پروسه له ډېرو سختو امنیتي چلنجونو سره مخامخېږي. یوه بله مهمه مسئله دا ده چې د ووټرانو د راجستر او نوملیکنې پروسه باید د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو ادارو تر څارنې او کنټرول لاندې ترسره شي. خو همدا اوس د ملګرو ملتونو د دفترونو کارکوونکي د افغانستان له مهمو ښارونو پرته اکثرو ولسوالیو ته د امنیتي ستونزو له امله هېڅ سفرونه نه کوي، که چېرې د ملګرو ملتونو د استازو د نشتوالي په حالت کې په کومه ولسوالۍ کې په خپله د افغاني ګروپونو له خوا د نوملیکنې پروسه تر سره شي، ددې کار د شفافیت، قانونیت او مشروعیت تضمین څوک کوي؟

یو زیات شمېر تحصیل کړي افغانان پر بېلابېلو تنظیمي ایډیالوژیو وېشل شوي، زیات احتمال دی، چې د انتخاباتو کمیسیون د راجستر پروګرام کې به هم ونډه ولري، نو ددې خطر شته چې دوی به د ثبت او راجستر پر وخت خپلې تنظیمي لېوالتیاوې په پام کې وساتي او د خپلې خوښې اشخاص به ثبت کړي.

**۵- د عامه شعور د کچې د ټیټوالي ستونزه:** د راجستر پر وخت یوه ستونزه دا هم ده چې ډېر خلک د انتخاباتو پر ارزښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ماهیت سم نه پوهېږي، کېدی شي له نوم ثبتونې او راجستر سره چندان لېوالتیا ونه ښیي اویو شمېر خلک بې تفاوته پاتې شي، نو دا ټول عوامل ددې سبب ګرځي، چې د ووټرانو شمېر د هغوی تر اصلي شمېر راکم شي.

**۲- د کوچیانو د نوملیکنې ستونزه:** د افغانستان د نفوسو یوه درنه برخه کوچیان تشکیلوي، چې د بېلابېلو سرچینو په استناد یې په ټول هېواد کې شمېر د (۲-۴) میلونو وګړو تر منځ دی، کوچیان سخت او ګرځنده ژوند لري، د ژمي مېنه یې پر یوه ځای او د دوبي یې پر بل ځای وي او پاتې وخت یې په سفر تېرېږي، کېدی شي، د کوچیانو د نفوس له یاد شوي رقم څخه نیمایي یې د ووټ مستحق وي، که چېرې د کوچیانو د نوملیکنې لپاره یوه اساسي تګلاره جوړه نه شي، نو زموږ د ولس یوه درنه برخه به له انتخاباتو بې برخې پاتې شي.

**ب- د ووټرانو د انتخاباتو ستونزې:** کله چې په هېواد کې د ووټرانو د راجستر لړۍ پای ته ورسېږي، او انتخابات پیل شي، نو انتخابات به هم له یو لړ ستونزو سره مخامخ وي او چې دلته یې د ځینو یادونه کوو:

**۱- د انتخاباتي حوزو د تثبیت ستونزه:** د انتخاباتو کمیسیون کېدی شي، هڅه وکړي چې د خلکو د راټولېدو په مهمو مرکزونو لکه د ولایتونو، ولسوالیو په مرکزونو او ځینې نورومهمو ځایونو کې د رایې ورکولو مرکزونه جوړ کړي، دا مرکزونه کېدی شي له بېلابېلو کلیو واټن ولري، نو زیات شمېر خلک به زړه ښه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي چې له لرې ځای څخه په خپل لګښت د رایې ورکولو مرکزونو ته لاړ شي او که دا لګښت کومه خاصه ډله ورکوي، نو انتخابات به هم د هغوی په ګټه تمام شي.

**۲- د ښځینه ووټرانو د انتخاباتي حوزو ستونزه:** تر ټولو غټه ستونزه د ښځینه ووټرانو ستونزه ده، چې حاضرې به نه شي، تر خپل کور او کلي بهر چېرې لرې د انتخاباتو مرکزونو ته لاړې شي، په انتخاباتو کې د ښځو د ګډون په باب پوهاوی هم یوه بله ستونزه ده چې ښځې به ورسره لاس او ګرېوان وي.

**۳- د کوچیانو د انتخاباتي حوزو ستونزه:** لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه، کوچیان ګرځنده ژوند لري، نو دوی ته ستونزمنه ده چې یو یا څو واحدو مرکزونو ته د رایې اچونې لپاره لاړ شي، نو په دې ډول که دوی تر دې د مخه زیات راجستر شوي هم وي، نو زیاتې رایې به یې نا استعماله پاتې شي.

**۴- متفرقه ستونزې:** پر پورتنیو یادو شویو ستونز سربېره یو شمېر نورې ستونزې هم شته، لکه ترانسپورتي، لوژستیکي، د وخت کمی، تبلیغاتي، ذهني، سیاسي، تخنیکي او نورې ستونزې، چې د انتخاباتو د کمیسیون ګروپونه به ورسره لاس او ګرېوان وي، خو اوس راځو دې ته چې دا ستونزې د حل لارې لري او که نه؟ که چېرې د حل لارې ورته ونه لټول شي یا پیدا نه شي او بیا دا ستونزې پرې حل نه شي او دا یادې شوې ستونزې همداسې لاینحله پاتې شي، نو بیا خو ښه دا ده چې بېخي د راجستر لړۍ پیل نه شي او نه عمومي انتخابات ترسره شي، ځکه چې په داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرایطو کې د عادلانه انتخاباتو ترسره کول ناشوني دي او تر ناعادلانه انتخاباتو، نه انتخابات ښه په دې دي، چې د نا عادلانه انتخاباتو په نتیجه کې د انتخاباتو د مشروعیت او تائید تر چتر لاندې یو نا عادلانه مشرتوب ډېر دروند بار دی چې د ولس پر اوږو پرېوزي او که هسې له انتخاباتو پرته یو خپلسری حکومت خپل واک وغځوي، نو هغه کې د ولس مسئولیت ځکه ډېر زیات نه دی، چې دوی خو انتخابات کړي نه دي،په خپل سر راغلی او په خپل سربه بېرته ځي.

خو زموږ په کلتور کې دا متل دی چې که غر هر څومره لوړ دی پر سر یې لار شته ، د هر مشکل او هرې ستونزې حل لارې شته، چې که په ژور ډول تشخیص او عمل پرې وشي ستونزې ورسره حلېدی شي، نو د پورتنیو ستونزو دحل او عادلانه انتخاباتو د ترسره کولو لپاره دلته څو وړاند یزونه کوو:

### ۱- د ووټرانو د نوملیکنې لپاره عمومي ستراتیژي:

د رایې ورکوونکو د راجستر لپاره باید تر هرڅه لومړی یوه لیکلې ستراتیژي جوړه شي او ټولو هغو اړخونو ، ستونزو او حل لارو ته په کې اشاره وشي، چې عادلانه ټاکنو ته زیان رسوي دا لیکلې ستراتیژي باید د انتخاباتو د کمیسیون ټولو دفترونو او کار کوونکو ته ورسول شي او هغوی پرې ښه ځان پوه کړي.

### ۲- د نوملیکنې لپاره د افراد و جذبونه:

طبعاً د انتخاباتو کمیسیون به په مهمو ولایتونو او ممکن په هر ولایت کې ساحوي دفترونه جوړوي، کله چې ساحوي دفترونه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل تشکیل کې د نوملیکنې لپاره افراد جذبوي، نو دا باید د ټولو اداري واحدونو د نفوسو، جغرافیایي موقعیت او دهغو اداري واحدونو اتنیکي جوړښت د شومره والي او څرنګوالي له مخې په پام کې ونیسي، د هرې ولسوالۍ او هر اداري واحد لپاره باید د همغې ولسوالۍ تحصیل کړي اشخاص استخدام کړي، چې د همغې سیمې د خلکو په خوی بوی ښه بلد وي.

### ۳- د ښځو نوملیکنه:

په ډېرو کلیوالي سیمو کې لاعام ذهنیت دې ته جوړ نه دی، چې ښځې دې راجستر شي او یا دې په ټاکنو کې ګډون وکړي، نو ددې ستونزې د حل یوه لاره دا ده، چې د نوملیکنې لپاره دې په غوڅ ډول نارینه کار کوونکي نه استخدامېږي، په هره ولسوالۍ کې لس شل تحصیل کړې او نیمه تحصیل کړې ښځې پیدا کېږي، همدا ښځې دې د راجستر په پروګرام کې جذب شي او ښځې دې دښځو له خوا راجستر شي، په دې ډول به د حساسیت مخه ونیول شي.

### ۴- د عامه ذهنیت دښه والي حل لاره:

د عامه ذهنیت د کنترول او ښه والي لپاره ښه لاره داد ه چې د راجستر په پروګرام کې د کلي مشر، ملک او روحانیون یا ملا امامان هم شامل شي، په دې ډول به د راجستر د پروګرام پر ضد د تبلیغاتي کمپاین مخه ونیول شي او ټول به په واحده پروسه کې شریک شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵- د کوچیانو د ستونزې حل:

د کوچیانو د راجستر لپاره ښه لاره داده چې د راجستر په پروګرام کې خپله د کوچیانو دخپلونو استازي شامل شي، ددې د ټولو خپلونو شمېر ۱۵۰ خپلونو په شا وخوا کې دی، نو که د راجستر په پروګرام کې د کوچیانو لږ تر لږه ۱۵۰ استازو ته ونډه ورکړل شي، کار به ډېر اسانه شي.

## ۶- د انتخاباتي حوزو د ستونزو حل:

هر څومره چې د انتخاباتي حوزو شمېر زيات وي، په همغه اندازه رايې ورکوونکو ته اسانتيا پېښېږي، د ټول افغانستان په کچه د (۵۰) زرو په شاو خوا کې جامع مسجدونه دي، که د هر جامع مسجد مخه او يا د هغه انګړ يوه انتخاباتي حوزه وګڼل شي او دوه ورځې د ټولو انتخاباتو لپاره په پام کې ونيول شي، يوه ورځ د ښځو او يوه ورځ د نارينه و لپاره نو په انتخاباتو کې د ډېرو خلکو د ګډون احتمال شته.

## ۷- د فني او مسلکي اشخاصو جذبول:

په انتخاباتي پروسه کې چې هر څومره زيات مسلکي او فني اشخاص داخل شي، د ټاکنو د بري چانس زياتېږي، د راجستر له پروګرام نه نيولې بيا تر عملي انتخاباتو پورې ددې ټولې لړۍ لپاره په کار پوه اشخاصو ته اړتيا ده.

په عمومي ډول که موږ د انتخاباتي بهير دا ټولې ستونزې او حل لارې په ژور ډول په پام کې ونيسو او هغه ګام پر ګام عملي کړو، نو د عادلانه انتخاباتو د بري چانس زياتېږي او له دې پرته انتخابات د وخت، پيسو او نورو امکاناتو ضايع کول دي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خدمت معیار

دا لیکنه هم د هیلې مجلې د ۱۳۷۹ل کال په (۳) ګڼه کې خوندي شوې ده.

په وروسته پاتو ټولنو کې دکار وېش په پوره او منظم ډول نه وي رامنځته شوی او یا ورته ډېر ارزښت نه ورکول کېږي، تخصصي ځانګې جوت ځای نه لري او یا یې دکار مخه نیول کېږي، مسلکي کادرونه دخپل آر مسلک ترڅنګ اړ دي دویم او درېیم کار ته هم لاس وغځوي او خپل ژوند خړوب کړي، همدغه او ځینې نور لاملونه وي، چې وروسته پاتې ټولنه نوره هم وروسته پاتې ساتي او دپرمختګ مخه یې نیسي. کله چې په یوه ټولنه کې دکار وېش نه وي رامنځته شوی او د ټولنې ټول وګړي دکار پر وېش قانع شوي نه وي، نو د خدمت کولو کچه او معیار هم نه معلومېږي. ځکه څنګه ارزولای شو چې چا په کومه برخه کې، څومره او څنګه کار کړی دی؟ کله چې په ټولنه کې کار وېشل شوی نه وي، د خلکو او په تېره بیا دعوامو غوښتنې هم خپله موخه نه شي ځارلای، بلکې ډېر ځله بې ځایه هم وي. د بېلګې په توګه که په ټولنه کې یو چا د خپل نسبي خدمت او هڅې له کبله یو څه نوم وګاټه او د خپلې ځانګېزې پوهې له لارې یې ټولنې ته یو ګټور کار وکړ، نو عام وګړي له هغه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنورو هر ډول ارتیا وړ کارونو د سرته رسولو هیله لري. طبعاً دا ډول کارونه د هغه شخص په وس پوره نه وي، نو ځکه خو دعوامو هیلې نه شي پوره کولای، دا کار په خپل ځانګیز کار کې د ده پر ګټلي نوم هم ناوړه اغېز کوي او په نتیجه کې په یوه ځانګړې ځانګه کې د ټولنې د یوه خدمتګار خدمت هم له یاده وځي.

زموږ په شان وروسته پاتې او وروسته پاتې ساتل شویو ټولنو کې دخدمت کولو بله لویه ربړه داده، چې ډېرو سیاستوالو او نورو دخدمت په نامه شعارونه ورکړي، خو وروسته یې سر خیانت ته وتلی دی. د «خدمت» شعار اوس په عامو خلکو کې دومره بې باوره شوی، چې ځوک دخدمت نوم واخلي، نو دخلکو په ذهن کې خیانت تداعي کېږي، نو اوس که یو ځوک د رښتیني خدمت هیله هم لري، څوک پرې باور نه کوي. ان که څوک د خدمت عملي بېلګې وړاندې هم کړي، بیا هم ځینې وایي: «دا خو ځکه داسې خدمتونه کوي او ځان ښه سړی کوي، چې خلک تېر باسي په دې کې یې هم چل دی». زموږ په ټولنه کې د ټولنې اصلي خدمتګاران په یوه او بل نامه تورن، بدنام او دعوامو د ټېټې ذهنې کچې دناباورۍ ښکار شوي. زموږ په ټولنه کې بله ستره نیمګړتیا داده چې خدمت په مسلک او کار کې نه افاده کېږي، بلکې په اند او ګروهې پورې تړل کېږي، هرې سیاسي او ګروهمنې ډلې دخپل واک پرمهال خپل نالوستي او نامسلکه کسان پر مسلکي پوستونو او څوکیو کېنول او ډېرې توندې لنډ مهالې خو ډېرې ځپونکي او شاتمبونکې اغېزې یې پرېښودې. له څو تېرو او غبرګېدونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښو څخه د مسلک خاوندانو او نورو ډېرو پوهانو ته دا نهيلي پيدا شوه، چې ياره «افغانستان د استثناتو هېواد دی دلته هر ناممکن شی ممکن او هر ممکن شی ناممکنېدلای شي» نومورو ته څه په کار وه چې سر مو په خپل مسلک کې سپين کړ او د زړه وينې مو وڅښلې؟

ځينې کسان هر خدمت د ګروهې په تله تلي؛ د کار لاسته راغلې ثمرې او مېوې ته نه ګوري، بلکې د ېته ګوري چې دا د چا په هڅه رامنځته شوي دي. دلته په واقعيت کې د هر خدمتګار کار د هغه د اخلاقو او ګروهې په هنداره کې مطالعه او ارزول کېږي: «پلانی ښه ډاکتر دی خو افسوس چې عقيده يې خرابه ده. زه به د پلانی انجنيري څه کړم چې عقيده کې ټينګ نه دی، پلانی به ښه تکړه پوهاند وي خو په پلاني ګوند کې دی او پلانی...».

دلته پر دې بحث نه کېږي، چې پلاني ټولنې ته څه وړاندې کړل، بلکې د يو چا د خدمت او سرېتوب معيار په دې پورې تړل کېږي، چې دده په ذهن او فکر کې څه ګرځي؟! د ټولنې يو شمېر وګړي بيا د همدغه ذهني ابهام په تلې هر څه تلي، هغه هم داسې چې هر څوک له خپل ځان سره د خدمت ارزونې او ټاکنې لپاره بېلابېل معيارونه لري. څرنګه چې په ټولنه کې د خدماتي کارونو وېش نه دی رامنځته شوی، نو د خدمت معيارونه هم نه دي مشخص شوي او نه يې بريدونه ټاکل شوي دي. له دې کبله که هرڅوک او د ټولنې هر خدمتګار په يوه ځانګړې څانګه کې ټولنې ته د زياتو خدمتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوګه هم شي، بیا به هم د ټولنې د ټولو وګړو په ذهن او فکر کې یو شان مقبولیت ونه لري، نو خدمتګار باید څه وکړي؟.

کله چې په ټولنه کې د یو چا د خدمت معیار معلوم نه وي او یا په ټولنه کې دخدمت د ارزونې کچه راټیټه وي، نو خدمتګار طبعاً د اوږدې او سترې کوونکې مبارزې له کبله نهیلی کېږي، د ده دا نهیلي نه یوازې دده پر فزیکي او روحي ژوند ناوړه اغېزه کوي، بلکې د ده پر کورنۍ هم اغېزښندي او همداسې ټولې ټولنې ته غځېږي. کله چې څوک په ګانده (اینده) کې د یونېک او غوره کار دخدمت تکل کوي، نو چې د تېرو خدمتګارانو د ژوند حال او وروستی برخلیک ویني، نو په خپل کار کې ټکنی او پښه نیولی کېږي او ځینې خو په کې بېخي له خپل پلان کړي کاره تېرېږي.

ددغسې حرکت په نتیجه کې په ټولنه کې دخدمتګارانو شمېر راکمېږي، دخدمت کچه ټیټه او ټولنه شاته پاتې کېږي. د بنسټیز کار دسرته رسولو په مقصد او په ټولنه کې دخدمتګارانو دنهیلۍ دمخنیوي لپاره یوه غوره او اساسي لاره داده، چې هر څوک په ټولنه کې د خدمت او نېک کار د سرته رسولو هیله لري، نو له سره دې په زړه او ذهن کې دقربانۍ او بلهارۍ روحیه وروزي او د هېڅ ډول مادي او مانیز امتیاز هیلې دې نه لري، ځکه چې د خدمتګارانو او د ټولنې دعام ولس د ذهني کچې ترمنځ زیات واټن دی، د ټولنې عام خلک ددې ذهني وس نه لري چې خپل پالونکي او خدمتګاران ونازوي او د ځواک څښتنان د لنډ مهالي عیش او عشرت له کبله د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنې دخدمت او د هغو د خدمتګارانو دپاللو جوګه نه دي او نه هغو ته خپل پام را اړوي.

که چېرې د هرې برخې خدمتګار ځان له اروایي پلوه داسې تسکین کړي چې: ((همدا مې ټولنه ده او همدا یې معیارونه، خو دې سره سره بیا هم ورته په یوې الهي، ملي او هېوادنۍ مینه کار کوم او د هېڅ ډول مادي او مانیز امتیاز هیله نه لرم)) نو بیا خو کېدی شي چې له ډېرې ذهني او رواني ستړیا او نورې نهیلۍ سره مخامخ نه شي، ځکه چې ده له سره خپله ټولنه او د هغې معیارونه تللي دي. که خدمتګار په همدې روحیه په ټولنه کې کار وکړي او نور هم دا لاره تعقیب کړي، نو دخدمتګارانو شمېر به زیات شي او ټولنه به هم دپرمختګ پر لوري روانه شي، کله چې ټولنه نسبي او بیا نور پرمختګ وکړي، نو په ټولنه کې د ځینو ارزښتونو او معیارونو د بدلون امکان هم زیاتېږي، بیا به نو ټولنه په ټاکلو معیارونو هم خدمتګار پېژني او هم خاین، خو تر هغه دمخه د استاد روهي په اند: (( په وروسته پاتې ټولنه کې دخدمت او شخصیت معیار معلوم نه وي)) خدمتګار باید له هر چا څخه د ډېر عزت او پالنې هیله ونه لري او د قربانۍ په زغملو سره خپل کارونه ترسره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فکري خلا

دا لیکنه د هیلي مجلې په یوه ګڼه کې خپره شوې ده.

په هره ټولنه یا هېواد کې چې سیاسي ثبات له منځه لاړ شي او یا وسلوال پوځ وپاشل شي، نوسم له لاسه ورسره عمومي انارشي رامنځته شي، سیاستوال دې پېښې ته د (قدرت خلا) وایي اوتل هڅه کوي چې په ټولنه کې دا ډول تشیال (خلا) رامنځته نه شي.

دسیاسي او پوځي واك دخلا یوه عملي بېلګه تر ننه لس کاله وړاندې زموږ په خپل هېواد کې پېښه شوه، کله چې دپخواني شوروي پلوي حکومت مشر ډاکټر نجیب الله پاکستان پلوو، ایران پلوو او یا هم دیو بل ډول روس پلوو ډلو ډلګیو له خوا تر سخت فشار لاندې راغی او اړشو چې له واك نه لاس په سرشي، نو په هېواد کې یې دسیاسي بې ثباتۍ او دقدرت خلا رامنځته کېدو دمخنیوي په باب دملګرو ملتو سازمان ته لمن وغوړوله، چې دنوي بدلون په راتلو سره به سیاسي او پوځي ځواك رامنځته شي او ټولنه به له کنتروله ونه وځي.

ډاکټر نجیب الله چې دمجاهدینو له بېلابېلو ډلو سره ډېر کلونه جنګېدلی و، سیاسي ظرفیت او د اکثرو ډلو تر منځ دځواکونو انډول ورته معلوم و. په پایله کې همغسې وشول چې هغه اټکل کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغاني ټولنه کې دسیاسي خلا له راپیداشوي ناورین څخه نه یــوازې افغــاني ټــولنې، بلکــې ټــولې نــړۍ دعبــرت ښــه درس واخیست، خو اوس هم پر هغـه اساسي لاملـ غـور نـه کېـږي، چې دسیاسي تشیال درامنځته کېدو سبب ګرځي.

دسیاسي خلا درامنځته کېدو اساسي لاملـ، فکـري تضـاد، بې اتفاقي، فکري کمزوري اویا هم هغه فکري خلا ده چې پر یو واحد ارمان اویاهم پر ځانګړي ټکي دټولو او یا زیاتو خلکو د راټولېدو او توافق چانس له منځه وړي. په حقیقت کې همدا فکري خلا ده چې پـه یـوه ټولنـه کـې سیاسي ګډوډۍ او پـوځي لاسوهنې تـه لاره برابـروي. پـه زیـاترو ټولنـو کـې ځیـنې داسـې ایډیالونـه وي چـې دیوملت ټول وګړي او سیاسي ډلې پـرې راټولېـږي او درنـاوی یـې کوي. ملي، عقیده ییي او هېوادني ارزښتونه هغه سـتر ارزښـتونـه دي، چې دیو ملت او هېواد دتشکل سبب ګرځي.

لیکوال او شاعر دټولنې هغه پاړکی دی چې تر ټولو زیات دملي ارزښتونو پالنې اوځلونې ته ژمن وي، ځکه خو لیکوال تـه دټولنې سترګې او دهغه تخلیق یانې (ادب) ته دټولنې وجدان وایي.

دټولنې ځینو وګړو ته بې ایډیاله ژوند ګران نه دی، خو شاعـر او لیکوال بې ایډیاله ژوند نه شي کولای او کـه کـوي یـې هم دا مانـا لـري چـې یـو بـې روحـه کـالبوت دی. زمـوږ یـو شـمېر شـاعران او لیکوال اوسمهال له همدغه فکري بحران او خلا سره مخـامخ دي. هغوی چې به پخوا یو ارمان او ایډیال ته متعقد وو، پـر ایډیـالونو بانـدې د ډول ډول نـاخوالو د راتلـو لـه املـه سـخت مـړاوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساسي خبره داوه چې ځينو ليکوالو دخپل ځان لپاره واړه ارزښتونه او ايډيالونه ټاکلي وو، لکه سياسي، سيمه ييز، قبيله يي او نور... نو کله چې پر دې ډول ارزښتونو ګردونه راغلي، نو دوی هم ورسره مړاوي شوي دي.

يو شمېر نور بيا سياسي توپانونو او نورو ناخوالو دومره وارخطاکړي چې هېڅ نه پوهېږي څه وکړي او کوم ارمان ته ډډه ولګوي. دا ډول ليکوال له يوې فکري خلا او بحران سره مخ دي، ليکنې يې کوم مشخص لوری نه شي څارلای او نه په کې کوم ځلند مانيز جوهر پروت وي. ليکنې يې بې ارمانه وي، ارمان او ايډيال دليکوال لپاره د روح مثال لري او بې روحه ليکنې د مړو ليکنو حيثيت لري.

دبې ايډياله ليکوالو بله ستونزه داده، چې له ډول ډول فکري تېروتنو سره مخامخېږي، متضادې ليکنې ورڅخه کېږي او دشخصيت ثبات ته يې زيان رسېږي، دشخصيت بې ثباتي چې زموږ په ټولنه کې زياتره په اخلاقي انحراف او فکتور پورې تړل کېږي، دليکوال ديوه اثر د اغېزمنې لپاره ډېره مهمه خبره ده. په وروسته پاتې او قبيله يي ټولنه کې اخلاقي معيارونه او دشخصيت ځانګړنې ډېر زيات مطرح دي، نو هغه څوك چې غواړي پخه او تلپاتې ليکوالي وکړي، بايد دهغې لپاره پاخه مانيز بنسټونه هم ولري او دخپلې ليکوالۍ لپاره تلپاتې، پراخ او ستر انساني ايډيالونه انتخاب کړي، نو په دې ډول به په ليکوالۍ کې له فکري بحران او خلا څخه وژغورل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مجاهد او جنګسالار

دا لیکنه هغه وخت شوې وه، چې د مجاهد او جنګسالار پر اصطلاحاتو په رسنیو کې تود بحث روان و او بیا هماغه مهال د ګوربت مجلې د ۱۳۸۳ ل کال په (٦) ګڼه کې چاپ شوې ده.

له سیاسي ډلو د ((مجاهد)) اصطلاح په افغانستان کې د سیاسي بحران تر پیل (۱۳۵۷) ل کال وروسته استعمال شوه او پر افغانستان باندې د شوروي یرغل په ټولو کلونو کې یې د مذهبي او ملي مشروعیت ټول پړاوونه ووهل، نو ځکه په همدغه دوران کې ((مجاهد)) د ولس د زړونو تل ته ننوت او د منښت او ګرانښت مراتب یې حاصل کړل، ان تر دې بریده چې که یو ((مجاهد)) د شریعت تر پولې اخوا هم ځینو کارونو ته لاس ور ووړ، نو خلکو پرې پرده خوروله او ویل یې خیر دی پروا نه کوي مجاهد دی... رښتیا هم افغان ولس د جهاد په لوبښي کې د خپل هېواد د ازادۍ او سرلوړۍ لپاره بې ساري قربانۍ ورکړې او خپل ځان یې د نړۍ په ولسونو کې د یوه اتل په توګه تثبیت کړ، په پاکستان کې اوو او په ایران کې اتو کمونیزم ضد او حکومت مخالفو سیاسي تنظیمونو چې اکثرو یې تر شوروي یرغل دمخه په دې هېوادونو کې ځالې کړې وې، په شوروي یرغل سره ځان ته جهادي مشروعیت حاصل کړ او د جهاد مشري یې راخپله کړه، ولس له ناچارۍ اړ و د شوروي پر ضد جهاد ته دوام ورکړي، که څه هم په لوړه ګېډه او تش

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس دي وي، سیاسي تنظیمونو ته دا ښه فرصت و، چې د افغان ولس او د شوروي مخالفو هېوادونو په تېره بیا امریکا متحده ایالات، سعودي عرب او نورو ترمنځ یو حایل رامنځته کړي، له هغوی څخه وسلې او پیسې ترلاسه کړي او ضمناً دا ورته هم په ګوته کړي چې د ولس رهبري زموږ په لاس کې ده او دا ټول ولس موږ راپاڅولی دی. د همدغه مهارت په نتیجه کې سیاسي پوځي، تنظیمي مشرانو د جهاد په ټول بهیر کې د شهرت ښه شان او شوکت تېر کړ، کله چې شوروي لښکرې له افغانستان څخه ووتلې نو تر هغه وروسته جهادي مشروعیت هم ورو ورو کمزوری شو، هغه جهادي ډلې او تنظیمي مشران چې تر دې دمخه یې هر روا او ناروا عمل مشروع ګڼل کېده او مذهبي جذبه یې پر سیاسي تدبیر ډېره غالبه وه، له سخت چلینج سره مخامخ شول، د دې ډلو مشرانو سیاسي منطق ډېر کمزوری او تر جګړه ییز بهیر ډېر شاته پاتې و، د شوروي لښکرو تر وتو وروسته په افغانستان کې مذهبي او ملي جنګ ورو ورو پر سیاسي او قومي جنګ بدل شو، دا داسې یو حالت و چې اکثرو جهادي مشرانو پرې دمخه فکر نه و کړی، د جهاد نړیوال ملاتړ په همدې وختونو کې ورو ورو کمېده، د جبهې لیکې کمزورې کېدلې او د واک د نیونې لپاره په پټه او ښکاره تر مذهبي ارزښتونو اخوا ائتلافونه او سازشونه جوړېدل، یو شمېر جهادي او جهادنما ډلې په کابل کې له یو شمېر الحادي او قومي ډلو سره د سازش په لټه کې شوې، څرنګه چې دا ډول هڅې د ملي ګټو پر ضد وې، نو د عامه مشروعیت پر ځای یې عامه کرکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوپارولـه. د سازش او ائـتلاف لـه لاري پر کابـل بانـدې بېلابېـل او مختلف تنظیمونه واکمن شول او ورسره ټول هېـواد تـه د نامشـروع جګړې لمبې خورې شوې، هر ځای تـه ټوپکـوا کي وغځېـده. حـالات دومره ترینګلي شول، چې هېواد ته د تجزیې خطر پېښ شو، ولس لـه دې حالـت تـر پـوزې راغـی او خبـره د انفـلاق تـر بریـده ورسـېده، پخوانیـو جهـادي ارزښـتونو خپـل رنـګ او خونـد بـایلود. پخوانیـو سیاسي او مذهبي اصطلاحاتو ته نوې نومونې راووتـې، قومنـدان، ټـوپکي، ټوپکـوال، نامسـووله اشـخاص، جګـړه مـار ټوپکسـالار، جنګسالار او داسې نور. ددې نومونو یو غټ علت دا و چې پخـوانی مجاهد د خپلو عملونو له مخې ننني مجاهد نه و. مجاهـد او جهـاد لـه معنـوي پلـوه د بهرنـي یرغـل پـر وړانـدې لـه مبـارزې څخـه خپـل مشروعیت ترلاسه کاوه، خو نن چې هره خوا خپلمنځي جګـړه شـروع وه او ټوپک کارېدل، دې جنګ بلـه مانـا لرلـه، دا د قـدرت لپـاره د هوسونو جنګ و، څرنګه چې د جنګ بڼه بدلـه شـوله، همداسـې د جنګ اصطلاحات او مفـاهیم هـم بـدل شـول. د پخوانیـو مجاهدینو یوشمېر ډلې او اشخاص چې په نوي جنګ کې راښـکېل وو، لـه دې نویو اصطلاحاتوسره یې سخت مخالفت کاوه، دوی هڅه کوله چـې پخـوانۍ سـپېڅلې تـورې اوسـنیو نامشـروع امتیـازاتو او کړنـو تـه مشـروعیت ورکـړي او د تېـرې تـورې پـه برکـت خپلـه اوسـنۍ ګنـاه بابیزه او ښنلې وښیې، خو دې خبرې تـه یـې پـام نـه و، چـې پخـوانی شغل هېڅکله هم د اوسني شغل ځای نه نیسي او نه یو د بل پرځـای کارېږي، مثلاً پخوا یو څوک نانوای و، بیا یې نانوایتوب پرېښـود،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او قصابي يې پيل کړه، اوس د قصاب پر دندې او غولي ولاړ دی، نو څوک ورته د نانوای خطاب نه کوي، بلکې قصاب يې ګڼي. د ځينو مجاهدينو په اړه هم همدا مثال صدق کوي، يو وخت کې يو چا جهاد کاوه او ځان يې د جهاد پر ټولو اصولو برابر کړی او پسوللی و نو خلکو ورته مجاهد ويلې، خو کله چې همدې خلکو د جهاد تر پولو پښې واړولې او نورو کارونو ته يې لاس کړ، نو بيا خلکو ورته نور اصطلاحات چې د هغوی له عمل سره منطبق او مصدق وو وکارول، که چا د خلکو د ځورونې لپاره ټوپک ګرځاوه، هغه ته د ټوپکي او که چا پاټک درلود هغه ته د پاټکي اصطلاحات وکارېدل. حقيقت دادی چې له جهادي حالت نه نامشروع ټوپکي حالت ته د ځينو اشخاصو اوښتل يوه پروسه وه، هر څوک چې په دې پروسه کې شامل وو، هغوی دويم نومونه خپل کړل. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال ټوپکوال او پاټکوال ټول له يوې مخې د هېواد په يوه ګوټ کې را ايسار کړای شول، خو د امريکا د متحدو ايالاتو د پوځي يرغل په نتيجه کې د ټوپکوالو مشران يو ځل بيا را ژوندي شول، په سياسي او پوځي برخه کې يو ځل بيا ورته تر خپل استحقاق او استعداد پورته امتيازات ورکړای شول، ولس له همغه پيله د طالبانو پر وړاندې پر دا ډول بديل خوښ نه و، خو امريکايي ځواکونو او نړيوالې ټولنې د خلکو د هيلو خلاف ټوپکوال په زياتو امتيازاتو ونازول، ولس له همغه پيله دې خلکو ته د دوی د شان مطابق اصطلاحات وکارول، هغوی چې تر ټولو زيات ټوپک او وسله وال اشخاص يې درلودل او په دولت کې يې تر ټولو زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library

امتیـازات ترلاسه کړي وو، د جنګسـالار او ټوپکسـالار پـه نومونـو ونومول.

په دې ټېرو دریو کلونو کې د جنګسالار پوځي اصطلاح ډېره زیاته سیاسي مانا او اغېزه راخپله کړې، هر څوک جنګسالار یادوي او غندي یې، خو هېڅکله هم چا کوم شخص جنګسالار ته ګوتـه نـه ده نیـولې او څـوک یـې پـه دې نـوم نـه دی نومـولی. جنګسـالاران هـم هېڅکله دا اصطلاح پر ځان نه مني او د داسې اصطلاح کارونه د مجاهـدینو تـوهین ګڼـي. دا چـې پـه افغانسـتان کـې اوس څـوک جنګسالار دی او څوک مجاهد، مخکې پرې په ضـمني ډول تبصـره وشـوه، خـو یـو شـی چـې حقیقـت دی هغـه دادی چـې اوس پـه افغانسـتان کې جنګسـالاران شـته، هـم پـه دولـت کـې دي او هـم تـر دولته بهر، یا رسمي او نا رسمي جنګسـالاران دواړه شـتوالی لـري، د جنګسالارۍ اصطلاح هم باید پـه دقیـق ډول وکـارول شـي، کـه یـو څوک مجاهد ته جنګسـالار ووایـي، نو بېشـکه دا د مجاهد پـه حق کې ظلم دی او ګناه ده، خو که څوک جنګسالار ته مجاهد وایـي، دا نو بیا تر هغه زیات ظلم دی او ګناه ده، په حقیقت کې هر هغه څـوک چې د وسلې پـه زور تـر خپـل استعداد او اسـتحقاق پورتـه امتیـاز ترلاسه کوي، هغه جنګسالار دی، که هغه پخوا هر څـوک و سـپین و که تور، مجاهد و که نه و، د جنګسـالار د تعریـف پـه بـاب پخوانـۍ ښېګڼې او بدګڼې د محاسبې وړ نه دي، بلکې د هغه اوسنۍ کړنـې د محاسبې وړ دي. د پخوانیو ښېګڼو په مقابل کې د اوسنیو بـدګڼو ښښل داسې مانـا لـري، چې مـوږ نـاروغ تـه د اصـلي درملو پـر ځـای

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ تېر د رمل ورسوو، طبیبان پر دې پوهېږي چې ناروغ تـه تـاریخ تېر د رمل څومره زیان وررسولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرشمېرنه که سر غوځونه؟

دا ليکنه هغه مهال شوې وه، چې په افغانستان کې د امتحاني احصايې بهير پيل شوی و او د احصايې په اړه تاوده بحثونه او تشويشونه روان وو، په ځينو ولايتونو کې چې امتحاني سرشمېرنه اخيستل شوې وه، هلته هم د درغلۍ زيات احتمالات وو، وروسته بيا په ننګرهار کې موږ د سرشمېرنې په اړه يو علمي سيمينار هم جوړ کړ، چې ګڼ شمېر افغان ليکوالو، څېړونکو، د احصايې د مرکزي رياست لوړ پوړو چارواکو او همدارنګه د ځينو کورنيو او بهرنيو موسسو استازو په کې ګډون کړی وو. په دې سيمينار کې موږ د مستندو دلايلو او شواهدو له مخې، دا امتحاني احصائيه نيمګړې او له درغلۍ ډکه ثابته کړه. چې دا مهال زموږ د ځينو څېړونکو لاسته ورغلي وو. په دې اړه زما نورې ليکنې هم شته چې هغه به يو ځل بيا خپرې کړم. دا ليکنه همغه مهال د هيلې د ١٣٨٢ل کال په (١) ګڼه کې چاپ شوې ده. درانه لوستونکي يو ځل بيا ددې حساسې موضوع په هکله ددې ليکنې لوستو ته رابولم.

د بن د توافقاتو له مخې د افغانستان د دولت يوه دنده دا ګڼل شوې وه، چې په افغانستان کې به عمومي سرشمېرنه ترسره کوي، نړيوالې ټولنې ژمنه کړې وه، چې په دې کار او چار کې به له افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولت سره مرسته کوي. د بن پرېکړې تقریباً له خپل وخت و مهال سره عملي کېږي، خو نه کټ مټ او سل په سلو کې، خو تراوسه چې څوک د بن د پرېکړو جاج اخلي، نو تر زیاته بریده یې عملي بڼه خپله کړې ده. البته د بن د پرېکړو په عملي برخه کې هم یو شمېر درغلۍ، تېروتنې او تېرویستنې شته او په راتلونکي کې یې هم اټکل کېدی شي.

د بن په توافقاتو کې پر سرشمېرنه زیات ټینګار ځکه کېده، چې دا نه یوازې د افغانستان د بیا رغونې، جوړونې او پرمختګ لپاره یو اساسي لامل و، بلکې د سیاسي چارو د سمون او رغون په لار کې یوه اساسي ستونزه هم ګڼل کېږي، رښتینې سرشمېرنه د سیاسي او قومي ډلو د سیاسي غوښتنو په کنترول، تثبیت او لاسته راوړنه کې اساسي رول لري. په افغانستان کې سرشمېرنه په تېره بیا د قومي ماهیت له مخې یوه ډېره حساسه سیاسي موضوع ده، د هرې مشروع او نا مشروع سیاسي، اقتصادي او بلې غوښتنې لپاره د قومونو کمیت وار له واره دمخه کېږي او د ستونزې د حل معیار او محک قومي شمېر ګڼل کېږي.

څرنګه چې په افغانستان کې لاتر دې دمخه یوه ډېره دقیقه، کره، پوره او ټولو غاړو ته د منلو وړ سرشمېرنه نه شته، نو ځکه هره سیاسي او ټولنیزه ډله چې د قومي هویت او حقوقو تر چتر لاندې یې خپل ژوند تضمین کړی، په هېواد کې د سرشمېرنې له یوه اوږده ابهامه ناوړه ګټه پورته کوي او د هغه قوم، چې دوی ورته منسوب دي، د شمېر کچه دومره لوړه ښیي، چې واقعیت نه لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ډول په افغانستان کې له قومي پلوه د سرشمېرنې په ښودنه کې زياته مبالغه کېږي.

هغو سرشمېرنو چې د ځينو بهرنيو غرضي هېوادونو او کورنيو غرضي سرچينو له خوا ترسره شوي او پر واقعيت ولاړې نه دي، موضوع نوره هم پسې پېچلې کړې ده. د بېلګې په توګه ځينې سرچينې په افغانستان کې زموږ د هزاره ورونو مجموعي شمېره په سلو کې (۳۰-۳۵) محاسبه کړې، که دا د يوې فرضيې په توګه همدومره وګڼو، نو همدومره يا تر دې زيات شمېر د تاجکو ورونو له موجوديت څخه هم هېڅوک سترګې نه شي پټولای، خو که موږ د فرضيې په توګه همدا (۳۰-۳۵) رقم محاسبه کړو، نو د دوو قومونو مجموعي شمېر به (۶۰-۷۰) فيصده شي، د افغانستان په قومي شمېرنه يا يادونه کې معمولاً ازبکان تر هزاره ګانو وروسته يادېږي، نو که دا هم د پورتنۍ فرضيې له مخې له (۲۵-۳۰) فيصدو پورې اټکل شي، نو د درېيو قومونو مجموعي شمېر به (۸۰-۹۰) فيصدو پورې ورسېږي، پاتې (۱۰-۲۰) فيصده که دا نور قومونه لکه ترکمن، پشه يي، نورستاني، ايماق، قزلباش او نور محاسبه شي، نو سل په سلو کې پوره شول، په دې ډول نو په افغانستان کې د پښتنو د اکثريت خبره خو لا څه چې بېخي يې د موجوديت پوښتنه راولاړېږي؟ داسې او دې ته ورته احصايې له واقعي او رښتيني حالت څخه د يوه لوري غوښتنه او تقاضا لوړوي او د بل لوري منفي غبرګون راولاړوي، ځکه نو د سياسي غوښتنو په طرح کولو کې له سرشمېرنې ناوړه ګټه پورته کېږي. هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په افغانستان کې د تذکرې له مخې د نفوس ثبت او راجستر پیل شوی، نو دا هیله ډېره پیاوړې کېده، چې د وخت په تېرېدو سره به د نفوسو دقیق شمېر هم معلوم شي او بیا به دا مسئله د یوې سیاسي ستونزې په توګه نه مطرح کېږي، خو په افغانستان کې پرله پسې منفي بدلونونو او اوښتونونو نه یوازې دا هیله ټکنی او ځنډنی کړه، بلکې نورې ستونزې یې هم راولاړې کړې.

د ناوړه سیاسي بدلونونو ترڅنګ د احصایې د کارکوونکو لاسوهنه، درغلي، قومي او سیمه ییز لیدلوري هم ډېرې منفي اغېزې وشیندلې، له کومه وخت چې د تذکرو وېش پیل شوی نو ورسره سمه، قومي اړونه او بدلونه هم پیل شوې، په انفرادي او ډله ییز ډول د یوه قوم هویت ختم شوی او په احصائیه کې یې په قصدي درغلي شوې ده. د دې کار یو غټ علت دا و چې د احصایې اکثره مامورین ناپښتانه وو. نه یوازې د پښتنو شمېر په کې کم و، بلکې د نورو قومونو لکه ازبک، پشه یانو، نورستانیو، بلوڅو او نورو شمېر هم په کې کم و، همدا علت و چې د نفوس په ثبت او راجستر کې دا ټول قومونه ډېر متضرر شوي دي. اکثرو تذکرو ته به تاسو پام کړی وي، د تذکرې متن پښتو، خو هغه ځایونه چې باید په قلم په کې څه ولیکل شي، هغه دري دی. زما په خپله تذکره کې یې د سن په کور کې لیکلي: «چهارده ساله شصت». (پر شپېتم کال څوارلس کلن) د سترګو او وېښتانو رنګ او نورې ځانګړتیاوې خو پرېږده، له دې څخه ښکاري چې د احصایې اکثره مامورین پر پښتو نه پوهېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټولیز ډول ډېرو کمو پښتنو تذکرې اخیستې، ددې یو علت دا و چې په افغانستان کې د تذکرې ترلاسه کول د ژوند یو ډېر مهم ضرورت نه ګڼل کېده، هغو کسانو چې تذکرې یې نه دي اخیستې، هغو خو د قومي هویت د بدلانه زیان نه دی زغملای او نه د احصایې مامورینو د درغلۍ ښکار شوي، خو هغه چا چې تذکرې اخیستې پر ګڼ شمېر یې دا ځپه تېره شوې، هغه پښتانه چې نالوستي وو، هغوی ته چې د احصایې مامور صیب هر څه په تذکره کې لیکلي دا نو د هغه مهربانۍ پورې اړه درلوده، یو زیات شمېر دا ډول خلکو ته په تذکره کې د (پښتانه) پر ځای (تاجک) لیکل شوي، کلونه پس چې یې زامن لوستوال شوي او هغوی د خپل پلار تذکره کتلې، نو بیا دې نمیګړتیا او تېروتنې ته متوجه شوي چې نږه پښتانه ته تاجک لیکل شوي دي.

د ننګرهار د سره رود په ولسوالۍ کې څو تنه داسې وو، چې پر خپلې جبارخېلۍ او پښتونواله یې سرماتوه، خو کله چې یې خپلې تذکرې وکتلې په تذکره کې یې ورته تاجک لیکل شوي وو، یو چا د سره رود له یوه جبارخېل سره ګپ لګاوه او ورته یې وویل: ((اینه بیادر خوب شد که در تاجک هم جبارخېل پیدا شد ما خو دیگم به اونها نزدیک شدیم، بری ما از پشتونولیت لاپ میزدی خوب شد که اخر بری ما خړ شدی)) جبارخېل وویل: ((ولاچه بگویم دیگه اونا نبشته کده.)) هغه مخکې ورځو کې د حصارک ولسوالۍ یوه مخور وویل: ((تاسې لاد سرخرود ولسوالۍ د جبارخېلو غم وړې یاست ان زموږ په ولسوالۍ کې جبارخېلو ته تاجک لیکل شوي دي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما یو بل ملگری په جرمني کې اوسي او د کونړ زېږ پښتون دی، په پښتو او پښتونولۍ کې تر توري هم تېره دی، په تېر ساپی دی، هغه راته وویل: «... دا لاځه کوي چې زما او د حاجي صاحب (مقصد یې خپل پلار و) په تذکره کې هم تاجک لیکل شوي دي.» دې سره ټولو وخندل. د پښتنو یو شمېر سیمو کې څلور پینځه لسیزې مخکې کسبګرو ته چندان په ښه سترګه نه کتل کېدل. اکثره کسبګر له اقتصادي پلوه د وروستۍ طبقې خلک وو، نو دې کسبګرو به سره له دې چې ټول پښتانه وو، خو ځان به یې د نورو زورورو له وېرې کوم خاص قومي ګروپ پورې نه تړه، کله چې به د تذکرې د وېش وخت راغی، نو دوی خو به د احصایې مامور ته له وېرې خپل قوم نه ښوده، نو بیا خبره د احصایې د مامور ترحم ته پاتې کېده او د هغوی ترحم خو معلوم و.

یوه ورځ مې له خپل ملګري شېرعلم امله وال څخه پوښتنه وکړه چې په تېرو وختونو کې د تذکرو د وېش برخه کې د غسې درغلۍ شوي، تاسو پشه یانو کې خو به د چا په تذکره کې تاجک یا پښتون نه وي لیکل شوی؟ هغه وویل: «دا عجیبه خبرې کوې ټول ده نور له تاجکو ډک دی، څومره چې دې په کار وي زه به یې سبا درته راوړم.» ما ویل نه بابا داسې به نه وي هغه وویل: «دوه ورځې ماته وخت راکړه» دوه درې ورځې وروسته یې ګڼ شمېر تذکرې راوړې هغه وویل دا یې نمونه ده، زه نه شم کولای ټولې تذکرې درته راټولې کړم. په ځینو تذکرو کې پشه یانو ته پښتانه خو په اکثرو تذکرو کې پشه یانو ته تاجک لیکل شوي وو، څو موده وروسته زه خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسوالۍ (الینګار) ته لاړم، د اساسي قانون لپاره د عامه خبرونې یوه غونډه وه، د الینګار ولسوالۍ له بېلابېلو درو څخه د بېلابېلو قومونو له خوا استازي او مشران په کې ناست وو، د اساسي قانون پر ګټېو، د افرادو پر حقوقو، ژبو، فرهنګ او د قومونو پر ورورۍ خبرې وشوې، کله چې خبره د قومونو ورورۍ ته راورسېده، نو یو تن پاڅېد او ويې ویل: «زه د سالاو درې اوسېدونکی په قوم پشه یي یم، جهاد مې کړی او اوس د یوه مکتب مدیر یم، دا څنګه حقوق دي، زه به د خپلې درې د ټولو پشه یانو تذکرې درته راوړم چې څه يې په کې لیکلي؟» مور حیران شو، چې څه يې په کې لیکلي، ده یو ځل بیا ناستو خلکو ته وویل: «زموږ د درې خلک په قوم څه دي؟» ټولو ویل: «پشه یان» ده بیا وویل. «دا نو ولې يې موږ ته په تذکرو کې لیکلي: تاجک.» ده زیاته کړه: «ورونو د تعصب له مخې دا خبره نه کومه، لغمان کې تاجک نه شته که وي هم ددې غرو سرو کې څه کوي؟ مقصد مې دادی چې اوس دا قانون جوړېږي، موږ يې ملاتړ کوو، خو سبا چې بیا تذکرې وېشل کېږي موږ سره داسې ټګي برګې ونه شي.»

تر الینګار وروسته موږ غربي نورستان ته لاړو، په غربي نورستان کې پشه یان، ګوجر، نورستانیان او پښتانه اوسېږي، هلته هم په یوه واړه خو د مخورو او قومي مشرانو په یوه مجلس کې د ننګراج له یوه وکیل (غلام سخي) څخه چې په قوم پشه يي دی، پوښتنه وشوه چې د الینګار پشه یانو شکایت کاوه چې زموږ په تذکرو کې يې تاجک لیکلي، ستاسو په تذکرو کې خو به چا ته داسې نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکل شوي، وکیل غلام سخي په خندا شو او ویې ویل: ((صیبه دا درې اکثره پښه یان دي، پورته بیا نور قومونه ګوجر، وایګلي او وامایي دي. اوس خو دا شل کاله انقلاب کې تذکرې نه دي تقسیم شوي پخوا داودخانۍ اوظاهرخانۍ کې تذکرې وېشلې شوي، هغو اکثرو کې زموږ پشه یانو ته تاجک لیکل شوي، هغه وخت کې خلک ساده ګان وو، په دې نه پوهېدل چې دا څه مانا؟ اوس هم چندان نه پوهېږي، خو که دا ځل تذکرې والا راغلل، نو زه به ورته وایم چې پشه یانو ته به پشه یان لیکي.))

د مرکزي نورستان وکیل ګل اعظم خان او د غربي نورستان وکیل عطاء الله خان هم په دې مجلس کې ناست وو، هغوی وویل: ((په نورستان کې هم دا حال دی کومې تذکرې چې دوی هغه وخت په نورستان کې وېشلې دي په اکثرو کې یې نورستانیانو ته تاجک لیکلي دي.))

څه موده وروسته کابل ته لاړم، له معمول سره سم د پښتو د یو هڅاند خدایي خدمتګار (...) لیدو ته ورغلم هغه تر ستړي مشي وروسته سملاسي راته وویل: ((خبر شوې؟ ما ویل نه، څه شي نه، هغه وویل: ((د استاد رشاد لمسي ته یې په تذکره کې تاجک لیکلي)) ما ویل ظالمه زه دې وارخطا کړم دا خو وړه خبره ده، ما ویلې چې خپله یې استاد رشاد ته تاجک لیکلي... هغه یو دم رابرګ شو د استاد رشاد لمسي ته تاجک از برای خدا ډېر شرم دی ډېر بې غیرته قوم، پښتون ډېر ویده قوم دی. هغه بیا زیاته کړه چې استاد رشاد په دې خبره ځومره خفه دی. ((ما هغه ته وویل تاته مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د يوه خپلوان د لغمان د الينګار د مولوي ګلندر خبره نه ده کړې چې هغه په خپلو پيسو له پاکستان نه دخپل کلي جومات ته يو لوډسپيکر راوړ او خلکو ته به يې هر سهار، ماسپښين او مازيګر وړيا نصيحت او تبليغ کاوه، خو هيچا هم ورته غوږ نه ايښوده او يو نيم به لاپه کې داهم ويل چې ددې (...) زوی ته لاګوره موږ باندې خپل ياسين پخوي، پلار به يې دکان کاوه او دی موږ ته وعظ او نصيحت کوي، ځه خپل پدري کسب دې کوه.

مولوي ګلندر د خلکو دې بې تفاوتۍ ډير په تنګ او بې ارزښته کړ، بلاخره د خپل لوډسپيکر مزي يې راټول او هغه يې د جومات له منارې څخه راکښته کړ. بله ورځ يې ماته وويل: «ياره عزيزه دا پښتانه دا ددې ولس خلک دا د ابو جهل قوم دی والله په بالله که څوک يې اصلاح کړي، څو چې اسرافيل ورته په غوږ کې شپېلۍ ونه وهي والله که يې راوينښ کړي، ماته يې دسر په کاسه کې اوبه راکړې او نور ما هم همداسې پرېښودل ځئ چې هر طرف ځئ.»

(...) ته مې وويل چې تا څخه هم مولوي ګلندر جوړ شوی اخر به دخپل لوډسپيکر تنستې راټولې کړې، هغه په خندا شو ياره بښکه چې دا د ابو جهل قوم دی دا نه اصلاح کيږي، ډير بې غيرته دي او بېخ يې وباسې هی»

له کابله – جلال اباد ته راستون شوم، دفتر کې لاناست نه وم چې يوځل بيا شېرعلم خان راننوت خوله يې له خندا ډکه وه او همدا يې ويل (نوی انکشاف، نوی انکشاف) ما ويل څه اتوم دې کشف کړی که څنګه؟ هغه ويل اتوم نه هم بدتر. ما ويل څه دي؟ ده ويل: «د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو جوغه دار هم تاجک شو» ما ویل دا څه وایې کوم جوغه دار؟ څوک یادوې؟ د پښتو جوغه دار څوک دی؟ خو همدا (...) درته یادوم چې کله د پښتو خبره راشي دده په مخکې څوک سړ هم نه شي کولای او کله چاته د خبرو نوبت ورکوي، ما ویل هغه خو مې همغه ورځ ولید روغ او جوړ دی، څه خو یې نه دي کړي؟ املـه وال وویـل تـه غـوږ نیسـه، کـه نـه خبـره داسې ده: «ما غوښتل پر هغو مسایلو یوه مقاله ولیکم چې مخکې مو پرې خبرې کړې وې» ماویل کوم مسایل؟ هغه وویل: «هېر دې شول هغه د تذکرو مسایل چې د خلکو قوم په کې بدل ښودل شوی دی» ما ویل ښه ښه په یاد مې شو، ښه اوس کیسه کوه. امله وال وویل: «د همدې ډول تذکرو د پیداکولو په لټه کې وم، هغه ورځ د روداتو بړو ته هسې د یوه کار لپاره تللی وم، یوه چا راته یوه زړه قواله (قباله) راکړه دا قواله هغه ستا د ملګري (...) د نیکه په نامه وه، چې له دوو نورو کسانو څخه یې څه ځمکه اخیستې وه، قواله مې لوستله لوستله چې د (...) د نیکه په نامه مې سترګې ولګېدې چې ګورم په قواله کې یې ورته تاجک لیکلي» ما ویل نه بابا دا ناممکنه ده، بړو او تاجک دا هېڅ امکان نه لري هغه هم په خندا شو او ویې ویل: «زه هم دې ته حیران یم چې هډه او ګني، بړو او تاجک.» امله وال سبا ته قباله راوړه، په قباله کې یې یو طرف ته قوم تاجک، بل طرف ته مومند او بل طرف ته شینواری لیکلي وو. عجیبه خبره خو داده چې په قباله کې یې د یوه پلار دوو زامنو (یوه ورور ته تاجک او بل ته مومند) لیکلي، قباله مې ښه وکتله ډېره پخوانۍ نه وه، د همغه مهال وه چې دري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبو مرزایانو خلکو ته په شعوري او نا شعوري ډول په تذکرو کې د قومونو د اړولو لړۍ پیل کړې وه، ما امله وال ته وویل چې (...) دربانديې خبر نه شي چې پوټکی به دې وباسي، هغه ویل دا ټکه خو یوازې پر (...) نه ده رالوېدلې، ددې وطن پر زرګونو څه چې په لکونو خلکو رالوېدلې ده، زموږ د ډېرو خپلوانو همدا حال دی، دا انجنير غني څومره شعوري او تکړه سړی دی، ته لاړ شه وګوره د هغه په تذکره کې هم تاجک لیکل شوي، ما ویل نه بابا!! «امله وال ویل راځه شرط به وتړو» امله وال زیاته کړه: «انجنیر غني لا څه کوې دا څو نومیالي حاجیان صاحبان او داسې نور حاجیان صاحبان چې اوس ځانونه د ټولو پښه یانو مشران او لیډران ګڼي داسې اوازې او انګازې دي، چې د هغو په تذکرو کې هم تاجک لیکل شوي، خو ما خپله شخصاً د هغوی تذکرې نه دي لیدلي او چک کول یې هم څه اسانه کار نه دی.» ما ویل په هکله امله واله زه دې والله پرځان شکي کړم هسې نه چې زما د پلار او نیکه په تذکره کې تاجک نه وي لیکل شوي. یو ځل باید زه خپل ځان هم چک کړم. لغمان کې خپل کور ته لاړم، زړه مې درب درب کاوه، دخپل پلار زاړه اسناد د دوبۍ، ایران او د حج سفر اسناد او پاسپورت مې پیدا کړل، په هېڅ ځای کې مې د قوم لپاره د تاجک کلمه ونه لیدله، خو بیا هم زړه مې پوره تسل ونه کړ، ما ویل هسې نه چې د (...) کانه دربانديې وشي، د خپل نیکه (هدایت خان) د اسنادو د میندلو په لټه کې شوم، هېڅ پاڼه مې لاسته رانه وړه، له خپلې مور نه مې پوښتنه وکړه چې دنیکه مې کومه تذکره یا دهغه په نامه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسناد پاتې که نه؟ هغې ویل: ((نه زویه نیکه دې ډېر پخوا مړشوی، ان هغه وخت چې پلار دې لا وړوکی هلک و، هغه وخت کې تذکرې مذکرې او نور شیان نه وو، عکس چا نه پېژانده.)) بیا مې زړه ولګېده.

دا خو په ختیزو ولایتونو کې دا حال و دا چې په لوګر و لویه پکتیا، غزني، لوی کندهار، هرات، بادغیس، بلخ، شمال ختیزو، مرکزي ولایتونو او خپله په کابل کې به څه تېر شوي وي ؟د ختیزو ولایتونو له دې څو بېلګو څخه یې پته لګي.

اوس دنړیوالې ټولنې په مالي ملاتړ د افغانستان د حکومت له خوا په هېواد کې عمومي سرشمېرنه پیل شوې، خو دا سرشمېرنه دومره مرموزه او پټه ده چې هېچا ته یې پته نه لګي او هېچا ته یې معیار معلوم نه دی، مطبوعات پرې هم چندان تبصرې نه کوي او دولت یې هم د پایلو په باب ولس ته معلومات نه ورکوي. ملګري ملتونه په دې لړۍ کې په مستقیم ډول ګډون نه لري او نه یې چارې د هغوی له خوا سمبالېږي، ټول کار او چار د احصایې د مامورینو په لاس کې دی او ددې سرشمېرنې پایله هم د احصایې د مامورینو په رښتینوالي او درغلۍ پورې تړلې ده، لکه څنګه چې مو په افغانستان کې د احصایې د مامورینو پر تېر چلند باندې لنډه رڼا واچوله، نو د تېرې تجربې له مخې ویلای شو، چې پر اوسنۍ سرشمېرنه هم د سرشمېرنې د مامورینو لید لوری (نظر) او فکر پوره پوره اغېز لري، د مامورینو قومي، سیمه ییز او سیاسي تړاو د احصایې پر رښتیني ثبت تاثیر غورځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوسني احصايې اکثره لوړ رتبه مامورين د طالب نظام تر ړنګېدو وروسته مقرر شوي، د تقرر ددې پړاو اکثره اشخاص په يوه خاص تنظيم او ډلې پورې چې د دولت اکثره حساس پوستونه يې اشغال کړي، تړلي دي. دا ډول مامورين په شعوري ډلو هڅه کوي په احصائيه کې د خپلې سيمې او قوم خواته ډنډۍ وهي او کله چې د عمومي سرشمېرنې نتيجې اعلانېږي، نو دوی به ډېره ګټه کړې وي، په نړيواله ټولنه کې هم ځينې هېوادونه او ځينې خاصې سياسي ډلې او ډلګۍ دې سره مينه او لېوالتيا لري، چې په افغانستان کې عمومي سرشمېرنه په دقيق ډول تر سره نه شي، ځينو دا ډول کړيو په افغانستان کې دلړکيو د حقوقو شعار راپورته کړی او ځينو لا دا فرضيه هم وړاندې کړې چې په افغانستان کې هېڅ قوم اکثريت نه دی، ټول اکثريت دي يا په بله وينا ټول برابر دي، دا ډول کړۍ د کورنيو کړيو په مرسته غواړي، دې فرضيې ته عملي بڼه ورکړي او په افغانستان کې د اکثريت او اقليت واقعيت له منځه يوسي.

سره له دې چې په نورو هېوادونو کې سرشمېرنه د ټولنيزې پرمختيا، اقتصادي ښېرازۍ او د ژوند د نورو چارو د سمبالښت لپاره ترسره کېږي، خو په افغانستان کې د سرشمېرنې غټ ټکی همدا قومي ماهيت دی، چې په راتلونکي کې اکثره سياسي او اقتصادي امتيازونه ور پورې تړلي دي. په هغو ولايتونو کې چې تراوسه په اصطلاح عمومي سرشمېرنه ترسره شوې، هغه د لاندې څو دليلونو له مخې دقيقه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- هر کلي ته د احصایې مامورین نه دي ورغلي.

۲- کوم کلي ته چې ورغلي هلته له ټولو خلکو څخه پوښتنه نه ده شوې.

۳- ځینو کلیو ته بېخي نه دي ورغلي، په احتمالي ډول یې احصائیه اخیستې.

۴- د احصایې هغو مامورینو چې په عملي ډول یې احصائیه اخیستې، هغوی اکثرو خپل فورمونه په پنسل ډک کړي، دا چې د کابل په مرکزي دفتر کې هغه پاڼې په قلم په بل شکل ډکې شوي، سپینې شوي، عوض شوي او ځینې حساس مسایل لکه قوم او ژبه په کې بدل شوي او که پر خپل ځای پاتې دي په دې باب هېڅ پته نه لګي.

۵- هغو ولایتونو کې چې احصائیه بشپړه شوې، د نویو ورغلیو مهاجرینو او داخلي بېځایه شویو سرشمېرنه به څنګه کېږي؟ که دوی د UNHCR ثبت شوي مهاجر په دې شمېرنه کې ورګډوي نو هغوی چې له UNHCR سره هېڅ ثبت نه دي، هغوی به څنګه کېږي؟

۶- ایا داسې کوم ارګان او تضمین شته چې که چېرې د احصایې مامورین د چا قومي او ژبني هویت بدل کړي، نو دا بدلون بېرته اصلاح شي او په ټولیز ډول د احصایې د مامورینو د درغلیو مخه ونیول شي؟

۷- څرنګه چې د احصایې اکثره مامورین دري ژبي دي، نو دوی چې هرې سیمې په تېره بیا پښتنو سیمو ته ځي نو څرنګه چې دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو نه پوهېږي د سيمې له خلکو سره په دري خبرې کوي، هغوی چې ورسره په دري خبرې وکړي، نو دوی هغه ټوله سيمه په دري ژبو کې شمېري، د احصايې د مامورينو له خوا پر ډکې شوې فورمې باندې هېڅ کليوال نه پوهېږي، چې ده ته يې په شمېر، قوم او ژبه کې څه ليکلي دي.

۸- اکثر مامورين له کابله راځي، د ولايتونو او ولسواليو د احصايې مامورين په دې کار کې چندان ونډه نه لري، دوی له سيمې سره پوره بلد نه دي، هره هغه سيمه چې ددې مامورينو خوښه شي او د دوی لوکس ګاډی هلته ورتللی شي، هلته ورځي او له نورو سيمو سره سروکار نه لري.

۹- اکثرو ولايتونو کې لا پوره امن ټينګ نه دی، په دې ولايتونو کې داسې سيمې او ولسوالۍ هم شته چې د احصايې مامورين خو لا څه چې د دولت عادي مامورين هم نه شي ورتللای، دا په داسې حال کې ده چې د احصايې مرکزي دفتر اعلان کړی، چې په دې ولايتونو کې احصائيه بشپړه شوې ده، دا څنګه احصائيه ده له هوا څخه اخيستل کېږي که څنګه؟ د همدغو تشويشونو د رفع کولو لپاره د دولت له لومړۍ درجې واکمنو سره دوه ځله تماسونه ټينګ شول او دا ټولې اند ېښنې ورته بيان شوې، خو تراوسه لا په دې اړه کومه پرېکړه نه ده شوې او دا لړۍ لا دوام لري. پوره باور دی هغه سرشمېرنه چې د درغلۍ له لارې ترسره شي په راتلونکي کې به د ټول هېواد په کچه سترې ستونزې او کړکېچونه رامنځته کړي، دلته به لومړی له غلطې احصايې څخه د څو احتمالي ستونزو

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه وکړو او بیا به څو داسې ټکو ته د وړاندیز په ډول اشاره وکړو چې ددې ډول درغلیو مخه پرې نیول کېدی شي.

۱- له غلطې احصایې څخه به په هېواد کې یو لوی سیاسي کړکېچ رامنځته شي.

۲- اقتصادي پرمختیا او د پوهنې د ودې په برخه کې به هېواد کې د بېلابېلو سیمو او ولایتونو ترمنځ انډول له منځه لاړ شي.

۳- په عمومي انتخاباتو، ملي شورا (ولسي جرګه) او سیمه ییزو جرګو کې به سیاسي عدالت تامین نه شي، ځکه چې د ولسي جرګې د څوکیو شمېر به احتمالاً د نفوسو له مخې ترسره شي.

۴- د ټولنیز عدالت د تامین لاره به ډب شي.

۵- د بلې ربښتینې سرشمېرنې ضرورت به راوټوکوي، پر دویم ځل سرشمېرنه به بیا په لسګونو ملیونو ډالره لګښت وشي، که دا کار هم وشي، نو په مجموعي ډول به پر سرشمېرنو د خلکو باور له منځه لاړ شي.

۶- غلطه سرشمېرنه به د سیاسي او فرهنګي کړیو ترمنځ سخت بحثونه راوپاروي او دا کار به د قومي دښمنیو سبب شي.

۷- پر غلطه سرشمېرنه به ډېر زیات مالي لګښت وشي او نتیجه به یې هم منفي وي، ددې غلطۍ د اصلاح لپاره دوه برابره فکري او مالي لګښت ته اړتیا ده.

۸- د غلطې سرشمېرنې له مخې هغه امتیاز چې ځینو ډلو او سیمو ته ورکول کېږي، د هغو بېرته اخیستل د دښمنۍ معادل کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- غلطه سرشمېرنه کېدی شي د هېواد په اداري جوړښت کې د بدلانه سبب شي، ځکه ځينې سيمې او قومونه به د غلطې سرشمېرنې له مخې د زياتو اداري واحدونو د جوړېدو غوښتنه وکړي.

۱۰- په غلطه سرشمېرنه کې له قومي او مانيز پلوه له يو چا څخه سرغوڅېږي او پر بل باندې په مصنوعي ډول اېښودل کېږي، ناچل او مصنوعي سرونه د چلېدو وړ نه دي.

۱۱- په ټوليز ډول ناسمه سرشمېرنه په هېواد کې د لسګونو سياسي، ټولنيزو او قومي ستونزو د ټوکېدو سبب کېدلای شي، چې د ټولو يادونه يې دلته ضرور نه ګڼو.

**د ناسمې سرشمېرنې د مخنيوي حل لاره:**

۱- تر ټولو د مخه بايد په اوسنيو شرايطو کې سرشمېرنه بېخي ودرول شي.

۲- کله چې د جمهوري رياست لپاره انتخابات ترسره شي او يو منتخب حکومت رامنځته شي، نو کېدی شي په هېواد کې ورسره سوله او ثبات هم ټينګ شي.

۳- د احصايې د رياست په تشکيلاتي جوړښت کې دې پوره او چورلټ بدلون راشي، د هر قوم او هرې سيمې متناسبه استازي دې په کې تامين شي، چې هېڅوک ته د درغلۍ چانس برابر نه شي.

۴- په ټولو ولايتونو او ولسواليو کې دې د احصايې دفترونه فعال، پرسونل دې مسلکي او پوره تخنيکي امکانات دې ورکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- د مهاجرو بېرته راستنېدو ته دې انتظار وو ېستل شي.
۶- سرشــمېرنه دې د ملګــرو ملتونــو او اســلامي کنفــرانس او همدارنګـه د یـو شـمېر ملـي ګونـدونو د اسـتازو تـر څـارنې لانـدې ترسره شي.
۷- تـر هغـه پـورې چـې دا ټـول شـرایط برابـر شـوي نـه وي، پـه افغانسـتان کـې احصـائیه اخیسـتل پـه لـوی لاس د ګڼو سـتونزو د راپیداکولو په مانا ده او تر ګټې یې زیانونه څو ځله زیات دي دا سرشمېرنه نه، بلکې سر غوڅونه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راروانې ټاکنې غره توب، تدبير او څو اټکلونه

> دا ليکنه ما د جمهوري رياست تر عمومي ټولټاکنو دمخه کړې وه او ګورب‌ت مجلې پر ۱۳۸۵ ل کال د جمهوري رياست ټولټاکنو دمخه چاپ کړه. هغه وړاندوينه چې په دې ليکنه کې شوې وه، دانتخاباتو د بهير تر پايته رسېدو وروسته پر واقعيت بدل شو.

خو په انتخاباتو او سياست کې خوش باوري په کار نه ده، په تېره بيا په انتخاباتو کې، ځکه د انتخاباتو نتيجه يو انجام شوى عمل دى، چې بيا نه راګرځي. اکثره وخت هغه څوک ټاکنې بايلي چې پر ځان ډېر غره وي. د تدبير پر ځاى له تکبر او د هوش پر ځاى له جوشه کار اخلي. هره رايه يې خپله ګڼلې وي او خپل هر مخالف ته يې په نه سترګه کتلي وي. ټولې رايې يې د خپل ځان په ګټه پوره محاسبه کړې وي او ضايعاتو ته يې هېڅ پام نه وي اړولى. پر هر چا يې باور کړى وي او د هر چا رايه يې خپله ګڼلې وي. دا ډول خلک اکثره وخت په انتخاباتو کې ماتې خوري. وروسته بيا پر انتخاباتي کميسيون، پر خپلو نږدې ملګرو، مخالفانو او اړوندو ادارو نيوکې کوي او په انتخاباتو کې د لاسوهنې او درغلۍ تور پورې کوي، خو هوښيار سياستوال د وټونو دقيقه محاسبه کوي، ان د عرضې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

انډول د خپلې تقاضا کچه ټيټه ښيي. په انتخاباتو کې معمولاً درې ډوله رايې موجودې وي:

الف- پخې رايې: پخې رايې، هغو رايو ته وايي چې رايه اخېستونکي پرې سل په سلو کې باوري وي او رايه ورکوونکو هم ورسره په شفاهي يا ليکلي بڼه ژمنه کړې وي او يا ده ته په دويم يا درېيم لاس د هغو د رايې د ورکړې ډاډ ور رسېدلی وي. دا رايې د رايې اخيستونکي له نظره پخې دي، خو ايا د ټاکنو د متخصص او کارکوونکي له نظره هم پخې دي که نه؟ نه هېڅکله پخې نه دي. د ټاکنو د عملي کارکوونکو له نظره هغه رايې چې د پردې تر شا په پټه اچول کېږي، هغه هېڅکله هم پخې نه دي. په دې رايو کې د پنځوسو رايو داسې احتمال دی چې بلې خوا يا خواوو ته به ځي ځکه هغه رايه ورکوونکي چې له يوه رايه اخيستونکي سره د رايې ورکولو ژمنه کړې، له بل سره يې هم کړې، په تېره بيا په داسې حال کې چې د مالي ګټو او واک د ورکړې د امتياز خبره هم په کې مطرح وي، رايې ورکوونکي هم سل په سلو کې پر دې باوري وي چې د ده استعمال شوې رايې هم نه افشاء کېږي او رايه اخيستونکي ته هم هېڅ پته نه لګي، چې چا د چا په ګټه خپله رايه کارولې ده. په همدغو پخو رايو کې بيا په سلو کې د لسو رايو د غلط او ناسم استعمال اټکل هم شته، خصوصاً په وروسته پاتې ټولنو کې چې خلک نه پوره لوستوال دي او نه هم د انتخاباتو له پروسې سره اشنا دي. خلک په اسانۍ نه پوهېږي چې څنګه خپله رايه خپل مطلوب شخص ته واچوي، د انتخاباتو له تخنيکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

امکاناتو، لکه وټ کارډ ، د کاندید صندوق، وخت او عمل څخه په ښه ډول ګټه نه شي اخیستلای. یانې هغه کاندید چې سل په سلو کې یې خپلې رایې پخې ګڼلي، په واقعیت کې د هغه رایې په سلو کې ۳۰-۴۰ دي.

ب – اټکلي یا احتمالي رایې: دا هغه رایې دي چې په ولس کې شته خو کاندید یې په شخصي ډول له چا څخه ژمنه نه ده ترلاسه کړې، احتمالي رایې معمولاً د کاندیدانو د شمېر په تناسب وېشل کېږي. مثلاً په یوه سیمه کې څلور تنه کاندیدان دي، د اټکل له مخې یو کاندید کېدی شي له څلورو رایو څخه یوه رایه ترلاسه کړي، د احتمالي رایو اټکل هم احتمالي دی. هر څوک چې د دې احتمالي رایو پر بنسټ د رایو محاسبه د خپل ځان په ګټه کوي په حقیقت کې خپل ځان تېر باسي او کاندید له تدبیري امکاناتو لرې باسي.

ج- مبهمې رایې: ځینې رایې داسې هم وي چې نه یې شمېر معلوم وي او نه یې د چا په ګټه د استعمال احتمال، دا ډول رایې کېدی شي، بې تاثیره یا خنثی رایې وګڼل شي، خو نه سل په سلو کې بې اغېزې، خو د تاثیر څرنګوالي مشخصول یې ګران کار دی. په انتخاباتو کې د دوو نورو رایو په اندول ډېر رول نه لري. په انتخاباتو کې هغه کاندیدان همېشه بریمن دي، چې د رایو دقیقه محاسبه او د خپل ځان په ګټه د رایو ډېر ټیټ حد محاسبه کړي او د خوش باورۍ پرځای د رایو د زیاتولو پر عملي لارو چارو غور کوي، داسې لارې چارې لټوي چې د احتمالي او مبهمو رایو د راخپلولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبب شي. اوس راځو دې ته چې په افغانستان کې د جمهوري ریاست دا ګڼ شمېر کاندیدان څومره پخې، څومره احتمالي او څومره مبهمې رایې لري، د کاندیدانو د نفوذ او وټونو ساحې کومې کومې دي او هلته د وټونو احتمالي شمېر څومره دی؟

په افغانستان کې د جمهوري ریاست لپاره د دې دوه ویشتو کاندیدانو په جمله کې یې اکثره کاندیدان د شخصي عقدو، ځاني ګټو، د ځان د مطرح کولو او په اینده کې د امتیاز لپاره پر منتخب جمهور رئیس د فشار راوړلو او د ائتلافونو د جوړولو په نیت ولاړ دي. یوازې د ګوتو په شمار کاندیدان شته چې په ولس کې له بېلابېلو لارو څخه یو څه رایې راخپلولای شي. ځینې داسې کاندیدان هم شته چې هغه ان د خپلې سیمې په کچه هم مطرح نه دي، پاتې خو لا د ټول افغانستان په کچه. له کرزي صیب څخه پرته چې په احتمالي ډول کولای شي د افغانستان له بېلابېلو سیمو څخه رایې راټولې کړي، نور اکثره کاندیدان یوازې د خپل ولایت او هغه قوم په دایره کې را ایسار دي، چې دوی ورپورې تړلي دي. د ډېرو کاندیدانو شتوالی یو لړ ښېګڼې او بدګڼې لري، چې دلته به ورته لږ شان اشاره وکړو:

۱- ښېګڼې: ښېګڼې یې دا دي چې په هېواد کې به د ولسواکۍ تمثیل وکړي. که څه هم په هېواد کې اوسنۍ ولسواکۍ د برچې تر څوکې او د B۵۲ الوتکو تر وزرونو لاندې راټوکېدلې، خو بیا هم خلک د پخوا په انډول دا یو غنیمت ګڼي، اوسنۍ نړۍ د تصنع دنیا ده، هغوی هم که یو شی په حقیقي ډول نه وي، خو چې مقصد

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تصنعي او تمثيلي ډول وړاندې شي، خصوصاً زموږ په شان يوې اختناق ځپلې ټولنه کې، دوى پرې اکتفا کوي. په هېواد کې به يو زيات شمېر سياسي کدرونه د شهرت پوړۍ ته ورسېږي، پر ځان به باوري شي، ولس به د انتخاباتو له لارې د دېموکراسۍ تمرين وکړي، خلک به زړور او سرونه به يې خلاص شي او تر ټولو مهمه دا چې دې مظلوم ولس ته به خپل قدر معلوم شي، د يو زيات شمېر هغو کانديدانو جيبونه به هم تش شي او پانګه به يې پر ولس تقسيم شي، چې غواړي د پيسو په زور رايې ترلاسه کړي. سياستوال خصوصاً کانديدان به دې ته اړ شي، چې د رايې ترلاسه کولو لپاره د ولس د عادي فرد درناوى هم وکړي او ځينې به لادې ته هم اړ شي، چې د خپلو سياسي مقاصدو د ترلاسه کولو لپاره ولس ته څه نا څه ټولنيز او ودانيز خدمتونه هم ترسره کړي. د ډېرو کانديدانو تر منځ به ولس ته هم ددې چانس زمينه برابره شي، چې تر ټولو غوره شخص ته رايه ورکړي.

**۲ - بدګنې**: د ډېرو کانديدانو د شتوالي بدګنې دا دي، چې انتخابات له تخنيکي پلوه ستونزمنوي، د صندوقونو زياتوالى او يا هم په واحد ووټ کارډ کې د عکسونو زياتوالى ددې سبب ګرځي، چې يو زيات شمېر خلک خپل ووټ په دقيق ډول استعمال نه کړاى شي. په ووټ کارونه کې زياته تېروتنه رامنځته کېږي. کله کله د کانديدانو منفي رقابت خونړيو ټکرونو ته لاره برابروي او کله کله بيا کانديدان د خپلو ځاني ګټو لپاره يو د بل پر ضد داسې ائتلافونه جوړوي، چې ملي ګټو ته زيان رسوي، کله کله داسې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي چې له ګټونکي سره د ائتلاف له لارې له هغه نه لوړ امتیاز ترلاسه کوي، په داسې حال کې چې په نورمالو شرایطو کې دوی هېڅکله د دې پوست لپاره وړ اشخاص نه دي. یانې په وروستۍ نتیجه کې منتخب حکومت بیا یو بل ډول ائتلافي شکل غوره کوي او ائتلافي حکومتونه ډېر کاواکه وي او همېشه د مصلحت او سازش پر ستنو ولاړ وي.

**اوس راځو په افغانستان کې د انتخاباتو احتمالي نتیجې ته:** که څه هم مخکې تر مخکې د ټاکنو د نتایجو ارزونه څه اسان کار نه دی او نه څوک په مطلق ډول حکم کولای شي چې دا شخص یا ډله به حتماً بری ترلاسه کوي، خو په انتخاباتو کې همېشه د (احتمال) پر بنسټ ارزونه کېږي او له بېلابېلو قرینو څخه سړی د نتیجې نسبي وړاندوینه کولای شي. د انتخاباتو نتیجه اساساً د سیاسي اکثریت له مخې ټاکل کېږي. د سیاسي اکثریت په ترلاسه کولو کې ډېر مسایل رول لري، لکه قومي، مذهبي اکثریت، هغو ته منسوب اشخاص او د کاندیدانو پراخه ستراتیژي، کدرونه، مالي امکانات، کورنی او بهرنی چاپېریال او نور. څوک یې مني که یې نه مني په افغانستان کې د اوسنیو انتخاباتو محور (قومیت) دی. تاسې وګورئ د جمهوري ریاست هر کاندید دوو نورو قومونو ته منسوب اشخاص د مرستیال په توګه ټاکي، دا په دې مانا چې د هغه قوم رایې راخپلې کړي، نو که چېرې انتخابات د مسلک او سیاسي پوهې پر بنسټ وای، نو بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ډول انتخاب ته اړتيا نه وه، اوس په دې کانديدانو کې ګورو چې د چا د نفوذ ساحه پراخه ده؟

**لومړی- حامد کرزی:** د عيني واقعيتونو او د حامد کرزي د دوه نيم کلن عملي واک او سياست د تجربې له مخې دی يو افغانستان شموله شخص دی، که څه هم پښتانه له ده څخه ګيلې مانې لري. د ده د واک پر وخت لږکيو ته ان تر خپل استحقاق زيات امتياز ورکړل شو، هزاره او تاجک لږکيو ته ګڼ شمېر دولتي مقامونه او د دوو نويو ولايتونو امتياز څه ساده خبره نه ده. دی کولای شي د دې دوو قومونو او نورو لږکيو نسبي ملاتړ ترلاسه کړي، د ده د دوو مرستيالانو ټاکنه هم پر دې برخه کې بې اغېزې نه ده. خو د کرزي د ووټونو اصلي ساحه پښتون مېشته ولايتونه دي. پښتانه به له ګيلو او مانو سره سره اکثره ځکه کرزي ته رايې ورکړي، چې په کانديدانو کې د ده جوګه بل پښتون کانديد نه شته، که چېرې د انتخاباتو کميسيون په عادلانه ډول د کوچيانو او په پاکستان کې د افغان مهاجرو لپاره د راجستر پروسه تضمين کړي، نو د کرزي د برياليتوب احتمال په باور بدلېدلای شي. لنډه دا چې کرزی د افغانستان له هر قوم څخه يوه لاژمه فيصدي رايې او د اکثريت پښتنو اکثريت رايې هم خپلولای شي. لنډه دا چې که انتخابات له تخنيکي پلوه واقعاً عادلانه وي او په ټول افغانستان کې رايې اچوونکو ته يو شان او اسانه شرايط مساعد وي، نو د کرزي د ګټلو احتمال زيات دی. خو که په پښتون مېشته ولايتونو کې د انتخاباتو لپاره ټول شرايط مساعد نه وي، د دې احتمال

(c) ketabton.com: The Digital Library

شته چې کرزی د لومړي پړاو په انتخاباتو کې کامیاب نه شي او تاکنې دویم پړاو ته ولوېږي.

**دویم- یونس قانوني:** د حامد کرزي د مخالفو کاندیدانو په جمله کې یونس قانوني تر نورو غښتلی دی. قانوني ښه ژبور او د سیاست په رموزونو پوه دی. دی د انتخاباتو لپاره پوره مالي امکانات لري، د نظار شورا او جمیعت تنظیم یوه غوښنه برخه یې ملاتړ کوي، له پوهنې وزارت څخه یې لامخکې تر مخکې یو سیاسي وزارت جوړ کړی او د خپلې ایډیا پلوي یو زیات شمېر اشخاص یې په حساسو پوستونو کې ځای پرځای کړي، دی هیله من دی چې دا کسان به په انتخاباتو کې د ده لاس قوي کړي. دغه راز د کورنیو چارو وزارت په اړوندو ارګانونو کې هم د ده په لاس مقرر شوي اشخاص لاپر خپل ځای دي. د تاجکانو په منځ کې په اوس وخت کې دی تر هر چا زیات محبوب دی. دغه ټول امتیازونه دی ددې جوګه کوي، چې د کرزي د مخالفو کاندیدانو په منځ کې قوي دریځ ترلاسه کړي، خو ایا دا ټول ددې لپاره کافي دي چې له کرزي څخه میدان وګټي؟ په څرګند ډول ویلای شو چې نه.

ښاغلی قانوني د پورتنیو برلاسیو تر څنګ یو زیات شمېر داسې نیمګړتیاوې هم لري، چې هغه د ناکامۍ کندې ته راکاږي: قانوني د جنګ د دورې محصول کدر دی چې نه ورسره د نړیوالې ټولنې دیموکراتیکه خوا موافقه ده او نه ورسره د افغان ولس اکثریت؛ قانوني هغه شخص دی چې د کابل په تنظیمي جګړو کې یې د جمیعت او نظار شورا د یو جګ پوړي غړي په توګه فعاله ونډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیستې او کـه چېـرې د کابـل د ورانـۍ حسـاب کتـاب کېـږي، نـو قـانوني هـم لـه دغـه قـانوني حسـاب کتابـه خلاصـېدلای نـه شـي. د امریکـایي پوځونـو پـه مـټ د طالبـانو د سـقوط پـر مهـال د جمیعـت تنظیم د ملېشو له خوا د هېواد په شمال او نورو سیمو کې یو زیات شمېر افغانان ځورول شوي، بې عزتـه شـوي او جبراً مهـاجرت تـه اړ شـوي دي. د دا ډول منفـي هڅـو سلسـله هـم قـانوني او د جمیعـت نورو مشرانو پورې تړل کېـږي. پـه پـوهنې وزارت کـې هـم د ده سیمه پیز او ژبنی تعصب څرګند و. د بېلګـې پـه توګـه د (معـارف) جریـده کې په سلو کې دوه برخې پښتو هم نه وه، د ده په وخت کـې شـپاړس نیم ملیونه ټوکه درسي کتابونه چاپ شول، چې له هغې جملې څخه یوازې څلور نیم ملیونه ټوکه په پښـتو او نـور ټـول پـه دري ژبـه وو او بـس. لـه دې ټولـو خبـرو پرتـه د ښـاغلي قـانوني د ووټونـو سـاحه پـه لـومړي ګـام کـې پنجشـېر او نـورې تاجـک مېشـته سـیمې دي. د مسعودي جلال، عبدالحفیظ منصور، لطیـف پـدرام او ځینـو نـورو کاندیدانو د نفوذ ساحه هم تاجک مېشـتې سیمې دي، سـره لـه دې چې اټکل کېږي د دوی اکثره بـه د قـانوني پـه ګټـه تېـر شـي، خـو کـه کوم یو تېر نه شي، نو بیا د قانوني پر رایو منفي تاثیر کولای شي.

دغه راز د احمدشاه مسعود د کورنۍ په استازیتوب احمدضیاء مسعود که له کرزي سره رښتیا هم ولاړ وي، نـو پـه تاجـک مېشـتو سیمو کې د ښاغلي قانوني زیاتې رایې اوبه کولی شي. پـه پښـتون مېشـتې سـیمو او د نـورو لړکیـو لـه سـیمو څخـه، د یـاد وړ رایـو پـه ترلاسه کولو کې د قانوني د بري اټکل کم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دې ټولو برياوو او نيمګړتياوو سره سره قانوني تر بل هر کانديد زيات کرزي ته خطر دی، خصوصاً که انتخابات دويم پړاو ته ولوېږي او قانوني له دوستم او نورو لږه کيو سره ائتلاف وکړي، نو دا خوا نوره هم پياوړې کېږي. د قانوني غټه اشتباه اوس داده چې د تاج محمد وردګ په شان يو شخص يې د ځان مرستيال وټاکه، وردګ نه يوازې په پښتون مېشته سيمو کې محبوبيت نه لري، بلکې ټول ورسره مخالف دي، قانوني که د تاج محمد وردګ پر ځای کوم با اعتباره پښتون مرستيال ټاکلی وای، کولای يې شول يو زيات شمېر رايې راخپلې کړي، خو دې کې هم هېڅ شک نه شته چې هېڅ با اعتباره پښتون به قانوني سره دې معاملې ته حاضر نه شي.

دريم- جنرال عبدالرشيد دوستم: د جنرال عبدالرشيد دوستم د نفوذ ساحه يوازې ازبک لږکي دي، په هغو کې هم ډېر مخالفان لري، د ترکمنانو زياته برخه يې هم مخالفه ده. د انتخاباتو له لارې د جنرال دوستم واکمني يو مهال کار دی، خو دوستم کولای شي نورو ډلو او اشخاصو سره د يوه ائتلاف له لارې هغه ډله نسبتاً غښتلې کړي، امتياز هم ترلاسه کړي او خپل ځان په دې ډول په سياست کې دخيل کړي.

څلورم- همايون شاه آصفي: همايون شاه آصفي د ملت بابا اعليحضرت محمد ظاهر شاه سره خپلوي لري، که بابا پر همايون شاه آصفي د تاييد لاس راکش کړي، نو ددې احتمال شته چې په پښتون مېشته سيمو کې يو څه يا ډېر شمېر رايې راخپلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي کرزي ته سخت زيان ورسوي، خو داسې اټکل کېږي چې د ملت بابا به د پخوا په شان د هېڅ ملاتړ هم ونه کړي، که داسې وشي نو همايون شاه آصفي به د هغه تر خپل تصوره هم کښته رايې وګټي.

پينځم- سيد اسحق ګيلاني: دې کې هېڅ شک نه شته چې د ګيلاني کورنۍ په زياتو پښتون مېشته سيمو کې زيات محبوبيت او مريدان لري، خو دا محبوبيت تر ډېره کچه مذهبي دی نه سياسي، خلک اوس تر ډېره حده دا تفکيک کولای شي چې مذهبي او سياسي ارزښتونه سره بېل کړي. خو خپله سيد اسحق ګيلاني د خپل مذهبي اغېز ترڅنګ په افغانستان کې خپل سياسي نفوذ هم لري، خو دا دواړه اغېزې به يې هغه وخت لا زياتې وای چې د ګيلاني کورنۍ په سياست کې په يوه خوله وای. پير سيد احمد ګيلاني د کرزي د پلوۍ اعلان وکړ او دا کار د سيد اسحق ګيلاني د نفوذ ساحه ډېره راتنګوي نو په دې ډول سيد اسحق ګيلاني د ډېرو رايو په ترلاسه کولو کې ازاد لاس نه لري، خو که سيد اسحق ګيلاني هر څومره کمې رايې هم وګټي، د انتخاباتو په لومړي پړاو کې د دې ټول زيان حامد کرزي ته رسېږي.

د پورته يادو شويو غټو کانديدانو ترڅنګ نور کانديدان هم شته چې په افغانستان کې ډېر زيات نفوذ نه لري او د دې ليکنې د اوږدوالي له امله ورڅخه تېرېږو.

دا ليکنه په داسې وخت کې ليکل شوې، چې تراوسه لا ټول کانديدان پر خپل دريځ ولاړ دي. د دې زيات اټکل دی چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاندیدانو شمېر تر دې راکم شي، یو له بل سره ائتلاف وکړي. د واک پر وېش معامله وکړي. نا اټکله پېښې رامنځته شي. انتخابات ټال شي، د کاندیدانو له جملې څخه څوک حذف شي او داسې نور ډېر اټکلونه چې هره ورځ یې امکان شته، خو تر دې دمه چې د کاندیدانو کوم جوړښت دی او پر هېواد کومه سیاسي فضا خوره ده او که دا فضا همداسې دوام ومومي، ددې ډېر زیات احتمال دی چې ښاغلی حامد کرزی به د جمهوري ریاست د ټاکنو ګټونکی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# محمدګل خاموند

## (د خوشال د دستار سړی)

دا لیکنه د هیلې مجلې د ۱۳۷٦ل کال په ٤مه ګڼه کې خپره شوې ده.

لوی خان خوشال بابا په خپل مشهور اثر (دستارنامه) کې د یو ایډیال شخصیت، ټولنیز مشر او سیاستمدار لپاره ((شل هنرونه او شل خصلتونه)) ټاکلي دي. په دې شلو هنرونو او خصلتونو کې د ځان پېژندنې ، پوهې، شعر، سوداګرۍ، د نسب د څېړنې، د انځورګرۍ، د اولادونو د روزنې، د ښکار، د لیک او نور هنرونه او دمشورې، چوپتیا ، نارینتوب، توکل، د عدل او انصاف، د ملک انتظام، د همت او نور خصلتونه شامل دي. د خوشال په نظر حمیده خصلتونه ډېر دي خو دا شل هنرونه او شل خصلتونه داسې دي لکه سترګې، چې د چا سواد وشي. نور هر کتاب په خپله لولي. دبابا په نظر که چېرې دا هنرونه په یوه شخص کې شته شي، نو (د دستار) د تړلو لایق ګڼل کېدی شي، که نه هسې خو:

**چې دستار تړي هزار دي - د دستار سړي په شمار دي**

خوشال بابا د خپل ژوند په اوږدو کې د همداسې یو شخص په لټه کې و، خو هغه وخت لکه چې څوک د بابا د ایډیال او بشپړ شخصیت په تله پوره برابر نه شول، یوازې خپله خوشال بابا و، چې د انساني شخصیت دا پوړۍ یې وهلې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته بیا په پښتنو کې داسې شخصیتونه لکه میرویس نیکه(رح) او ستر احمد شاه بابا په پښتني تاټوبي کې وټوکېدل چې نه یوازې د لوی خان د مشرتابه د اصولو په تله برابر وو، بلکې د پر هغه ارمانونه او هیلې چې د بابا په ژوند کې پوره نه شوې، هغه دوی پوره کړې.

په شلمه پېړۍ کې لوی څښتن تعالی پر پښتنو یو بل شخصیت چې د خوشال د ایډیالونو ممثل دی، ولوراوه، دا شخصیت محمد ګل خان مومند دی، چې د خوشال د تورې او پښتونولۍ روح یې په اند، وینه او روح کې څپې وهلې. دی یو څو ګامه نور هم وړاندې لاړ او د هغه ستم ستونی یې ومروړه، چې پېړۍ پېړۍ یې زموږ ژبې ته زندۍ ور اچولې وه.

دی د خوشال غوندې هم تورزن و، هم یې پوهه لرله، هم شاعر و، هم ژبپوه و، هم ورته خپل اصل نسب معلوم و، هم د هېواد د نوي پښت پر ملي روزنه پوهېده، هم مېړنی و، هم یې د عدالت او انصاف تله په لاس کې وه، هم د ډوډۍ مار و، هم یې پر خدای(ج) توکل و او هم د ملک د انتظام پر چارو پوهېده، دی نه یوازې د ځان په روحیاتې پېژندنه پوهېده، بلکې د خپل هېواد او قوم د قومي هویت او ځانګړتیاو د ساتنې او پالنې لپاره یې بې دربغه هلې ځلې هم کولې. ده ژبه د قوم پېژندنې اساسي لامل باله، نو ځکه یې په دې برخه کې داسې ستر کارونه وکړل،چې پښتانه یې تر عمره هېرولای نه شي، ده د وخت نا پښتو ژبي پښتانه واکمنان دې ته اړ کړل، چې د هېواد د ملي او رسمي ژبې په توګه د پښتو حقوق ومني، یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوځنده ادبي بهير يې جوړ کړ، چې د ژبې د پالنې او بډاينې لپاره يې اغېزمن کارونه وکړل، ان خبره يې تر دې را ورسوله چې پښتو ژبه له يو زر کلن ستم نه خلاصه او د نورو سياله شي. ده د خپل ژوند تر وروستي بريده له پښتنو سره خپله دا مينه وپالله او د ډېر سپين ږير توب پر وخت او د ژوند په وروستيو کې يې هم، همدا ويل: "پښتو پښتو به وايم که وم وم که نه وم نه وم". دی د همدې هيلې او مبارزې په بهير کې سپين ږيرى شو، بابا شو،خو پښتو يې ځوانه کړه (ته شوې د پښتو غزله ځوان زه دې بابا کړم). دی بابا شو،خود پښتو بابا، ځکه يې نو اوس شعوري پښتانه د شلمې پېړۍ د ((پښتو بابا)) په نامه يادوي.

د يو ملي مشر لپاره د خوشال خان بابا د شلو خصلتونو په منځ کې يو هم د ملک د انتظام خصلت دی، د شلمې پېړۍ پښتو بابا د ملک په چارو، انتظام او سمبالښت کې تر هر چا زيات دقيق و، ده له نن څخه تقريباً شپږ لسيزې وړاندې د هغو زرګونو نيالګيو تر څنګ چې اوسپنيز افغان واکمن (امير عبدالرحمن خان) او ځينو نورو مشرانو له خوا د هېواد په هغو سيمو کې چې د پرديو له خوا ورته په راتلونکي کې خطرونه متوجه کېدی شول، نور زرګونه نيالګي کېنول او بيا يو وخت داسې هم راغی، چې شپېته کاله وروسته د بابا د لاس نيالګي ثمر او مېوې ته رسېدلي وو، لوی ښامار (شوروي اتحاد) له ډېرې پخوا، افغانستان ته سترګې نيولې وې، خو کله چې يې په ښکاره يرغل پيل کړ، نو ټول نيتونه يې رسوا شول، دوی لومړی د ټول افغانستان د نيولو خيال کړی و او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هندوکش غرونه يې خپله دفاعي کربنه ګڼله. په همدې وجه روسانو د لس کلنې جګړې په ترڅ کې د جګړې زيات اورونه د افغانستان په شمال- ختيځ، جنوب، لويديځ او جنوب غرب سيمو کې بل کړي وو او ورو ورو يې په شمال کې د پښتنو د تضعيف او کمونې لپاره کار کاوه، ددې لپاره يې افغان ضد او ملي ضد عناصر هم وروزل، کله چې روسان په افغانستان کې پر خپلې ماتې باوري شول، نو خپل رول او نيت يې د «اقليتونو حقوقو!» تر شعار لاندې ځينو خاصو ډلو، ډلګيو او عناصرو ته وسپارل، هغوی هم د روسانو شعار او تبليغ او د هېواد د ټوټه کولو نيتونه څرګند کړل. خو ملي مفکرين او مشران پر دې پوهېږي چې خپل هېواد څنګه له لرې او نږدې خطرونو وژغوري.

اوسپنيز واکمن امير عبدالرحمن خان او نور پر دې پوهېدل چې د روسانو د نيتونو سترګې خبرنې دي، نو ځکه يې د يو اوسپنيز مورچل په توګه له افغان قومونو يو دېوال جوړ کړ او په اکثرو هغو پولو ييزو سيمو کې چې له بهرنيو هېوادونو څخه خطر راولاړېدلای شو، ځای پر ځای کړل، پښتو بابا محمد ګل خان مومند د افغاني تولنې د لاافغاني کولو لپاره د تېرو مشرانو هيلې لاپسې وغوړولې او افغان قومونه يې سره داسې واوبدل او واوډل چې اوس يې هېڅوک جلا کولای نه شي. په اوسني سياسي، پوځي بهير کې يو مطرح شخص په يوه خصوصي غونډه کې وويل: «موږ د شمال له پښتنو څخه ډېر خوشاله يو، ځکه دوی د هېواد د تجزيې مخه ونيوله».

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو بابا نه یوازې د هېواد د جغرافیایي جوړښت په پام کې نیولو سره د قومي توازن د برابرولو په لاړ کې درنې کارنامې کړې، بلکې افغانان یې له ښاري ژوند او د سوداګرۍ له چارو سره هم ښه بلد کړي او کوم امکانات اوفکر چې هغه وخت د ده په واک کې وو، هغو ته یې ورکړي. د هېواد د اولادونو د روغې پالنې او روزنې په نیت یې هغوی ته په خپله ژبه ښوونځي جوړ کړل او په سلګونو نور علمي او ملي کارونه.

خوشال بابا همدغسې یو شخصیت د دستار لایق بولي چې خپلو خلکو او خپل هېواد ته همداسې ستر خدمتونه او سترې کارنامې وکړي، اوس له دې فاني نړۍ څخه د محمد ګل خان مومند د تګ ډېر کلونه کېږي، خو د هغه د کارنامو او لاس کېنولو نهالګیو مېوه او ثمر موږ، زموږ ژبې او زموږ هېواد ته رسېږي، نو لازمه ده چې دی د شلمې پېړۍ د پښتو بابا، ملي مفکر، غازي او د لوی خان خوشال بابا ایډیال شخصیت (د دستار سړی) وبولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د استاد رشاد سیاسي شخصیت

دا لیکنه ما د مرحوم استاد اکاډیمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد د مړینې د څلوېښتی په درناوي کړې وه او بیا د استاد په یاد د مقالو په یوه راټوله شوې ټولګه کې چاپ شوې ده.

کله چه موږ د پښتو اد بیادتو تاریخي بهیر او د افغاني ټولنې د ودې او تکامل بېلابېل پړاوونه ګورو، نودلیکوالۍ او سیاستوالۍ او لیکوال او سیاستوال ترمنځ یو



عجیب توازن او تناسب او یو پر بل باندې مقابل اغېزمو ترسترګو کېږي. امیر کروړ جهان پهلوان هم شاعر، لیکوال او سیاستوال و، پیر روښان هم لیکوال او سیاستوال و، ناز و انا او زرغونه انا هم لیکوالې او سیاستوالې وې، خوشال اود هغه ټوله کورنۍ لیکوال او سیاستوال وو. د میرویس نیکه کورنۍ هم دلیکوالۍ او سیاستوالۍ دا اصل پاللی، بي بي زینبې د یوې پخې شاعرې او سیاستوالې په توګه لاتر اوسه د تاریخ حافظه تانده ساتلې، احمد شاه بابا او د هغه کورنۍ هم د سیاستوالۍ تر څنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شاعرۍ درنه پانګه لري، خپله احمد شاه بابا د دیوان خاوند و. لنډه داچې دا بهیر له امیرکروړه یا هم ان تر هغه دمخه پیل شوی او دادی د پښتو معاصرو ادبیاتو په پیل سره لاهم نه تمېږي؛ سراج الاخبار جریدې کې اکثره خپاره شوي مطالب په هغولیکوالو پورې اړه نیسي چې هم لیکوال وو او هم سیاستوال، علامه محمود طرزي، عبدالهادي داوي، مولوي صالح محمد کندهاري او نور تول، لیکوال او سیاستوال وو. په اماني دوره کې عبدالرحمن لودین او نورو د سیاستوالۍ او لیکوالۍ دا دود وغځوه او تر سقاوي اړو دوړ وروسته، محمد ګل خان مومند د خوشال ددستار دسړي په شان د لیکوالۍ او سیاستوالۍ مزي لاپسې وپېیل او دسیاست په مټ یې پښتو ژبې او ادب ته داسې ستنې ودرولې چې تر هغه وروسته پرې زموږ د ملي ژبې اوادب ډېرې رنګینې ماڼۍ ودانې شوې، داعلیحضرت محمد ظاهر شاه په پېرکې بیا هم د لیکوالۍ او سیاستوالۍ مزي سره و نه شلیدل، د پښتو ادب پینځو ځلاندو ستورو دویښ زلمیانو د ملي سیاسي غورځنګ په جوړونه او پرمخبیونه کې اغېزمن رول ولوباوه او د ملي سیاسي افکارو په پنځونه او خورونه کې یې کارنده ونډه واخیسته.

استاد عبدالشکور رشاد هم دپښتو ادبیاتو د شپږم ستوري په توګه دویښ زلمیانو په ملي سیاسي غورځنګ کې د فعالې ونډې له امله همدا دود و پاله او دو لسواکۍ په لسیزه کې دملي مترقي دیموکرات ګوند دنشراتي ارګان(مساوات) جریدې د امتیاز خاوند په توګه یې د عملي سیاست او لیکوالۍ ترمنځ اړیکي وساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو د معاصرو ادبياتو د ټول پېر په ګډون ، له امير کروړه رانيولې بيا تر ۱۳۵۲ تر ۱۳۵۷ کلونو پورې ټوله موده کې په عملي او نظري سياست کې د ليکوالو ګډون د ملي افکارو د خورونې ، د ملي وياړونو د انځورونې او ملت جوړونې سبب شوي او پر يوه مستقيم خط يې همدغه ملي ارمانونه پاللي او تعقيب کړي دي.

يانې دا مهال سياسي ملي وفادارۍ په اسانۍ سره د اختناق او امتياز پر وړاندې خپل لوری نه بدلاوه.

ځکه نو که چا دا مهال سياسي ليکوالي هم کړې، اکثره يې په ولس کې مثبت او ګرانښت لري. تر ۱۳۵۷ ل کال وروسته چې په هېواد کې سياسي بحران رامنځته شو، نو ورسره سم د سياسي باور او سياسي وفادارۍ د ادلون بدلون کړکېچ هم رامنځته شو . همدغه وخت سياسي ليکوالۍ يا سياستوالوليکوالو د اکثرو ليکنو تګلوری هم وخت پر وخت بدل شو .

همدا مهال د ولس پر ذهن د سياسي ليکنو پر وړاندې د بې باورۍ فضا خوره شوه. د وخت غوښتنې، د نظامونو د اختناق او امتياز فشارونو هم اکثراً مطرح ليکوال دې ته اړ وېستل، چې د يو او بل لوري په ګټه ليکنې وکړي او هم ځان په مستقيم ډول له عملي پلوه د هغوی په ليکه کې ودروي.

خو استاد عبدالشکور رشاد د وينښ زلميانو له پاخه ملي سياسي تحريك څخه هغه پخه ستېه وه چې دا مهال لا پر خپل ځای او خپل دريځ ولاړه وه. استاد نه يوازې د افغانستان، بلکې د سيمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کچه داسې يوه درنه علمي او اکاډيميکه څېره وه، چې هر نظام ته د تائيد سرخوځونه او اشاره يې هغه نظام ته د مشروعيت د ښنې مانا لرله. دا په داسې حال کې وه چې تر ۱۳۵۷ ل کال وروسته ټول نظامونه د مشروعيت له همداسې يو ستر چلينج سره مخامخ وو. خود هېڅ نظام واکمن پر دې بريالي نه شول چې د زور او زرو په مقابل کې د استاد له علمي او سياسي وزن څخه د خپل نظام د مشروعيت لپاره ګټه پورته کړي.هر نظام چې په کابل کې واکمن و، يو ځل يې ضرور مغرور مشرتابه د استاد د فقير خانې ور ټکولای او په خپل نظام يې کې استاد ته د لوړ منصب دور کړې بلنه ورکړې.

خو هغه هېڅکله د امتياز دې ډول خوړلنيو ته د خپل احساس سر ټيټ نه کړ. ان تر دې چې يو وخت استاد په علمي او اکاډيميکو اداروکې د خپل پخواني ماموريت له دوام څخه هم ډډه وکړه او دکار دا ډول دوام يې هم دنظام مشروعيت او هغه ته د ګټې رسونې په مانا انګېره. يوه غوره بيلګه يې هم په شپېتمو کلونو کې د وخت د حکومت له خوا داکاډميسين او کانديد اکاډميسين علمي رتبو ورکړه وه، حکومت استاد لومړي علومو اکاډمی ته راوبوله، خو هغه دا بلنه ونه منله، بيا يې ددې علمي رتبې لپاره دخپلو سوانحود ور لېږلو بلنه ورکړه، خواستاد بيا هم خپلې سوانح ور ونه لېږلې، نو د وخت حکومت مجبور شو، چې دهغه سوانح دهغه ماموريت له اسنادو څخه تر لاسه کړي او دا علمي رتبه کورته ورولېږي. دوخت حکومت دالوربينه د زړه له تله نه وه، د مجبوريت

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مخې وه، ځکه چې دا مهال دټول هېواد په کچه تر استاد رشاد لوړه علمي ستړه نه وه، نو که حکومت استاد ته دا علمي پوړۍ نه وای ورکړې، نو تر هغه ټیټو کسانو ته د دا ډول علمي رتبوور کول په اتومات ډول خپل مشروعیت له لاسه ورکاوه.

دتنظیمي واکمنۍ پرمهال یو ځل بیا واکمنو داستاد احساس او ملي وزن دازموینې په تله کې واچوه، دامتیاز او اختناق له دوارو میتودونو څخه یې کار واخیست، خو استاد یې له خپل دریځه یوساتې متر هم ونه خوځوه، همدا مهال، چې کابل په وینو او د اور په لمبو کې لمبول کېده، دملګرو ملتو او ځینو افغانانو له خوا به افغانستان ته دپخواني پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه دبېرته راتګ یونیم غږ پورته کېده، اکثرو وسلوالوتنظیمونو په تېره بیا مغرورو بنسټپالو تنظیمونو به په یوه خوله دهغه دراتګ مخالفت کاوه، همدا مهال استاد دهمدې بنسټپالو ترټولو سرتمبه مشر ته یو لیك ولېږه او په هغه کې یې لیکلي وو، چې له اعلیحضرت سره مخالفت نه ستا په ګټه دی او نه دملت. داعلیحضرت په رد کې باید تاسو له ډېر تعقل څخه کارواخلئ، نه له احساساتي چلند څخه، استاد په دې لیك کې ددې تنظیمي مشر دمخالفت له امله اوږدو احتمالي ملي او قبیله یي جنګونو ته هم په پرده کې اشاره کړې وه، خو هغه وخت هغه تنظیمي مشر استاد په قبیله یي فکر او خولو کې ډوب وباله او ویې ویل چې ما فکر نه کاوه چې استاد رشاد به هم قومیت پالي. لس کاله وروسته بیا داسې وخت راغی، چې همدا بنسټپال دکابل هوایي ډګرته داعلیحضرت هر کلي لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورغلل او بیا وروسته یې دهغه لپاره مجللې مېلمستیاوې هم وکړې. خو استاد بیا په دې هرکلي او مېلمستیاوو کې ګډون ونه کړ. ترتنظیمي اختناق او اړو دوړ وروسته دیوه بل اختناق لړۍ پیل شوه، دطالبانو نظام پرکابل او دهېواد په زیاتو سیمو واکمن شو، دهېواد دملایي اوتحصیل کړي قشر ترمنځ یو غټ درز او تضاد رامنځته شو، هېڅ داسې څرك او څراغ نه لیدل کېده، چې له دې درز څخه هېواد ته دراپیدا کېدونکي خطر دمخنیوي لپاره هڅې وکړي او د طالبانو داغزن چاپېریال او چلند په مهارولو او کنټرول کې مرستندوی او دهغوی د فشار دکمولو سبب شي. طالبانو دا مهال دهېواد ټول روشنفکره او تحصیل کړی پاړکی دنابودۍ له ګواښ سره مخامخ کړی و، استاد په ډېر دقت سره ددې خطر مخنیوي ته راودانګل او د افغانستان په علومو اکاډمۍ کې یې دپخواني ماموریت د بیا ژوندي کولو له لارې وغوښتل د طالبانو او روشنفکره قشر ترمنځ دیوه پله حیثیت غوره کړي، استاد ددې ملي خطر دکمولو لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې، خو کله چې یې ولیدل باران پر کاڼوباندې اثر نه کوي او طالبانو دخپل سپوره منطق له اسه نه کوزیږي، نو خپله لاره یې بېله کړه، طالبانوته داستاد ملي دریځ هغه وخت لاښه پسې څرګند شو، چې په اطلاعاتو او کلتور وزارت کې، دیو جوړ شوي سیمینار په ترځ کې، دیو اغزن طالب چاروا کي له خوا دوینښ زلمیانو په غورځنګ کې دګډون له امله پر استاد دګناه پېټی بار شو، خو استاد دهغه بحث په ترځ کې په ډېر افتخار او جرئت سره ورته وویل: "هو! زه وینښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زلمی وم، ویښ زلمی یم او ویښ زلمی به یم" دې خبرې سره د سیمینار طالب او ناطالب برخوال هك حیران شول او استاد له سیمیناره دکور پر لوري رهي شو. اوس چې د طالبانو د وهم او اختناق ښامار وژل شوی، کېدی شي ځینو خلکو ته دا یوه معمولي خبره ښکاره شي، خو هغه چا چې د طالبانو په اغزنې واکمنی کې شپې ورځې تېرې کړي، هغوی ته د استاد دا حرکت د سیاسي او اخلاقي جرئت یوه شهکاره بېلګه ده.

کله چې د طالبانو مشر په هېواد کې د یو ستر فرهنګي جرم د سرته رسونې (د بامیانو د تاریخي بتانو د ماتولو) فیصله وکړه، نو استاد په همغو شپو ورځو کې د طالبانو مشر ملا محمد عمر ته یو لیك ولېږه، په لیك کې په واضح ډول او په ټینګه غوښتنه شوې وه چې د دې تاریخي اثارو ړنګونه افغانستان ته یو نه جبرانېدونکی زیان دی او خپله طالبانو ته یې هم عواقب ښه نه دي. یو زورور واکمن ته د قدرت د اوج پر مهال د دا ډول ځرګند لیك لېږل، یوازې د استاد رشاد غوندې د پخې ارادې خاوند کولای شي او بس.

کله چې طالبان د قدرت له نیلي را وغورځول شول او یو ځل بیا یې زړو ازمایل شویو ځای ونیو، نو یو ځل بیا د استاد رشاد جونګړې ته د کورنیو او بهرنیو واکمنو بهیر ورمات شو. تر دې وروسته د لنډ مهالې ادارې له مشر نه نیولې بیا تر دویم او دریم لاس چارواکو ټولو له استاد څخه په دولت کې د ګډون هیله وکړه، خو استاد بیا هم د قناعت پر تخت ناست و، څوکۍ او مقامونه ورته د بادېنکې ښکارېدل، همدا مهال د ملګرو ملتونو ځانګړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

استازي لخدار براهيمي هم د استاد کورته، په حکومت او روانه سياسي پروسه کې، دهغه دګډون لپاره، هغه ته ځانګړې مراجعه وکړه، خو استاد دلخدار براهيمي بلنه ونه منله. دا د استاد دعملي سياسي شخصيت څو بېلګې وې، چې په لنډيز سره ورته اشاره شوه، په نظري سياست کې دهغه په بېلابېلو ليکنو خصوصاً په شعرونو کې دهغه د شخصيت انځور په ډېر ښه ډول ليدلای شو، که په عملي او نظري سياست کې داستاد د برخې اخيستنې ټولې بېلګې موږ په دقت سره له نظره تېرې کړو، نو په څرګند ډول به راته جوته شي، چې استاد د خپلې ليکوالۍ يا فکري بلوغ له پيله بيا تر ابدي سفر پورې يو مستقيم ملي سياسي خط تعقيب کړی او هېڅکله هم اختناق او امتياز پردې نه دی بريالی شوی، چې دی له خپل ملي، هوډ، دريځ او لارې واړوي، او يا يې هم په سياست کې پر منحني او منکسرې کرښې تګ ته مجبور کړي، دسياسي شخصيتونو په ارزونه کې د زمان او مکان حالات، داختناق او امتياز د فشار دوه غټ فکتورونه ډېر مهم دي، هر سياسي يا فرهنګي شخص چې دوخت له حالاتو سره پر وخت مبارزه کړې، داختناق او امتياز د فشار له دواړو حالاتو څخه بريمن راووځي، نو دا ډول شخصيتونه مثبت ګڼل کېږي او دعامه منښت او ګرانښت جوګه ګرځي او ان دروحانيت مرتبې ته رسيږي. زما په نظر استاد رشاد له سياسي پلوه همداسې يو شخصيت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښځو حقوق شعار دی که ضرورت؟

دا لیکنه د ناهید مجلې په لومړۍ ګڼه کې چې د ۱۳۸۱ل کال له (زمري-تلې) سره سمون خوري، چاپ شوې ده.

په افغانستان کې داسې یو دود چې شعارونه یو ډول وي او عملونه بل ډول، نیتونه صفا وي، خو تدبیرونه کمزوري او نیمګړي، وینا خوږه وي خو عمل تریخ، لباسونه سپین وي خو زړونه او فکرونه تور او تیاره، داسې ډېر کم خلک او کمې سیاسي ډلې لیدل شوي، چې شعار او وینا یې له عمل سره سمون خوري، له همدې کبله اوس شعارونو خپل ارزښت له لاسه ورکړی او خلکو ته ستړیا پېښوي، پر سیاسي ډلو هم د خلکو باور کمزوری شوی، د خاین او خدمتګار مفاهیم هم کله کله یو د بل پرځای کارېږي. د اعتماد او باور په دغسې یو بحراني حالت کې که څوک ډېر ښکلي او شفاف (رانه) شعارونه هم ورکړي او د عملي کولو لپاره یې هم د زړه له تله هڅه و هاند وکړي، نو بیا به هم د ډېرو خلکو باور ځکه راخپل نه کړای شي، چې تر دې دمخه د شعار او عمل د انطباق څېره ربړه نه ده تېره شوې. ((د ښځو حقوق)) اوس په افغانستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغسې یوه موضع ده. ښځې په افغانستان کې له کلونو څه چې له پېړيو راهیسې له خپلو اکثرو حقوقو څخه بې برخې وې او د طالبانو په واکمنۍ کې خو بیا د ښځو پر حقوقو داسې چاړه راکاږل شوه، چې هېڅ ځانګې یې خپل سر نه شو پورته کولای، ددغه کرکجن او تاوجن اختناق تر ختمېدو وروسته یو دم د ښځو د حقوقو مسئله دومره ګرمه شوه، چې اوس د ښځو څه چې ان د جهادي ملایانو په خوله کې هم د ښځو د حقوقو مسئله اوري را اوري، روښنفکران او دیموکراتان خو لا پرځای پرېږده، هغوی خو وايي چې دا خو زموږ د مبارزې اساسي برخه ده، د طالبواکۍ تر رنګېدو وروسته په هېواد کې یوه تر ټولو ګرمه مسئله همدا د ښځو د حقوقو موضوع ده، اوس د ښځو د حقوقو د ترلاسه کولو او دفاع لپاره نه یوازې خپلواکې ټولنې جوړې شوې، بلکې ځینې انجیوګانې هم په دې برخه کې د شعار او عمل تر بریده کار کوي او دولت هم د ښځو د چارو لپاره یو ځانګړی وزارت جوړ کړی دی.

دا طبیعي خبره ده چې شعارونه ډېر شي، عملونه کمېږي، اوس یو ځل بیا د ازمون وخت رارسېدلی دی، اوس به معلومېږي هغه ټولنې، دولتي او نا دولتي موسسې چې د ښځو د حقوقو شعارونه پورته کوي عملاً یې د ښځو د ژوندانه د ښه والي لپاره څه کړي او څه کوي؟

ایا یو ځل بیا خو به تېره تجربه نه تکرارېږي، چې عملونه تر شعارونو قربان شي او یو ځل بیا د بې باورۍ فضا رامنځته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې کې هېڅ شک نه شته چې ښځه د ټولنې نیم بدن دی، هر کله چې په ټولنیز، سیاسي او عملي ډګر کې د ښځو فعال ګډون محسوس نه وي، نو دا ددې مانا لري چې نیمه ټولنه فلج او له فعالیته غورځېدلې ده.

ښځې له نارینه سره برابر حقوق لري او دواړه باید له خپلو ټولو حقوقو برخمن شي، که یو نارینه د ژوند، زده کړې او د بیان له ازادۍ څخه برخمن وي او د ټولنې د یو متمدن انسان په توګه وده وکړي، نو هغه هېڅکله د ښځو د حقوقو مخالفت نه کوي، که څوک غواړي په افغاني ټولنه کې په اسانۍ سره ښځې له خپلو حقوقو برخمنې کړي، نو ښه لاره یې داده چې د نارینه او ښځو حقوقو ته د وخت او ځای له پلوه په موازي ډول کار وکړي، ځکه که یوه خوا هم له خپلو حقوقو بې برخې شي، پر بله خوا ناوړه اغېز کوي، اوس په ټولیز ډول د ټولو افغانانو او په تېره بیا د ښځو د حقوقو د ترلاسه کولو لپاره د پخوا په انډول ډېر ښه شرایط برابر شوي، له دې حالاتو څخه باید ښه عملي او مثمره ګټه پورته شي.

د ښځو د حقوقو ترلاسه کول په واقعیت کې د ټولنې یو ستر ضرورت دی، دا اړتیا باید پوره شي او افغان مېرمنې له خپلو ټولو حقوقو څخه برخمنې شي، خو دې ټکي ته مو باید ژور پام وي، هسې نه چې ښځې په دې شعارونو کې ښکېلې ورکې شي، یو ځل بیا تېرې تجربې تکرار شي او بیا هم په ټولنه کې د بې باورۍ فضا رامنځته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهران په کابل کې

> دا لیکنه د طالبانو تر ړنګېدو وروسته په افغانستان کې د ایران زیات واک وځواک په باب د اندېښنې په توګه لیکل شوې وه، په هوسۍ او ښکلا مجلو کې چاپ شوې هم ده او دادی دلته یې یوځل بیا قدرمنو لوستونکو ته وړاندې کوو:

هسې خو له پېړیو او په تېره بیا له لسګونو کلونو راهیسې پر افغانستان د ایران کلتوري تاثیرات موجود و، خو په کابل کې د اسلامي جمیعت او پر ځینو برخو د وحدت ګوند د نیمواکه واکمنیو په بهیر کې دا تاثیرات لاپسې جوت او څرګند شول، د اسلامي جمیعت مشر خو په ایران کي افغانستان او ایران یو ژبي هېوادونه وګڼل او له ایران څخه یې د زیات فرهنګي او ژبني اغېز شیندني هیله وکړه، د وحدت ګوند بنسټ خو هسې هم په ایران کې ایښودل شوی، ریښې یې هم له هماغه ځایه خړوبېدلې او خړوبېږي، ځکه خو یې تر هرڅه زیات ځان د امام خمیني د خط پیروان ګڼل او ایران پالنه یې خپله اصلي دنده شمېرله، د ایران فرهنګي، ژبني، مذهبي، اقتصادي او سیاسي تاثیرات هغه وخت لاپسې زیات شول چې د طالبانو حکومت د امریکایي پوځونو په لاسو ړنګ او واک یو ځل بیا اسلامي جمیعت، ملي اسلامي جنبش او اسلامي وحدت ګوند، چې درېو واړو ته د ایران مرستو د نوش دارو حیثیت درلود،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسته ورغی. لکه څنګه چې د افغان-شوروي په جګړه کې د جګړې درونـد زیـان شـوروي اتحـاد او پـه خپلـه افغانسـتان وزغمـه، خـو امتیاز یې نورو هېوادونو په تېره بیا پاکستان واخیست. دغسې د طالبـانو د سقوط بـار د امریکـا متحـده ایـالاتو او نـورو هېـوادونـو اوچت کړ، خو ګټه پـه کـې تـر هرچـا زیاتـه ایـران وکـړه. د اسلامي جمیعت او وحدت ګوندونو ځواکونـه چـې کابـل تـه د طالبـانو تـر سـقوط وروسـته سـم لاسـې داخـل شـوي وو، د حکومـت اکثـره حساسې، فرهنګي، سیاسي، اقتصادي او تخنیکي څوکۍ یې اشغال کړې، آن د هېواد نږدې اکثره بهرني روابط او استازي هم د ایران پلوه ډلو تر کنټرول لاندې راغلل. د هېـواد پـه غـرب کـې داسـې ایران پلوه اشخاص یو ځل بیا واکمن شول، چې کلونه کلونه پرې ایران خپله پانګه لګولې وه، ایران په افغانستان کې د حکومت لـه دغه حالت نه د خپلو ملي او سیاسي ګټو لپاره اعظمي ګټه پورته کړه او په لسګونو ډوله قراردادونه یې لـه افغـاني اړخ سره لاسلیك کـړل، دا قراردادونـه خصوصـاً د فرهنګـي ((همکـارۍ)) قراردادونه داسې وو، چې د ایران په ګټه او په مجموع کې د افغانستان په زیان تمامېدلای شول.

ایران تر دې حده د افغانستان په کورنیو او ملي چارو کې دخیـل شو چې د اسلامي جمیعت طرحه شوی سرود چې په افغانسـتان کـې اوس په وچ زور د ((ملي سرود)) په نامه غږېږي، په ایران کې کمپـوز شـوی او موزیکـال شوی دی. پـه فارسي ژبـه د افغانسـتان پـه ملي سـرود کـې د ایـران خاصـه لېوالتیـا ده، کلـه چـې حامـد کـرزي تـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنیو چارو په وزارت کې د احمدشاه مسعود د لوی عکس تر چتر لاندې د قدرت د انتقال مراسم ترسره کېدل، نو د جمیعت سرود ته د احترام په خاطر ټول ګډونوال پورته کړای شول، د ایران د بهرنیو چارو وزیر هم د دې غونډې یو واکمن مېلمه او یو ویناوال و، ده د خپلو خبرو په ترڅ کې د دې سرود ډېر توصیف وکړ او ویې ویل چې دی یې تر ډېر تاثیر لاندې راووست، کله چې حامد کرزي ته واک ولېږدول شو، نو داسې تصور کېده چې د ایران واک او اغېز به د حکومت په دننه کې ورو ورو راکم شي، نه یوازې داسې و نه شول، بلکې خبره نوره هم بدتره شوه، ایران د خپل اغېز مزي نور هم وغځول او داسې وخت هم راغی چې کرزي صیب د شېخ محمدآصف محسني پر وړاندیز او غوښتنه د کابل حبیبیې لېسې ته مخامخ یوه ساحه د یو لوی فرهنګي او علمي مرکز جوړېدو لپاره د ایران په واک کې ورکړه.

عجیبه خبره دا ده چې دا ساحه د خوشال بابا د لېسې ملکیت و، یانې لیلیه وه چې کلونه کلونه ترې افغانانو ګټه پورته کړې، پرته له دې چې د چا ملکیت او حقوقو ته پام وشي او یا هغه معوضه شي دا ملکیت د ایران پلوه ډلو په واک کې ورکړل شو، اوس ایران په دې سیمه کې د یو لوی کمپلیکس د جوړولو کار بشپړ کړی دی او په نږدې راتلونکي کې به د ګټې اخیستنې لپاره تیار شي.

دا به په افغانستان کې د شیعه ییزم د پراختیا او د مذهب تر پردې لاندې د ایران د پراختیا غوښتنې یو اساسي مرکز وي، چې هر کال به په سلګونو تنه د مشخصې مذهبي زدکړې تر څنګ د ټاکلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موخې په پام کې نیولو سره سیاسي زدکړې محصلین روزي، دا کار به په افغانستان کې نه یوازې قومي ستونزې راولاړې کړي، بلکې د مذهبونو ترمنځ به د ټکر یوه اساسي وسیله هم شي، د دې پر ځای چې د مذهبونو ترمنځ تفاهم او پوهاوی رامنځته شي او د اختلاف وړ ټکي په مذاکره او مناظره حل شي، اختلافات به نور هم ژور شي او بیا به ورو ورو فزیکي ټکر ته لاره اواره کړي، دا نه کنټرولېدونکې احتمالي پېښې په داسې حالاتو کې رامنځته کېږي چې د افغانستان په نوي اساسي قانون کې د حنفي مذهب او جعفري مذهب دواړو د رسمیت خبره هم په ابهام کې تېره شوې ده. په افغانستان کې د حنفي مذهب ژورې او عصري زدکړې نه شته او که څه هم دي، نو هغه په کلیوالو نا رسمي مدرسو کې له دودیزو کلتوري او فتاوي مسایلو سره د امتزاج له مخې ترسره کېږي، چې د پاخه منطق ستنې نه لري. په هند، پاکستان او ځینو نورو اسلامي هېوادونو کې چې د احنافو مدرسې او پوهنتونونه دي، هغو ټولو ته د سني مذهبه افغان طالبانو لاس رسی نه شته، یوازې د پاکستان د احنافو په مدرسو کې افغان طالبانو ته د زدکړې یو څه نا څه امکانات شته، چې هغه هم په منظم او سیستماتیک ډول نه دي او له کوم ځنډ او خنډ پرته یې څوک تر پایه پورې نه شي تعقیبولای. د افغانانو لپاره د پاکستان په دیني مدرسو کې یوه بله ستونزه هم شته او هغه دا چې هلته مذهبي زدکړې څه نا څه د داسې سیاسي اغېزو تر سیوري لاندې دي چې همېشه یې د افغانستان ملي ګټې زیانمنې کړې دي. نو که هلته څوک مذهبي زدکړې ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم کړي، له سیاسي پلوه د افغانستان د ملي ګټو د زیان په بیه تمامېږي. بله خوا چا چې د ایران په دیني مدارسو کې زدکړې کړي، هغه د شیعه ییزم تر څنګ د ایران پالنې روحیه هم پالي. اوس چې د ایران سیاسي لاسونه د هېواد تر زړه (کابل) پورې غځېدلي، نو په افغانستان کې د ایران پالنې او ایران خوښونې روحیه نوره هم پیاوړې کېږي. د ایران د سیاسي مذهبي اغېز ترڅنګ د هغوی بله اساسي جبهه هماغه ژبنۍ او فرهنګي هغه ده، چې د اوسني حکومت په دننه کې د واکمنو فرهنګي او سیاسي چارواکو په ملګرتیا پر مخ بیول کېږي، ځیني ازادې ملت ضد خپرونې چې له بهرنیو سرچینو څخه خړوبېږي، هم په دې بهیر کې د ایران پالنې روحیه تعقیبوي. د ایران په لمسه په خپله د دولتي او نا دولتي خپرونو له خوا د افغانستان پر دودیزې ملي ترمینالوژۍ (اصطلاحاتو) څرګند یرغل، خپله د افغانستان له اساسي قانون سره ډاګیز مخالفت دی. کله چې څوك د افغانستان دولتي ټلویزیون، افغان ټلویزیون، طلوع، آیینه ټلویزیون او نور ګوري، نو د ګڼو ایراني اصطلاحاتو په کارولو سره فکر کوي، چې دا د ایران محلي ټلویزیوني چینلونه دي. عجیبه ده داسې شپه هم راغلې چې له دې یادو څلورو ټلویزیوني خپرونو څخه یو وخت څلور بېلا بېل ایراني فلمونه خپاره شوي، نو هلته له خلکو سره دا پوښتنه پیدا کېدله چې دا ټلویزیونونه لکه چې ایرانیانو ټېکه کړي که څنګه؟ د افغانستان د اطلاعات او کلتور وزارت خو له خپل نامه څخه نیولې بیا تر خپلو امکاناتو پورې تر زیاته بریده په خپل قدرت، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایـران پـالنې پـه چـوپړ کـې دی او د دې وزارت وزیـر ښـاغلي سـید مخدوم رهین خو ان د افغانستان له ملي ترمینالوژۍ څخه هم منکر دی او ویل یې: ((موږ اصلاً ملي ترمینالوژي نه لرو)). ایران په داسې حـال کـې چـې پـه افغانسـتان کـې د کلتـوري، مـذهبي او سیاسـي یرغلونو له لارې زیاتې بریاوې ترلاسه کړي، پـه اقتصـادي برخـه کـې هم تر هر چا دمخه دی. افغانسـتان د ایراني شیانو، نفتـو او نـورو تولیداتو لپاره تر ټولو ښه مارکیټ دی او په دې برخه کې نږدې دی چې لـه پاکسـتان او چـین څخـه د افغانسـتان اقتصـادي بـازار خپـل کـړي. ایـران نـه یـوازې د پاکسـتان پـه انـډول د نسـبتاً ښـو شـیانو د تولید له لارې د افغاني بازارونو د را خپلولو په حال کې دی، بلکې د حکومت په داخل کي د سیاسي نفوذ لـه لارې یې هم د دې زمینـه ځان ته برابره کړې، چې ډېر اقتصـادي قراردادونـه د ځـان پـه ګټـه را خپـل کـړي. هوټلونـه جـوړ کـړي، هـوایي شرکتونه پرانیـزي او د لـوړ پوړو ودانیو د جوړولو قراردادونه وکړي. ایران په مجموعي ډول پـه افغانستان کې د لویو اقتصادي تاسیساتو د جوړونې مخالف دی، چـې لـه هغـې جملـې لـه ترکمنسـتان څخـه د افغانسـتان لـه لارې پاکسـتان او بیـا نـورو هېوادونـو تـه د غـازو او تېلـو نللیکـې غځـول دي، ایران غواړي دا نللیکه د ایـران لـه لارې تېـره شـي او اقتصـادي ګټـه یـې ایـران تـه پـاتې شـي، پـه همـدې وجـه پـه افغانسـتان کـې د مشخصـو سیاسـي اتنیکـي او پـوځي ډلـو ټېلـو د تقـویې لـه لارې د افغانستان سیاسي وضعه بې ثباته ساتي. لنډه دا چې اوس ایران د افغانستان په چارو کې په هر اړخیز ډول دخیل دی او که د خلاصون

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه دقیقه لاره یې و نه لټول شي، نو د روسیې او پاکستان په شان به د افغانستان د تباهۍ سبب شي. د افغانستان دولت ته په کار ده مخکې تر دې چې خبره د بحران حد ته ورسیږي د ایران د مذهبي، کلتوري، سیاسي او اقتصادي اغیز د کمولو لپاره یو دفاعي سیستم او حل لاره ولټوي او بیا هغه عملي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه



محمد اسمعیل یون د حاجي محمدخان زوی پـر ۱۳۴۲ل کال، د لغمان ولایت د الینگار ولسوالۍ دنیازیو په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی.

لومړنۍ زده کړې یې د الینگار ولسوالۍ د سلینگار په لومړني ښوونځي کې سرته رسولي دي، تر هغه وروسته کابل ته راغی او په خوشال خان لیسه کې شامل شو. پر ۱۳۶۲ل کال له نوموړې لیسې څخه په دویم نومره بریالی او پر ۱۳۶۷ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې محصل شو. پر ۱۳۷۰ل کال له نوموړې څانګې څخه اول نومره بریالی او پر همدې کال بېرته دپښتو څانګې د کدر غړی شو. پر ۱۳۸۵ل کال په نوموړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګه کې د ماسترۍ دوره پیل شوه، یون په ډېر ښه او بریالي ډول دا دوره پایته ورسوله.

محمد اسمعیل یون له ۱۳۷۰ ل کال څخه بیا تر ننه پورې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي تدریسي غړی او د ((پوهندوی)) علمي پوړۍ ته رسېدلی دی، پر استادۍ سربېره، استاد یون د ((کابل پوهنتون))، ((هیلې)) او ((شمشاد)) مجلو د چلوونکي دنده هم په ښه ډول ترسره کړې ده. په پېښور کې د چاپېدونکې ((معارف)) مجلې کتونکی غړی هم و. همدارنګه د یو شمېر نورو چاپي خپرونو همکار هم پاتې شوی دی.

استاد یون پر ۱۳۸۱ل کال، په جلال اباد کې بېړنۍ لویې جرګې ته د ختیزو ولایتونو د انتخاباتو د دفتر مشر شو، د دې جرګې لپاره تر ټاکنو وروسته د جرګې غړی، بیا د جرګې د غړو له خوا د بېړنۍ لویې جرګې د لومړي منشي په توګه انتخاب شو. استاد یون په دې جرګه کې تر خپل وروستي وسه خپل ملي او تاریخي مسولیت ادا کړ او د هېواد دښمنه عناصرو د توطیو مخه یې ونیوله.

تر دې جرګې وروسته، کله چې د افغانستان د اساسي قانون د تدوین بهیر پیل شو، نو استاد یون بیا د دې بهیر لپاره د ختیزو ولایتونو د دارالانشاد دفتر مشر وټاکل شو. په ختیزو ولایتونو کې د اساسي قانون د لویې جرګې لپاره انتخابات هم د همدې دفتر له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا ترسره شول.استاد یون د اساسي قانون د تصویب په لویه جرګه کې د نوموړې جرګې د دارالانشا د غړي په توګه خپل فعال رول ادا کړ. ټاکل شوې وه، استاد یون په ختیزو ولایتونو کې د افغانستان د جمهوري ریاست لپاره د عمومي ټاکنو د دفتر مسول شي، خو په کابل کې د لویو جنګسالارانو او ځینو تنظیمي مشرانو له خوا پر حکومت او ملګرو ملتونو د زیات فشار له امله له کاره ګوښه شو.ملګرو ملتونو(UNAMA) استاد یون ته وړاندیز وکړ، چې په کابل کې به تر دې لوړه دنده دروسپارو، خو استاد یون ونه منله او خپلې استادۍ ته یې دوام ورکړ.

درې کاله وروسته یې د ځینو ملګرو په زیات ټینګار او غوښتنه، د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا په دفتر کې د فرهنګي چارو د ریاست دنده ومنله او په کابل پوهنتون کې پر استادۍ سربېره لاتر اوسه دا دنده پر مخ وړي.استاد یون پر ۱۳۸۵ل کال د افغانستان او پاکستان د امن ګډې جرګې لپاره د افغانستان له خوا د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یې هم په ښه ډول ترسره کړه.

استاد یون د خپلواک لیکوال په توګه په تېرو شلو کلونو کې ګڼ شمېر فرهنګي او ټولنیز خدمتونه ترسره کړي، په ګڼو چاپي، راډیويي او ټلویزیوني مرکو کې یې د واقعیتونو او حقایقو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرګندبیان له امله د خلکو په زړونوکې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي. د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د استاد یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. زه ددې شاهد یم، هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي، منفي غبرګونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرګونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو استاد یون په دغسې سختو اغزنو او تنګو شرایطو کې بیا هم خپل فرهنګي، سیاسي او ټولنیز کار ته دوام ورکوي.

دا اوسنی فرهنګي کار، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول ګورئ، دا د تېرو شلو کلونو کارونه دي، چې له تېر یو نیم کال راهیسې پرې په منظم ډول کار شوی، اوډل شوي او دادی ستاسو مخې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اېښودل کېږي، په داسې يو دولتي دفتر کې چې بوختياوې په کې ډېرې وي، د منظم او ستر فرهنګي کار سرته رسول اسانه کار نه دی.استاد يون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی،په پېښور کې يې د دوو المان مېشتو فرهنګي ټولنو «دافغانستان د کلتوري ودې ټولنې» او«د پښتني فرهنګ د ودې پراختيا ټولنې» د همکار په توګه د بېلابېلو ليکوالو په لسګونو اثار، ايډيټ او چاپ کړي دي. دغه راز يې په سلګونو کورنيو مشاعرو، ادبي غونډو او سيمينارونو کې ونډه اخيستې ده، خپله يې هم په لسګونو مشاعرې،سيمينارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

سربېره پر دې، په يو زيات شمېر، ملي او نړيوالو کنفرانسونو کې يې په ښه ډول د خپل هېواد استازي کړې ده. دلته به يې د اثارو يادونه وکړو:

## اثار

### الف- پنځونې:

| کتاب نوم | څرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • متېکور | لومړۍ شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • په اورونو کې سندرې | دويمه شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |

### ب- راټولونې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هیلې | ګډه شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷
- نیمګړې ارمانونه | د حیران شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷
- د لوونو فصل | ګډه شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷
- د نازو انا یاد | د سیمینار د لیکنو ټولګه | دویم ۱۳۸۷
- د استاد الفت نثري کلیات | داستاد الفت نثرونه | درېیم ۱۳۸۷
- سیندونه هم مري | د اسحق ننګیال شعري منتخبات | دویم ۱۳۸۷

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه
  دپوهنوال روستارتره کي اثر | دویم ۱۳۸۷
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه
  د نینسي دوپرې اثر | دویم ۱۳۸۷
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه
  د پوهنوال روستار تره کی اثر | دویم ۱۳۸۷

## د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر | د اماراتو یونلیک | دویم ۱۳۸۷
- که یون دی یون دی | د اروپا یونلیک | لومړی ۱۳۸۷
- دپنټاګون ترڅنډو | د امریکا یونلیک | لومړی ۱۳۸۷

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمدګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه | دویم ۱۳۸۷
- استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری | دویم ۱۳۸۷
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود | دویم ۱۳۸۷
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه | دویم ۱۳۸۷
- د پښتو شعر هندسي جوړښت | شپږم ۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل دویم ۱۳۸۷
- ساینسي پرمختیاوې دویم ۱۳۸۷
- ببرڼۍ لویه جرګه ولسواکي او زورواکي دویم ۱۳۸۷
- اندیال خوشال لومړی ۱۳۸۷
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې لومړی ۱۳۸۷
- کلتوري یون لومړی ۱۳۸۷
- فرهنګي فقر لومړی ۱۳۸۷
- مرکه او مرکې لومړی ۱۳۸۷
- خوشال په خپل ایډیال لومړی ۱۳۸۷
- د کتابونو په وړمو کې لومړی ۱۳۸۷
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې لومړی ۱۳۸۷
- پښتو لیکنی سمون لومړی ۱۳۸۷
- اوسنۍ رسنۍ لومړی ۱۳۸۷
- که نړیوال ماته وخوري؟ لومړی ۱۳۸۷


خدای (ج) دې استاد یون ته ډېر عمر ورکړي او جرئت دې ورته هم تاند لري، الله (ج) دې دی له هر ډول بدو بلاوو وژغوري، په فرهنګي کارو زیار کې ورته د نور زغم او اوسېلې هیله لرم.

په درناوي

وفاالرحمن وفا

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**